ماته دَ ماضي یادونه مۀ ستایه    مادَ ارمانونو خولې ګنډلي دي
ستایادونه ټول دَ اسویلو سره    یو پـه یو مِ تالـه درلېږلي دي

# دَ پښتو ناول

# نیمګړي ارمانونه

**پرویز شیخ**
**(ایم اے اردو ، انګلش )**
Ex.Subject specialist in English
& Principal (r)
Mobil#:0343-9643320

**نیمګړي ارمانونه** (پښتو ناول) — **پرویز شیخ**

**ټول حقوق محفوظ دی**

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم : | نیمګړي ارمانونه |
| لیکوال : | پرویز شیخ |
| اشاعت : | مئی 2014ء |
| کمپوزنګ: | حبیب الرحمن (صافی) |
| شمېر: | (200) |
| پرېس: | اعراف پرنټرز محله جنګی پېښور 0312-5945568 |
| بیعه: | (400) روپۍ |

**د موندلو درکونه**

یونیورسټی بک ایجنسی پېښور
یونیورسټی بک شاپ
دانش کتب خانه ډهکی نعلبندی پېښور

www.pukhto.Net

**ټرون :**

ډېر په مینه دَ خپل خور او مخلص ملګري، دَ ښاغلي سرتاج صېب په نوم ، چې دَ ژوند په هر ډګر کښې او زما دَ ادبي کاوشونو په لړ کښې یې زما ډاډګیرنه کړے ده.

پرویز شیخ

۱۰/ مئی ۲۰۱۴

**نیمګړي ارمانونه** (پښتو ناول) **پرویز شیخ**

## ﴿ړومبے باب﴾

دَ ژمي توره اوږده شپه اودَ سوکړې ترخه یخني وه . په ټول چاپېریال کښې چپه چپیا او مکمله خاموشي وه . د تورې شپې دَ تورو زلفو تورغلاف په دنیا او مافیها خور شوے وو. په دغه تور بخملي غلاف کښې یوخوا ستوري لکه دَ مقیشي ګلونو ځلېدل او خندېدل ، بل خوا اسماني مخلوق شېطاني مخلوق سره جنګېدل او دَ سرو سکروټو او شنو توغندو ګوزارونه یې پرې کول . ټوله دنیا لکه دَ غټې تورې بلا په درونډ خوب اوده وه او دَ خپل حاله او دَ چاپېریال دَ احواله خبر نه وه . دَ هغې دَ تنفس نه داسې معلومېده چې دَ راخکلې شوې چارې لاندې لتې ټکوي ، خنېږي ، درزېږي او وینې ترې بهېږي . دغه درنې ساه ټول ماحول یرونکے او روح بوګنونکے جوړ کړې وو.

ځنګلي ځناورخپلو غارونو او سوړو کښې ننوتي وو او مرغو په جالو کښې په خپلو وزرو کښې سرونه ورکړي وو . ټول میدان شیطانانو او پېریانو ته خوشے پاتے وو او په مختلفو طریقو او شکلونو یې دَ هغهٔ دَ یرولو کوشش کوو. یوځل دَ هغهٔ خوا کښې یو کړپ اوشو هغهٔ چې مخ وروارړه وو او هغه خوا ته یې اوکتل نو هیڅ یې اونه لیدل . یوساعت پس هغهٔ ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغهٔ شاته ځوك ولاړ دے او دَ هغهٔ په اوږه یې لاس ایښے دے، خو هغهٔ چې شاته اوکتل نو هېڅوك نه وو . دې سره دَ هغهٔ بدن زیګ زیګ او ټول وېښتهٔ یې نیغ اودرېدل . هغهٔ چې په یره مخ مخکښې



www.pukhto.Net

وارِه وو نو هغۀ سره نزدې دَ جهاړې په يو بوټي کښې ورته دوه وارۀ وارۀ بلبونه ښکاره شو . دا بلبونه دَ هغۀ سترګو ته نيولي شوي وو او هغه دومره مفلوج شوے وو چې مخ يې ترېنه اړولے نشو . دَ هغه په زړۀ کښې راغله چې دا ځنګلي ځناور دے او درنګ ساعت له په هغۀ حمله کونکے دے . د دے خيال په راتلو سره په يخه يخنۍ کښې په هغه خوله راغله خو حوصله يې اونه بائيلله . دَ خپلې دفاع دَ پاره يې يو کاڼے راواخستو او چې ګوزار ته يې ځان جوړه وو نو دوارِه بلبونه مړۀ شو . هغۀ ته معلومه شوه چې دشمن په شاشو خو دَ هغۀ يره ختمه نه وه او کاڼے لاهغسې هغۀ په لاس کښې نيولے وو. يوه شيبه پس دَ هغۀ شاته يوه ښکالو اوشوه . هغۀ چې ښکالو پسې شاته اوکتل نو دَ هغۀ مخې ته يو ټوخے اوشو او بيا ټوخي پسې ټوخي شروع شول . داسې معلومېده چې د هډېرې ټول مړي دَ قبرونو نه راوتي دي او ټول په جمع ټوخيږي . ټوخي کېدل ، غاړې تازه کېدې، شپيلي وهلې کېدل خو هغۀ هيڅوك نه لېدل . دا زلمے څوك وو چې دَ شيطانانو ، پېريانو او بدروحو په ګېره کښې راغلے وو؟ دا زلمے يو اعلیٰ تعليم يافته ، دَ يوې لوې او قدرمنې کورنۍ دَ سترګو تور او دَ زړۀ ټکور شان وو.

دَ شان پوره نوم شان اعظم وو خو په خپله کورنۍ کښې دَ شان په نامه نومېدو . شان دَ ملك اٰباد دَ ملك شېراعظم نوسے او دَ ملك محمد اعظم خان مشر زوے وو . شان نه علاوه دَ محمد اعظم خان دوه





زامن نور هم وو. دَ يو نوم فاروق اعظم او دَ بل نوم عمر اعظم وو . فاروق اعظم په دولسم جماعت کښې سبق وېلے او عمر اعظم په لسم جماعت کښې لګياوو . دَ زامنو نه علاوه دَ اعظم خان دوه لوڼه هم وې، دَ مشرې نوم عاليه اعظم او دَ کشرې نوم سعديه اعظم وو. عاليه اعظم په وېمن يونيورسټي پېښور کښې په څوارلسم جماعت کښې سبق وېلې او سعديه اعظم په اووم جماعت کښې وه . شان دَ پېښور يونيورسټۍ نه شپاړسم جماعت په امتيازي نمبرو پاس کړے وو او په دغه يونيورسټۍ کښې لکچرر شوے هم وو خو دَ سی اېس اېس دَ تيارۍ په وجه دَ څلور مياشتو په چُهټۍ وو . دَ خائسته شکل وصورت او سيرت نه علاوه خُداے هغه له ډېر ښۀ ذهن ورکړے وو . هغۀ دَ خُدائے د دے نعمتونودومره قدر کوو چې طبعي او ذهني طور يې ځان دَ هر قسم دنياوي ګندګۍ نه پاك ساتلے وو. دَ هغۀ پېژندګلو بې شمار وو خو دوستان يې دَ يو لاس دَ ګوتو په شمار وو او دغه ټول لکه دَ هغۀ خاموش طبعه او قلار وو . دَ هغۀ دَ تعليم دَ تکميل او نوکرۍ نه پس دَ هغۀ مور پلار غوښتل چې په خپل ژوند دَ هغۀ ناوې کورته راولي . دَ هغۀ مور طاهرې بي بي څوځو ځله هغۀ ته دَ وادۀ اورونه کړې وه او دې دَ پاره يې ورته دَ کلي او دَ کلي نه بهر دَ خپلو خپلوانو ټولو جينکو نومونه واره په واره اخستي وو خو هر ځل به دَ څۀ جواب ورکولو په ځاے هغه مسکے شو او بهرته به اووتو. دَ هغۀ خور عاليې هم دَ مور په مشوره دَ خپل کلاس جينکو له څوځو



www.pukhto.Net

ځله په دے غرض دعوت ورکړې وو که دَ هغۀ پکښې ثوك خوښخه شي نو ورلـه بـه يې اوغـواړي . دې نـه علاوه دَ ډېرو جينکو نـه يې تـصـويـرونه هم راوړي وو او هغـۀ تـه يې ښودلي وو چې کـه دَ هغـۀ پـکښـې څۀ خوښـخـه اوشي . جينکو به څو په څوېمه دَ عاليې نه دَ هغـۀ دَ انتـخاب پـه حقـلـه تپوسونه کول خو هغې ټولې په وېټنګ لِستې کښـې ساتلې وې ځکه چې دَ هغۀ دَ انتخاب سلسله لا تکميل ته نه وه رسېدلې .

يـوه ورځ دَ هغۀ مور اوخور په داسې وخت کښې دَ هغۀ کمرې تـه ورغـلـې چې هـغـه پـه خپله مطالعه کښې داسې بوخت وو چې دَ ځان او جهان نه خبر نه وو . هغوي دواړه په يره يره کېناستې او په چپه خوله يې هغۀ ته کتل . دَ هغوي په ناسته کښې ډېر وخت تېر شو خو هـغـۀ دَ کتـاب نـه سر اوچت نـکړو . چې اونشوه نو طاهرې بي بي دَ هغۀ دَ پام راګرځولو د پاره غاړه تازه کړه . دَ هغې دَ غاړه تازه کولو سره هـغـۀ داسې اوچت ټوپ اوکړو لکه په بې خيالۍ کښې چې دَ چاپه خوا کښې تريخ ډز اوشي . دَ هغه په ټوپ وهلو باندې عاليه مسکۍ شوه خو دَ هغه دَ خاطره يې خپله مُسکا په ټوخي بدله کړه . هغۀ چې هغوي تـه اوکتـل نـو مسکے شو او وے وئيل : "اوه تاسو؟ تاسو کله راغـلي يـې ؟ " طاهره بي بي مسـکۍ شوه او هغۀ ته يې اووې، "يه زويـه ، دا ښـۀ ده چې مـا غـاړه تـازه کـړه او ستا پام مِ را اوګرځوو ګينې مـعـلـومه نه ده چې ترڅو به دغسې چپه خوله ناست وو". دَ هغې په





خبـره هـغـۀ کتـاب بـند کړو ، يو خوا ته يې کېښودو او ورته يې اووے، "ښـه امّـى وايـه ، څـنـګـه مـو تشـريف راؤړو او دا لېونى دې ځان سره څـنـګـه راوسـتـه ؟" طاهره بي بي خاندي او په خندا کښې وائي، "يَه زويـه ، زۀ چې څـه خبرې پسـې راغـلـې يـم هـغـه تانه پټه نه ده . او دا لېونى مِ دے دَ پاره راوسته چې ليونـے پخود کړي".

شـان:. "چې دوه ليـونـي پـه جـنـګ شي نو خلاصې به درته ګران شي امّي". دې سـره هـغـه هم خاندى او طاهره بي بي او عاليه هم خاندي.

طاهره بي بي پـه خـنـدا خندا کښې هغۀ ته وائي، "زويه ، مونږ دي دَ پاره راغـلـو چې يـامونږ له واك راکړه ياراته خپله خوښخه اووايه چې تاله ناوې راولو ".

شان:. دومره توندي دَ څۀ خبرې ده امّي.

طـاهره بي بي:. "زويـه زمـونـږ دَ مرګ اوژوند هيڅ پتـه نـه لګي . مـعـلـومـه نـه ده چې زمونږ دَ نامې پرچې مونږ پسې کله راځي . ښۀ خبره داده چې په غړېدلو سترګو ستا خوشحالي اووينو".

شـان:. داسې دَ مايوسۍ خبرې ولې کوي امّي . تۀ به ژوندى يې اوتل بـه ژوندى يې. زما دَ زړۀ دَ پاره او مونږ ټولو دَ پاره . خُدائے مۀ که چې تۀ لاړه شې نو په ژوند کښې به څۀ پاتې شي . ژوندي لاشونه . . .؟

طاهره بي بي:. زويـه ، وړاندې روستو تګ دے ، دېکښې هيڅ شك نيشتـه خـو زۀ دا ويـم چې هسـې نه ستا دَ وادۀ ارمان مِ دَ کورنه ګورته يـوسي؟ . . .پـلار دے مـونـږ دواړه په دے غرض رالېږلے يو چې ستا



www.pukhto.Net

خوښخه معلومه کړو . هغه وائي چې تهٔ ځوك په ګوته کړه نورکار زما دے . زویه چې ځوك دې په زړهٔ کښې وي نو مونږ ته اووایه ، قربان شم درنه ''.

شان:. زهٔ به درته څهٔ اووېم امّي.

طاهره بي بي:. دَ خپل زړهٔ خبره اوکړه او مونږ ته صفا صفا اووایه.

شان:. امّي چې صفا خبره درته اوکړم نو خفه کېږې خوبه نه ؟

طاهره بي بي :. نه زویه ، مور به دَزوي نه څنګه خفه شي؟ چرې هم نه .

شان:.صفاخبره دا ده چې ترڅو ما سي ايس ايس نه وي کړے نو دَ وادهٔ نوم به راته نه اخلې .

طاهره بي بي (په حیرانتیا) يَه زويه ، دا څهٔ دَ ناپوهه خلقو خبرې کوے ستا سي ايس ايس ته به ستا وادهٔ بند وي ؟ اوتاته دَسي ايس ايس څهٔ ضرورت دے ؟ ستا نوکري دَسي ايس ايس دَ نوکرۍ نه کمه ده څهٔ ؟

شان:. موري ،سي ايس ايس پاس کول زما دَ زړهٔ ارمان دے . او دا ارمان به پوره کوم انشاء الله خو دا به هله کېږي چې ستا دعا راسره وي.

طاهره بي بي:. يَه زويه داسې مور به لاهم وي چې خپل اولاد ته به دعا نه کوي . دَ اولاد نه زیات خوږ څهٔ کېدېشي ؟ زما دعاده چې خُدائے دے ستا او زمونږ ټولو ټول ارمانونه پوره کړي.

شان او عاليه :. اٰمين .

شان:. بله خبره دا ده چې کله وخت راشي نوزهٔ به درته خپله خوښخه په خپله اووېم او کېدېشي تاسو زما په خوښخه باندې خوښخ شئ.





طاهره بي بي :. کومې جينکۍ چې تاليدلي دي په دغه کښې ستا څوك خوښخ دي ؟

شان:. کومې چې ستا په ذريعه ماليدلي دي يا مِ دَ هغوي تصويرونه ليدلي دي ، په دغه ټولو کښې يوه هم زما دَ خوښخې نيشته ، البته کومه چې ماليدلے ده ، په هغې خبرې هم کېدېشي او دَ هغې امکانات هم کېدېشي .

عاليه (وخاندي) ښه لالا جي، لکه تا زمونږ نه پټ په پټه ځان له مېرلے وه او زمونږ نه دې پټه ساتلے وه .

شان (خاندي) داسې پټه چې تهٔ دَ هغې تصور هم نشې کولې .

عاليه (خاند ي )لالاجي ، دَ دغه شهزادګۍ موبائيل نمبر ماله راکړه چې زهٔ ورسره ستا په باره کښې خبره اوکړم.

شان:. نه اوس نه ، نمبر به هله درکوم او ته به ورسره هله خبره کوې چې زهٔ دَ CSS نه فارغ شم .

عاليه :. خبره خو به شايد تاسو کړي وي خو هسې به يې اووينم چې ستا انتخاب څنګه دے ؟

شان:. خبره شوې ده خو ستاسو خوښخه ناخوښخه او ستاسو مرضي ضروري ده .

طاهره بي بي :. يَه زويه ، چې ستاخوښخه ده نوزمونږ په سرسترګو قبوله ده . ښه مونږ درنه ځو خو پلار ته دے څهٔ اووايو؟

شان:. باباجي ته هم دغه اووايې ، څهٔ چې درته ما اووے .



www.pukhto.Net

طاهره بي بي (پاسي) ډېره ښه ده، څه زویه مونږ درنه ځو، خدای دې ستا دَ زړهٔ ټول ارمانونه پوره کړي.

شان او عالیه :. اٰمین.

دَ هغهٔ مور او خور هغهٔ سره خبره اوږده نهٔ کړه ځکه چې هغوي ته پته وه چې هغه دَ یوې خبرې سړے دے دَ هغهٔ "وو" وو وي او دَ هغهٔ "نا" نا وي. چې څهٔ وائي هغه کوي او چې څهٔ نشي کولې نو دَ هغې ذکر هم نه کوي. په دې وجه هغوي دَ هغهٔ چېړل او په خپله خبره زور اچول مناسب اونهٔ ګڼل او چپ په چپه اووتې. دَ هغه پلار هم دَ هغهٔ خیال سره متفق شو، هغهٔ هم غوښتل چې دَ هغه زوے دَ سي ایس ایس افسر شي او په تربورانو کښې دَ هغهٔ سر اوچت شي نو هغهٔ هم دَهغهٔ دَ امتحان پاس کېدو پورې دَ هغهٔ دَ وادهٔ په باره کښې خپله اراده اوځنډوله. شان خپل مصروفیات او خپلو دوستانو سره ملاقات شاته کړي وو او په خپله مطالعه کښې یې شپه ورځ یو کړے وه. په دے غرض هغهٔ خپل موبائېل هم بند کړے وو چې نه چاته کال کوي او نه دَ چا کال اخلي خو بیا هم دَ هغوي نه نه خلاصېدو. ترهغې به یې ورته دَ ګېټ تلی ټنګوله چې ترڅو به ورله هغه راوتے نه وو. بیا دَ یو دَ پاسه بل او دَ بل دَ پاسه بل. دغه رنګې دَ هغهٔ څو څو ورځي تشې لاړې. چې دَ هغوي دَ بیا بیا راتلو نه ډېر تنګ شو نو ځان سره یې خپل کتابونه واخستل او دَ یونیورسټۍ په هاسټل کښې ډېره شو. دَ هغهٔ قابلیت او محنت کښې هېڅ شك نه وو خو د دے دا





مطلب نه دے چې دَ هغه کامیابي یقیني ده او بیا دا خبره چې ترڅو هغهٔ سي ایس ایس نه وي کړے ترهغې به هغه وادهٔ نه کوي. دَ هغهٔ دے منطق ته دَ هغهٔ مورپلار، خویاندې او رونړه نه علاوه دَ هغهٔ دوستان هم حیران وو. که بالفرض دَ هغهٔ سي ایس ایس اونشي نو بیا به څهٔ کوي؟ بیا به ټول عمر مجرد ګرځي؟ دَ هغهٔ دوستان به کله دَ هغهٔ په جنون حیران شو او کله کله به یې ورپورې خاندل. کله کله به پکښې دا خبره هم راغله چې آیا دا واقعی شرط دے او که دَ وادهٔ نه کولو یوه بهانه ده؟ که دا واقعي شرط وي نو دَ هغهٔ عزت په خپل ځاے خو دا سراسر حماقت دے او که دا هسې بهانه وي نو دَ بهانې خونورې طریقې هم شته. په مناسبه طریقه خپل جواز پېش کولے شي او دَ وادهٔ نه انکار کولے شي. هسې ټوله کورنۍ ولې پرېشانه کوي. سي ایس ایس پاس کول نهٔ دَ هغهٔ بهانه وه او نه په حقیقت کښې دَ هغهٔ ارمان وو بلکه دَا دَ پلوشې ارمان وو او هغهٔ په هرحالت کښې دَ هغې ارمان پوره کول غوښتل ځکه چې هغه په ایم ایس سي کښې دَ هغهٔ کلاس فېلو هم وه او دَ هغهٔ ډېره خوږه ملګرې هم وه. دَ هغوي طبعې خپلو کښې داسې لګېدلې شوې وې چې په یونیورسټۍ کښې دَ هغوي دَ رفاقت دوه کاله دَ دوو خوږو لمحونه زیات نه وو. داسې معلومېده لکه چې دَ هغوي وجودونه بېخي دَ یوې خټې نه جوړوي. لکه چې دَ هغوي په سینو کښې یوزړهٔ وي، دَ هغوي په خولو کښې یوه ژبه وي، دَ هغوي په ذهنونو کښې یو خیال او دَ هغوي په وجودونو کښې یو روح وي. دَ



www.pukhto.Net

پُرکشش شکل وصورت نه علاوه دَ هغې لویه خوبي دَ هغې قابلیت ، ایمانداري او اخلاق وو. کله کله به یې خپلو استاذانو سره په ځینې نکتو دومره مدلل او زړۀ پورې بحث کوو چې هغوي به ورته ګوته په خوله شو . دَ خپل قابلیت په وجه هغه په خپل کلاس کښې دَ آئن سټائن په نامه مشهور شو. هم دغه وجه وه چې دَ هر استاذ په غېر موجودګۍ کښې به هغې کلاس اخستو او که دَ هغې دَ لکچر په دوران کښې به استاذ راغې نو یو خوا ته به غلے غوندې کېناستو او دَ هغې جائزه به یې اخسته . چې کله به هغې ته دَ استاذ دَ راتلو احساس اوشو نو مسکے به شو، سوري به یې اووے او په خپل سیټ به کېناستو دَ خپل قابلیت او حسنِ اخلاق په وجه هغې دَ ټولو استاذانو، هلکانو او جینکو په زړونو کښې ځائے پیدا کړے وو. لکه څنګه چې هغې دَ نورو په زړونو کښې ځان ځائے کړے وو دغه رنګې دَ هغې په زړه کښې پلوشې خپل کور جوړ کړې وو او هغه تنها دَ دغه کور مالکه وه . او ولې نه ، هغه لائقه هم د دې وه. دنګه ځواني ، هسکه غړۍ، توري غزالۍ سترګې ، اوږدۀ بانړۀ ، سورسپین مخ، سرۀ اناري اننګې، نرۍ پوزه ، غونډه زنه ، ګل پاڼې شونډې ، توري اوږدې زلفې ، په مخ دَ سپرلو دَ رنګونو ګډا او په خوله فطرتي معصومانه مُسکا ، دا وه پلوشه . داسې معلومېده چې دَ سپوږمۍ پلوشې په شاتو، شودو، وږمو او دَ سپرلي په رنګونو کښې په نازکو ، پستولاسونو اخلي شوي دي او هغه ترې جوړه شوې ده . دَ کلاس روم نه علاوه دَ هغوي لوې ملاقات به دَ کلاس





ختمېدو نه پس کله دَ یونیورسټۍ په کېفې کښې کېدو او کله دَ یونیورسټۍ په لوې ګروند کښې .دواړه به دَ نورو خلقو نه یو خوا ته ځان له ناست وو ګلونو سره به یې لوبې هم کولې، خپلو کښې به یې خبرې هم کولې او دَ یو بل نه به یې مشورې هم اخستې . په شروع شروع کښې به دَ هغوي خبرې دَ کورس ، استاذانو ، کلاس فېلوز وغېره په باره کښې وې او ذاتي خبرې به پکښې ډېرې کمې بلکه دَ نیشت برابر وې . وخت تېرېدو سره پکښې ذاتي خبرې هم راغلې او ذاتي مسلې هم او بیا خو به اکثر دغه ذاتي خبرې او مشورې کېدې .

دَ ایم اېس سي کولو نه پس پلوشې CSS کول غوښتل ځکه چې دَ هغې پلار عاصم شاه ، دَ هغې رور طارق شاه او نعیم شاه هم دَ CSS افسران وو. دَ هغې پلار غوښتل چې هغه هم CSS افسره شي او دَ هغې خاوند هم CSS افسر وي . په دے غرض هغې دَ هغې ذهن دَ مخکښې نه دغه طرف ته مائل کړے وو . یوه ورځ په خبرو خبرو کښې هغې هغې ته دَ خپل پلار دَ خواهش خبره داسې اوکړه چې ، "شانه زمامور پلار غواړي چې زۀ دَ ایم اېس سي نه پس ، CSS اوکړم ....؟

شان:. ډېر ښۀ خیال دے خو تۀ څۀ غواړې؟

پلوشه :. زۀ غواړم چې دَ هغوي دغه ارمان پوره کړم .

شان:. زبردست . ډېر ښۀ خیال دے . خدائے دے هغه اوکړي څۀ چې تۀ او ستامور پلار غواړي .

پلوشه :. شانه ، ستا دَ خپل مستقبل باره کښې څۀ خیال دے ؟



www.pukhto.Net

شان:. پلوشې زما شوق درس وتدریس سره دې . زما دَ ژوند لوے ارمان دا دے چې دَ هاغه کلاس مخې ته دَ یو استاذ په حېث اودرېږم چرته چې زۀ اوس دَ یو شاګرد په حېث ناست یم .

پلوشه :. شانه ، زۀ غواړم چې مونږ دواړه همېشه همېشه دَ پاره یو ځاے یو او په یوه محکمه کښې دَ یوبل دَ سترګو وړاندې یو. زما مطلب دې چې مونږ دواړه سي اېس اېس افسران شو ،ستاځۀ خیال دې؟

شان:. پلوشې ، چې زړونه یو بل ته نزدې وي نو طبعي جُدائي برداشت کېدېشي خو چې زړونه دَ یوبل نه لرې وي نو که مونږ یوبل سره څنګ په څنګ هم ناست یوخو دَ یوبل نه به ډېر لرې یو.

پلوشه :. شانه کله کله ستا له خوا زما په زړۀ دَ مایوسۍ تیرې خورې شي لکه چې زما او ستا ترمینځه خُداې مۀ که یوخلیج پېدا کېدونکې وي ".

شان(خاندي) پلوشه او تیارۀ ؟ illogical Combination . پلوشه، پلوشه وي او تیارۀ ، تیارۀ وي چرته چې پلوشه وي نو هلته به څنګه تیارۀ شي؟

پلوشه :. تۀ زما په خبره خاندې ؟ I am serious shan .

شان :. زما له خوا نه مطمئنه اوسه پلوشي البته ستا متعلق هیڅ نشم ویلې .

پلوشه :. دا تۀ وائې شانه ؟ How you done say so? . تۀ داسې خبرې ولې کوې شانه ؟ زماتانه دا توقع نه وه .تۀ زما په وفا شك كوې؟





وېرې سورې فاریو".

شان:. اوه نو ، نو داسې هیڅ خبره نېشته پلوشې خو ستا بې ځایه خدشې زۀ په دے جواب مجبور کړم .

پلوشه :. خُداے دې اوکړي چې زماخدشه بې ځایه وي خو کله کله زه داسې محسوسوم چې څوك یولاس زما په خوله اړدي او په بل لاس تا زما دَ څنګ نه بیلوي .

شان:. داسې هیڅ خبره نیشته پلوشې . دا ستا وهم دې . دَ دنیا یو طاقت هم مونږ دواړه دَ یو بل نه نشي بېلولې .

پلوشه :. خوږۀ یرېږم شانه ، چې هسې نه خداے مۀ که دغسې اوشي نو بیا به څۀ کېږي ؟

شان:. که دغه زمونږ قسمت وي نو قسمت سره نه جنګ کېدېشي او نه دَ قسمت نه تېښته کېدېشي . دَ صبر او برداشت نه علاوه نور هیڅ نشی کېدې .

پلوشه :. اوه مائي ګاډ (هغه خپل سر په دواړه لاسه کښې نیسي) . . . شانه یوه خبره مِ منې ؟ " هغه سراوچت کړي او هغه ته نېغ نېغ ګوري.

شان (مسکے شي) "یوه خبره ؟ جانِ من دَ خبرو او شرطونو فهرست جوړ کړه اوماله یې راکړه . زۀ به یوپه یو ستاټولې خبرې منم او ستا ټول شرطونه به پوره کوم نو هله به ځان ستا دَ مینې مستحق ګڼم . خبره کوه پلیز .

پلوشه :. شانه تۀ زما دَ پاره سي اېس اېس کولې شې ؟

شان:. اوه مائي ګاډ (مسکے شي) "دومره معمولي سوال "؟



www.pukhto.Net

پلوشه :. دا معمولي نه دې شانه ، دا زما لوے ارمان دے چې تۀ سي
ايس ايس اوکړے .

شان :. دَ سي ايس ايس کولو نه بغير هم زۀ ستا هر ارمان پوره کولے
شم . زما سي ايس ايس کولو سره ستاخه تعلق دې ؟

پلوشه :. شانه ، ستادَ سي ايس ايس ماسره زما دَ مستقبل او زما دَ
ژوند سره ډير لوے تعلق دے ...شانه ، زما مور پلار زما وادۀ هغه چا
سره کول غواړي چې دَ سي ايس ايس افسر وي .

شان :. او که زۀ سي ايس ايس اونکړې شم نو بيا؟

پلوشه :. داسې مۀ وايه پليز . تۀ هرڅه کولے شے . ستا دَ پاره هيڅ
مشکله نه ده . شانه ، دا زما او زما دَ مور پلار شرط اوګڼه پليز؟ I
don't want to miss you .

شان :. پلوشې زۀ تاسره بې فنا مينه کوم خو د مينې دَ پاره وادۀ شرط نه
دے . مينه هغه اور دې چې دَ دوو مئينو په زړونو کښې تل ترتله
بليږي . دا اور نه کميږي ، نه زړيږي او نه ختميږي بلکه وخت تيريدو
سره تازه کيږي او نور هم زياتيږي . وادۀ دَ مينې تکميل دے . دَ جنسي
لذت لالچ دے ...او په مينه کښې دَ مطلب پرستۍ ، خودغرضۍ او
ذاتي لالچ ګنجائش نيشته . مينه بس مينه وي نور هيڅ نه . پلوشې
که ستانوم پلوشه نه وو نو مابه درته بيا هم پلوشه ويلے . تۀ پلوشه يې
...دَ سپرلي دَ زيړ مازيګر طلائي پلوشه ، دَ سپوږمۍ دَ سپين مخ
نوراني پلوشه ، دَ فطرت يوه حسينه کرشمه ...پلوشې که تۀ زما شې





او که نشې خو زۀ به تاسره مينه کوم . که تۀ هرچرته يې خوستا دَ مينې
په پلوشو به زما دَ زړۀ شيش محل روښانه وي ...که تۀ يې او که نۀ يې ،
ما دَ پاره ستا يادونه کافي دي . ستا په يادونو کښې دومره خواږۀ دي چې
دَ هغې تصور هم نشي کيدې ...پلوشې په سي ايس ايس کښې زما
هيڅ دلچسپي نيشته خو که دا ستا ارمان وي نو ستا دا ارمان زۀ خپل
ارمان ګڼم او ستا دَ خوشحالۍ دَ پاره به دا ضرور پوره کوم . انشاء الله .

پلوشه :. شانه ، ستا دَ شکريه اداکولو دَ پاره ماسره الفاظ نيشته . تۀ
يو عام انسان نه بلکه ما دَ پاره آئيکون (icon ) يې .

شان :. (مسکے شي ) زۀ چې څۀ يم نو ستا په وجه يم . تۀ چې څۀ
وينې نو دا ستا دَ پلوشو انعکاس دے .

پلوشه :. داسې مۀ وايه پليز ..."شان دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلي او
وائي" "دَ شګې يوه ذره دَ نمر په پلوشه ځليږي او پړقيږي . داسې ده که
نه ده". دې سره دواړه خاندي ، پاسي او روانيږي . دې نه پس هغوي په
دې موضوع بيا خبرې اونکړې . چې کله دَ هغوي دَ ايم ايس سي
امتحان اوشو او نتيجه اووته نو پلوشې فرسټ ډويژن واخستو او شان
امتيازي پوزيشن واخستو . دَ پاس کيدو سره هغه په يونيورسټۍ
کښې لکچرر شو او دَ هغه کلاس مخې ته اودريدو په کوم کښې چې
هغه شاګرد پاتې شوې وو . چې کله دَ هغۀ دَ زړۀ ارمان پوره شو نو بيا
يې دَ پلوشې ارمان پوره کولو دَ پاره دَ سي ايس ايس تياريې شروع کړه.

★★★★★



www.pukhto.Net

## دویم باب

ملك آباد ، خان اٰباد ، غرېب آباد او میاں کلې، دا څلور وانړه کلي دَ یو بل نه په لږه لږه فاصله باندې دَ یوې لوې هدیرې نه چاپېره پراتهٔ وو . ملك آباد دَ شیراعظم خان پلار خان اعظم بابا آباد کړې وو . په دغه کلي کښې ټول ملك خېل او دَ هغهٔ اولاد وو. دَ ملك خپلونه علاوه په دغه کلي کښې دَ هغوي کسب ګر یعني نایان ،شاخېلان، کولالان، ترکاڼان ، لوهاران او بتهیاران وغېره اٰباد وو. دغه ټول دَ ملك خېلو کسب ګرهم او همسایه هم وو . دې نه علاوه دَ هغوي دهقانان او زمېداران هم په دغه کلي کښې اوسېدل . ملك خېل اګر چهٔ دَ یو نیکهٔ اولاد وو خواوس هغوی نه پنځلس کورنۍ جوړې شوې وې . اوس هغوي خپلو کښې تربوران بللې کېدل .دَ جائېداد په لحاظ پکښې غټې کورنۍ درې وې . ړومبۍ کورنۍ دَ اعظم خان وه . دویمه دَ میراعظم خان وه او درېمه کورنۍ دَ ګل اعظم خان وه . دَ ملك خېلو شناخت دَ هغوي دَ دنګ قدوقامت او دَ هغوي دَ نوم نه ډېره په اسانه کېدو . دَ هغوي دَ ټولو په نومو کښې به دَ اعظم ټکې خامخا راتلو. دغه رنګې خان آباد دَ موجوده خانانو ستر نیکهٔ فتح محمدخان اٰباد کړے وو. دغه کلې څهٔ موده دَ هغهٔ په نامه یادېدو خو بیا روستو ترېنه دَ هغه نوم لرے کړې شو او صرف خان اٰباد پاتے شو. په دے کلې کښې هم لکه دَ ملك اٰباد اکثریت دَ خانخېلو ووخو دې سره سره دَ هغوي زمیدار او کسب ګر هم پکښې اوسېدل . دا کلې ډېر زوړ وواو





تر لرې لرې خور وو . خانخېل په ډېرو خېلونو کښې تقسیم شوي وو او دغه رنګې جائېداد هم تقسیم شوے وو . اوس هغوي تش په نوم باندې خانان وو خو دَ خانۍ جائېداد پکښې دَ چا هم نه وو. البته یوه دَ سکندر خان کورنۍ پکښې دَ نورو په نسبت غوړه وه . څهٔ ټل ټکړه زمکه یې هم پاتې وه او څهٔ نوکرۍ هم پکښې وې .غریب آباد کښې هېڅوك ملك خېل یاخانخېل نه وو. دا زمکه دَ نن نه څهٔ موده مخکښې دَ خان اٰباد دَ خانانو شاملات وو، هغوي خپلو کښې تقسیم کړو او ټولو خپله خپله برخه خرڅه کړه . په دے کلي کښې ټول خواران ، غریبانان او مزدوران اٰباد شو نو په دې وجه د دې نوم غریب آباد کېښودے شو. دغه شان میاں کلې دَ میاں کریم بخش بابا په نامه "میاں کلې" مشهور شو.دا زمکه دَ فتح محمدخان بابا وه خو هغه میاں صیب له دَ سېرۍ په حېث ورکړے وه . میاں صېب او دَ هغهٔ اولاد په دغه علاقه پرېوتل او دغه زمکه یې وېرياخوړله . اوس دَ هغهٔ دَ اولاد نه لوې کلې او ډېر خېلونه جوړ شوي وو. دا ټول کلي اګر چهٔ بیل بیل وو خو دَ ټولو هدیره اودَ جنازې جمات یووو. هغوي ټول به دَ یوبل مړې ژوندي او غم ښادۍ له تلل او ټولو یوبل پېژندل. په دغه کلو کښې به چې کله هم څهٔ ښهٔ بده پېښه شوه نو په سترګه رپ کښې به بل کلي ته رسېدلې وه . بیا به په حجره ، جمات او لارو کوڅو په هغې خبرې کېدې او دَ یوې نه به دوه اود دوو نه به څلور جوړېدې او خورېدې . هم دغه رنګې یوه افسوسناکه واقعه په غریب



www.pukhto.Net

اٰباد کښې تاوانی کاکا تـه هـم پښـه شوه او په لمحو لمحو کښې دَ غریب اٰباد نه علاوه خان اٰباد ، میا ں کلے او ملك اباد ته اورسېده او بیا پرې خلقو خپلې خپلې تبصرې کولې . تاواني کاکا دَ پنځوست او شپیتۀ کالو ترمینځه یو پوخ عمره سړې وو. لوړدنګ وجود ، سوے لوے نوکارے مخ ، توره حضابی بونډۍ ږیره ، بی بنو چوچۍ سترګې ، په سترګو دَ نظر چشمې ، په سراوړې ژمې سپینه ټوپۍ ، سپور تندے ، په تندې دوه متوازې کرښې ، دَ کرښو لاندې دَ روځو په مینځ کښې یو عمودې کرښه چې دَ هغې بره سوکه متوازی کرښې سره لګېدلې وه . سپینې ریمنې جامې او په پښو کښې تورې پنجې دارې څپلۍ ، دا وې دَ تاوانی کاکا دَ شخصیت دَ پېژندګلو یو څو نښخې پتې . هغه یو وزرے بوډا سړے وو او پنځه بال بچ ترینه چاپېره وو. په دغه پنځه بال بچ کښې دَ هغۀ یو هم نارینه اولاد نه وو بلکه ټولې جینکۍ وې .هغه معمولی لیك لوست وو خو کاغذ او پن به ورسره هروخت په جیب کښې وو دَ اخبار یوه پنیـل شوې ټوټه به ورسره هروخت په لاس کښې وه او په مودو مودو به ئې لاس کښې ګرځوله . چې کله به یې دَ یوې واقعې خبر اولوستلو نو بیا بـه دوکان پـه دوکان ګرځېدو او هغه واقعه به یې په افسانوي رنګ او داستاني خوند بیانوله .

قابل دومره وو چې دَ کال دَ دولسو میاشتو عیسوی ، اسلامی هندی او دَ پښتو نومونه ورتـه یاد وو. دَ هرې میاشتې دَ راختو او ختـمیدو نېټـه ورتـه یاده وه . دَ موسم په لحاظ ورته دَ نمر دَ ګرځېدو





نېټه معلومه وه . دَ بیل بیل موسم دَ ورځو شپو اوږدوالې او لنډوالې ورته معلوم وو. پـه پښتو، انګریزی ، اردو ، عربی او فارسی کښې ورتـه اکثر توری ، دَ هغوی سلسله نمبر ، دَ هغوی اصل ( origin ) او دَ هغوې ابجدې قیمت یادوو. هغه یو عجیبه سړے وو او دَ عجیبه ذهن خاوند وو . هغـۀ دَ خپلو لوښو نومونه دَ هغوې دَ خائست او رنګ ډهنګ مطابق دَ حروف ابجد په حساب ایښې وو . دَ هغۀ دَ مشرۍ لور ابـجدې نوم 133 وو، دَ دویمی 151 وو ، دَ دریمې 415 وو، دَ څلورمې 467 وو اودَ پنځمی 565 وو. هغه به اکثر دَ تعلیم یافته هلکانو نـه د دغـه نمبرو په باره کښې تپوسونه کول او چې هغوې به جواب ورنکړو نو بیا به یې ورپورې خاندل . چې کله هغه دَ اعظم خان دَ تماکو پـه بهټې کښې هغه سره منشي وو نو شان به یې په دغه نمبرو کښې ګیر وو او بیا به یې ورپورې خاندل .

دغه شان دَ خپلو ټولو استاذانو او هم جماعت هلکانو نومونه ، دَ هغوې دَ والدېنو نومونه او دَ هغوې کور کوڅه ورته معلومه وه . دَ ملك دَ هر ګورنر جنرل ، وزیر اعظم ، صدر او دَ څلورو واړو صوبو دَ ګورنرانو نومونه ورته یاد وو . دې نه علاوه دَ پاکستان نقشه به یې په پن داسې جوړوله لکه چې په ګراف پېپر جوړ شوې وي . دَ چهټاکۍ نه واخله تر سېره پورې ورته دَ دالو او وروژو دَ دانو، دَ تیلو دَ ډبلې تیلې او دَ جهارو دَ ډکو تعداد یاد وو . مجال شته چې دوکاندار به هغۀ سره په تول یا شمېر کښې ګوته کړے وه . او که بالفرض دغسې به اوشوه



www.pukhto.Net

نو چې کورته به لاړو او دَ هغهٔ څيزدَ تعداد شمېر به يې اوکړو نو واپس به يې ورله يوړو او هله به يې اوړو چې هغه څيز به يې ورته پوره کړو. دَ هر اوړې په شروع کښې به يې دَ پيپسي يو بوتل اخستو او تر اخره پورې به چلېدو . دَ اوړې موسم به تېر شو خو دَ هغه بوتل به ختم نشو . چې څهٔ خاص ميلمه به يې راغى او دَ پټېدو ياتختېدو لاره به يې ورکه شوه نو دَ دېوال چنې سره به يې ورته کټ واچوو او دَ شربت دَ پاره به کورته لاړو . دَ کور نه به يې په يولاس کښې ډك جام اوبه راؤړې او په بل لاس کښې په گلاس کښې يو تراوے شربت . چې مېلمه به دَ اوبو جام اوڅکو نو بيا به يې ورله دَ شربت گلاس ورکړو او ورته به يې اووے ،"دا شربت ورپسې اوڅکه چې دَ خولې خوند دے بنهٔ شي" که په ژمي کښې به مېلمه راغى او دَ چايې ضرورت به پېښ شو نو دَ کور نه به يې چاې راؤړه او دَ دوکان نه به يې په کاغذ کښې ببکري . چې مېلمه به چاې اوڅکله او رخصت به شو نو هغه پاتې ببکري به يې دوکاندار له واپس يوړه. هلته به يې ورسره دَ ککوړي ککوړي حساب اوکړو او خپلې بقايا پيسې به يې ترېنه واخستې .

چې دَ چانه به يې څهٔ پېسې قرض غوښتلے نو دَ پېسو اخستو نه پس به يې ورته دا وے چې ، "ماته به نه ورډېوے او نه به راپسې اواز کوے . دوه څلور ورځو کښې به دا پېسې ستا کورله درځي". هغه دوه څلور ورځو کښې به دوه څلور مياشتې او بيا دوه څلور کاله هم تېر شو خو نه به يې پېسې ورکولے او نه به دَ هغهٔ





دَ کور په خوا تېرېدو . او که چرې هغه به په لاره کوځه کښې اوليدو او خپلې پېسې به يې ترېنه اوغوستلے نو جواب به يې ورکړو "دربه يې کړم مړه خورم يې درنه نه . څهٔ موران دے راکړې دي خو يو څو کاغذونه دے راکړے دے " چې هغه به ورته غصه شو او دوه څلور کسان به راغونډ شو نو بيا به يې ورته په خندا کښې اووے ، "يه گلهٔ ، ته گوره کنه ماخودرته وېلے وو چې ما پسې به اواز نه کوے او ستا کورله به درځي . ماته ستا پېسې يادې دي او کوشش کوم چې دې يو څو ورځو کښې يې دراوړم . ځه گله ځه ، هيڅ غم مهٔ کوه ، کورته به درځي".

چې هغه به ترېنه لاړو نو ولاړو خلقو ته به يې په خندا کښې اووے ، "يره په دې نه پوهېږم چې دا دے کلي لاځنگه خلق دي . چې دوه څلور روپۍ قرضِ حسنه درکړي نو بيا به دے شرموي . ماپه کراچۍ کښې دوېشت کاله تېر کړي دي خو هلته دا شې نېشته . چې څوك قرض حسنه درکړي نو بيا يې دَ غوښتو طمعه نه کوي او دا خلق توبه ، توبه ، دوي خو درنه جامې اوباسي . دېکښې بنيادي وجه دَ علم کمې او د دوي جهالت دے . که دا خلق دَ قرض حسنه دَ ثواب نه خبر شو نو بيا به يې دَ غوښتو هڅو نوم نه اخلي . دا زمونږ دَ مهذب يوه مهمه مسله ده خودا خلق پرې نه پوهېږي . البته دَ ملك اٰباد اعظم خان په دې مسله پوهه دے چې په زرگونو روپۍ يې راکړې دي نو هڅو تپوس يې نه کوي زهٔ دے خلقو ته دا وايم چې اے دَ خداې



www.pukhto.Net

مومنانو په قرض غوښتو او اخستو کښې زبردستي مۀ کوی . خپل ثواب په عذاب کښې ولې بدلوی “.

تاواني کاکا به دَ تبې دَ تاوه لګیاوو او په دلیلونو ، تاویلونو او ثبوتونو به یې دَ خپلې مدعا بیانولو کوشش کوو خلقو به دَ هغۀ خبرې په مُسکا اورېدے خو دَ هغۀ په خوله یې یقین نه کېدو . تاواني کاکا هم څۀ حده پورې حق بجانب وو . هغۀ چې دَ کراچۍ نه څۀ راوړي وو نو خپل خپلوان ورپسې تر هغې لګېدلي ووچې هرڅۀ یې ترېنه اوتروړل او هغه لکه دَ پولي طاق دَ مارغه بې ښو پاتې شو ، اګر چۀ هغه دَ خلقو قرض ته نه وو ناست ، هغه پښې لاس وهل او دَ مزدورۍ هر کار ته به یې وردانګل خو سمې یې نه خوړو ، دَ هلکانې نه واخله تر دغه وخته پورې دَ هغۀ دَ قسمت ستورې دَ زمانې په ګردش کښې انختې وو. څه موده دَ مال په منډۍ کښې منشي وو . اتوار په اتوار به منډۍ ته تلو او چې څۀ به یې ګټل نو تر بل اتوار پورې به یې هغه څټل . څۀ موده پس یې دغه کار پرېښودو او دَ اعظم خان دَ تماکو په بهټۍ کښې منشي شو . څۀ موده یې ډېره ښۀ رنګه ډهنګه جوړه وه خو چې دَ تماکو سیزن ختم شو نو دَ هغۀ کار هم ختم شو. بیا یې دَعلم نجوم څۀ کتابونه پېدا کړل او دَ جینکو دَ هائي سکول مخې ته کېناستو. څۀ موده یې ډېر ښۀ کار چلېدو ځکه چې دَ فالونونه علاوه ، هغه ورسره ځاښتونه او تعوېزونه هم شروع کړل خو چې دَ ګرمۍ دَ چهټیانو په وجه سکول بند شو نو هغه هم بې





روزګاره شو. دې نه پس یې دَ ښځې په مشوره ګونګړي پخول او په کلو کښې به یې خرڅول. هغه دَ چا خبره چې کته به ورباندې وه نو کټوۍ به هم باندې وه او چې کته به کوزه شوه نو کټوۍ به هم کوزه شوه . که دَ باد باران ، یا دَ روغ رنځور او مړي ژوندي په وجه به یې چې ورځ ماته شوه نومول به هم لاړو او سود به هم لاړو .

چې په دې اونشوه نو بیا پهلوان جرنده ګړي سره په دوه سېره یومیه اوړو په جرنده کښې منشي شو . پهلوان کاکا به کلي په کلي ګرځېدو ، دَ کورونو نه به یې دَ غلې دانې بوجۍ راغونډولې ، هغه به یې دَ سنډا په رهړه کښې اچولې او ډکه رهړه دانې به یې جرندې ته اوړے . تاواني کاکا به په هره بوجۍ دَ مالك نوم لېکلو ، دَ هرې بوجۍ وزن به یې کوو او په هغه حساب به یې دَ اوړو حق اخستو . دې نه علاوه دَ خانانو او پهلوان کاکا ترمینځه به یې دَ حساب کتاب او رابطه کار ډیوټي هم کوله . کوم اوړۀ به چې دَ اجارې په توګه سحر، ماښام خانانو کره لېږلې کېدل نو په یو رجسټر کښې به یې دَ هغې اندراج کوو. ماښام به چې کورته تلو نو ځان سره به یې دَ مزدورۍ دوه سېره اوړۀ هم اوړل او دَ کور دَ خرچې دَ پاره به یې ترېنه د خپل ضرورت مطابق نغدې روپۍ هم دَ قرضِ حسنه په طور اخستے او دَ پهلوان کاکا دَ جېب په یوه وړه کتابچه کښې یې ځان پسې لېکلے . هغه اوس ډېر خوشحاله وو ځکه چې هغه او دَ هغۀ ټول ټبر په ګېډه ماړۀ او په جامه پټ شو .



www.pukhto.Net

وخت تېرېدو سره دَ هغوي تعلقات په دوستانه بلکه په رورولۍ کښې بدل شو دَ دواړو کورونو دَ سړو او زنانهٔ ستر پرده ماته شوه او هغوي به يو بل کره لکه دَ خپل کور بې تږخي تلل راتلل او اکثر به يو بل کره په يو نغري ناست وو . په ديکښې ډېره موده تېره شوه . دَ تاواني کاکا څلور لونه پخې پېغلې وې او کشرې دَ پېغلتوب کلۍ سپړدلې . هغهٔ په زړهٔ کښې دا غوټه کړه چې که چرې دَ هغهٔ لونه دَ پهلوان په کور کښې ځاې شي نو هډو دَ کوهي ختَه به په کوهي اولګي ، حيابه په حيا پاتې شي او هغوي ته به دَ بهروتو ضرورت پېښ نشي . په دې طمعه هغهٔ ډېره موده دَ پهلوان خولې ته کتل خو چې دَ هغهٔ يا دَ هغهٔ دَ ښځې له خوا څهٔ اَخ تُخ اونشو نو دَ تاواني کاکا په وېنا دَ هغهٔ ښځې دَ پهلوان کاکا ښځې ته اورونه اوکړه.

دَ تاواني کاکا لونه اصيلې هم وې او خوانده هم وې او کشرې جېنۍ خواوس اوس لسم جماعت پاس کړې وو او په يؤلسم کښې دَ داخلې په طمعه وه . هغوي دَ غريبۍ ترسکو دومره زېلې وې چې دَ پېغلتوب رنګينۍ ترېنه تختېدلې وې . دَ پهلوان کاکا د ښځې په انکار اګر څهٔ دَ هغهٔ روخې خړې شوې او دَ هغهٔ دَ ښځې طبيعت ختَه شو او نزدې وه چې دَ هغوي ترمينځه سپړه مړه شوې وه خو تاواني کاکا دَ خپلې مجبورۍ په وجه هغوي پسې مخه يونه ړه ، البته هغه زور خوندې پاتې نشو . چې دَ پهلوان کاکا دَ کورنۍ نه نااميده شوه نو دَ تاواني کاکا ښځې خپلو خپلوانو کره پښه اوږده کړه او هغوي ته





يې دَ خپلو لونو اورونې اوکړې خو چې ټولو پوزې او چونولې نو هغې هم خپله پښه راغونده کړه او په خپل کور کښې ښهٔ په پخه کېناسته . دَ پشکال شپې ورځې وې . يو خوا بې دريغه بارانونه وو، بل خوا خړ سېلابونه وو. سيند ډك وو، ولې کاټيالې ډکې وې اونهرونه لختې ترخولې خولې ډك بهېدل او په خکته تلل . دَ باران او سېلاب په وجه پهلوان کاکا سره دَ خپلې جرندې او دَ ګودام دَ کوټې دَ غورځېدو ډېره يره ملګرې وه . دَ باران او سېلاب په وجه دَ خلقو اوړهٔ دانې په جرنده کښې پرتې وې او چا اوړے نشوے . کېده کېده چې يوه شپه هغه کار اوشو څهٔ نه چې پهلوان کاکا يرېدو . سحر چې هغه جرندې له ورغۍ نو ځائے هم هغه وو خو نه جرنده او نه دَ ګودام کوټه وه . دَ جرندې ديوالونه کاټيالې ته پرېوتي وو او دَ کوټو لرګي او دَ ګودام ټوله غله دانه سېلاب په خکته اوړے وه . دَ جرندې ختمېدو سره دَ پهلوان کاکا دَ رزق وسيله هم ختمه شوه او دَ تاواني کاکا اُسره هم ختمه شوه . دَ پهلوان کاکا دَ عمرونو سرمايه او ټوله غله دانه اوبو داسې يوړه چې هډو څهٔ نوم نشان يې پاتې نشو . هغه په لږو ورځو کښې دَ پولۍ پرق ته کېناستو خو دَ هغهٔ دَ خوش قسمتۍ او دَ تاواني کاکا دَ بدقسمتۍ نه دَ هغهٔ وړه کتابچه دَ هغهٔ دَ واسکټ په جېب کښې پاتې شوې وه . په دغه کتابچه کښې هغه ټولې روپۍ ليکلې شوې وې کومې به چې تاواني کاکا وخت په وخت دَ هغهٔ نه اخستے. پهلوان کاکا چې خپل حساب اوکړو نو دَ هغې نه دېرش زره روپۍ



www.pukhto.Net

جوړي شوي . پهلوان کاکا څو څو ځله هغۀ له دَ حساب کتاب بلنه ورکړه خو هرځل به هغۀ اوړې پوړې کولے او خبره به يې زانګوله. چې هغه نه ناپوره شوه نوبيا يې جرګه جوړه کړه او جرګې ته يې کېنوو. تاواني کاکا نه دَ خپلو لېکلو نه انکار کولے شو او نه يې پېسې ورکولے شوے . هغۀ دَ هغۀ پېسې اومنلے خو دَ ورکولو طاقت يې نه وو . دَ جرګې مشرانو يوه مياشت نېټه کېښوده او تاواني کاکا ته يې اووے چې په مياشت کښې دننه به هغه له خپل قرض ورکوي ګينې بيا به جرګې له لس زره روپۍ جرمانه هم ورکوي او پهلوان کاکا له به خپلې پېسې هم ورکوې . تاواني کاکا دَ جرګې مشرانو ته خواست اوکړو چې دغه روپۍ هغۀ په لږه لږه اخستي دي او په لږه لږه به يې ورکړي خو دَ هغۀ خواست نه پهلوان کاکا اومنلو او نه دَ جرګې مشرانو.

تاواني کاکا ښۀ منډې تړړې اووهلے خو چې دَ چا در ته به ورتلو نو هغۀ به ورته وے ، مخکښې زړه قرضه راکړه نو بيا به نوې درکړم ، مياشت تېره شوه او دَ پېسو ورکولو نېټه هم تېره شوه خودَ هغۀ لاس له هيڅ رانه غلل . دَ "راکړه او دربه کؤ"دا خبره چلېده چلېده اَنُ چې مُشت وګرېوان ته اورسېده. چې سوك ، سپېړه او غابښ ماتې ، سرماتې پکښې اوشوه نو خبره بياجرګې له لاړه . جرګه کښې تاواني کاکا ملامته هم شو او لس زره روپۍ جرم هم شو . هغۀ له دَ يوې مياشت مهلت ورکړے شو او ورته اوويلے شو که په ټاکلي شوې





نېټه يې دغه روپۍ ورنکړے نو لس زره روپۍ جرمانه به نوره هم ورکوي . تاواني کاکا يو ځل بيا جرګې ته اووے چې ، "زۀ دَ پهلوان پېسې منم خو چې راسره نيشته نو څۀ اوکړم ؟" پهلوان کاکا پرې رااودانګل او دَ جرګې په مخکښې يې ورته غُټ پرېکړي اووے "چې درسره نيشته نو لور دې خرڅه کړه خو ماله خپلې پېسې راکړه " دَ پهلوان کاکا خبره په تاواني کاکا ډېره بده اولګېده . هغۀ په ډکو سترګو دَ جرګې مشرانو ته اوکتل خو هغوي ورته اووے ،"ښه وائي درته ، دَ زړۀ غوښې يې درپورې دي " په دې خبره هغه دَ قهره تك سور شو او ډډي په ډډې ووختو خو دَ هېچا يې هېڅ نشو کولے . په ډکو سترګو دَ جرګې نه اووتو او کورته روان شو . تاواني کاکا لس ورځې پرله پسې دَ غريب اٰباد ټولو خپلوانو پسې ورغۍ او هغوي ته يې خپله ژړا فرياد اوکړو خو هېچا هېڅ ورنکړل . دې نه پس ښځه او خاوند په خان اٰباد کښې اوګرځېدل خو دَ همدردۍ دَ يو څو خبرونه علاوه هغو ي سره چا هم مالي مرسته اونکړه . په دے غرض هغه ميان کلي ته هم ورغۍ خو دَ هغه ځايه هم مايوسه شو. دې نه پس يې ملك اباد ته دَ تلو اراده اوکړه . په دے نيې يې خپله کشره لور هم ځان سره کړه چې هغه به بي بي ته ژړا فرياد اوکړي او په خپله به خان صېب ته منت زاري اوکړي . اګر چۀ اعظم خان هغۀ سره مخکښې هم څو څو ځله ښه زړۀ پورے امداد کړے وو خو هغه صرف دَ خيټې وير وو او دا دَ عزت وير دے . هغه دَ اعظم خان حجرې ته ورغۍ او لور



www.pukhto.Net

یې دَ هغهٔ کورته اولیږله . اعظم خان په حجره کښې نه وو خو دَ هغهٔ ناظر او نوکران موجود وو . تاواني کاکا دغه ټولو کسانو پیژندو . دَ روغ جوړ نه پس چې هغه دَ اعظم خان تپوس اوکړو نو ناظر ورته اووے چې هغه او بي بي دَ ګرمۍ سیزن ټېرولو دَ پاره کالام ته تلي دي . په دې خبره اګر چهٔ دَ هغهٔ ښه مړاوې شوه خولکه څنګه چې اوبهٔ اوړلې هر بوټي ته لاس اچوي دغه رنګي هغهٔ هم دَ هغهٔ اسره واخسته او په خبرو خبرو کښې یې ورته خپله ټوله پېښه اوویله . ناظر او نوکرانو دَ هغهٔ ټوله قیصه وورېده خو په دې یې ختمه کړه چې "ستا قیصه واقعي قابلِ افسوس ده او که خان جي وے نو تاسره به یې ضرور څهٔ امداد کړے وو خو ستا دَ بد قسمتۍ نه هغه هم نیشته او بي بي هم نیشته " تاواني کاکا دَ خپل مخ خوله دَ قمیص په لمنه اوچه کړه او دَ شان تپوس یې اوکړو خو ناظر هغه له بې رحمه شان جواب ورکړو او وے وئیل ، "دَ هغهٔ هیڅ پته نه لګي چې چرته دے ". چې دَ هغهٔ نه ناامېده شو نو بیا غلے غوندے پاسېدو ، په درنو قدمونو دَ حجرې نه اووتو ، دَ کور دَ ګېټ مخې ته اودرېدو او دَ لور دَ راوتو انتظارېې کوو ، یوه شیبه پس چې هغه رااووته نو دَ هغې په ترخ کښې یوه غوټه وه . تاواني کاکا او هغه چې روان شو نو په لار کښې ترینه تاواني کاکا تپوس اوکړو ، "دے غوټه کښې څهٔ دي ؟" هغې جواب ورکړو، "بابا دېکښې جامې دي او ډوډۍ ده ". هغهٔ ترینه بیا په بې صبرۍ تپوس اوکړو،" څهٔ روپۍ ، پېسې یې درنکړې ؟" هغې جواب ورکړو "په



نیمګړي ارمانونه (پښتو ناول) پرویز شیخ

کور کښې مشره بي بي هم نه وه مشرخان هم نه وو او کشرخان هم نه وو". عالیه بي بي کور وه هغې راته وې ، "خفه نشې ، کورڅوك نیشته . . .بابا . . . .بابا . . . .عالیه بي بي ډېره ښهٔ بي بي ده . زهٔ چې کورته ورغلم نو هغوي ډوډۍ خوړلې وه او خدمتګارې لوښي غونډول . بي بي چې زهٔ اولیدم نو ماته یې وې ، "هله راشه راشه ، کینه ډوډۍ اوخوره . . .بابا . . .بابا، دَ لاس نه یې اونیوم او ډوډۍ ته یې په زور کېنولم . ما چې ځان موړ کړو نو نوره مې په لوپټه کښې راغونډه کړه چې ځان سره به یې کورته یوسم خو بي بي هغه زما دَ لوپټې نه لرې کړه ، دَ پلاسټك ګوتۍ کښې یې واچوله او راته یې اووې ، "دا ځان سره کورته یوسه " بیا څه جامې یې هم راغونډې کړې او دا غوټه یې ترې جوړه کړه ".

تاواني کاکا:دَ پېسو دې ورته اونه وې ؟ "ولې نه بابا" هغې دَ پړونې پسکې ځان ته راغونډ کړو او زیاته یې کړه ، "ماورته ټوله خبره ټکې په ټکې اوکړه . هغې چې زما خبره وورېده نو ډېره خفه شوه او ماته یې اووې ، "خفه کیږه مه ، دَ مشرخان راتلو پورې صبر اوکړه . چې هغه راشي نو ستا نوم به دَ زکواة په رجسټر کښې اولیکي او تاله به پېسې درکړي . بیا یې زما او ستا نومونه ځان سره اولیکل ". تاواني کاکا چې د هغې خبره وورېده نو یوسوړ اسوېلې یې اوکړو او وے وئیل ، " تاتریاق از عراق اُورده شوده ، ماګزیده مرده شوده " هغې په تلو تلو کښې هغهٔ ته اوکتل او وې وئیل ، "څهٔ دے اووے بابا؟"



www.pukhto.Net

تاواني کاکادَ خپل تندي خوله په لستوڼي اوچه کړه او وے وئیل، " راځه لوړي، ته په دې خبرونه پو هېږې". تاواني کاکا چې دَ تولو نه مایوسه شونو په یؤلسمه ورځ یې دَ مشري لور دَ غوږونو نه والۍ اوویستلے، هغه یې خرڅے کړے او په هغه پیسو پنجاب ته مزدورۍ له لاړو. هغه تر پنډۍ، فیصل آباد او لاهوره پورې اوګرځېدو خو هلته هم دَ مزدورۍ خوند نه وو. هغهٔ تهٔ به هروخت دَ پهلوان کاکا دا خبره مخکښې مخکښې کېده چې،"لوردې خرڅه کړه او ماله خپلې روپۍ راکړه". دې پېغور به هغه له لکه دَ مار ټکونه ورکول خو هیڅ یې نشو کولے. هغهٔ پنځلس ورځې په پنجاب کښې تېرې کړے خو هېڅ چُرېې اونه لګېدو. هغه به خپله کرمه هلته هم هرچاته بیانوله خوچا دَ هغهٔ په خبره غوږ نه ګره وو. اخر پرې یوسرے مهربانه شو او هغه ورته پوره لافه اووهله. په اولسمه ورځ چې هغه کلي ته راتلو نو هغه هم ورسره راغۍ او ماښام تیارهٔ کورته اورسیدو مېلمه هغهٔ سره په کور کښې شپه اوکړه او شپه په شپه دَ 565 نمبرسودا اوشوه سحر په خره یې دواړه ټیکسي کښې کېنول او چې دَ کلي خلق پاځېدل نو هغوي دَ کوره اوتي وو. دَ هغوي دَ تلو نه پس تاواني کاکا ښه غوړه ناشته اوکړه. بیا یې روپۍ دَ واسکټ په جېب کښې واچولے او بهر ته اووتو. دَ جرګې تول مشران یې راغونډ کړل او دَ روپو یو بنډل یې دَ هغوي په مخکښې دَ جېب نه را اوویستلو او ګوته یې پرې تېره کړه. څلویښت زره روپۍ یې ترېنه





بیلې کړے، په لاس کښې یې اونیوے او نورې یې په جېب کښې واپس کېښودو. بیایې ترېنه لس زره روپۍ بېلې کړے، دَ جرګې مشر له یې ورکړے او ورته یې اووے، "دا واخله صېب ستاسو جرمانه". بیا یې دېرش زره روپۍ نورې ورکړے او ورته یې اووے، "دا واخله صېب دَ پهلوان دېرش زره روپۍ، دا اوشمېره او پهلوان له یې ورکړه". دَ جرګې خلقو چې هغه سره دومره ډېرې روپۍ اولیدے نو ټولو یوبل ته سترګې روڅې اووهلے. یومشرترېنه په حیرانتیا تپوس اوکړو،
"تاواني دا دومره روپۍ دے دَ چرته نه راؤړے ؟"
تاواني کاکا: دا م راؤړے نه دي صېب، کورته راغلي دي"
مشر: کورته راغلي دي ؟ مشر دَ هغه په جواب نورهم حېران شو. او بیا یې اووے، "کورته راغلي دي ؟ زهٔ پو هـ نشوم". تاواني کاکا دَ ډېر قهره مسکے شو. په خبره یې هډو بونهٔ وانه چول او غټ پرېکړي یې اووے، "لور مِ خرڅه کړه". تول: (په یوه خوله)" لوردے خرڅه کړه؟ دومره غلط کار دے اوکړو، بې غېرته، بې شرمه، دله، دیوثه".
تاواني کاکا: نه بې غېرته یم او نه دله دیوث یم خو مجبورۍ او غریبۍ رانه دله، دیوث جوړ کړے وو. د دے قرض خلاصولودَ پاره مِ دَ خپلې لورنه ځان خلاص کړو. دا مشوره ستاسو په مخکښې دے پهلوان راکړے وه او تاسو ټولو پرې امنه کړے وه ...یوه حیا مِ بائیله خوبله مِ اوګټله. یو غیرت مِ لاړو خو بل مِ اوګټو. یوه پښتو مِ لاړه خو بله مِ راواړوله". دَ جرګې تولو مشرانو سرونه ټیټ کړي وو اودَ هغهٔ



www.pukhto.Net

خبرې یې اورېدے . په اخره کښې یې اووے ، "زما مشرانو ، مادوه کاره اوکړل . لورم خرڅه کړه او په هغې مې قرض خلاص کړو . . . یو تپوس درنه کولے شم چې په دے دوو کښې کوم کار ښهٔ دے او کوم بد دے "؟ هغهٔ ډېره شیبه دَ هغوي خولو ته کتل خو چې چا جواب ورنکړو نو غاړه یې تازه کړه ، ټوپۍ یې په تندي کېښوده ، پاسېدو او دَ جرګې نه اووتو . دَ هغهٔ دَ تلو نه پس ټولو هغهٔ پسې سپکې ډېرې شروع کړے خو چا هم دَ هغهٔ دَ سوال جواب اونکړو چې "لورخرڅول ښهٔ دي او که قرض خلاصول ښهٔ دي ".

هغه چې کورته اورسېدو نو په کټ کښې بُوړے بُوړے پرېوتو او په یولوے سوچ کښې ډوب شو . هغه تر ېروخته پورې مراقبه وو . دَ هغهٔ په مخ لړۍ لړۍ اوښکې روانې وي . بیا یې سر پورته کړو ، خپلې اوښکې یې اوچے کړے او پاسېدو . څادر یې په سر واچوؤ او بهر ته اووتو . هغهٔ چې دَ چا چا نه قرض اخستے وو نو دَ یو یو ورته به اودرېدو . دَ هغهٔ نه به یې معافي غوښتله ، دَ هغهٔ مننه به یې کوله او په مُسکا مُسکا به یې ورته خپل قرض واپس کوو . تاواني کاکا اګر چهٔ دَخپلې مجبورۍ نه خپله لورخرڅه کړے وه خو دَ خپلو خپلوانو او دَ کلي خلقو ترېنه لاس واخستو . تر دې چې دَ جمعے په ورځ دَ جامع مسجد نه هم اووېستلے شو . دې نه پس هغهٔ عام نمونځونه کور کول او دَ جمعے د نمانځهٔ دَ پاره به ملك اٰباد ته تلو. یوه ورځ یې چې په جمات کښې اعظم خان اولیدو نو ډېرخوشحاله شو . چې نمونځ اوشو





او ټول خلقو دَ جمات نه اووتل نو هغه هم اووتو او په مزه مزه دَ اعظم خان حجرې ته ورغی . اعظم خان په خپل خصوصي کټ کښې یو غټ بالخت ته ډډه وهلے وه او مخامخ ورته خپل زمیداران نوکران او همسایه ناست وو. تاواني کاکا چې دَ هغهٔ سترې مشي له ورغی نو هغه ورته پاسېدو او ډېر په مینه ورسره ملاؤ شو. دَ روغ جوړنه پس تاواني کاکا هغهٔ ته مخامخ په کټ کښې کېناستو او تپوس یې ترینه اوکړو ، "خان جي دَ کالام نه کله راغلے یې""؟

اعظم خان :. پرون راغلے یم . څهٔ ضروري کارونه مې اوکړل او نن مازیګر بیا روان یم ".

تاواني کاکا:. ډېره ښه ده خان جي . هرچرته چې یې خدائے موخوشحاله لره .

اعظم خان:. تاواني ، ستاخبره ماته شوې ده او هغه زماخیال کښې ده خو دَ زکواة کهاته زما مشر زوي شان سره ده او هغه کلي کښې نیشته چې هغه راشي نو تاته به ستاحق درکړي انشاء الله .ستاڅومره روپۍ پکار دي ؟

تاواني کاکا:. نه خان جي ، دغې دَ پاره نه یم راغلے . زهٔ صرف ستا سلام له راغلے یم اوس ماته دَ پېسو ضرورت نېشته .

اعظم خان (خاندي) تاته دَ پېسو ضرورت نېشته ؟ داسے سړے به لا هم وي چې دَ پېسو ضرورت به ورته نه وي ؟ او که زمانه خفه یې؟

تاواني کاکا:. نه خان جی خفه نه یم خو کوم وخت چې ماته ضرورت



www.pukhto.Net

وو نو تاسو په کلي کښې نه وې . اوس چې ماته ضرورت نیشته نو څۀ دَ پاره درنه واخلم ؟

اعظم خان (خاندي) هلکه تاواني خزانه دے موندے ده څۀ ، دَ هغه په خبره ناست ټول خلق خاندي . تاواني کاکا دَ هغوي په خندا کچه شي او سترګې خکته کړي . اعظم خان ورپسې زياته کړي، "که ډېرې وي درسره نو ماله يې راکړه چې چا غريب له يې ورکړم".

تاواني کاکا: هم دې دَ پاره ستاسو سلام له راغلم خان جي ...خان جي ستاسو ماسره پنځلس زره روپۍ جمع شوي دي . هغه مِ راوړے دي چې تاسو ته خپله قرضه واپس کړم .

اعظم خان :. نه تاواني نه . هغه خو ماپه ښنانه درکړي دي .واپسي پکښې نيشته .

تاواني کاکا: نه خان جي هغه درنه ما قرض اخستے وے او دا مِ درسره لوظ کړے وو چې کله په لاس راغلے نو دے حجرې له به يې درله راوړم . اوس مِ لاس له راغلي دي نو بهترخبره دا ده چې دَ وعدې مطابق تاسو ته خپله قرضه واپس کړم . البته دَ واپسۍ دَ تاخير درنه معافي غواړم . هغه دَ جيب نه روپۍ رااوباسي ، هغه شماري ، او چې پوره شي نو پاسي او دَ هغه لاس کښې يې اړدي . ټول خلق هغۀ ته په مُسکا مُسکا ګوري او خپلو کښې پس پسې کوي . اعظم خان دَ هغۀ روپۍ لاس کښې نيسي او ورته وائي ، "تاواني ، ستاقرضه ماته را اورسېده او دا دي لاس کښې مِ نيولي دي . تا دَ وعدې مطابق ماله





خپله قرضه راکړه او ما قبوله کړه . اوس دا روپۍ زماله خوا واخله او په زکواة کښې يې قبولے کړه".

تاواني کاکا:. خان جي ، ستاسو ډېره ډېره مننه . خو ...زۀ دَ زکواة مستحق نه يم . هغه چاله يې ورکړه چې حاجت مند وي ، غريب وي ، مجبوره وي . ستاسو ډېره ډېره مننه .خان جي ماله اجازت راکړه ،خان جي ، زه درنه ځم يوضروري کارِ دے "

دې سره تاواني کاکا هغه له لاس ورکوي ، دَ هغۀ لاسونه ښکلوي او ډېر په تېزۍ سره دَ هغۀ دَ حجرې نه بهر اوځي . اعظم خان په يو لوے سوچ کښې تلے وي . ټول خلق خاموش وي او هغه ته ګوري خو داسې معلوميږي چې هغه د دے خلقو نه ډېر لرے تلے دے .ډېره شېبه پس چې هغه دَ خيال دَ دنيا نه اووتو نو هغه ځاے ته يې اوکتل چرته چې تاواني کاکا ناست وو . هغۀ چې تاواني کاکا اونه ليدو نو په حيرانتيا يې دَ ناظر نه تپوس اوکړو "سبفوريه ، هغه تاواني څۀ شو"؟ ناظر دَ هغۀ په خبره مُسکے شو، هغۀ ته مخاطب شو او وے وئيل ، " هغۀ خو خان جي ، تاسو سره لاس ملاؤ کړو او لاړو".

اعظم :. (ناظرته) سبفوريه . دے تاواني لاماسره کومه لوبه اوکړه ؟

ناظر(په يره او حيرانتيا) ولې خان جي؟ که څۀ ګوته يې کړي وي چې سړے ورپسې اولېږم اوستا پښو له لاس تړلے راولي.

اعظم خان :. دا خو عجيبه سړے دے هغۀ ماته هغه قرضه واپس کړه چې ما هېرکړے وه . زۀ نه پوهېږم چې هغۀ واقعي ايمانداري اوکړه



www.pukhto.Net

او کـه ماپورې یې خندا اوکړه ". دَ اعظم خان په خبره ناظر مُسکے شو او ورتـه یـې اووے، "دَ هغـهٔ غم مهٔ کوه خان جي نن سبا هغهٔ ښهٔ غوړ دے " دهغـهٔ پـه دې خبـره ټـول نـاست خلق خاندي . اعظم خان چې دَ خلقـو خندا ته اوکتل نو د ناظر نه یې بیا تپوس اوکړو، "ولې څهٔ چل شوے دے "؟

ناظر:. خان جي هغهٔ لور خرڅه کړے ده ځکه غوړ دے ".

اعـظـم خـان :. اوه ، دا یې څهٔ کړي دي ؟ دومره لوې ظلم . . .؟ ماته پوره خبـره اوکـړه "نـاظر هغهٔ ته دَ هغهٔ خبره شروع کړه او ټکې په ټکې یې ورتـه اوکـړه .اعـظم خان چې خبره واورېده نو سترګې یې ډکې شوې او ډکې سترګې کورته روان شو .

دَ تاواني کاکا په خپل کلي او نورو خواؤ شاکلو کښې هیڅ عزت نه وو پاتـې . هـرچابـه ترېنه کرکه کوله . بله دا چې دَ هغهٔ هم دَ ټولو نه زړهٔ مـوړ وو او هغهٔ به هم هرچاته دَ شك په سترګه کتل . که دوه کسانو به خپـلـه خبـره کـولـه نو هغه به داسې ګڼله چې شاید دَ هغهٔ په سرخبرې کوي هغـهٔ چې دَ اعظم خان دَ حجرې نه کورته لاړو نو خپله ضروري کـډه یـې اوتړله او دَ شپې په تیارهٔ کښې داسې اووتو او داسې غېب شو چې هیچا ته یې هیڅ پته نه لګېده .

★★★★★

★★★

★





## « دریم باب »

دَ ورځې دوه بجې وې. په اسمان توره ګُوره وریځ خوره وه او رڼا ورځ تـوره شپـه وه پـه دغه توره تیارهٔ کښې دَ ګاډو لائټونه لکه دَ شپې لـګـېدلي وو او په سړك دَ ګاډو یو غرغُور او پو ن پاں وو. دَ تـاواني کاکا لـور کـرشـمه خپل اجنبي ملګري شاهد سره په ټیکسي کښې ناسته وه او دَ ژوند پـه لـوې سفـر دَ نـامعـلـوم منزل په لور روانه وه . شاهد دَ دېرش ، پـنـځـه دېرش کالو سړې وو. دَ شکل وصورت او خبرو اترو نه تـعـلیم یافته او مهذّب ښکارېدو. دَ هغهٔ مورنۍ ژبه پښتو وه خو اردو او پنجابي یې هم روانۍ سره وېلې شوه هغه دَ ټیکسي په فرنټ سیټ کښـې نـاست وو او پـه ټـولـه لاره یـې کـلـه ډرائیـوراو کـله په موبائېل چاسره خبرې کـولـې . کـرشـمه په روستي سیټ کښې ناسته وه ، په پړوني کښې یې ځان راغونډ کړې وو او خپله غوټه یې په غېږه کښې ایښې وه . هـغـې دَ هـغـهٔ خبرې اورېدې خو هغه پرې نه پو هېده ځکه چې هـغـه چاسره په پنجابۍ کښې لګیاوو البته چې کله به دَ هغهٔ په خبـرو کښې دَ "پټهاني" ټکې راغۍ نو هغه به پو هـ شوه چې دَ هغې ذکر خبر کېږي ، خو هغې دَ هغهٔ په خبرو کښې دلچسپي نه لرله .

دَ هـغـې سـتـرګـې لـکـه دَ تـورې وریـځـې ډکې وې او سپیني ملغلرې اوښـکـې پـکـښـې اوختې را اوختـې خـو دَ هغې ککوغور ځېدو ته نهٔ پـرېښـودې. یو خوا په اسمان کښې برېښنا او ګړزار وو او بل خوا دَ هغې پـه زړهٔ کښې دَ غمونو ناتار وو. دَ تندر هرګرز سره به هغې لکه دَ خزان



www.pukhto.Net

دَ زیړ پاڼې ریږدېده او لنډه اوږده کېده ،ځان به یې په خپل پړوني کښې انغښتو او خپله غوټه به یې خپلې سینې پورې داسې جخته نیوله لکه دَ یرې په وخت چې یوه مور خپل بچې خپلې سینې پورې کلک نیسي. دغه غوټه دَ هغې دَ پلارګنۍ له خوا دَ هغې داج وو. په دغه داج کښې دَ هغې دوه جوړه رېمنې جامې ، یوه لوپټه ، یوه جوړه کېړۍ او دَ یؤلسم جماعت یو څو زاړۀ کتابونه وو. دَ ګرز سره به شاهد هغې ته روستو کتل او هغې له به یې په مُسکا مُسکا تسلي ورکوله . دَ هغه دَ تسلۍ الفاظ او مُسکا په هغې داسې لګېده لکه قصاب چې دَ چاړې راخکو نه مخکښې ځاروي ته په مُسکا ګوري او په ملا یې ټپوي . دَ هغۀ دَ مُسکا او تسلۍ په جواب کښې به هغې هغۀ ته په چپه خوله دَ مظلومیت په نظر اوکتل او بیابه یې ترېنه مخ واړه وو. ګاډې مخکښې روان وو او دَ هغوي دَ منزل لاره غوسېده خو هغې غوښتل چې دغه ګاډې ټول عمر هم دغسې روان وي او خپل منزل ته چرې هم اونه رسي . هغه په لوې سوچ کښې ډوبه وه او دَ دنیا په لویه ائینه کښې یې دَ خپل ځان ، دَ خپل ژوندنظاره کوله . دغه نظاره کښې هغې ته خپل ځان بیخې یواځې او بې اسرې ښکارېدو . دَ هغې ارمانونو سلګۍ وهلې او دَ هغې سلګو سره دَ هغې زړۀ ډبۍ وهلې. دغه نظاره کښې هغې خپل مور پلار، خپلې خویاندې ، خپلې ملګرې هم اولیدې او خپل خپلوان یې هم اولیدل . دغه ټولو نه هغه ګیله منه وه چې هیچا هم دَ هغې په غېرت، غېرت اونکړو او





هیچا هم هغه دَ حالاتو او دَ وخت دَ سپېړو نه بچ نکړې شوه . کله به چې دَ هغې نظر په شاهد پرېوتو نو دَ هغۀ دَ وجود نه به ورته توره بلا جوړه شوه ، داسې بلا چې درنګ ساعت له په هغې حمله کوي او هغه هلواقه تېره وي . دَ هغۀ په مُسکا کښې هغې ته کرکه ، دَ هغۀ په خوله هغې ته دَ خپلو ارمانونو وینه او دَ هغۀ په غاښونو کښې دَ خپلو ارمانو نیلې ښکارېدې . یوځل دَ هغې په زړۀ کښې راغله چې هغه دَ روان ګاډي نه ټوپ کړي ، اوتختي او په منډه منډه ځان دَ خپلې مور غېږې ته اورسوي خو بیا به یې په زړۀ کښې راغله چې دَ مور دَ غېږې نه خو هغه شوکېدلې ده واپس څنګه لاړه شي او که هغه په تختېدو کښې کامیابه نشي نو بیا به څۀ کېږي؟ دَ هغې انجام به څۀ وي؟

یوخوا ډکه وریځ وه ، بل خوا دَ هغې ډکې سترګې وې . معلومه نه ده چې ډکه وریځ دَ هغې دَ اوښکو څڅېدو په انتظار وه او که دَ هغې ډکي سترګې دَ وریځې دَ ورېدو په انتظار وي . دَ هغوي دَ انتظار دغه لمحې تېرېدې چې یوخوا د هغې په زړۀ کښې څۀ خیال راغۍ بل خوا نرۍ هوا په سیلۍ کښې بدله شوه . فطرت نه وریځ ورېدو ته پرېښوده او نه یې دَ هغې سترګي څڅېدو ته پرېښودې . سیلۍ سره ډکه وریځ شندې لاړه او دَ هغې خیال سره دَ هغې ډکې سترګې اوچې شوې . په لږ ساعت کښې فضا صفا شوه ، دَ زیړ مازیګر دَ نمر زیړه سترګه په ځلا شوه او دَ هغې په مخ مُسکا شوه .ګاډے ډېر په مستۍ مستۍ مخکښې روان وو . نمر په ډوبېدو وو چې دَ هغوې



www.pukhto.Net

ګاډے دَ بادشاهی مسجد په خوا کښې تېر شو او په یوضمني سړك روان شو. چې څۀ تېوتېه مخکښې لاړو نو دَ ګنو زړو بنګلو په مینځ کښې دَ یوې درې چهتیزه بنګلي مخې ته اودرېدو . شاهد چې دَ ګاډي نه کوز شو او ډرائیور له یې کرایه ورکړه نو دَ هغې خواله ورغے . هغې ته یې دَ ګاډي کهړکی لرے کړه او ورته یې اووې."راځه بي بي " هغې خپله غوټه په لاس کښې اونیوه ، دَ ګاډي نه کوزه شوه او هغه پسې روانه شوه . شاهد چې دَ ګېټ په تلی ګوته کېښوده نویوه شیبه پس ګېټ لرے شو . هغوي دواړه چې کورته دننه شو نو یوې نیم زالې ښځې شاهد ته سلام اوکړو او کرشمې ته ورترغاړه وته . هغه یې څو څو ځله ښکل کړه او ځان سره یې یوې خاص کمرې ته بوتله . هغه یې په کمره کښې کېنوله او ورته یې اووې ، "دا ستا کمره ده بي بي. تۀ ساه صورت په ځاې کړه او جامې بدلې کړه ، زۀ راځم". دې سره هغه دَ کمرې نه بهر اووته . کمره ډېره خائسته او ارام ده وه . په کمره کښې دَ پرفیوم سپرې شوې وه او هریو څیز په مناسب ځاې په سلیقه پروت وو. په فرش باندې سور قالین غوړېدلې وو او سرې متکې پرې دیوال ته لګېدلې پرتې وې . یوخوا ته سنګل بېډ وو او هغې سره جخت دَ شیشې یو وړوکې مېز پروت وو او دَ چاندی اېش ټرې پرې دَ پاسه پرته وه . ورته مخامخ دېوال باندې شوکېس وو او په هغې کښې دوه پلاسټکې ګلدستې او دَ ډېکورېشن نور پیسونه لګېدلي وو. دَ شوکېس خوا کښې سنګارمېز او دَ مېك اپ سامان





پروت وو. هغې سره جخت په هینګرو کښې ښه اعلیٰ او قیمتي جوړې اوېزانده وې . ورسره خوا کښې په دیوال کښې یو ائرکنډیشن لګېدلې وو او دَ پاسه چهت سره نزدې یوا کزاسټ فېن لګېدلې وو. دَ کمرې یوطرف ته ټچ واش روم او بل طرف ته نګارخانه وه . هغه لا په انغښتي پړونې کښې نېغه پېغه ناسته وه چې هغه نیم زالې ښځه بیاراغله . دَ هغې په لاس کښې یوه وړه ترې وه او په ترې کښې دَ شربت یوګلاس پروت وو. هغې دَ راتلو سره هغې ته اووې ، "بي بي تالاجامې نه دي بدلې کړي "؟ شرمېږه مه بي بي ، داستا خپل کور دے . پړونې لرې کړه او دې مخامخ جامو کښې ځان له یوه جوړه خوښه کړه او واغونده ". کرشمې هغې ته په یره یره اوکتل او وې وئیل ، "دَ بدلولو ضرورت نیشته فی الحال دا اغوستې جامې ښۀ دي " هغې ورته په مُسکا اوکتل او وې وئیل ، "دا ستا خپل کور دے او زۀ ستا خدمتګاره یم . زما خپل نوم نفیسه دے خو ټول راته خاله وائي . چې تاته دَ څۀ څېز ضرورت وي نو رېنګ کوه ، زۀ به راځم " هغه یوه شیبه دَ هغې دَ جواب انتظار کوي خو چې هغه څۀ جواب ورنکړې نو بهر ته اوځې. دَ خاله دَ تلو نه پس هغه پاسېده او ورېې بولټ کړو . بیا یې خپل پړونې لرې کړو یوخوا ته یې کېښودو او واش روم ته ورغله . په واش روم کښې دَ تولیه ، صابن او تېل وغېره نه علاوه دَ ماربل یولوې ټب دَ اوبو نه ډك پروت وو او هغې ته مخامخ یوه قدِ ادم آئینه لګېدلې وه . هغې مخ لاس اووینځلو او په خپله



www.pukhto.Net

لُوپټه یې اوچ کړو . چې دَ واش روم نه اووته نو بیا نګارخانې ته ورغله . په نګارخانه کښې بې حجابه او فحش تصویرونه لګېدلي وو . هغې چې ورته اوکتل نو دَ هغې حیا دغه کتنه برداشت نکړې شوه . ډیره په توندۍ سره بهر اووته او دَ نګارخانې ور یې بند کړو. بیا په بیډ کښې کېناسته او په مېز پروت دَ شربت ګلاس یې اوچت کړو. هغې لا دَ شربت ګلاس نیمی ته نه وو رسولې چې بهر یې دَ خندا ګڼې اوازونه وورېدل . هغې لا دَ دغه خنداګانو اندازه اخسته چې دَ هغې دَ کمرې په ورناکنګ اوشو . ناکنګ سره هغه پاسېده او دَ وربولټ یې خلاص کړو. دَ ورلرے کېدو سره شلور جینکۍ او یوه پوخ عمره ښځه دَ هغې کمرې ته په خندا خندا دننه شوې . هغوي ټولو هغې سره واره په واره روغ جوړ اوکړل او هغه یې ځوځو ځله ښکل کړه . دې نه پس هغوي ټولې په قالین کېناستې او متکوته یې ډډې اوو هلې . پوخ عمره ښځې خپله پیژندګلو داسې اوکړه ، "لورې زما نوم مطهره دے خودا ټولې جینکۍ راته مائي وائي. ستا څۀ نوم دے لورې"؟ کرشمې خپل ځان په لوپټه کښې راغونډ کړو او هغې ته یې اووې ، "زما نوم کرشمه دے مائي". د دے نوم په اورېدو سره ټولو یو بل ته په مُسکا مُسکا اوکتل. مائي دَ هغې دَ ډاډ ګیرنې دَ پاره اووې ، "ډېر ښۀ نوم دے لورې ، خدائے دې بختوره کړه او خدائے دے نصیب دَ ښو کړه ". دې نه پس مائي هغې سره دَ ټولو پېژندګلو اوکړه . په دغه جینکو کښې دَ یوې نوم ګل سانګه وو، دَ بلې نوم زري وو . دَ دریمې





نوم ګلابه وو او دَ څلورمې نوم فهمیده وو. دغه ټولې جینکۍ په داسې لباس کښې ملبوسه وې چې هغې ته لباس نشي وېلے کېدے . دې نه علاوه د هغوي دَ خبرو نه هم معلومېده چې دغه ټولې ازاده خیاله دی. هغوی اوس دَ بازار دَ چکر نه راغلې وې او ټولو دَ خپلو واقعاتو او خپلو ملاقاتیانو دَ کردار په باره کښې په خندا خندا خپلې خبرې کولې . هغوي به په خبرو خبرو یو بل پورې ټوقې مسخرې هم کولې او خپلو کښې به یې دَ یو بل پېښې هم کولې .کرشمه اګر چۀ په خپله چپ وه خو دَ هغوي په خبرو کښې یې ډېره دلچسپې اخسته ځکه چې دغه ټولې پښتنې هم وې او دَ ګل سانګې او زري نه علاوه دغه نورې تقریبًا دَ هغې همځولې هم وې . دَ هغوي خبرې او خنداګانې لاجارې وې چې خاله راغله او هغوي ته یې اووې ، "راځۍ بېیانو ډوډۍ تیاره ده ". دې سره هغوي ټولې پاسېدې او یوې کمرې ته ورغلې . په یو لوې مېز ډوډۍ لګېدلې وه . هغوي ټولې مېز ته کېناستې او ډوډۍ یې شروع کړه . دَډوډۍ نه پس هغوي لا ناستې وې چې مائي کرشمه دَ لاس نه اونیوه ، هغې سره کمرې ته ورغله او ورته یې اووې ، "لورې تاسفر کړې دې ، سترې شوې به یې . تۀ دې پالنګ کښې سمله چې خپې درله اومندم.

کرشمه :. نه مائي نه . زۀ په ګاډي کښې راغلې یم .پیاده نه یم راغلې چې سترې به یم .

مائي :. ډېره ښۀ ده ، خدائے دے دَ سترې ورځ نه اوساته . . .لورې که



www.pukhto.Net

تهٔ بد نه ګڼې نو زهٔ به تاسره سملم ځکه چې تهٔ مېلمنه هم يې او يواځې هم يې".

کرشمه (مسکی شي) دا خو دې زما دَ زړه خبره اوکړه مائي. زهٔ به په کور کښې مور سره سملاستم. چې دَ هغې نه قسمت جُدا کړم او تاله يې راوستم نو تاسر به سملم. تهٔ هم ماته دَ خپلې مور نه کمه نه ښکارې ...راځه مائي، بيډ ته اوخېژه.

مائي:. ښاده شي لورې. بختوره شې او په خوشحالو مړه شې.

هغوي دواړه په يو بيډ کښې سملاستې څهٔ وخته پورې هغوي خپلو کښې خبرې کولې او په دغه خبرو خبرو کښې اوده شوې.

**﴿دوېمه برخه﴾**

دَ شاهد په کور کښې نن دَ کرشمې درېمه ورځ وه. دَ مائي په ډاډ هغې نوې نوې جوړې هم اغوستې او لکه دَ نورو جينکو يې خپله سرځنه او ډول او سنګار هم کوو. دلته په راتلو باندې هغې ته دَ ژوند سهولتونه حاصل وو. دې نه علاوه مائي هغې له دَ مور مينه ورکوله او خاله به ورته دَ يوې تابعدارې خدمتګارې په حېث لاس په نامه ولاړه وه. يواځې دا نه بلکه دَ هغې دَجوړو، جامو په انتخاب کښې او دَ هغې په فېشن او ډول سنګار کښې به يې هغې سره ښه پوره مرسته کوله. دې نه علاوه دَ هغې وېښتهٔ يې دَ نوې فېشن مطابق جوړ کړل او چې کله به يې هغه سنګار کړه نو دَ لوپټې په ځاے به يې ورله زلفې په اوږو خورې کړې. دلته په راتلو باندې دَ





هغې ټولې خدشې او اندېښنې ختمې شوې اوس هغه ډېره خوشحاله وه ځکه چې دَ دنيا ټول نعمتونه او سهولتونه ورته حاصل وو. خاله به په ساعت په ساعت دَ هغې کمرې ته راتله، دَ هغې مزاج پُرسي به يې کوله او هغې ته به يې خپل خدمات پېش کول. که دَ کمرې نه په وتو راوتو کښې به يې پښه په زمکه لړه کړه اولګېده نو بيا به ورته خاله ناسته وه هغه به يې ورله پُوکله اومږله. هغه اګر څهٔ په ظاهره خوشحاله ښکارېده خو د دې ټولو سهولتونو، نعمتونو او خدمتونو باوجود هم دَ هغې په زړهٔ کښې يره وه. هغه يره کومه چې يوې پېغلې جينۍ ته په پردي کور کښې کېدېشې. کله کله خو به هغې ته داسې محسوسه شوه لکه چې دا هر څهٔ يو خوب وي، هغه خوب چې حقيقت سره هيڅ تعلق نهٔ لري. دے خيال سره به دَ هغې زړه لکه دَ شګو دَ کمر رژېدو او خوېدو او دا خدشه به يې په زړهٔ کښې راتله چې هسې نه د دې عزت افزائی په بدله کښې دَ هغې نه دَ هغه قربانۍ مطالبه اوشي چې دَ هغې پوره کېدل ورته ګران شي. هغه حيرانه په دې وه چې په دے کور کښې دَ هغې نه علاوه شپږ زنانه نورې هم دي خو نارينه پکښې يو هم نيشته. شاهد چې هغې هاغه په رومبۍ ورځ لېدلې وو نودَ هغې نه پس يې اونه ليدو. هغې ته دا کور پُر اسراره او د دے کور خلق مشکوک ښکاره شو ځکه چې دَخاله نه علاوه نورې جينکۍ او مائي به هغې سره مازيګر، ماښام ملاوېدې او دَ ورځې به ليدې نشوې. په دغه ټولو زنانهٔ کښې يوه



www.pukhto.Net

خاله وه چې هغې سره به ناسته وه . دَ هغې خدمت به يې هم کوو او هغې سره به يې خبرې هم کولې خو دَ نورو هيڅ پته نه لګېده . دَ هغې په زړۀ کښې شوشوځله راغله چې دَ هغوي په باره کښې دَ هغې نه تپوس اوکړي خو بيا به يې په زړۀ اوخوړه چې هسې نه دَ هغې په تپوس هغه خفه شي . دَ هغې په خيال کښې لا دغه خبرې ګرځېدې چې هغه پرې مخکښې شوه او په داسې وخت کښې يې ترېنه تپوس اوکړه چې کرشمه په خپل بيډ کښې پرته وه او هغې ورله پښې منډلې . هغې په يره يره اووې ، "بي بي يو تپوس درنه کولې شم "؟ دَ هغې په مخ باندې مسکا راغله او په زړۀ کښې يې جوړه کړه چې هغه ترېنه تپوس اوکړي نو هغې ته به هم دَ تپوس موقع ملاؤ شي. هغې ورته په مُسکا اووې ، "هاؤ خاله ، بالکل کولې شي ".

خاله:. بي بي خفه نشې خو هسې ماوې چې ته دلته څۀ بلا راؤړې؟

کرشمه (مسکې شي) زۀ چې کومې بلا دلته راوستې يم دَ هغه بلا نوم دے شاهد .

خاله :. "نه بي بي ، زما مطلب دے چې تۀ توره شوې يې او که خپل مئين درسره دهوکه کړې ده "؟

دَ هغې په دے بې هوده او کچه تپوس باندې هغه دَ غصې نه سره لمبه شوه . پښې يې راغونډې کړې او په زړۀ کښې يې راغله چې هغې له په سينه کښې داسې غبرګې لتې ورکړي چې دَ کټ نه يې خکته اوغورځوي او سر کښې يې عقل راشي . بهرحال هغې دَ هغې





دَ عمر او دَ خدمت دَ خاطره دغسې اونکړې شو. ځان يې راغونډ کړو او خپله غصه يې قابو کړه . يوه شېبه پس يې هغې ته په برندو سترګو اوکتل او وې وئيل :"دا تپوس دے څنګه اوکړو"؟ خاله په خپل تپوس باندې نه خفه وه او نه ورته ځان ملامته ښکارېدو ځکه چې دا دَ هغې په خيال کښې يو عام غوندې تپوس وو او دَ خفګان يا غصې پکښې هيڅ خبره نه وه خو دَ هغې دَ خاطره هغې اووې، "ماته پته اولګېده چې دا تپوس ستا دَ قوت برداشت نه بهر دے . خفه نشې بي بي خو دا تپوس مِ ځکه اوکړو چې دا ځائے دَ اصيلو او پاکو جينکو دَ پاره نه دے . . .بلکه دلته هغه څوك راځي چې بدنامې شوې او تورې شوې وي . د دې خبرې اورېدو سره هغې خپل سر په دواړه لاسونو کښې اونيوو او کلك زور يې ورکړو . خاله زياته کړه ، دا ځائے دَ هغه چا دَ پاره دے چې خپل عزت ته او دَ مور پلار، کورنۍ او دَ قام قبيل غېرت ته يې اور ورته کړې وي ". کرشمه دَ بدله اخستو په غرض دَ هغې نه په ستغه لهجه کښې تپوس کوي ، " په دغه خلقو کښې تۀ او دغه نورې جينکۍ هم شاملې دي "؟

خاله دَ هغې په ستغه لهجه او تپوس بد اونۀ ګڼل او په مُسکا مُسکا کښې يې اووې ، زمونږ دَ ټولو يو حال دے . زۀ مطهّره ، ګل سانګه ، زرې ، ګلابه ، فهميده او دَ دوي نه علاوه څۀ نورې هم وې . څۀ مړې شوې ، څۀ لاړې اوتختېدې او دَ چاچې بهر دَ اسرې ځاے نيشته نو هغوي دلته دي .



www.pukhto.Net

کرشمه :. دا جینکۍ دلته څۀ کوي ؟

خاله (مسکۍ شي) چې څۀ ورځې تېرې شي نو په خپله به پو هـ شي . خفه نشي بي بي خو بیا به تۀ هم هغه څۀ کوې څۀ چې دوي کوي.

کرشمه :. دَ دوي خرچه څوك برداشت کوي او النه پالنه يې څوك کوي؟

خاله :. دوي خپله خرچه هم اوباسي او ګټه هم راوړي .

کرشمه :. زۀ پو هـ نشوم . دَ دوي دَ ګټې څۀ ذریعه او څۀ طریقه ده ؟

خاله (خاندي) هاې زماساده بي بي . تۀ لا اوس هم پو هـ نشوې ؟ دا ټولې عزت فروشي ، عصمت فروشي او بدن فروشي دي .

کرشمه :. اوه خدایه . داسې هم کېدېشي خاله ؟

خاله (خاندي) کېدې نشي بلکه داسې کېږي . . .دا ټولې دَ ورځې اودۀ وي او دَ شپې ویښې وي .

کرشمه :. اوه ، دا خبره ده . ماوې چې دوي تر مازیګر ، ماښام پورې ولې لیدې نشي . . .اومائي ؟ هغه خو وختي پاسي، هغه چرته ځي؟

خاله :. مائي ( هغه مسکۍ شي ) هغه دَ ناشتي نه پس بهر اوځي او دوي دَ پاره مارکېټنګ اوبُکنګ کوي . دَ هغې په خبره باندې کرشمه غصه شي. په غصه کښې دَ هغې خبري جذباتي شي او دَ جذباتو په مدوّجزر کښې وائي، ”دا تۀ . . .تۀ . . .دا تۀ وائې خاله ؟ ستا دا جرأت چې دَ مائي په باره کښې داسې سپکې خبرې کوي . ډېره دَ افسوس خبره ده خاله چې تۀ دغه بوډۍ مائي پسې داسې خبرې کوي.



www.pukhto.Net



خاله :. اوه بي بي ، تۀ زما په مطلب پو هـ نشوې . دا زۀ چې څۀ وایم دا څۀ پټه یادَ راز خبره نه ده . نه زۀ دَ هغې سپکه ویم او نه دَ هغې بده ویم بلکه دا حقیقت دے . دلته هرڅۀ او هره خبره په ډاګه کېږي. دَ شرم وحیا او مشرې کشرې لحاظ نیشته بلکه لوبه دَ پېسي ده . لوبه دَ ګټې او وټك ده . هر یوې تۀ دَ هر میلمه دَ نامې کارډ ملاوېږي . . .دا دَ ګاهك خوښخه ده که دلته راځي او که خپل ځاے ته يې غواړي؟

کرشمه :. بس بس خاله ، دَ مائي په باره کښې ستا سپکې او کچه خبرې زۀ نورې نشم برداشت کولې . هغه ماته داسې ښکاري لکه زما خپله مور .

خاله :. بي بي ، خداے دے ستا مور بي بي د داسے کارونو نه اوساتي ، تۀ دَ هغې او زما دَ لور په ځاے يې خو هغې ته یاماته مور وئیل دَ مور دَ نوم توهین او دَ مور دَ مینې سپکاوې دے .

کرشمه :. دا کاروبار دَ چا په سرپرستۍ کښې کېږي؟

خاله :. د دې اډې مالکه او سرپرسته دغه مطهره یعني ستا مائي ده . ټوله ګټه هغې ته ځي.

کرشمه :. او شاهد؟ دَ هغۀ دلته څۀ حېثیت دے ؟

خاله :. شاهد دلته پېدا شوے او لوے شوے دے خو دَ هغۀ خپله مور مړه شوې ده . او هغه دلته دَ یو ورکر په حېث کار کوي.

کرشمه :. دَ هغۀ خپله ښځه او بال بچ شته ؟

خاله :. دا څلور واړه جینکۍ دَ هغۀ ښځې دي خو بال بچ يې نیشته.

دلته څوك دَ بال بچ خواهش نۀ لري . کرشمه په لوے سوچ کښې پرېوځې او ډېره شیبه په دغه حال کښې وي . بیا هغې ته ګوري او وائي ، ”شاهدښکاره نشو؟ چرته تلے دے ؟ “

خاله:. هاؤ، هغه ستا دَ نکاح په چکر کښې خپلې علاقې ته چکر شوے دے . چې هغه سره ستا نکاح اوشي نو تۀ به دَ هغه پنځمه ښځه شي.

کرشمه :. زما دَ نکاح په چکر کښې ؟ . . .او زۀ به دَ هغۀ پنځمه ښځه شم ؟ پنځه ښځې په اسلام کښې جائز دي ؟ چرې هم نه .

خاله :. دا دلته چې څۀ کېږي نو دا په اسلام کښې جائز دي ؟ چرې هم نه . هغه خپل کاروبار له قانوني شکل ورکول غواړي . تۀ به قانوني طور دَ هغه ښځه یې خو . . .(هغه چپ شي) . کرشمه هغې ته دَ تپوس په نظر نېغ نېغ ګوري او وائي ، ”چپ ولې شوې ؟ دَ خپلې خبرې وضاحت اوکړه ؟“

خاله :. چپ ځکه شوم چې تۀ خفه نشې.

کرشمه :. تا زما دَ خفګان څۀ پرېښودې دي . دې دَ پاسه به څۀ خفه شم . زما خفګان ته مۀ ګوره خپله خبره پوره کړه .

خاله :. ښه نوماوې چې تۀ به قانوني طور دَ هغۀ ښځه یې خو اصولي طور، زما مطلب دے چې د دے ځاے دَ اصولو مطابق به دَ هرهغه چا یې چې تاته رجوع کوي “. د خاله په دې خبره هغه دَ قهره تکه سره شي او په ټول بدن یې دَ قهره زلزل راشي . هغه ډېر په مشکله ځان قابو کړي





او بیا وائي ، ”چې دا خبره ده نو بیا دَ نکاح څۀ ضرورت دے“؟

خاله:. دَ نکاح ضرورت ځکه دے چې تاته قانوني تحفظ او هغه ته قانوني حق ملاؤ شي .

کرشمه :. او دَ پنځمې ښځې مسله به څنګه شي؟ آیا دا قانوني طور کېدېشي؟

خاله :. نۀ داسې نشي کېدې خو دا مسله څۀ دومره مشکله نه ده او نه څۀ نوې خبره ده . په دغه څلورو کښې به یوه پرېږدي او هغه به لکه زما خدمتګاره شي. شاید تۀ دَ ګل سانګې ځاے واخلې او هغه به ستاسو دَ ډلې نه اوځي“.

کرشمه :. خاله تاسره هم داسې شوي دي لکه اوس چې به ګل سانګې سره اوشي ؟

خاله :هاؤبې بې زما نه مخکښې هم داسې شوي دي ماسره هم شوي دي او مطهرې سره هم شوي دي .

کرشمه :. تۀ او مائي خودلته یې هغه نورې څۀ شوې.

خاله :. څۀ مړې شوې . . .څۀ زړې شوې او دَ لارې دَ کوڅې شوې. څۀ په لارو کوڅو او بازارونو کښې خېرغواړي . څۀ درګاهونو، خانقاهونو او دربارونو ته لاړې او زبرګې ترېنه جوړې شوې (خاندي).

کرشمه :. دَ شاهد نه مخکښې دا کاروبار چا کوو؟

خاله :. دَ شاهد نه مخکښې دا دنده زما خاوند یعني دَ شاهد پلار عالم خان کوله . زۀ دلته ستا په عمر راغلې ووم . دَ شاهد مور زرقېشه ،



www.pukhto.Net

مطهّره ، ګلشن او نجمه زمانه مخکښې راغلي وې . زما په راتلو دَ شاهد مور زرقیشه دَ بیبیانو دَ ډلې نه اووته او خدمتګاره شوه . په هغه وخت کښې شاهد دَ پنځه شپږ کالو ماشوم وو . هغې به دَ شاهد پرورش هم کوو او دَ ټولو بیبیانو خدمت به یې هم کوو. هغې ته دَ دې رسوائي په وجه سخته ذهني صدمه اورسېده . هغه کړېده کړېده او اخر مړه شوه . زما دَ راتلو نه څۀ موده پس نیازبینه راغله . دَ هغې راتلو سره مطهره زمونږ دَ ډلې نه اووته او دَ بي بي نه خدمتګاره شوه . دَ عالم خان دَ مرګ نه پس بیبیانې دَ خپل مخ سر شوې . هغوي یوه په یوه ټولې لاړې صرف زۀ او مطهره پاتې شو . مونږ به دَ شاهد پرورش هم کوو او خپل ځان به مو هم ساتو . په دې دې کښې شاهد دولسم جماعت پاس کړو. زمونږ ګزاره ډېره په ګرانه کېده نو شاهد نور سبق اونه ویلے شو . دَ دولسم جماعت پاس کولو نه پس هغۀ زمونږ په مشوره او زمونږ په پیسو وادۀ اوکړو. یعنی ما او مطهرې په شریکه هغه له وادۀ اوکړو . ګل سانګه دَ هغۀ رومبۍ ښځه ده . دَ هغې قسمت ښۀ وو. هغې پسې درې نورې راغلې او تۀ یې پنځمه یې.

کرشمه :. د دے مطلب دا شو چې دا هر څۀ ستاسو دي . ټوله ګټه وټه ستاسو ده دَ شاهد صرف نوم دے .

خاله :. هر څۀ زمونږ دي خو زما د دې دندې نه زړۀ تور شوې دے . ګټه وټه ټوله مطهرې له ځي . کرشمه هغې ته په غټو غټو ګورې او وائي ، " خاله څۀ چې تاسو سره شوي دي دغسې به ماسره هم کېږي.





خاله :. یقینًا . دېکښې هیڅ شك نیشته . تاسره به هم دغسې کېږي." دې سره هغه پاسي او دَ کمرې نه اوځي دَ هغې دَ تلو نه پس هغه په لوې سوچ کښې ډوبه شوه .

**﴿دریمه برخه﴾**

بله ورځ شاهد په داسے وخت کښې کورته اورسېدو چې زنانه په ډائننګ روم کښې ناستې وې . هغوي دَ ماښام ډوډۍ خوړلې وه او خپلو کښې یې خندا خوشحالي او ټوقې ټقالې کولې . دَ هغۀ په راتلو باندې ټولې چپ شوې او دَ هغۀ سترې مشي ته پاسېدې. ټولو سره دَ روغ جوړ نه پس هغۀ کرشمې ته په مُسکا اووے ، "اوه کرشمې ، په دې څلور پنځه ورځو کښې خوتۀ دومره بدله شوې او خائسته شوې یې چې دَ پېژندو نه اووتې یې . تانه خو واقعي کرشمه جوړه شوې ده . چې لا مخکښې به څۀ کېږي . په دې یریږم چې سپوږمۍ دې رانه اونه تختوي ؟"

کرشمه (په مُسکا) تۀ ما پورې خندا کوے ؟

شاهد:. واه بهئی واه . خندا ولې کوم ؟ دا حقیقت دے . داسې ده که نه ده مائي ؟

مائي:. هم دغسې ده ځویه ، خو ډېرورته مۀ ګوره چرته دَ نظره نشي.

شاهد:. دازما دَ وس کارنه دے مائي. دې ته کتل زما مجبوري ده او که تۀ پرې خفه کېږې نو زمونږ دواړو په مینځ کښې اودرېږه چې دَ نظره مې پناه شي .



www.pukhto.Net

مائي (مسکی شي) چې دا خبره ده نو زۀ به درنه خپله لور کمرې ته بوځم چې تاته نه ښکاري . (کرشمې ته ) راځه لورې چې تا خپلې کمرې ته اورسوم ، چرته په رشتیا دَ نظره نشي " هغه کرشمه دَ لاس نه نیسي او ځان سره یې روانه کړي . دَ هغوي دَ تلو نه پس خاله شاهد ته وائي، "شاهده ګله ، تاخو به ډوډۍ نه وي خوړلے ، راؤړم درله ؟"

شاهد:." نه خاله ډوډۍ مِ خوړلے ده ، یوه پیالۍ مزېداره غونډې چاې راؤړه ".

دَ خاله دَ تلو نه پس هغه بیبانو سره خبرې کوي او دَ هغوي دَ کارکردګۍ په باره کښې دَ هغوي نه معلومات کوي . دَ هغه په تپوس باندې هغوي ټولې یوه خوله شي او دَ مائي دَ ظلم او ناروا سلوك په باره کښې هغۀ ته ګیلې مانې کوي . دَ هغوي دغه شکایتونه لاجاري وو چې مائي واپس راغله . دَ هغې راتلو سره ټولې داسې چپ شوې او داسې غلې شوې لکه دَ چرچڼو په ډله چې باخه راشي او هغوي په واخو او پانو کښې سرونه ورکړي . هغې پسې خاله هم دَ چاې کپ په لاس راغله . چاې یې هغۀ ته په مېز کېښوده او هغه ته مخامخ کېناسته . دَ هغې دَ کېناستو سره بیبیانې یوه په یوه بهر اوتې . دَ هغوي دَ تلو نه پس مائي هغۀ ته په سوالیه نظر اوکتل او تپوس یې ترېنه اوکړو "زویه کار اوشو "؟

شاهد(مسکے شي) چې ستا دعا راسره وي نو کار به ولې نۀ کېږي. کاغذونه تیارشو چې کرشمه پرې دستخط اوکړي نو مکمل به شي، دَ





هغه په انکشاف دَ مائي په مخ مُسکا راغله خو ډېره زر ختمه شوه او هغۀ ته یې اووې ، "ګل سانګې سره به څۀ کوے "؟

شاهد:. ګل سانګې سره به هغه څۀ کېږي څۀ چې تاسو سره شوي دي . هغه به ازاده شي ، بیا دَ هغې خوښخه ده که دلته پاتې کېږي او دَ یوې خدمتګارې په حېث کار کوي او که تلل غواړي نو تلې شي. په هغې هیڅ پابندي نیشته .

خاله :. ګل سانګه خو ډېره ښۀ بي بي ده . هغه مِ په تنزل نشي پېرزو.

شاهد: ستاخبره صحي ده خاله ، ګل سانګه واقعي ډېره ښۀ جینۍ ده او ماسره یې لس کاله په چپه خوله تېرکړل خو ښۀ سرېتوب په خپل ځائے دے او اصول په خپل ځاے دي . بله دا چې مائي دَ هغې نه مطمئنه نه ده ". خاله مائي ته په سوالیه په نظر ګوري او وائي ، "تۀ واقعي دَ هغې نه مطمئنه نه یې "؟

خاله :. دَ هغې کارکردګي تسلي بخش نه ده دَ ګټې په ځاے هغه په تاوان کښې روانه ده . خپل ځان هم نشي ساتلې .

خاله :. دَ هغې کارکردګي ځکه تسلي بخش نه ده چې هغه بیماره ده . تاچرې دَ هغې نه دَ هغې دَ بیمارۍ تپوس کړې دې ؟ دَ هغې حمل دے .

مائي:. ماته پته ده چې هغه حامله ده او هم په دے وجه زۀ دَ هغې نه مطمئنه نه یم.

خاله :. مطهرې ، لږ خپل ځان ته پام اوکړه ، تۀ هم ښځه یې . دَ خپل هم جنس په خاطر په هغې رحم اوکړه .



www.pukhto.Net

مائي:. رحم ؟دغه حمل دَ شاهد نه نه دے . دَ بل چا نه دے . هغهٔ له دے ورشي چې رحم پرې اوکړي .

خاله:. دا خبره ته په کوم بنیاد کوې . تاسره څهٔ دلیل او څهٔ ثبوت دے؟

مائي:. ماته دَ دلیل یا ثبوت ضرورت نښته . دا خبره ماته هغې په خپله کړې ده چې دغه حمل دَ بل چا نه دے .

خاله :. هغه دغه بل چا ته چا مجبوره کړې ده ؟

مائي:. دېکښې دَ مجبورۍ خبره نیشته . دا دَ هغې پیشه او دا دَ هغې کار دے . دې دَ پاره خو مونږ دَ هغې نه بي بي جوړه کړې ده او دَ بي بي مراعات مو ورکړي دي .

خاله :. دا حمل دَ هغې ګناه شوه ؟

مائي :. دا دَ هغې ګناه ځکه شوه چې ما هغې له دَ سقاط حمل مشوره ورکړې وه خو هغې زما خبره اونه منله . اوس دې ځان سره ګرځوي.

شاهد:. دا خبره نوره مهٔ چېړې . دا دومره لویه مسله نه ده.دابه حل شي.دې سره خاله پاسي او دَ ډائننګ روم نه اوځي . دَ هغې دَ تلو نه پس شاهد دَ مائي نه تپوس کوي "کرشمه څنګه جینۍ ده مائي"؟

مائي:. کرشمه ډېره ښهٔ جینۍ ده څویه . د دې نورو غوندې کم اصله نه ده ، ځکه خو مِ دَ دوي نه لرې ساتلې ده چې غوړونه ورله ډك نکړي ...ستا دَتلو نه پس زهٔ هغې سره په یو بېړه کښې سملاستم او تر ناوخته پورې به مو خپل کښې خبرې کولې .

شاهد:. ښه ښه لکه یوبل ته به مو قیصې وېلې.





مائي:. نه څویه ، قیصې نه بلکه هغې له مِ اخلاقي تعلیم ورکوو. دَ اطاعت ګزارۍ ، تابعدارۍ او حسنِ سلوك درس مِ ورکوو . دَ انسان او انسانیت مینه او قدر ومنزلت مِ ورته ښودو . په شخصیت کښې څلا او په چال چلن کښې دَ حسنِ ادا پیدا کولو چل مِ ورته ښودو. په خبرو، مسکا او خندا کښې دَ کشش پیدا کولو طریقې مِ ورته ښودلې . دَ مېلمنو او ملاقاتیانو سره دَ ملاوېدو او دَ کتې وتې طریقې مِ ورته ښودلې . زویه زما چې څهٔ زده وو هغه ټول مِ هغې ته اوښودل او دَ خپله طرفه مِ هیڅ کمې نه دې پرېښې. شاهد مسکے شي، پاسي او پاسېدو کښې وائي ، "که څهٔ کمې پاتې شوې وي ، هغه به زهٔ پوره کړم".

مائي:. څه زویه ،تهٔ خپلې کمرې ته ورشه . تهٔ ستړے یې. لږ ارام اوکړه ، دې سره دواړه دَ ډائننګ روم نه اووتل . خاله خپلې کمرې ته لاړه او شاهد دَ کرشمې کمرې ته ورغے . هغهٔ چې ورلږې کړو او هغې ته یې اوکتل نو هغه په خپل بېړه کښې پټې سترګې پرته وه . هغه هغې ته یوه شېبه ولاړ وو او په مُسکا مُسکا یې هغې ته کتل . بیا یې ورپورې کړو ، دَ واسکټ دَ جېب نه یې یوه لفافه را اوویستله ، دَ شیشې په میز یې کېښوده او هغې سره خوا کښې په بېړه کښې کېناستو . هغې ته چې دَ چا دَ راتلو او په بېړه کښې دَ کېناستو احساس اوشو نو سترګې یې اوغړېدې چې هغه یې اولیدو نو وارخطا شوه او په یره یره خپل بېړه کښې کېناسته . شاهد هغې ته په مُسکا اووے ، "نه نه ، تکلیف مهٔ کوه ، پاسه مه ، سمله سمله". دې سره



www.pukhto.Net

هغه کټ ته اوختو . هغه ډېره په تېزۍ سره دَ بېړۍ نه کوزه شوه او لاندې په قالین اودرېده . شاهد هغې ته په سوالیه نظر اوکتل او وے وئیل ، " تۀ ولې پاسېدې؟ راځه سمله ځاے ډېردے ".

کرشمه :. نه جي شکریه . تۀ سمله اودۀ شه ، ستړے یې.

شاهد:. او تۀ ؟

کرشمه :. زما غم مه کوه ، زما خوب پوره شو.

شاهد:. دومره زر ، دا خوایله لس بجې دي، ټوله شپه پاتې ده .

کرشمه :. ما دَپاره بس دومره خوب کافي دے .

شاهد:. شاید ته زما په وجه پاسېدې . راځه سمله ، زۀ درنه څم خو یو کار پسې راغلے ووم .

کرشمه :. کارپسې ؟ څۀ کار پسې شاهد دَ میز نه لفافه اوچتوي، هغه سپړي ، کاغذونه ترېنه را اوباسي او هغې ته وائي، "کرشمې، دا پن واخله او په دے کاغذونو دلته دستخط اوکړه .

کرشمه :. دستخط ؟ دا دَ څه کاغذونه دي ؟

شاهد:. دا زمونږ نکاح نامه ده . دا بالکل تیاره ده خوستا دستخط ته خبره بنده ده ... هنّ دا پن واخله او یې په دے ځاے کښې دستخط اوکړه . (هغه دَ دستخط په ځاے ګوته اړدي )

کرشمه :. چې دستخط اوکړم نو بیا ؟"کرشمه هغۀ ته په غټو غټو ګوري" .

شاهد:. بیا دا چې مونږ دواړه به قانوني طور شریکِ حیات یعني ښځه ، خاوند شو.





کرشمه :. قانوني طور ...؟ او اصولي طور به څۀ یو؟دے تپوس سره دَ شاهد رنګ زیړ شي ، هغې ته په حیرانتیا ګوري او وائي، " اصولي طور ؟ څۀ مطلب ؟ "

کرشمه :. مطلب دا چې قانوني طور به زۀ ستا ښځه یم خو اصولي طور به زما څۀ حېثیت وي ؟

شاهد :. ښه ښه ...هاؤ هاؤ ...نه نه ...دا څۀ دومره لویه مسله نه ده . په دې به بیا خبرې اوکړو .

کرشمه :. بیا؟ بیا کله ؟ زه غواړم چې په نکاح نامه دَ دستخط کولو نه مخکښې او قانوني طور ستا دَ شریك حیات جوړېدو نه مخکښې په دې نکته خبرې اوکړو او څۀ ابهام پاتې نشي.

شاهد:. د دے مطلب دا دے چې تۀ دَ دے ځاے دَ اصولونه خبرېې.

کرشمه :. جي بالکل ځکه خو مِ درنه دَ وضاحت غوښتنه اوکړه. زۀ ستا دَ موجوده څلورښځو نه هم خبریم . ماته دا معلومات هم شته چې پنځه ښځې په یو وخت کښې قانونًا او شرعًا جائز نه دي خو زما په وجه به تۀ یوه بي بي دَ ببیانو دَ ډلې نه اوباسے . داسې ده که نه ده؟

شاهد:. چې د دې هر څۀ نه خبرې نو بیا زما دَ وضاحت څۀ ضرورت دے ؟ هم دغسې ده . دغسې به کېږي او دغسې به کوې.

کرشمه :. شاهده ماته ستا دَ کاروبار پته ده . ماته ستادَ حېثیت هم پته ده. د دې ټولو کمزورو باوجود هم زۀ ستا ښځه جوړېدېشم خو دَ ټول ښار ښځه نشم جوړېدې . زۀ ستا په وفا سرورکولې شم خو خپل سردَ



www.pukhto.Net

بل په غیږ کښې نشم اېښودې . . زۀ ستا دَ غاړې هار جوړېدېشم خو دَ هر چا دَ غاړې هار او بازاري ډمه نشم جوړېدې .

شاهد: . تاته دا معلومات شته چې تۀ دَ هیره منډۍ په چکله کښې ناسته یې؟ . . . .او د دے ځائے دَ اصولو مطابق ښځه دَ چا هم خپل ملکیت نه وي بلکه شاملاتِ عام وي دَ هر چا زړه به ساتي او دَ هر چا تقاضا به پوره کوي .

کرشمه : . ترڅو چې ما په نکاح نامه دستخط نه وي کړې ، ترهغې نه زۀ ستا ښځه یم او نه ستا دَ حکم تابع یم .

شاهد: . داسې مه وایه . . .او داسې نه ده . تۀ دَ هغه وخت نه زما دَ حکم تابع یې کله نه چې ستا پلار زما دَ لاس نه روپۍ واخستې او ستا لاس یې زما لاس کښې ورکړو او ماته یې حواله کړې . زما او ستا اصولي نکاح هغه وخت شوې ده . . .زۀ تاسره زبردستې هم کولے شم ، جبر هم کولے شم خو زۀ دا نه غواړم چې په ښځه ذات لاس اوچت کړم ځکه چې زۀ ځان ته پښتون ویم او په پښتو ولاړ یم .

کرشمه (طنزیه خندا) تۀ تۀ . . .تۀ پښتون یې ؟ . . .تۀ ځان ته پښتون وائے ؟ تۀ پښتو کوے ؟ تۀ په پښتو ولاړې . . .؟ پښتون داسے وي لکه تۀ چې یې . . .تا او داسے نورو بې غیرتو پښتنو خو دَ پښتو او پښتون نوم اوشرموو . . .دَ پښتون د خور، لور او ښځې اواز خو ښوک بهر نشي اورېدې . . .دَ پښتون دَ خور ، لور او ښځې وېښتۀ ښوک دَ پلو نه بهر نشي لیدې . . .دَ پښتون خور، لور او ښځه دَ پردي دېوال





سیوري ته هم نشي اودرېدې . . . دَ پښتون خور لور او ښځه خو دَ سپوږمۍ نه هم سترکوي . . . او تۀ څۀ کوے ؟ خپلې ښځې له سړي ګورے . . .خپله حیا او خپل غیرت په پیسو خرڅوے . هم ستا غوندے قام شرمو دَ ټولو پښتنو سترګې خړې او ټیټې کړے . په دے بازار کښې ټولې پښتنې ناستې دي او ستا غوندې پښتانۀ یې چلوي . هغوي ته دَ خپل اولاد هم پته نه لګي چې دَ چا نه دے .

شاهد: . په دغه قام شرمه پښتنو کښې ستا پلار هم شامل دے چې دَ پیسو په لالچ کښې یې خپله لور ، خپله حیا او خپل غیرت ما ته حواله کړو . ولې هغۀ ته زما دَ کاروبار پته نه وه ؟ ولې هغۀ دا هر څۀ نه وو لیدلي ؟" دَ هغۀ په دې خبره هغه خپل سر په دواړه لاسه اونیسي . . . په ځان پوهـ نشي او په زمکه راپرېوځي . . .شاهد هغه اوچته کړي . . په بېډ کښې یې واچوي بهر اوځي او ور ورپسې پورے کړي.

## ﴿څلورمه برخه﴾

دَ کرشمې سترګې چې اوغړېدې نو خاله ورته ناسته وه او دَ هغې پښې یې مندلې . دَ هغې په وېښېدو خاله مسکۍ شوه او هغې ته یې اووې ، "بي بي اوس څنګه یې""؟

دَ هغې په تپوس باندې هغې ځان راغونډ کړو او وې وئیل ، "ښۀ یم خاله ، تۀ کله راغلې یې""؟

خاله : . بي بي بېګاه مِ درته ټوله شپه خوړلې ده . تۀ ډېره ډوبه پرته وې او په ځان نۀ پوهېدې".



www.pukhto.Net

کرشمه :. خاله تاچې ماته کومې خبرې کړې وې ، هغه ټولې رشتیا اوختې . خاله ، شاهد زمانه نور نور څۀ جوړول غواړي .

خاله :. نور نور څۀ نه بلکه هغه تانه هغه څۀ جوړول غواړي ، څۀ چې دغه نورې دي .

کرشمه :. زۀ دَ هغۀ ښځه جوړېدېشم خو دَ هر چا ښځه نشم جوړېدې.

خاله:. اوس هیڅ نشي کېدې . هغه څۀ به کېږي . څۀ چې هغه غواړي.

کرشمه :. خاله ، تۀ هم داسې وائې؟ تانه خو زما دا امېد نه وو.

خاله ( په لاپروائي ) تانه هم زما دا امېد نه وو چې دومره په اسانه به دَ هغۀ نکاح ته غاړه کېږدې .

کرشمه :. خاله ، زۀ دَ هغۀ په نکاح کښې نه یم او ترڅو چې هغۀ ماسره ښۀ کلکه وعده نه وې کړې ، ترهغې زۀ دَ هغۀ ښځه نشم جوړېدې.

خاله:. چې ستادا خیال وو نوساپېټ انکار به دې کړې وو او په نکاح نامه به دې ګوته نۀ لګوله .

کرشمه :. ماهیڅ نه دي کړي خاله . نه مِ دستخط کړي دي او نۀ مِ ګوته لګولې ده .

خاله :. تادستخط نه دي کړي خو ګوته دې لګولې ده . او لاتراوسه شنه ده " کرشمه چې خپلې ګوتې ته اوګورې نو په چغه وائې، "اوه دومره لویه دهوکه ؟ دومره لوې فراډ ؟ داسې معلومېږي چې هغۀ زما په بېهوشۍ کښې زما ګوته لګولې ده ". هغه ژاړي او په ژړا ژړا کښې هغې ته ورترغاړه وځي ، خاله هغه ښکلوي او ورته وائي ، "صبر





بي بي صبر . ژاړه مه بي بي . دَ ژړا نه هیڅ نه جوړېږي . څه پاسه ، مخ لاس اووینځه چې ناشته اوکړې .

کرشمه :. نه خاله ، زۀ ناشته نه کوم.

خاله :. نه بي بي نه ، داسې مۀ کوه . هرڅۀ چې کوې نو بیا کوه خو اوس ناشته اوکړه . دې سره هغۀ دَ هغې دَ کمرې نه اووته . دَ هغې دَ تلو نه پس هغه واش روم ته ورغله . چې دَ هغې تیارې مکمل شو نو ډائننګ روم ته ورغله او ناشتې ته کېناسته . هغې ناشته کوله او خاله دَ هغې سروس ته ناسته وه . دَ ناشتې په دوران کښې کرشمې بیا دَ شاهد خبره راواخسته او وې وئیل ، "خاله ، شاهد ماسره ډېر زیاتې اوکړو . زما دَ مرضۍ نه بغېر یې په نکاح نامه زما ګوته اولګوله.

خاله :. بي بي چې څۀ شوي دي ، هغه اوشو . دا خبره نوره مۀ چېړه. ستا خیر په دېکښې دے چې په دغه هر څۀ پښه کېږده او په چپه خوله هغه قبول کړه .

کرشمه :. د دې دهوکې دَ پاسه ؟ هغه زما دَ مرضۍ نه بغېر زما خاوند نشي جوړېدے .

خاله :. خفه کېږه مه بي بي خو تۀ دَ هغۀ ورځ نه دَ هغۀ ښځه یې کله چې ته خپل پلار هغۀ سره په ګاډي کښې کېنولے . تۀ هغۀ په زبردستۍ نۀ یې راوستې بلکه هغۀ سره دَ مور پلار په مرضۍ او په خپله خوښه راغلې یې . چې هغه سره ستا دَ نکاح نیت نه وو نو ولې ورسره راتلې ؟ تۀ دا بهانه هم نشې کولې چې تاته پته نه وه څکه



www.pukhto.Net

چې ته نه ماشومه يې ، نه نابالغه يې او نه ناخوانده يې . ته اوس قانوني طور دَ هغه ښځه يې " کرشمه چې ناشته اوکړې نو لوښي يو خواته اړدي او هغې ته وائي ، "او اصولي طور ...؟"

کرشمه دَ تپوس په نظر هغې ته نيغ نيغ ګوري . دَ هغې په تپوس باندې هغه په سوچ کښې ډوبه شي . کرشمه ډېر شيبه هغې ته ګوري خو چې هغه څۀ جواب ورنکړي نو بيا ورته وائي ، خاله تاماله، زما دَ تپوس جواب رانکړو "؟ دَ هغې په تپوس باندې هغه دَ خيالونو دَ دنيا نه اوځي ، هغې ته ګوري او وائي ، "بي بي ، هغه ستا مرضي ده ، هغه تا مجبورولے نشي .

کرشمه :. او که داسې اوشي نو بيا؟ زۀ ښځه ذات څۀ کولې شم ؟

خاله :. بي بي ،ښځه نازکه هم ده خو دَ فولاد نه کلکه هم ده . ښځه ډېره کمزورې هم وي خو ډېره مضبوطه هم وي . ښځه چې په خپل حق اودرېږي نو دَ دنيا يو طاقت هم دَ هغې مقابله نشي کولے. ښځه لکه دَ اوبو نرمه او پسته هم وي خو لوے لوے غرونه هم نړوي. ښځه که په يولاس ځانګو ، ځانګوي نو په بل لاس دنيالړځوي . دَ ښځې دَ خولې نه دَ الله هو خوږ اواز هم وتې شي او قيامت خېزه چغه هم وتې شي . ښځه مينه هم کولې شي او وينه هم تويولې شي . ښځه زړونه ترلې هم شي او چولې هم شي . ښځه زخم پټې هم وي او زخم سيرې هم وي . ښځه دَ خپل خاوند جائز مطالبات پوره کول عبادت ګڼي او ناجائز مطالبات بدعت ګڼي خو ....." هغه چپ شي سترګې يې





ډکې شي او دَ هغې نه مخ اړوي . هغه خپلې اوښکې دَ هغې نه پټې ساتل غواړي خو دغسې اونکړې شي او دَ لړو په شکل کښې دَ هغې په مخ راماتې شي . هغه دَ لوپټې په پسکي خپلې اوښکې اوچوي . کرشمه هغې ته په حېرانتيا ګوري او وائي ، "خاله ته ژاړې ؟" هغه چې خپلې اوښکې اوچې کړې نو سنجيده شي او په ډېر اواز کښې وائي ، "خو ...خو چې ښځه ښځه وي ...نه زما غونډې وي ، نه دَ مطهرې غونډې وي او ...او...او نه د دې نورو غونډې وي ". هغوي دواړه يو بل ته دَ تجسس په نظر ګوري . خاله په خپل خيال کښې دَ خپلې ماضي پاڼې لټوي او کرشمه په بې صبرۍ سره دَ نوې انکشافاتو په غرض دَ هغې خولې ته ګوري . يوه شيبه پس دَ هغې دَ خولې نه اوځي ، "هاې افسوس چې ما دَ خپلې ځوانۍ، خپل خائست او دَ خُدائے د دے لوے نعمت ډېره بې قدري او بې ځايه استعمال اوکړو ...زما ټول ارمانونه او اميدونه دَ بې حيائي جذبو ته لوګي شو ...او دغه لوګي به ترهغې خېژي ترڅو چې زۀ ژوندۍ يم ...زۀ ...زۀ چې په چا بدنامه شوې ووم ، هغه بې وفا بله ښځه اوکړه . هغه ښځه دَ خپل کور شوه او دَ څو څو بچو مور شوه ...او ...او ما څوڅو ځله سقاطِ حمل اوکړل...څۀ دَ دے ځاے دَ اصولو دَ خاطره او څه په دې وجه ...چې زما بال بچ زما غونډې بې شرمه نشي ، چې زما اولاد ماته ببېې اونه وائي . بي بي زما هم لکه دَ نورو ښځو دَ خپل خاوند ، دَ خپل کور او خپل بال بچ ارمان وو خو داسې نه ...خاوندان مِ



www.pukhto.Net

پـه سوځېدو دي خو نه مې خپل کور شته او نه مې بال بچ شته . بي بي ته مې دَ لـور په ځاے یې . چې تاته ګورم نو دَ لور مینه مې دریاندې ماتېږي هغه تول واړه راته یادېږي او په زړهٔ کښې مې تېرېږي که هغوي ژوندي وې نو اوس بـه څۀ ستا همځولي او څۀ ستانه مشران ، کشران وو . . .کله کله مې پـه زړهٔ کښـې راځي چې زۀ تـاتـه لـور اووایم خو په دې یرېږم چې تۀ راتـه مـور اونـه وائې . . .ځکه چې زۀ دَ مور دَ نوم مستحقه نه یم. بي بي درته ځکه ویم چې زما اوستا ترمینځه روحاني رشته پېدا نشي او زۀ ، زۀ او تـۀ تـۀ پاتې شو . . .زما ټولې رشتې ختمې دي . دَ مور پلار رشتـه . . .دَ ورور خـور رشتــه . . . دَ خپـلـو خپـلـوانو رشتـه . دا ټولې رشتې ما په خپله ختمې کړې دي . ماته دا معلومات هم نیشته چې زما مور پلار ژوندي دي او که مړۀ دي .مانه خپله کوڅه او دَ کلي لارې هم هېـرې شوې دي . ماته دَ خپل مور پلار او رونړو خویاندو شکلونه تـت ښـکاري ، بالکل داسې لکه زما ماضي چې یو خوب وو . . . دا هر څۀ مـاپه خپله کړي دي . چاچې زۀ په خپله سینه لویه کړې ووم ، ما دَ هغه سینې دَ تقدّس او دَ هغې دَ مینې قدر اونکړو ، هغه مې دړدېدلې او ټکـېدلـې پرېښوده . . .چابه چې ماته په خوږ اواز الله هو وېله ، هغه خوله ما ژړېدلې پرېښوده ، په کومه ځانګو کښې چې زه ځانګېدلې ووم ، هغـه ځانګو ماپه خپله ماته کړه او هغه بې وفا پسې اووتم دَ چادَ لاسـه چې دلتـه را اورسېـدم . . . هاې هاې ، نه دَ دین شوم او نه دَ دنیا شـوم . هسـې دَ لارې کـوڅې خزلـه شـوم . . .دلته هم څو څو کسانو





مـاسره دَ وادهٔ وعـدې اوکړے خو هغه ټولې وعدې وفا نشوې . . .زۀ دَ هغـوي نه ګیله نه کوم ، د دے ځاے دَ ښځې په پاکۍ او وفا به څوك څۀ اعتبـار اوکړي . دَ خزلـې شـکرۍ څـوك کـور تـه نه اوړي بلکه دَ ګـنـدګـۍ پـه ډهـېـران یې غورځوي . . .څو څو ځله زما په زړه کښې راغـلـه چـې د دے ځـاے نـه لاړې خـو چرته او کوم ځاے ته . . .چرته چې زمـانـه مـخـکـښـې نـورې تـلـې دې ، زۀ هغه پاك ځایونه په خپل وجـود پـلیـتول نه غواړم او بل دَ اسرې ځاے مې نیشته . . . .یو ځل زه او مـطـهـره دَ یـوې صـحـافـیـې دفتـر تـه تلي وو او هغې تـه مو خپلـه زړۀ سـتـړې وېـلـې وه . هغې زمونږ انټرویو هم واخسته ، زمونږ تصویرونه یې هـم اوویستـل او دا وعـده یـې راسـره اوکـړه چـې هغـه بـه زمـونـږ سټـوري تیاروي او دَ اخبار په ذریعه به یې دَ حکومت ، عوام او عدلیې پـه نـوټـس کـښـې راولي . . . په مودو مودې اوشوې خو په اخبار کښې نـه زمـونـږ تصویرونه راغلل او نه زمونږ سټوري راغله . زه حیرانه په دې یـم چې زمونږ دَ ملك بچـے بچـے دَ هیره منډې دَ دې لعنتي دندې نـه خبـر دے خـو هـیـڅـوك هیـڅ نـه وائي . مـېډیا دَ دنیا دَ ګوټ ګوټ خبـرونـه او افسـانې دَ فیچر پروګرامونو په شکل کښې پېش کوي خو کـوم څـېـز چې حقیقت دے دَ هغې باره کښې هیڅ نه وائي . دَ مېډیا نــه عــلاوه دَ حـقـوق انسـانـي عـلـمـبـردار ، دَ ملك دانشوران او وکیلان خاموش دي . زمـونـږ دَ مـلك ازاده او طاقتوره عدلیه په مهنګائۍ او ګـران فـروشـۍ سـوموټو ایکشن اخلي خو دَ جسم فروشۍ او عصمت



www.pukhto.Net

فـروشۍ دَ دې اډو پـه کـارکـردګۍ خاموش ده . زمونږ دَ ملك یوه مـذهبی ډله دَ جینکو سکولونه او کالجونه په دې وجه تباه کوي چې دغـه ادارې دَ فحاشۍ او عریانۍ اډې دي خو د دې حقیقي ادارو په باره کښې خاموش ده . . .زمونږ غېرتي پښتون قوم دَ چا دَ پښتو چرچې چې دَ دنیا ګوټ ګوټ تـه رسېدلي دي . په دې حقله خاموش دے . حالانکـه دَ فحاشۍ په دې اډو کښې اکثریت دَ پښتنو زنانهٔ دے ".

مـعـلومه نه ده چې هغې به نور څهٔ څهٔ وېلي چې په دېکښې شاهد او مـائي دَ غاړې غوټې او سامان سره دَ بازار نه راغلل او دَ کرشمې کمرې ته ورغلل . خاله چې هغوي ته دَ کهړکۍ نه اوکتل نو مسکۍ شوه او هـغـې تـه یې اووې، "شایدستا دَ وادهٔ سامان راغې" دې سره یې هغه دَ لاس نـه اونیـوه او ورتـه یې اووې ، "راځه چې ورشو او اوګورو چې څهٔ څهٔ یې راؤړل . دَ ورتـلـو سره خالـه شاهد او مائي له دَ سامان مبارکي ورکـړه . کرشمې په خوله هېڅ اونه وې ، اوشرمېده او یوخوا ته غلې کېـنـاستـه .البتـه کـلـه کله به یې په نیم کخو سترګو سامان ته کتل . مـازیګـر چې نـورې ببیـانې وېښې او فارغه شوې نو هغوي دَ وادهٔ نه خبـر کـړې شـوې . دَ مـحـلـې نـورې ببیانې هم راغلې او دَ ټنګ ټکور پـروګرام جوړشو. یوخوا لاسونه پړقېدل او لوبې وېلے کېدې، بل خوا مـخ سـر وهـلې کېدل او ساندې وېلې کېدې . یوخوا خندا وه ، بل خوا ژړا وه . یـوخـوا کرشمه ناوې کېده ، بل خوا ګل سانګه دَ ببیانو دَ ډلې نه وته . یوخوا یوه دَ کور مېرمن کېده ، بل خوا یوه دَ کوره وته .





## 《 پنځم باب 》

دَ کرشمې او شاهد وادهٔ دَ ګوډۍ ، ګوډاګې دَ وادهٔ نه زیات نه وو ، لـکـه څنګه چې دَ ګوډۍ ګوډاګې دَ وادهٔ دَ پاره جینکۍ خپلو سهېلو ، هـمځولو او دَ محلت ملګرو ته بلنه ورکوي دغه رنګ دَ کرشمې دَ وادهٔ نـه هـم دَ محلت یوڅو جینکۍ او یوڅو ببیانې خبر کړې شوې. څلور شپـږ سړي هم خبر کړې شو، دَ هغوي خولې خوږې شوې او وادهٔ اوشو . شاهـد بـه دا هـم نـه وو کړے خو د دے ځاے د اصولو مطابق دَ نوې بې بې دَ راتـلـو نه دَ محلې خلق خبرول لازمي وو . وادهٔ اوشو او کرشمه په هغه کمره کښې پاتې شوه په کومه کښې چې مخکښې وه . دَ وادهٔ ړومبۍ شپـه وه .کـرشـمـه دَ وادهٔ پـه سره جـوړه او سره بنارسۍ کښې خـورې زلـفې په پالنګ کښې ناسته وه .زرې ، ګلابه اوفهمیده ورسره ناستې وې او په پسو پسو کښې یې ورسره ټوقې ټقالې کولې خو ګل سانـګـه دَ هـغـوي په ډله کښې موجود نه وه ځکه چې دَ هغې ډیوټې بـدلـه شـوې وه یا شاید ختمه شوې وه . دا ټولې هغه ببیانې وې چې د دې مـرحـلـې نـه تـېـرې شـوې وې او مخکښې تلې وې . دا ټولې هغه ناعاقبت اندېښې وې چې دا نه ورته ښکارېده خو دام ورته نهٔ ښکارېدو دَحال وقتي مـزې ، چرچې ورته ښکارېدې خو دَ مستقبل حادثې او دَ خپـل انجام خطرې او المیې ورته نهٔ ښکارېدې .

دَ کـرشـمې غـونـدې ګـل سانګه هم دغسې اوهم په دې کمره کښې ناوې شـوې وه دَ هـغـې نـه روستـو زرې ، بیـا ګـلابـه ، هغې پسې فهمیده او



www.pukhto.Net

فهمیدې پسې اوس کرشمه راغله . معلومه نه ده چې دَ کرشمې نه پس به څوك راځي او دا سلسله به ترکومې چلیږي . په دغه جینکو کښې کرشمه واحده جینۍ وه چې دَ خپل مستقبل او خپل انجام یره ورسره وه . دغه یره به کله کله دَ یوې سرېکې په شکل کښې دَ هغې دَ سرنه وته او دَ هغې په زړهٔ کښې به سرېده . که خاله هغې له ډاډ نه وې ورکړې نو دَ هغې انکار یقیني وو. دَ انکار نه پس به هغې سره څهٔ کېدل او دَ هغې انجام به څهٔ وو ؟ هغه هرڅهٔ ته تیاره وه . هغې ته دَ خپل وادهٔ دا عارضي خوشحالي دَ هغې دَ ټول ژوند دَ تباهۍ پېش خیمه ښکارېده .

دَ هغې په زړهٔ کښې دَ مائي دَ میني هغه حېثیت نه وو پاتې کوم چې مخکښې وو . اګرچه دَ هغې په مینه او زاروقربان کښې څهٔ کمې نه وو راغلې بلکه دَ مخکښې په نسبت زیاته شوې وه خو دَ خاله په انکشافاتو هغه دَ هغې نه متنفره شوې وه ځکه چې دَ هغې مینه په حقیقت کښې هغې سره نه بلکه هر هغه چا سره وه چې دَ دې ادارې او دَ دې اډې سره مینه کوي . خاله او مائي دواړه اګر چهٔ دَ دې اډې په چلولو کښې شراکت دارې وې او دَ دواړو حېثیت یوشان وو خو څهٔ مودې نه دَ هغې زړهٔ دَ دې دندې نه موړ شوې وو. هغې په ګټه وټه غرض نه لرلو ، بس خپل وخت یې تېرولو . د دے ځاے دَ ګنده اصولو خلاف دَ هغې احساس بیدار شوې او دَ هغې ضمیر وېښ شوې وو. هغې چې دَ خپلې تجربې په رڼا کښې په خبرو خبرو کښې دَ کرشمې دَ کردار جائزه واخسته نو په دے نتیجه اورسېده چې هغه دَ





معصومیت په خوړه غېږه کښې په دروند خوب اوده ده او دَ معصیت دَ طوفانونه محفوظه ده . هغې غوښتل چې دغه تنکۍ کلۍ دَ نفساني خواهشاتو او نفساني جذباتو دَ هلاکت خېزه تباهۍ او عبترناکه رسوائي نه بچ اوساتي ، دَ هغې کچه پاڼې او کچه سانګې کچه کچه په مړاوې نشي او لکه دَ هغې ، مائي او دَ نورو بیبانو غوندې په هغه جال کښې اوننخلي چې دَ هغې حال نفرت انګېز او مستقبل عبرت انګېز دے .

دَ بیبانو خندا خوشحالي لا روانه وه چې مائي راغله . دَ هغې راتلو سره دَ بیبانو خندا ختمه شوه ، ټولې چپ شوې او یوه په یوه دَ کمرې نه اووتې . دَ راتلو سره هغه کرشمې سره کېناسته ، هغه یې په دواړه مخه ښکل کړه، دَ هغې سریې خپلې سینې پورې اونیوو او په شا یې ټپوله، لکه یوه خوږه مور چې خپل خوږ بچے سینې ته واچوي او دَ اودهٔ کولو دَ پاره هغه په مزه مزه ټپوي . هغه لاناسته وه چې خاله په یوه وړه تېرۍ کښې دَ پیوګلاس راوړې او هغې ته یې په مېز کېږدې. هغه یوه شېبه ولاړه وه خو په خوله یې هیڅ اونه وې او په چپه خوله دَ کمرې نه بهر اووتهه . دَ خاله دَ تلو نه پس مائي هغه په پالنګ کښې سملوله ، په مُسکا یې ورته داسې کتل لکه مور چې خپل اودهٔ اولاد ته په مینه مینه ګوري دَ کرشمې سترګې پټې وې خو په دغه پټو سترګو هغې ته دَ خپل ژوند ټوله دنیا ښکارېده . مائي په مزه مزه دَ هغې دَ کمرې نه اووته او وریې ځان پسې پورے کړو . دَ هغې دَ تلو نه



www.pukhto.Net

لږه شیبه پس دَ هغې دَ کمرې ورلرے شو او دَ څلوېښت ، دوه څلوېښت کالو یو تور، لوړ دنگ سړے کمرې ته ننوتو . ور یې بولټ کړو او دَ پیو گلاس ته په کرسۍ کښې کښناستو. دَ کښناستو سره هغه گلاس اوچت کړو او په خوند خوند یې پې. څکل . دَ هغهٔ په راتلو او دَ هغهٔ په ښکالو هغه پوهـ شوه خو په دے غرض یې ځان اودهٔ تصور کړو چې دَ خپل خاوند دَ حرکاتو او تاثراتو اندازه واخلي دَ هغې زړهٔ درزېدو او دا احساس به ورته کېدو چې اوس به څهٔ کېږي او درنگ ساعت له به څهٔ کېږي . هغهٔ چې دَ پیو گلاس اوڅکو نو سگرېټ یې اولگوو او پرله پسې یې څو لوې لوې کشونه راخکل . چې کله دَ هغهٔ سُر په حېواني سرور کښې بدل شو او دَ هغهٔ خیالات بدل شو نو هغې ته یې یو ځل بیا اوکتل .لگېدلے سگرېټ یې په ایش ټرۍ کښې کېښودو او په دروند اواز یې اووے ، ''میں اکاں، کیں حال اے، جناب۔ سانوں بھی اکوں نہ جی''کرشمې چې دا ټکې وورېدل نو دَ هغې دَ زړهٔ درزار نور هم زیات شو ځکه چې په هغهٔ یې دَ بل چا گمان راغی. هغې چې سترگې اوغړولې او په یره یره یې هغه ته اوکتل نو هغه واقعي شاهد نه بلکه بل څوك وو . دَ هغه شکل دومره خوفناك وو چې په هغې دَ یرې زلزل راغی. هغه په یره یره بېډ کښې کښناسته او چغه ویستو ته یې خوله جوړوله چې هغهٔ طماچه را اوویستله ، هغې ته یې اونیوه او ورته یې اووے ، ''په دې طماچه کښې اووه گولۍ دي، که چغه دې اوویستله نو په خوله کښې به درله ټوله طماچه تشه کړم''. او واقعي





هم دغسې اوشوه . هغې په خپله خوله لاس کېښودو چې هغه ورله په خولهٔ کښې طماچه تشه نکړي . هغې په یره یره هغهٔ ته اووې، ''تهٔ څوك یې او دلته څهٔ له راغلے''؟ هغه دَ برېتو په غومېکو په مُسکا مُسکا گوتې اووهلے او وے وئېل ''زما نوم چودهری رحمت دے . زهٔ د دې منډۍ دَ یونین صدر یم . شاید شاهد به تاسره زما غائبانه تعارف کړ ي وي . او زهٔ چې په څهٔ غرض دلته راغلے یم په هغې تهٔ هم پوهېږې او زهٔ هم دَوېلو ضرورت نېشته . دَ هغهٔ په دې خبره دَ هغې یره په غُصه کښې بدله شي او هغهٔ ته په ستغه لهجه کښې وائي، ''چودهري صېب ، تهٔ غلط ځاے ته راغلے یې. دا زما کمره ده او دا صرف زما او زما دَ خاوند دَ پاره ده . که تهٔ څه غرض پسې راغلے یې نو دغه نورو کمرو ته ورشه''.

چودهري رحمت ( په دروند اواز ) ماته پردې ځایونه او پردۍ کمرې مه ښایه . دا ټولې کمرې ماته معلومې دي . زهٔ څهٔ په ړومبي ځل نه یم راغلے ، ماته هم دا دَ ناوې کمره ښودلې شوې ده''. دې سره هغه طماچه په مېز کېږدي ، دَ هغې بېډ ته خېژي او هغه په خپلو مضبوطو لاسونو کښې نیسي . کرشمه دَ هغهٔ په غېږ کښې داسې ښکاري لکه کونتره چې دَ شاهین په پنجه کښې گېره وي . هغه ، هغهٔ ته په زړغوني انداز وائي ، '' په ما رحم اوکړه چودهري صېب ... په ما غلط گمان اونکړے . زهٔ په هغه چا کښې نه یم چا دَ پاره چې تهٔ راغلے یې''.



www.pukhto.Net

چودهري رحمت (خاندي) دلته دَ ټولو یو حال دے . دا ټولې مرغۍ خراړې دي او ټولې زما دَ غاړې دي "هغه په خپلو مضبوطو لاسونو کښې هغه ټینګوي او دَ هغې دَ غاړه کولو کوشش کوي . هغه دَ هغۀ دَ ګرفت نه ځان خلاص کړي او ورته وائي ، "ماله ګوتې راؤنه ړے ګینې ګوتې به درله ماتې کړم "

چودهري رحمت (خاندي) " په ګوتو مِ پروا نیشته خو زړۀ راله مات نکړې" دې سره هغه یو ځل بیا دَ هغې دَ نیولو کوشش کوي . هغه ډیره په تیزۍ سره مخکښې روستو شي او دَ هغۀ دَ ګرفت نه ځان بچ کړي . په دغه هلو ځلو کښې د هغه دَ ښپږ نه لاندې ټوپ کړي او په مېز پرته طماچه اوچتوي ، هغۀ ته یې نیسي او ورته وائي ، "چودهري صېب ، دغلته اودریږه ، دَ خپل ځائے نه رپ اونه وهے ګینې دا طماچه به ستا په خټه کښې تشه کړم .هغې په یولاس هغۀ ته طماچه نیولې وي او په بل لاس دَ وربولټ خلاصوي چې بولټ خلاص شي نو هغه دَ بهروتو هڅه کوي خو ور دَ بهر نه لرے شي او خاله کمرې ته راشي . هغه چې کرشمه طماچه په لاس اووینې نو هغې ته په چغه وائي، "مه ګورې ، ډز اونکړې ، بي‌بي داخو زمونږ چودهري او چېرمین صېب دے . دے خو په هر غم ښادۍ او په هره ماته ګوډه کښې زمونږ په کار راځي" . اودلته دے په خپله مرضۍ او بې تپوسه نه دے راغلے بلکه دَ شاهد او ستا دَ مائي په خصوصي بلنه راغلے دے . دا د دے ځاے اصول دي چې دَ هرې ناوې ړومبۍ شپه به د دۀ وي ، بیا روستو دَ نورو.





او بیا دَ نورو. دغسې ده کنه چودهري صېب".

چودهري:. دا جینۍ پوهه کړه خاله ، ګینې اوس به یې په لاسونو کښې اومروړم او خولې به یې واچوم".

خاله (خاندي) نه چودهري صیب ، داسې به نه کوے . زمونږ غریبۍ ته به ګورے . مونږ خوستا دَ ښپو خاورې یو . په مونږ خپله خوله ولې پلیتوے (کرشمې ته) بي بي طماچه ماله راکړه ".

کرشمه :. نه خاله نه ، چرې هم نه . نن به زۀ دا اصول ...دا د بې غېرتۍ اصول ماتوم ...او دا به ثابتوم چې ښځه مینه هم کولې شي او وینه هم تویولې شي .

خاله :. بي بي ، طماچه ماله راکړه ، چرته لاس دے خطا نشي .

کرشمه :. نه خاله چرې هم نه . رانزدې نشې ګورۍ ستا هم خېرنېشته.

خاله:. اوه بي بي ؟ دا څه کوې بي بي ؟ لږ لاندې اوګوره ، دَ ښپو لاندې دې څۀ دي ؟"

کرشمه چې لاندې اوګوري نو خاله ډېر په تېزۍ سره په هغې حمله کوي او دَ هغې دَ لاس نه طماچه اخلي . چودهري په خندا شي او کرشمه په ژړغوني اواز وائي ، "خاله ؟ تاماسره داسې اوکړل . زمانه دې طماچه واخسته ...ماله دې په اعتبار کښې دهوکه راکړه ؟"

چودهري خاندي او په خندا خندا کښې خاله ته وائي ، "طماچه ماته رالړه کړه خاله .

خاله چودهري ته طماچه نیسي او وائي، "چودهري صېب، طماچه درلړه



www.pukhto.Net

کړم او که ګولۍ درلړه کړم . چودهري خاندي او په خندا خندا کښې وائي ، "دا ښه ده چې طماچه لاس له درغله . زه خو دې پټهاني دومره يرولې ووم چې په زړۀ کښې مې وے ،" دا دے لاړم او يې دا دے لاړم (خاندي)"

خاله:. چودهري صيب ښۀ اوخانده چې په زړۀ دے دَ خندا ارمان پاتے نشي . دا طماچه مې دَ بي بي نه څکه واخسته چې په دې مې اعتبار نه وو. اوس طماچه زما لاس له راغله او په خپل لاس مې اعتبار شته .

چودهري (په غصه ) څۀ مطلب ؟ ته څۀ وېل غواړې ؟

خاله :. زۀ هيڅ وېل نه غواړم بلکه دَ پليتۍ دا جړړې ختمول غواړم.

چودهري:. خاله خبره وروه ، ماخو ټول عمرستاسو خدمتونه کړي دي .ستاسو تانه ، تحصيل مې کړے دے . زۀ خوستاسو تابعداريم . . . ګورۍ لاس دے خطا نشي .

خاله :. زمالاس چرې هم نه خطا کېږي بلکه په رسائے لګي.

چودهري:. تۀ خو پوهـ ښځه يې خاله . داسې دَ بې عقلۍ خبرې مۀ کوه.

خاله:.نورې خبرې مۀ کوه چودهري ، خپلې ساه ګانې شماره . يې . . لس ، نهه، اتۀ ، اووۀ ، شپږ ، پينځه، څلور . . درې . . .دوه . . .يو". دَ يو سرخاله ګوته راکاږي او يو اوچ ترق اوشي . چودهري په سر اولګي او دَ ناوې په پالنګ کښې چورلېږي . په دغه چورلېدو چورلېدو کښې په کټ کښې پرمخ پريوځي او لتې ټکوي . کرشمه خاله ته په حيرانتيا ګوري او وائي ، "دا څۀ اوشو خاله ؟"

خاله :. دا هغه کار اوشو ، څۀ چې ماغوښتل. څۀ چې زماارمان وو.





کرشمه:. اوس به څۀ کېږي خاله ؟ چرته به ځو او څنګه به ځو ؟

خاله:. يرېږه مۀ بي بي ، هرڅۀ به ټېك ټاك شي . . .ماته پته وه چې دا کار به کېږي . دے دَ پاره زۀ دَ مخکښې نه تياره ووم . ماخپله غاړه غوټه تياره کړې ده . ته هم خپلې جامې بدلې کړه او هغه جامې واغونده په کومو کښې چې راغلې وې ، "دې سره هغه په يو شغ دَ کمرې نه اوځي ، او دَ تلو تيارې کوي . يوه شېبه پس واپس راشي او کرشمې ته وائي ، تۀ تياره شوې بي بي ؟"

کرشمه :. هاؤ خاله ، زۀ بالکل تياره يم ، هغه خپله غاړه غوټه په لاس کښې نيسي او دَ کمرې نه بهر اوځي . دَ هغې دَ وتو نه پس خاله کمرې ته راځي . په کمره کښې دَ تيلو چړکاؤ کوي . . چې چړکاؤ اوکړي نو تيلې ورته کړي ، بهر اوځي او ور دَ بهر نه جرنده کړي.

کرشمه په يره يره هغې ته وائي ، "څه چې ځو خاله ، چرته شاهد يا مائي رانشي ".

خاله (مسکۍ شي ) "يرېږه مۀ بي بي ، ما ښۀ پوخ کار کړې دې . ما ټولو پسې وروونه دَ بهر نه بند کړي دي .ساه صورت په ځائے کړه ، ښۀ په حوصله به ځو ، يرېږه مۀ " . هغوي واقعي دغسې اوکړل . دَ کور نه چې اووتل نو بهر په رکشه کښې کېناستل او دَ بسونو اډې ته لاړل . هلته په بس کښې کېناستل او دَ نامعلوم منزل په لور روان شو.



www.pukhto.Net

## ﴿دویمه برخه﴾

د سحر اتهٔ بجې وې . نمر او چت راغلے وو چې خاله او کرشمه دَ پېښور دَ حاجي کیمپ په اډه کښې دَ ګاډي نه کوزې شوې . هغوي چې دَ اډې نه بهر اووتې نو دَ ناشتې کولو په غرض یو هوټل ته رواني شوې . دَ نمر زیړې پلوشې دَ مخامخ اونو په پاڼو او څانګو پرېوتې او دَ وړو وړو پلوشو په شکل کښې خورېدې . خاله چې دا نظاره اولیده نو په روانه روانه کښې اودرېده او په مُسکا مُسکا یې ځان سره اووې ، "یاالله ستا ډېر شکر دے چې خپلې سیمې ته دے راوستم". بیا یې په سړك روانو جینکو ته په پسخیدلې سترګو کتل او ځان سره ګونېده خو هغې سره جخته ولاړه پلوشه دَ هغې په خبرو نه پو هېده. په سړك ډېرې جینکۍ رواني وې . څهٔ دَ سکول په یونیفارم کښې وې او څهٔ دَ کالج په یونیفارم کښې وې . څه پیاده رواني وې او څهٔ ګاډو ته ختلې . څهٔ په موټر سائېکلو نورو پسې روستو ناستې وې او څه په موټرو کښې مخکښې روستو ناستې وې .

دا ټولې جینکۍ سکولونو ، کالجونو او مختلف یونیورسټو ته خوشحاله خوشحاله تللې او خاله هغوي ته ولاړه وه او داسې یې ورته کتل چې سترګې یې ترې نه ویستلې هغې دغه جینکو ته په ځیر ځیر ځکه کتل چې هغې ته دَ نن نه ډېره موده مخکښې زوړ وخت رایاد شوې وو. هغې دغه جینکو ته کتل خو داسې معلومېده چې هغه دَ هغوي نه ډېره لرې تللې ده او د دغه جینکو په روپ کښې خپل زوړ جهان





وینې . هغه جهان او هغه وختونه ویني چې کله هغه دَ دوي په عمر او د دوي په منګ وه او کله دَ دوي په شان به سکول او کالج ته تله . هغې دغه جینکو ته کتل خو دَ خپل ژوند دَ فلم په پړده ورته خپل ځان ، خپل جهان ، خپلې سهېلې ، خپلې استاذانې او خپل سکول او کالج یادېدو . هغه جهان څومره خائسته او هغه وختونه څومره خواږهٔ وو. لوې عزم ، لوې ارادې ، لوې امیدونه او ارمانونه وو. هغه هر څهٔ ، هرڅهٔ لاړل ، ختم شول فنا شول او دَ هغې په بدله کښې تراخهٔ وختونه او تراخهٔ یادونه پاتې شول . دا دَ چادَ لاسه؟ دَ چا دَ لاسه هغه دَ ژوند په کړو لارو سرشوه ؟ ظاهره ده چې څهٔ دَ خپلې بې عقلۍ ، لاپروائۍ او ازاد خیالۍ دَ لاسه او څهٔ دَ اکبرخان دَ بې وفائۍ دَ لاسه . دَ اکبر خان په خیال دَ هغې زړهٔ یوه ډبۍ اووهله او دَ خولې نه یې بې اختیاره اووتل "اُف الله" دې سره یې سترګې ډکې شوې او په ډکو سترګو یې کرشمه دَ لاس نه اونیوه او ځان سره یې هوټل ته روانه کړه . چې په هوټل کښې دَ پړدې شاته کیناستې نو بیره ته یې دَ ناشتې راوړلو آرډر ورکړو . هغوي لا ناشته کوله چې دېکښې هوټل ته یو اخبار فروش راغۍ او په درونډ اواز یې اووې، "اخبارهٔ" خاله چې دَ اخبار اواز وورېدو نو دَ پړدې نه یې ورته اووې، "جنګ لاهور راوړه". هغه په منډه ورغۍ او هغې له یې جنګ لاهور ورکړو . هغې اخبار یو خوا ته کېښودو او خپله ناشته یې کوله . هغوي چې ناشته اوکړه نو خاله اخبار او چت کړو او چې دَ ړومبۍ صفحې په ړومبۍ سرخۍ یې سترګې اولګېدې نو مسکۍ شوه . سرخي داسې وه ." ہیرہ منڈہ کا صدر اور



www.pukhto.Net

*معروف سماجی کارکن چودھری رحمت قتل۔لاش بُری طرح جل کرراکھ ہوگئی۔دونوں قاتل مستورات رات کے اندھیرے میں بچ نکلنے میں کامیاب۔پولیس کے چھاپے۔سوگواران کی طرف سے تین روزہ سوگ کا اعلان"* کرشمې چې خبر اولوستلو نو په یره یره یې خاله ته اووې ، "دا به څۀ کېږي خاله " هغۀ یو ځل بیا مسکۍ شوه او وې وئیل :"اوس که هرڅۀ کېږي پرواه نیشته . . .تۀ مۀ یرېږه بي بي څۀ چې وي زما سر له به وي ، تاله هیڅ نیشته ." کرشمه هغې ته په ځیر ځیر ګوري او وائي ، "خاله یوه خبره م منې""؟

خاله دَ هغې په معصومانه تپوس مسکۍ شي ، دَ اخبار نه سر اوچتوي او وائي "یوه خبره ؟ هرڅۀ دې منم بي بي وایه ، په زړۀ دې څۀ دي ""؟

کرشمه :. خاله دَ بي بي تکے په ماښه نۀ لګي که تۀ خفه کېږې نه نو ماته دَ بي بي په ځاے لور وایه او زۀ به تاته مور وایم. زۀ غوارم چې زمونږ ترمینځه فاصلې ختمې شي او مونږ دواړه یو شو .

خاله :. اګر چۀ زه دَ مور دَ نوم مستحقه نه یم خو ستا دَ زړۀ دَ پاره به تاته لور وائم ". بیامسکۍ شي هغه ښکلوي او وائي ، "ځه لورې پاسه چې ځو" دې سره کرشمه هم مسکۍ شي دَ هغې دَ ښکلولو په بدل کښې هغه ښکلوي او دواړه پاسي . هغوي چې دَ پړدې نه اوځي نو دَ ناشتې بل ادا کړي او دَ هوټل نه اوځي . هغوي دَ پنائي په غرض دَ ښار نه اووتې او دَ کرایې دَ کور دَ لټون دَ پاره یې دَ خالصه ټو سیمې ته مخه اوکړه . هغوي دَ سردار احمد جان کالونۍ او افغان کالونۍ نه شروع اوکړه او چې هلته نااميده شوې نو بیا دَ چا په ښودنه مومن





ټاؤن ته لاړې . په دې دې کښې په ګل آباد ، وزیرکالوني ، توحید کالوني ، جهانګیر ټاؤن او قاضي کلي ، دا ځایونه هغوي اوکتل خو کار اونشو . چې نااميده شوي نو ماښام تررېمے وو چې بیا یې ښار ته مخه اوکړه . هوټل ته دَ تلو په ځائے لېډي ریډنګ هسپتال پېښور ته ورغلې. چې په بیروني ګېټ دننه شوې نو دَ ماسخوتن اذانونه شروع شو. هغوي په ګېټ نمبر 2 تیرې شوې او کنټین ته لاړې . هلته یې ډوډۍ اوخوړه او تر ناوخته پورې ناستې وې، خپلو کښې یې خبرې کولې . بیا دَ کنټین نه اووتې او دَ وارډونو نه بهر دَ مریضانو دَ لواحقینو زنانهٔ خواله ورغلې او هغوي سره کېناستې . دا ټولې هغه زنانه وې چې دَ یو ځائے بل ځائے نه خپلو مریضو زنانهٔ سره راغلې وې او دَ هغوي دَ تیمار دارۍ نه پس دَ شپې تېرولو دَ پاره دَ وارډونو نه بهر دَ پړاؤ په شکل کښې پرتې وي خاله او کرشمه هم هغوي سره دَ هغوي په غم دړد کښې شریکې شوې او ترناوخته پورې دَ هغوي هم نوا وې. کله چې هغوي خپل غمونه دَ ډډو لاندې کړل او سملاستې نو هغوي هم خپلې غاړې غوټې دَ سرونو لاندې کړې او سملاستې او چې لږه شیبه تیرېده نو دواړه ښخې اودۀ وې . سحر چې هغوي پاسېدې نو مخ لاس یې اووینځل او ناشتې دَ پاره کنټین ته لاړې. دَ ډاکټرانو روند شروع شوې وو او دَ هسپتال انتظامیې فالتوکسان دَ هسپتال نه ویستل . هغوي چې ښۀ په مړه ګېډه ناشته اوکړه نو دَ نورو زنانهٔ سره دَ اندروني ګېټ نه بهر اووتې او بهر یې



www.pukhto.Net

پراؤ اولګوؤ. هغوي یوه شیبه ناستې وې بیادواړه پاسېدې او دَ پنائي په لټون کښې دَ هسپتال په ګېټ نمبر 1 اووتې او روانې شوې، چې لږې مخکښې لاړې نوخاله وېمن یونیورستۍ ته مخامخ دَ سړك په بله غاړه اودرېده او دَ یونیورستۍ ګېټ ته یې کتل . هغې سره کرشمه هم اودرېده او کله به یې دَ یونیورستۍ مخې ته ولاړ ګاډو، موټر سائیکلو او خلقو ته کتل او کله به یې خاله ته کتل . څۀ موده مخکښې دا یونیورستۍ ، یونیورستۍ نه وه بلکه ډګري کالج وو. دَ نن نه څۀ موده مخکښې خاله هم دَ نفیسه په نوم په دغه کالج کښې دَ سېکنډ ایر طالبه وه . ګاډي ، موټر سائیکلي به راتلے ، جینکۍ به ترې کوزېدې او کالج ته به تلې هغه به هم خپل مئین اکبر خان سره په موټر سائیکل راتله، دغلته به کوزېده او کالج ته به تله . هغه په خپل خیال کښې تلې وه او معلومه نه ده چې ترڅو به په دغه حال کښې وه چې یو ملنګ راغۍ ، دَ هغې مخې ته اودرېدو او وې وئیل،"بي بي دَ الله په نوم یو لس روپۍ راکړه چې چایې پرې اوڅکم " هغې دَ هغه نه مخ واړه وو او بیا یې ګېټ ته او جینکو ته کتل . ملنګ دَ هغې مخه اونیوه او بیا یې اووے ، "بي بي دَ الله په نوم یو لس روپۍ راکړه چې چاې پرې اوڅکم بیګانې نهریم ، دعا به درته کوم . خداے دې خوشحاله ساته بي بي ". خاله چې هغۀ ته اوکتل نو دَ هغۀ په مخ کښې یې سترګې داسې اونختې چې انختې پاتې شوې . په دغه کتو کتو کښې هغه مسکۍ شوه خو دَ هغې مسکا





ډېره زر په غصه کښې بدله شوه او په قهرېدلې لهجه کښې اووې، "تا کښې زبرګي دَ کله نه راغله اکبر خانه؟" دَ اکبر خان په ټکې باندې هغه داسې اوړ چېده لکه چې په هغۀ ورتوپ کوي او دَ مرۍ نه یې نیسي . دَ ملنګ رنګ تاغیر شو او دَ یرې زلزل پرې راغۍ خو ځان یې قابو کړو او وې وئیل "نفیسه تۀ ؟" دَ هغۀ په تپوس هغه یو ځل بیا مسکۍ شوه بالکل داسې لکه په خپل ښکار دَ حملې کولو نه مخکښې چې دَ زمرۍ په مخ دَ مسکا اثار ښکاره شي . هم په دغسې مسکا کښې هغې هغۀ ته اووې ، "هاؤ اکبرخانه زۀ". بیا یې دَ پرس نه دَ لس روپو نوټ را اوویستلو ، هغۀ ته یې اونیولو او ورته یې اووې ، "تا دَ لس روپو خواست کړے وو ، هن دا لس روپۍ واخله او چاې پرې اوڅکه ، ځکه چې تۀ بیګانے اوږے یې".

اکبرخان (په عاجزۍ) معافي غواړم نفیسه ...څه چې کورته څو نورې خبرې به هلته اوکړو . دلته ولې ولاړه یې.

خاله :. دلته دَ خپل ماضي نښخي ګورم " اکبر خان یوه لویه ساه اخلي او وائي " هاؤ نفیسه ، څۀ ښکلے وخت وو...لاړوتیرشو.

خاله:. تیر شو خو هیر نه شو . تاته یادشي اکبرخانه چې زۀ به تا کالج ته په موټر سائیکل راوستم او واپس به دے بوتلم.

اکبرخان:. هاؤ نفیسه ماته هرڅۀ یاد دي او د دغه یادونو تازه کولو دَ پاره زۀ هره ورځ دلته راځم .

خاله :. هاؤ ، تۀ دلته هره ورځ راځے خو نور څه له نه بلکه سوال دَ پاره



www.pukhto.Net

راځـے. داسې ده که نه ده ؟ تاسوال کله نه شروع کړو ؟

اکبـرخـان :. کـلـه چې زۀ خپل بال بچ اوښځې دَ خپل کوره اوويستم او هيـڅ اسـره مې پاتـې نشـوه نـو دَ هـغـه وخت نه دلته راځم . . .څه نورې خبرې به کور کښې اوکړو . . .څه چې کورته ځو".

خاله :. ته چرته اوسېږے ؟

اکبـرخـان:. زۀ دلتـه نـزدے په ګنج کښې اوسېږم . دېکښې يوه رکشه راځي ، او هـغـوي سـره خـوا کښـې اودرېږي . اکبـرخـان هـغې تـه پـه التـجائي سترګو ګوري او وائي، "راځه نفيسه . دا رکشه ولاړه ده ، دې تـه اوخيـژی. چې ځـو" خاله دَ هغۀ په ست کښې انکار اونکړي . درې واړه راکشي تـه خېژي او رکشـه روانـه شي . چې لږ ساعت تېرېدو نو هغوي ګـنـج تـه اورسـېدل . هغوي چې دَ رکشې نه کوز شول نو اکبر خـان ډرائيـورلــه پـېسـې ورکـړے او هـغـوي تـه يې اووے ، "ماپسې راځی" . دې سره هغه مخکښې شو او هغوي ورپسې شوې . هغه په تنګو، بدبودارو کوڅو کښې مخکښې روان وو او هغوي ورپسې وې. پـه روانه روانه کښې هغه په څوڅو موړونو ووختو او اخر دَ يو وړوکي ورمـخـې تـه اودرېدو . دَ جيـب نـه يې کـنـجي را اويستله ، جرنده يې کهـولاؤ کـړه او وريـې لـرے کـړو . دَ ور لـرے کېدو سره دَ بدبوئي يوې ليـونی. چپې دَ هغوي استقبال اوکړو . خاله او کرشمې پوزې په پړونو کښـې پټـې کـړې او هغه پسې کورته دننه شوې . دا درې ، درې نيمې مـرلـې يـو وړوکـے کچه کور وو او دَ کور دَ رنګ ډهنګ نه معلومېده





چـې دَ زمـانـو زمـانو زړه ابادي ده . په کور کښې دوه کمرې وې ، يوه دَ عـام رهـائـش دَ پاره وه او بله دَ بيټهك په توګه استعمالېده . بېټهك سره خوا کښې يوه غسـل خانه وه چې هغه دَ دواړه اړخه استعمالېدې شوه . غسـل خـانـې سـره جـخـت يـو هـېـنډ پمپ وو او هېنډ پمپ سره خوا کښـې بـاورچي خـانـه وه . دَ دواړو کـمـرو چهتـونه دَ لرګي وو. په دواړو کـمـرو کښې دَ لرګي يوه يوه الماری وه . دَ ديوالونو پلستر تر ډېره حده پـورې رژېـدلــے وو او کـوم چې پاتــے وو هغـه رژېدو تـه قريب وو. پـه رهـائشي کـمره کښې دوه کټونه او دوه جوړه اسباب وو چې دَ خيرې دَ کـويـلـي پـه وجـه يـې خپـل اصـل رنګ نشـو پېژندے . هغۀ په خپل څـادر دواړه کټونه او اسبابونه اوسنډل ، په کټونو کښې يې خوارۀ کړل او هغوي تـه يـې اووے ، "راځـی تـاسو کينی ، زۀ ورځم چې تاسو لـه چـاې راؤړم ". دې سـره هـغـۀ چيـنـك ته هڅه اوکړه . خاله ورته اووې ، "اکبـرخانه ، چاې نه څکو مونږ ماړۀ يو. اوس لږ ساعت مخکښې مو نـاشتـه کـړې ده ". هـغـه دَ هغې دَ انکار هډو څۀ پرواه اونکړه ، چېنك يـې ځـان سـره واخستـو او ډېر په تيزی سره دَ کوره اووتو . دَ هغۀ دَ تلو نـه پـس خـالـه او کـرشـمـه په کور کښې اوګرځېدې . ځـاے په ځـائـے دَ پيشـوګـانـو ګـندګي ، دَ پيازو ، کبابو ، هډوکو او دَ اوچې ډوډی ټکړې پرتې وې . دَ باورچي خانې دا حال وو چې دواړه نغرې دَ ګندګی نه ډك وو او يـو خـوا تـه دَ مـرې سـر او ځـرمـنه پرته وه . داسې معلومېده چې غـوښـه تـرېـنه پيشوګانو خوړلې ده او څرمن يې پرېښې ده . ځـائے په



www.pukhto.Net

ځائے دَ خانګورو مېږو سوړې وې او په غولي ، کمرو او دیوالونو په منډه منډه ګرځېدل . دې نه پس چې هغوي بېټك له ورغل نو دوه تور پیشوګان دَ اسباب دَ پاسه ځنګ په ځنګ پراتهٔ وو .کرشمې چې هغوي ته اوکتل نو دَ یرې نه یې چغه کړه او دَ خاله شاته اودرېده . دَ هغې په چغه دواړو پیشوګانو دَ کټ نه لاندې ټوپ کړو او په منډه بهر اووتل . هغوي چې ورته دَ روستو نه اوکتل نو یو پیش وو او بله پیشو وه . دَ پیشوګانو دَ وتو سره هغوي هم دَ بېټك نه اووتې او کمرې ته لاړې .یو خوا دَ کرشمې زړهٔ دَ بدبویۍ په وجه ډوب وو او ساه یې پوزې له راغلې وه ، بل خوا هغه دَ خاله په کړو باندې حېرانه وه چې هغهٔ سره دے کور بلکه دے ګور ته ولې راغله . دَ کېناستو سره هغې دَ خاله نه تپوس اوکړو ، "مورې دا بابا څوك دے چې په دومره سخا کور کښې اوسيږي ؟ دَ هغې په تپوس هغه مسکۍ شوه او وې وئیل ، "لورې ، دا هغه اکبرخان دے دَ چا ذکر چې ماتاته په لاهور کښې کړې وو. دا هغه بې وفا او ظالم سړے دے دَ چا دَ لاسه چې زما خوږ ژوند ازغین او مستقبل مې تباه وبرباد شو. دَ دهٔ دَ لاسه زهٔ اوشرمېدم او لا شرمېږم .

کرشمه :. مورې ، د دے هرڅه باوجود هم تا هرڅهٔ شاته کړل او په یوه خوله او په یوست ورسره راغلې . تاله داسې نه وو پکار مورې . که ستا په ځاے زهٔ وې نو مابه دَ دهٔ مخ ته هم نه وو کتلې . بهر به مې په ډهېران شپه کړې وه خو دے سخا کورته به نه ووم راغلې". دَ هغې په خبره هغه په لوے سوچ کښې لاړه . ډېره شیبه چپ وهه او کرشمې ته





داسې معلومه شوه چې هغه هغې له جواب ورکول مناسب نه ګڼي خو بیا یې اووې ، "ستاخبره صحي ده لورې خو بعضې وخت حالات وواقعات انسان دومره مجبورکړي چې خپل زوړ دشمن ورته خپل محافظ او دَ هغهٔ کور ورته دارالامان ښکاره شي . که زما په ځائے ته وې نو تابه هم دغسې کول څهٔ چې مااوکړل . په داسے حال کښې چې زمونږ دَ سر سیورے هیچرته نیشته مونږ له څهٔ کول پکاروو؟ ماته ستا دَ جذباتو احساس دے لورې خو بعضې وخت کښې انسان له پکار دي چې خپل جذبات او عناد شاته کړي او دَ مصلحت نه کار واخلي . کله کله بې ځایه غېرت انسان دومره بې غېرته کړي چې دَ غېرت احساس یې بېخي مړ شي . دَ هر څیز دَ پاره خپل وخت او خپل مقام وي .اګر چه اکبرخان زما دَ مستقبل قاتل دے خو په دغه جرم کښې زهٔ هم شریکه یم . بله دا چې زما چرته هم دَ اسرې ځاے نیشته او ما دَ واپسۍ ټولې کشتۍ سېزلې دي". هغه یوه شېبه چپ وه بیا پاسېده ، جهارو یې راواخسته او کور یې جهارو کوو. کرشمې چې هغه په کار اولیده نو هغې دَ سر نه لوپټه تاؤکړه دَ کمرې دواړه جوړه اسبابه یې پاس چهت ته اوخېژول او پاس یې خوارهٔ کړل . بیا یې دَ کمرې نه دواړه کټونه اوویستل او بهر غولي کښې یې واچول . دې نه پس یې دَ کمرې چهت په جهارو باندې اوسنډو او دَ جولاګانو جالې یې ترېنه لرې کړې . بیایې دَ کمرې ټول دیوالونه په جهارو صفا کړل او دې نه پس یې ټوله کمره جهارو کړه او ټول ګند یې بهر ته اوویستو .



www.pukhto.Net

بیـا یـې الماری صفا کړه او ټول ګندونه یې ترینه بهر اوغورځول . چې دې نـه اوزګاره شـوه نـو بیـا یې کټونو ته چوکه اونیوه او دَ کټ ملو او ګـونګټو نه یې صفا کړو . یوخوا خاله دَ کور په صفائي کښې اخته وه بـل خـوا کـرشـمه اخته وه . په لږ ساعت کښې کور جهارو شو . کمرې صـفا شـوې ، غسـل خـانه او باورچې خانه صفا شوه . خاله او کرشمې هـغه ټول ګند په یوه بوجۍ کښې واچوو او یوخوا ته یې کښېنودو بیا دواړه اړمـې شوې دَ مېږو او مږو سوړې یې ټپولې اوکندې کوندې یې هـوارولـې . په دېکښې اکبرخان دَ چایو چېنك په لاس کښې او ډوډۍ په ترخ کښې ننوتـے راغـۍ . دَ راتلو سره هغۀ بهر په کټ کښې دَ چایو چېنك کېښودو او دَ ترخ نه یې دَ ډوډۍ غوټه را اوویستله او هغوي ته یـې پـه مُسکا اووې ، "راځۍ دمه به هم شۍ او چایې به هم اوڅکۍ"

هـغـۀ دَ ډوډۍ غـوټـه پـه کـټ کښـې کېښوده ، دَ خاله خواله ورغۍ او ورته یې اووے، "یره څۀ کوروداني ښځه یې، نفیسه ؟"

خاله (مسکۍ شي) په دې کور وداني خوتاکبر اوکړو اوس وهه ډغرې.

اکبـرخـان:. افسوس افسوس چې ماداسے نه وے کړے .ارمان، ارمان چې روستـې عـقـل ړومبـے وے ، خو نه تیر وخت واپس راتلے شی او نـه تـوکـلـی لاړې خولي لـه راتلې شي . ماتاسره ډېر زیاتې کړے دے نفیسه ، ما معاف کړه نفیسه .

خالـه :. ستـا جرم اګـر چۀ ناقابل معافي دے خو چې تۀ په خپلو کړو پښیـمـانـه شـوے او مـعـافي دے اوغـوښتله نو تۀ معاف شوے ". دَ





هغۀ په خبره دَ هغۀ په مخ مُسکا او دَ هغۀ په سترګو کښې ځلا راشي . هغې ته په مینه مینه ګوري او وائي ، "تۀ رشتیا وائي نفیسه ؟"

خالـه:. هاؤ اکبرخانه ، بالکل رشتیا . مونږ دواړو ته دَ خپل خپل عمل نتیجه رااورسیده .

اکبـرخان:. ډېره مهرباني نفیسه . زۀ به ستا دا نیکي ټول عمر یاد ساتم ټول عمر .

خالـه:. ټـول عـمر؟ ستا او زماعمر کښې پاتې څۀ دي؟ "دې سره دواړه خاندي".

اکبرخان:. ښه راځې ، دمه به هم شۍ او چاې به هم اوڅکۍ .

خاله :. مونږ چاې نه څکو ، ماړۀ یو ، تۀ ورشه ځان موړ کړه ځکه چې تـه بـېـګـانـې اوږے یـې . دَ هـغـې پـه طـنـزیه خبره هغه شرمنده شو، سـتـرګـې یې خکته کړے خو ډېر زر یې اوچتې کړے ، خبره یې بدله کـړه او وے وئـېـل ، "نفیسې ، دا ستا ملګرې بي بي مِ اونۀ پېژنده . دا څـوك ده ؟ " دَ هـغـۀ دَ خـولـې بـنـدولـو دَ پاره هغې فوري طور جواب ورکړو ، "دا زما لور ده اکبرخانه ".

اکبرخان (په حیرانتیا ) ستا لور ده ؟ تا وادۀ کړې وو؟

خـالــه :. زمـا وادۀ ؟ تـا چـې زۀ کوم ځـاے تـه رسولـې ووم . هلتـه دَ خاوندانو څۀ کمے دے ؟.

اکبـرخـان ( شـرمـنـده شي ) هـن ، هـاؤ ، ښـه ښه ، نه ، نه ، هسې ځان مِ پـوهـوو . سـتـاخبـره صـحي ده . راځـۍ راځـۍ چـې چاې اوڅکۍ ،



www.pukhto.Net

یخېږي .ښه ګرمه چاې اوګرمې پراټې دي .

خاله . مونږ ماړۀ یو اکبر خانه .زمونږ غم مۀ کوه . چې اوږې شو نو په خپله به درته وایو او تۀ به یې راؤړې . زمونږ دَ سترګو خوږ ېدو بل ثوك دي ‘‘؟

اکبرخان (خاندي ) تابعدار ، تابعدار ، دې سره هغه چېنك ته کښني او پیالۍ په پیالۍ راړه وي. دَ چاې ثکلو نه پس ورته خاله وائي ، ”اکبر خانه دې بوجۍ کښې موګند اچولې دے دا بهر اوغورځوه او ځان سره چونه ، واشنګ پاؤډر او اګربتۍ راؤړه “. دَ هغې خبره کښې هغه هڅو لم لېټ اونکړي . دګند بوجۍ اوچته کړي او بهر ته یې یوسي . لږه شېبه پس ټول سامان راؤړي او خاله ته وائي ، ”دے سره ثۀ اوکړم“

خاله:.تۀ ورسره هیڅ مۀ کوه ، دا کار زمونږ دے .

اکبرخان :. ډېره ښۀ ده . . .که زما کارنه وي نو زۀ به درنه مزدورۍ له لاړ شم . . .اجازت دے ؟

خاله :. هاؤ اجازت دے ، ځه ورځه ، دې سره اکبرخان ډېر په تیزۍ سره بهر اوځي . دَ هغۀ دَ تلو نه پس خاله ځان سره غلې غوندې وائي، ”سوال ګر که په کوټه کښې بند کړے شي او دَ وتو درك یې نۀ لګي نو دَ دېوالونو نه به سوال کوي خو دَ خپل عادت نه به وونۀ ړي“.

★★★★

★★★

★





## شپږم باب

ماښام ترږمے وو دَ تاواني کاکا دَ تلو نه یو ثو ورځې پس دوه ګاډي دَ ملك آباد په سړك مخکښې روستو روان وو ړومے ګاډے دَ اعظم خان په حجره وردننه شو او دویم ګاډے مخکښې تېر شو او په خکته لاړو . په ړومبي ګاډي کښې شان وو او دویم کښې پولیس وو . داسې معلومېده چې هغه دَ امتحان نه فارغه شوے دے او دَ خپلو پرچو نه ښه مطمئن دے ځکه چې دَ هغۀ په خوله مُسکا او په سترګو کښې یې ځلا وه . دَ هغۀ نوکرانو په مُسکا مُسکا هغۀ ته سلام اوکړو او هغه سره یې روغ جوړ اوکړل . دَ روغ جوړ نه پس نوکران دَ هغۀ دَ ګاډي صفائي ته ارم شو او هغه دَ حجرې په لاره کورته لاړو . په کور کښې مشره بي بي نه وه ځکه چې اعظم خان سره په کالام کښې وه خو دَ هغۀ دواړه رونه او دواړه خویاندې کور وې . دَ هغۀ په لیدو هغوي ډېر خوشحاله شو او سره دَ خدمتګارو ترېنه ټول چاپېره اودرېدل او په واره واره یې ورسره ستړي مشي کول . دَ روغ جوړ نه پس ترېنه عالیې تپوس اوکړو ، ”لالاجي امتحان ختم شو ؟“

شان:. امتحان نه وو عالیې بلاوه . وینه یې راکښې اوچه کړه او سر یې راباندې اوګرځوو.

عالیه :. لالاجي پرچې دے ثنګه اوشوې ؟

شان:. ډېرې اعلیٰ . زما دَ توقع عین مطابق .

عالیه :. ځه شکر دے چې فارغ شوے . اوس خو به بله بهانه نه کوے؟



www.pukhto.Net

شان:. بهانه ؟ بهانه خو نه مخکښې ما کړے وه او نه به اوس کوم .
البته یوه مسله شته .
عالیه:. بیا مسله ؟ څۀ مسله ده اووایه .
شان:. دا مسله پټه ده ، دا وخت دَ وېلو نه دے .
عالیه :. نه لالا جي نه . هم اوس به يې راته وائے ، شابه وایه
شان :. ښه نو مسله دا ده چې زما دَ ناوې ډولۍ به هله راځي چې ستا ډولۍ پورته شي (د هغۀ په دې خبره ټول خاندي) .
عالیه:. زما غم مۀ کوه لالا جي. خپل غم اوکړه .
شان:. واه واه . دا څکه خو درته زۀ لېونۍ وېم کنه چې تۀ رشتیا لېونۍ يې .زۀ ستا مشر رور یم ، چې زۀ ستا غم نه کوم نو څوك به يې کوي .
عالیه:.لږ صبر اوکړه چې مور مِ راشي نو دا ټولې خبرې به ورته کوم.
شان:. نه دې مور راځي او نه دے پلار راځي بلکه هغوي تاسو غواړي . ټول ځان تیار کړۍ صبا له به ورپسې مونږ هم ځوانشاء الله.
ټول رشتیا لالاجي ؟
شان:. هاؤ بالکل رشتیا . هغوي سره زما خبرې شوي دي . هغوي وې چې ټول راوله چې موسم انجواې کړي.
فاروق (په خوشحالۍ) .Hurra! what a good news it is سعدیه دَ عالیې نه لاسونه تاؤ کړل او وائي ، "آپا زۀ ځان سره کومې جوړې یوسم ؟" دهغې په دے معصومانه تپوس ټول خاندي . په دغه خندا خندا کښې شان عالیې ته وائي ، "څه کنه لېونۍ په دے زیري کښې





راباندې ښۀ ګرمه ګرمه ډوډۍ اوخوروه ډېر اوږے شوے یم ".
عالیه :. وایه وایه ، چې څۀ دے خوښخه وې راته وایه . تاته هیڅ نه وېم خو ستا زور به دَ خپلې بابې نه اوباسم .
شان (خاندي) نه عالیې دا ظلم به نۀ کوې پلیز . هغه غریبه معصومه ده دَ هیڅ نه خبر نه ده .
عالیه (خاندي) ښه څه ، په خوله به ورته هیڅ نه وېم خو غوږونه به ترېنه راکاږم . دې سره هغوي ټول ډائننګ روم ته ډوډۍ له روان شي هغوي ډوډۍ هم خوري او دَ سباني پروګرام په باره کښې خبرې هم کوي . په دغه خبرو اترو کښې هغوي ډوډۍ اوخوړه او لا دَ مېز نه پاسېدلي نه وو چې دېکښې خکته کلي ته دَ ډزو سخت باړونه اوچلېدل . ډزو سره هغوي ټول دَ ډائننګ روم نه اوتل شان ، فاروق او عمر بهر حجرې ته لاړل او عالیه ، سعدیه او خدمتګاره په چهت اوختې. ډزے هم کېدے او دَ روښنائي کارتوسونه هم خلاصېدل . داسې معلومېده چې پولیس او څوك مفروران خپلو کښې انختي دي . دَ اعظم خان نوکرانو ، زمیدارو او همسایه ؤ هم وسلے راواخستے او په حجره کښې راغونډ شو . دَ شان په تپوس باندې هغۀ ته اوویلے شو چې ماښام تیارۀ دَ پولیس یو ګاډے خکته کلي ته تلے دے . داسې معلومیږي چې څوك مفروران او پولیس خپلو کښې کیوتي دي ". دغه خبرې اوږدې شوې ، بیا پکښې نورې نورې خبرې راغلې او بیا ترېنه ګپ جوړ شو . چا به څۀ وے او چا به څۀ وے . دَ هر سړي خپله خوله وه او خپله خبره



www.pukhto.Net

به یې پرې کوله ، که ښهٔ وه او که بده وه . ډیرے بندے شوے وے
خودَ هغوي خولې بندې نشوې . په دېکښې دَ حجرې په ګېټ یو
ګاډے رانـغـوتو چې ګاډے اودرېدو نو پولیس هم ترینه کوز شو او په
هتکړو کښې بند دوه ملزمان هم. په حجره کښې موجود ټولوخلقو
هغوي سره روغ جوړ اوکړل . دَ کیناستو سره تاڼیدار دا اعظم خان نه
تپوس اوکړو. دَ هغهٔ په تپوس باندې ناظر ورمخکښې شو او هغهٔ ته
یې اووے ، "مشرخان خو کلي کښې نیشته ، کالام ته تلے دے خو
کشرخان شته که تاسو څهٔ وېل غواړې نو دوي ته اووائی ". (ناظر
شان ته اشاره کوي)" دا دَ مشرخان مشر زوے دے " تاڼیدار پاسې
هغه له ورغې او هغهٔ ته سلام کوي . شان په ځان کښې کچه شي .
هغهٔ ته پاسي او وائي ، "تکلیف مهٔ کوي صېب تشریف کېږدی،
پلیز . . .ښه جي څهٔ مسله ده ".

تاڼیدار: خان جي مسله دَ دے دوو ملزمانو ده (هغه په هتکړو کښې
بند ملزمانو ته ګوته نیسي ) خبره داسې ده خان جي چې دَ غریب اٰباد
دَ تاواني خلاف اېس اېس پي صېب ته چادرخواست کړے دے چې
خپله لوربې خرڅه کړے ده . دَ اېس اېس پي د حکم په تعمیل کښې
مونږ دَ هغهٔ په کور چهاپه اووهله خو هغه کور نه وو او دا دوه سړي دَ
هغهٔ په کور کښې موجود وو . زمونږ په لیدو دواړو منډه کړه او دَ کور
نه یې دَ وتو کوشش کوو ،په منډه کښې دا یو سړے (هغه یو کس ته
ګوته نیسي ) مو اونیوو او دا بل (هغه بل کس ته اشاره کوي) په وتو





کښې کامیاب شو . د دهٔ نیولوپسې زمونږ سپاهیانو دهٔ پسې منډه
کړه . دهٔ په شاړو او چپو کښې منډے وهلے اخر دا چې مونږ پرې
هوائي فائر اوکړو او ډېر په مشکله موقابو کړو . دوي ماتاني ته رسول
غوښتل خو دوي راته اووے چې دوي ستاسو زمیدار دي . دَ دوي باره
کښې تاسو څهٔ وائی .

شان :. ماته خو نه دَ تاواني کاکا دَ کېس په باره کښې څهٔ معلومات شته
او نه خپل زمېدار پیژنم . د دے معلومات به درته زمونږ ناظردرکړي.

ناظر: هاؤصېب ، دَ تاواني کاکا دَ کېس په باره کښې ماته معلومات
شته . هغهٔ واقعي خپله لورخرڅه کړے ده . اودا سړي هم پیژنم (یو
ته اشاره کوي ) دَ دهٔ نوم سپدا جان دے ( بیا بل ته اشاره کوي ) او د
دے بل نوم زېن خان دے دا دواړه دَ غریب اٰباد دي . دواړه رونه دي او
زمونږ زمیدار دي . خو دَ تاواني دَ کېس دوي سره څهٔ تعلق دے؟ دَ
دوي څهٔ ګناه خطا ده .

تانېدار :. دَ دوي ګناه خطادا ده چې دوي دَ شپې په تیارهٔ کښې په
مشکوک حالت کښې دَ تاواني دَ کورنه برآمد شوي دي. دوي مِ دے
تصدیق د پاره راوستل چې دوي واقعي ستاسو زمیدار دي ؟ دوېمه دا
چې دَ دوي په باره ستاسو څهٔ رائے ده .

ناظر: دا دواړه زمونږ زمیدار دي اوزهٔ یې ډېر ښهٔ پیژنم . تر اوسه پورې
مونږ ته دَ دوي دَ چال چلن په باره کښې هېڅ شکایت نه دے ملاؤ
شوے .



www.pukhto.Net

تانړېدار: سوال دا پیدا کیږي چې دوي دَ شپې په تیاره کښې دَ تاواني په کور کښې څهٔ کول؟

ناظر: صېب ، دا دواړه دَ تاواني تربوران هم دي او ګوانډیان هم دي . هغهٔ سره چنه په چنه پراتهٔ دي . دَ دوي خپلو کښې ستر پړده نیشته یو خلق دي . کېدېشي دوي څهٔ کار پسې ورغلې وو . دا هم کېدېشي چې دَ هغه دَ کور اندازه یې اخسته .

تانړېدار : ستاخبره ټیك ده خو دَ دوي دَ وینا مطابق نن شلمه ورځ ده چې تاواني او دَ هغهٔ بال بچ دَ کلي نه اوتي دي . دوي دَ هغهٔ کور ته څهٔ مقصد دَ پاره تلي وو .

ناظر: دغه تپوسونه به ترېنه مونږ اوکړو صېب، تاسو بې غمه اوسئ که دَ څهٔ شك وشبهې ګنجائش پکښې وو نو بیا به یې تاسو ته حواله کړو.

تانړېدار: ډېره ښه ده . (یوسپاهي ته) هلکه دوي نه هتکړۍ اوباسه. "

سپاهي چې دَ هغوي دَ لاسونو نه هتکړۍ اوباسي نو تانړېدار پاسي او وائي ، "ښه مونږ ته اجازت دے تلے شو".

شان : نه صېب داسې نه . تاسو دَ پاره ډوډۍ تیارېږي . ډوډۍ اوخورئ نو بیا ځئ .

تانړېدار : نه خان جي ډوډۍ به بیا شي . اوس ډېره بیړه کښې یو . یو کېس راته بل دے هلته ځان رسوؤ. ښهٔ لاړو درنه سلام علیکم .

دَ هغوي دَ تلو نه پس ناظر هغوي ته وائی ، "یه هلکو تاواني چې دَ





کور نه کډه اوړے ده نو تاسو دَ هغهٔ په تش کور کښې څهٔ کول؟"

زین خان: نه ناظر صېب څهٔ ضروري سامان یې اوړے دے نوره ټوله کډه یې کور کښې پرته ده .

ناظر: هرڅهٔ چې دي خو تاسو په توره شپه هلته څهٔ کول ؟

سیداجان: مونږ هسې ورغلي وو، دَ هغهٔ دَ کور اندازه مولګوله .

ناظر: اندازه خو تاسو په رڼا ورځ هم لګولے شوه . دَ شپې ورتلو ته څهٔ ضرورت وو. صفا خبره اوکړئ که اوږې پوړې کوئ نو بیامو پولیس له ورکوم چې ښهٔ چغې درنه اوباسي .

سیداجان: چې صفا خبره راباندې کوے نو شېطان دهوکه کړو او دَ ټول کلي یې دَ خندا کړو .

ناظر: شېطان څنګه دهوکه کړے ؟ رشتیا وایه سیداجانه .

سیداجان : رشتیا خبره دا ده ناظرصېب چې تاواني کاکا څهٔ کډه اوړے ده او څهٔ پاتې ده . دغه پاتې کډه ترېنه مونږ خپل کورته اوړه.

ناظر: اوه ، دا خبره ده ښه ځومره کډه موترېنه یوړه او ځومره پاتې ده.

زین خان: په خدائے که یو دَ مرې موترېنه اوړے وي. دَ هغهٔ کوټه جرنده ده او مونږ دَ جرندې ماتولو کوشش کوو چې پولیس راباندې رااوختو.

ناظر: هاې بې غېرتو ، بې شرمو ، داسے کار هم څوك کوي لکه تاسو چې اوکړو .

زین خان (سیدا جان ته اشاره کوي ) دادَ دهٔ دَ لاسه اوشرمېدو .

ناظر (شان ته) خان جي ، دوي خو دَ خپل جُرم اعتراف اوکړو ، اوس



www.pukhto.Net

دوي سره څۀ اوکړو ؟ پولېس له يې ورکړو ؟
شان :. نه پولیس له يې مۀ ورکوه . دومره به يې اووهي چې ځان سره به نور بې ګناه هم اولړي . البته دوي نه دا وعده واخله چې ترڅو تاواني کاکا نه وي راغلے تر هغې به دَ هغۀ د کور حفاظت هم کوي او دَ هغې صفائي او ختې لوتې به هم کوي . او که دَ هغۀ دَ کور يو څيز هم بې ځايه شو نو هغه به دوي بې ځايه کړي وي . زمونږ ملزمان به دوي وي .
ناظر:. هلکو دَ خان جي خبره مو واورېده ؟ که دغسې موخوښخه وي خو ډېره ښه ده ګينې پولیس له مو ورکوو.ستاسو څنګه خوښخه ده.
سيداجان:. ناظر صېب پولیس له مو مۀ ورکوه چې تاسو څۀ وائې مونږ دَ هغې منلو ته تياريو که دَ هغۀ يو څيز بې ځايه شو نو مونږ مجرمان . دَ هغه دَ کور حفاظت به هم کوو او لکه دَ خپل کور به يې صفائي ستهرائي هم کوو.
ناظر چې په هغوي ښه توبې اوويستلے نو بيا يې دَ تلو اجازت ورکړو . دَ هغوي دَ تلو نه پس شان دَ تاواني کاکا دَ کېس په باره کښې دَ ناظر نه تپوس اوکړو . ناظر هغۀ ته دَ تاواني کاکا دَ واقعے توله خبره اوکړه . شان هم لکه دَ خپل پلار دَ تاواني کاکا په افسوسناکه واقعه ډېرخفه شو . دَ ډلې نه پاسېدو او په دروند وجود او دروند سر کورته روان شو. هغه په خپل بېډ کښې سملاستو خو دَ تاواني کاکا په واقعه باندې دومره خفه وو چې توله شپه ډېې په ډېې اوختو رااوختو خو خوب نه ورتلو . چې لړې سترګې به يې ورغلے نو هغه به ورته موسېدلے





ولاړ وو او هغه ته به يې وے ، "ښه خان جي ، تۀ څوارلسم پاس يې او زۀ يې څلورم پاس يم ماسره مقابله کوے ؟" بيا به يې دَ جېب نه کاغذ او پن رااوويستلو ، په کاغذ به يې څۀ هندسې اوليکلے او هغه ته به يې وے ، " دېخوا ګوره .133 ، 151 ، 410 ، 467 ، 565 ، دا پنځۀ هندسې دي . دا هره يوه هندسه دَ ابجدو په حساب يويو نوم دے. تۀ راته دا اووايه چې دَ رومبې هندسې نه واخله تر پنځمې هندسې پورې دَ دے نه څۀ څۀ نومونه جوړيږي ؟" بيا به هغۀ توله ورځ حساب کوو خو چې مسله به حل نشوه نو په خندا کښې به يې ورته اووے ، "زمانه ناپوره شوه اوس راته په خپله اووايه " تاواني کاکا به په خندا شو او په خندا خندا کښې به يې ورته اووے ، "نه خان جي ، داسې نه ، هله به درته وېم چې هار اومنے ". نۀ شان هاراومنلو اونۀ ورته هغۀ دَ دغه معمّې حل اوښودلو ". دا خبرې به هغه وخت کېدې چې تاواني کاکا دَ هغوي دَ تماکو بهټۍ کښې منشي وو.دَ هغې نه پس نه دَ دوارو لیدل شوي وو او نه دَ سوال وجواب مقابله شوې وه . البته هغه تولې خبرې اوس هغۀ ته يوه په يوه يادېدې او دَ هغۀ په خفګان کښې به يې اضافه کوله . هغه ترناوخته پورې ويښ وو او په دغه خيالونو کښې ډوب وو . آخر يې سترګې اولګېدې او اوده شو.

## ﴿ دوېمه برخه ﴾

شان چې دَ خپلو روښو خوياندو سره کالام ته اورسيدو نو دَ هغوي مور پلار دَ هغوي په راتلو باندې ډېر خوشحاله شو. دَ روغ جوړ او سلام دعا



www.pukhto.Net

نه پس هغۀ کاغذ قلم راواخستو او دَ اُوټنګ دَ پاره یې پوره دَ یوې هفتې پروګرام جوړ کړو په دغه پروګرام کښې دَ ړومبۍ او دوېمې ورځې پروګرام دَ کالام او دَ خواږ شاغرونو او مضافات وو . دَ درېمې ورځې پروګرام دَ باغ ډهیرۍ ، دَ څلورمې پروګرام دَبحرېن ، مدېن او دَ مضافاتو وو دَ پنځمې ورځې پروګرام دَ کانجو او فضاګټ وو . دَ شپږمې ورځې پروګرام دَ مینګورې او سېدو شریف وو. دَ اوومې ورځې پروګرام دَ کبل او مضافات وو او په اتهمه ورځ دَ هغوي واپسي وه . دَ هغو ي دَ ړومبۍ ورځې پروګرام دَ باران په وجه اونشو او هغه ورځ هغو ي په خپلو بسترو کښې تېره کړه . په دوېمه ورځ هغوي پنځه واړه د دغې علاقې دَ سیل دَ پاره اووتل . په اسمان ګوره وریځ خوره وه . نرۍ پخه هوا چلېده او نرۍ پونه ورېده . څۀ هغوي خوشحاله وو، څۀ دا علاقه خائسته وه او څۀ موسم ډېر خوشګوار او رومانی وو. هغوي ته هریو څیز په مُسکا او خندا ښکارېدو . بالکل داسې لکه چې دغه شنې اونې ، شنۀ غرونه او شنۀ واخۀ هغوي ته په مُسکا مُسکا هرکلې وائي . په دغه غرونو به هغوي ختل ، کوزېدل ، مخکښې تلل او یوبل سره به یې دَ ختو کوزېدو او منډو مقابلې کولې . هغوي ترناوخته پورې په دغه غرونو کښې ګرځېدل . په دغه منډو ترړو او ختو کوزېدو کښې هغوي ستړي هم شو او اوږي هم شو . هغو ي چې دَ ګرځېدو نه پاتې شو نو دَ واپسۍ اراده یې اوکړه خو هغوي دومره لرې تلي وو چې واپسي هم ورته ګرانه شوه . یوه موقعه



www.pukhto.Net



داسې راغله چې سعدیې خوبالکل پل اولګوو او ښۀ په پخه کېناسته . دَ هغې په وجه هغوي هم هغې سره کېناستل . چې دَ هغې حوصله په ځاے شوه . نو بیا دَ یولاس نه عالیې اونیوه او دَ بل نه شان . دَ هغوي په سهاره په مزه مزه دَ غرونو نه کوزه شوه . هغوي غوښتل چې هغو ي په هغه لاره واپس لاړ شي په کومه چې راغلي وو خو دَ هغوي نه دَ واپسۍ لاره غلطه شوه او خپل منزل ته دَ تلو په ځاے په مخلاف اړخ روان وو . هغوي غوښتل چې په روانه روانه کښې دَ چا نه تپوس اوکړي خو په لاره کښې هیڅوك نه وو . بیا دَ شان په وېنا ټول یو ځائے کېناستل چې دمه به هم شي او که څوك لاروے راغې نو دَ هغۀ نه به تپوس هم اوکړي هغوي سره دا یره ملګرې وه چې هسې نه شپه یې په غرونو کښې راشي چې څومره څومره به وخت تېرېدو هومره به دَ هغوي وسوسې زیاتېدې اخر هغوي ته لرې دَ غر په سوکه یوه جینۍ ښکاره شوه چې دَ خشاك ګېډې په سر دَ غر نه کوزېده . دَ هغوي په زړونو کښې دَ امید پلوشې پېداشوي . لږه شیبه پس هغې پسې درې جینکۍ نورې هم ښکاره شوي . کېده کېده چې دغه درې وانړه جینکۍ ړومبۍ جینۍ پسې اورسیدې او څلور واړه دَ خشاکو ګېډي په سر دَ هغوي په طرف روانې وي . دَ هغوي سترګې په امید امید په هغوي لګېدلې وي .په دې دې کښې هغوي په هغه لاره راسمې شوي چرته چې هغوي ناست وو. ړومبۍ جینۍ چې دَ هغو ي خواله رااورسېده نو عالیې ترېنه دَ بازار تپوس اوکړو.

دے تپوس سره هغه ګیډي په سر اودرېده او دَ اوړې تبرګے یې خپل ګېډې ته اړم کړو . دَ هغې اودرېدو سره نورې جینکۍ هم هغوي سره اودرېدې او هغو ي تـه یې سترې مشي اوکړل . رومبۍ جینۍ چې دَ نورو نـه مشره ښکارېده ، مسکۍ شوه او هغې ته یې اووې ، "مونږ پسې راځۍ ، مونږ هم هغه پلو روان یو ". هغوي ، هغوي پسې روان شو . پـه روانه روانه کښې دَ هغوي مخې له دوه لارې راغلې . جینکو لویه لاره پرېښوده او په نرۍ لاره روانې شوې . هغوي پسې هغوي هم روان شو . لږه شیبه پس دَ غرونو په مینځ کښې یوه هواره ډاګه ښکاره شوه . پـه ډاګـه کښې یـوه خیـمه لګېدلې وه او دَ خېمې مخې ته یوه زنانـه نـغري ته ناسته وه ډوډۍ یې پخوله . هغې نه لږه فاصله باندې یوسړي دَ خشاك ګیډي تـه ډډه وهلے وه او پټې سترګې په زمکه پروت وو . جینکو چې دَ سرونو ګیډي په زمکه اوغورځول نو دَ نغري دَ غـاړې ښځې هـم ورتـه اوکتـل ، سـړي هم سترګي اوغړولے او دَ مـلاستې نه کېناستو . هغهٔ چې مېلمنو ته اوکتل نو مسکے شو او دَ مشرې جینـۍ نـه یې تپوس اوکړو . "دا میلمانهٔ مو دَ چرتـه نـه راوستـل " هغـې پـه خپـلـه لـوپټـه دَ مخ ، سر نه دَ خشاك خاشي لرې کـولې اوپـه دغـه دغه یې کښې اووې ، "بابا دے مېلمنو نه لارغلطه شوې وه . دوي مِ ځـان سـره دلتـه راوستـل چې لاره ورتـه سمه کړو ". سړے پاسېـدو او هغـې تـه یـې اووے ، "ډېردې ښهٔ اوکړل لورې . دا مـېـلمانهٔ زمونږ خانان او ببیانې دي ". دَ هغهٔ په دې خبره ټولو هغهٔ ته





اوکتـل. هغـه شـان لـه ورغی او هغهٔ ته ورترغاړه وتو او ډېره شیبه یې خپـلـې سینې پورې نیولې وو . بیا یې ورته اووے ، "خان جي په دے غـرونـو کښـې څهٔ کـوی "؟ شـان پـه حیـرانتیا هغهٔ ته اوکتل او وئـے وئیـل "څـوك ؟ تـاواني کـاکـا خـونه یي "؟ هغه بیا مُسکے شو اوے وئیل : بالکل یم خان جي ، په دے غرونو کښې څهٔ کوی خان جي؟
شان:. مونږ خودَ غرونو سیل له راغلي یو خو تهٔ ؟
تاواني کاکا:. تاسو دَ غرونو سیل له راغلي یې او مونږ پنائي له راغلې یو. شان دَ هغهٔ نه څهٔ تپوس کول غواړي خو هغه دَ هغهٔ نه مخ اړه وي ،فـاروق او عمر سره سترې مشي کوي او بیا عالیي ته وائي ، تهٔ څنګه یې بي بي ؟ مشـره بي بي څـنـګـه ؟ بیـاسعدیي ته ګوري او وائي ، "سعدیه بـچـۍ خـولـویـه شـوې ده ، څنګه یې بچې " بیایوې لورته وائي ، "ورشه جینۍ دَ خیمې نه درۍ راؤباسه چې دوي پرې کیني او دمه شي ".
شـان:. نـه کـاکـا ، مونږ به درنه لاړ شو ، دَ تاواني کاکا ښځه دَهغوي خوا له راځي او ټـولـو سـره سـتـړي مشي کوي . تاواني کاکا شان ته په مینه ناکو سترګوګوري او وائي ، "دَ تلو نوم مهٔ اخله خان جي ، چې څوك تلي دي نو بیا نه دي راغلے . داسې رانه نشۍ تلے . اګر چهٔ زمونږ ډوډۍ ستاسو د خوراك لائـقـه نـه ده خـو هـغـه دَ چا خبر چي تالي ته مهٔ ګوره ، تندي ته ګـوره ". دَ هغهٔ لور چې درۍ خوره کړي نو تاواني کاکا هغوي ته وائي ، " تاسـو ټـول پـه دې درۍ کـېـنـۍ چې دمه شۍ ". چي هغوي کیني نو دَ تاواني کاکا یوه لور دَ منګي نه دَ اوبو جام راډك کړي او هغوي ته وائي ، "



www.pukhto.Net

تاسو به تړي شوي يې . اوبۀ اوڅکې چې تنده مو ماته شي ". هغوي
واقعي تړي شوي وو ، هغې په واره واره ټولو له اوبۀ ورکړي . هغوي چې
اوبۀ اوڅکلې نو په ساه کښې يې ساه راغله . شان تاواني کاکا ته وائي ،
"تاواني کاکا ته دلته په دے غرونو کښې اوسيږے ؟

تاواني کاکا: هاؤ خان جي ، چې دَ انسانانو نه نااميده شوم نو د دے
غرونو په لمنه کښې مِ پنائی واخسته. دے غرونو کښې سکون دے ،
قرار دے او خوشحالي ده . د دے غرونو دا مخونه څکه تور دي چې
دوي دَ هر چا غمونه په خپل سر اخستي دي .

شان:. دا جينکۍ ستا لونړه دي تاواني کاکا ؟ دَ شان په تپوس باندې
هغه په خندا شو او دومره يې اوخاندل چې سترګې يې دَ اوښکو نه
ډکې شوې .دَ هغه په خندا شان په ځان کښې کچه شو چې شايد هغۀ
څۀ غلطه خبره کړي وي . تاواني کاکا چې خپلې اوښکې اوچې کړے
نو بيا يې هغۀ ته اووے ، "هاؤ خان جي دا زما لونړه دي " بيا يې لونړ
ته اووے ، "يَه جينکو ، دلته راشئ " هغوي ټولې چې راغلې نو
هغۀ ته مخامخ اودرېدې . تاواني کاکا شان ته اوکتل مسکے شو او
وے وئيل ، " خان جي ، کله چې زۀ ستاسو دَ تماکو په بهتۍ کښې
منشي ووم نو مابه تانه دَ يو څو هندسو تپوسونه کول . تاته ياد دي؟"

شان:. بالکل ماته ياد دي . او هغه هندسې هم تراوسه پورې ماته يادې
دي هغه داسې وې ،133 ، 151 ،415 ، 467 او565 .

تاواني کاکا:. بالکل بالکل . ښۀ نو تا هغه نومونه معلوم کړل.





شان :. نه تاواني کاکا لاتراوسه مِ نه دي معلوم کړے .

تاواني کاکا:. دغه نومونه تۀ په ټول عمر کښې هم نشے معلومولے .
دا دَ ابجدو حساب دے خان جي ، ښه نو رومبۍ هندسه 133 ده . او دا
زما د دې مشرې لور دَ نوم ابجدي نمبر دے . دوېمه هندسه 151 ده او دا
زما دَ دې دوېمې لور دَ نوم ابجدي نمبر دے . درېمه هندسه 415 ده او دا
زما دَ درېمې لور دَ نوم ابجدي نمبر دے . څلورمه هندسه467 ده او دا
زما د دے څلورمې جينۍ دَ نوم ابجدي نمبر دے .(بيا هغه چپ شي )

شان (په بې صبرۍ سره ) " او 565 نمبر . . . .؟"

دَ تاواني کاکا سترګې دَ اوښکونه ډکې شوې. په ډکو سترګو هغۀ ته
ګوري او وائي ، "565 نمبر لاړه دَ سپل نه بيله شوه . . .لاړه،لاړه".

شان:. هغه نه ده بيله شوې تا په خپله د سپل نه بيله کړه .

تاواني کاکا: هاؤ خان جي ، هم دغسې ده ، هغه يوه شپه چپ وي ،
بيا وائي ، "خان جي خفه نشے ، تاته نه وېم خو هسې يوه عامه خبره
کوم چې دا غريب سرے خُدائے ولې پيدا کړے دے ؟ او چې پيدا يې
کړو نو بال بچ يې ولې ورکړو ؟ دَ شرمولو دَ پاره ؟ دَ بې غېرتۍ دَ پاره؟
غريب په غريبۍ کښې پيدا شي ، په غريبۍ کښې لوے شي ، بالغ
شي ، دَ بال بچ پلار شي او په غريبۍ او شرمندګۍ کښې مړ شي .
خو بعضې بې غېرته داسے وي چې مرګ هم ورله نه راځي . يې
خان جي ، مرګ غواړي او نۀ راځي ورله . . .مرګ هم تړينه کرکه
کوي . خان جي ، دا بې غېرتي نه ده نو څۀ دي چې خپله ماشومه لور



www.pukhto.Net

مِ دَمور دَ غېږ نه اوشوکوله او خپله یوه حیامِ دَ خپلې بلې حیا دَ پاره دَ خپله لاسه دَ لاسه اونیوله او دَ بل په لاس کښې مِ ورکړه . هغه لورمِ ورکړه چې هغه لاماشومه وه ، نیازبینه وه او دَ خونړې دنیا دَ خونخوروَ خونړو خولو او پنجو نه خبر نه وه ... اوبې خان جي ، چاله مِ ورکړه ...؟ هغه چاله ....مِ ورکړه چې...نه یې پېژنم او نه یې راته ځاے ځائېږے معلوم دے .ماچې ...ماچې ...هغه ..هغهٔ سره ګاډي کښې کېنوله ...نو ...هغې ...ماته په غټو غټو ..او... کتل ، او ...او ..وے وئیل ، "با ...با ...دا ...دا سړے ځوك دے او ...اوما چرته بوځي ؟ خان جي ...مادَ هغې په تپوس باندې ځان داسے ...کوڼ کړو لکه چې زهٔ دَ عمرونو کوڼ یم ....دَ هغې په قسمت کښې نه کالي وو ، نهٔ نوي جوړه وه ، نه یو موتے نکریزې وې او نه نوې کېږې وې .دَ هغې په خپو کښې هغه کېړې وې ، دَ هغې په غاړه کښې هغه جوړه وه او دَ هغې په سر هغه لوپټه وه کومه چې (هغه عالیې ته ګوته نیسي ) کشرے بي بي ورکړې وه ...او په هغه جوړه کښې هغه لکه دَ ګوډۍ ښکارېده ". شان خپلې اوښکې اوچوي او هغهٔ ته وائي ، "تاواني کاکا ، تانه هم غلطي اوشوه . که تا باباجي ته یاماته وېلے وے نو داسې به چرې هم نه وو شوې .

تاواني کاکا:. خان جي مونږ په غریب آباد ، خان آباد او میاں کلي کښې هېڅوك پرېښې نه دي . زهٔ اوښځه مِ ګرځېدو او هرچاته مو خپل فریاد کوو خوچا هم زمونږ فریاد وونهٔ رېدو . چې دَ نورو نه ناپوره شوه





نو اخري اسره مِ ستاسو کورنۍ وه .هم دغه لور565 نمبرمِ ځان سره کړه او ستاسو کلي ته درغلم . هغه مِ تاسو کره اولېږله او په خپله حجرې ته لاړم . زمادَ قسمته نهٔ مشرخان وو او نهٔ تهٔ وے .چې ستا تپوس مِ اوکړو نو ناظر راته وے چې ، "دَ هغهٔ هیڅ پته نهٔ لګي چې چرته دے " چې دواړه واپس شو او ماپه لاره دَ لورنه تپوس اوکړو نو هغې راته اووې چې "بي بي زما نوم ځان سره اولیکو او وې یې چې مشرخان راشي نو ستانوم به دَ زکواۃ په رجسټر کښې اولیکي او ستاسو حاجت به پوره کړي ".

شان (عالیې ته ) دغه جینۍ واقعي کورته درغلې وه .

عالیه :. هاؤ راغلې وه خو نه باباجي کور وو، نه امّی کور وه او نهٔ تهٔ کور وے . البته ما دَ هغې نوم لیکلې دے .

شان:. تا ډېره لاپروائي کړې ده عالیې .

عالیه :. سوري شان ، مالاپروائي نه ده کړې . ماتاله دَ رنګ درکولو کوشش اوکړو خو ستا موبائېل بند وو.

تاواني کاکا:. نه خان جي دا دَ بي بي لاپروائي نه ده . دَ بي بي چې څهٔ وس کېدو هغه یې کړې دے . زهٔ دَ بي بي ډېره شکریه ادا کوم چې زما لورله یې عزت ورکړې دې . خوکوم کار چې الله نه کوي نو دَ هغهٔ بنده به یې څهٔ اوکړي .

شان :. که تازما دَ راتلو پورې په خپل کور پېسي راخستے وے نوما به درله درکړے وے . خو چې دا کار دے نه وے کړے .



www.pukhto.Net

تـاواني کـاکـا:. کـور کـوم دے خـان جي ، زمـا خپل کور نیشتـه ، زۀ دَ کـونډې خور په کور کښې اوسېدم او زر روپۍ مياشت ګ کرایه ورکوله . دَ هغـۀ ښـځـه راځي او هغۀ ته وائي ، "داوخت د دې خبرونه دے .په خپـلـه هـم ژاړے او دوي هم ځان سره ژړوے ، ډوډۍ تیاره ده ، لاسونه اووینځۍ چې ډوډۍ اوخورۍ ".

شان:. نه موړې ډوډۍ نشو خوړلے ناوخته دے ځو درنه .

تـاواني کـاکـا:. نـه خـان جي نـه ، ماډېره موده ستاسو پـه تالي غوړه خـوړلے ده دا یو وخت مونږ سره سپوره اوخورۍ . دَجوارو ډوډۍ ده او د دے غـرونـو ساګ دے . په غونډه به يې اوخورو . شان هډو بله خبره اونـکړه تړول په غونډه کېناستل او ښۀ په مړه ګېډه يې ډوډۍ اوخوړه . دَ ډوډۍ نـه پـس شان مسـکـے شـو او تاواني کاکا ته يې اووے ، "ښه کاکا مونږ به درنه اوس لاړ شو . خو په تلو تلو کښې راته دَ هغه معمّی حل اوښایه کومه چې تاماته وېلے وه .

تاواني کاکا (په حیرانتیا ) کومه معمّه خان جي ؟

شان:. دَ ابجدي نومونو معمّه کومه چې تاماته وېلے وه .

تـاواني کـاکا(خاندي) ښه ښه . داسې نه خان جي ، مخکښې خپل هار اومنه نو هله .

شـان:. نه تاواني کاکا ، هارچرې هم نه منم ، چې په هارمنلوشوه نوبیا دې وي . اخر بـه چرې دا مـعمّه حل شي . اوګینې ستانه دَ تپوس څۀ ضـرورت دے دَ مـعـمّي حل موجود دے زۀ به دَ موربي بي نه تپوس





اوکـړم .هـغـه دَ تـاواني کاکا ښځې له ورځي او هغې ته وائي ، موري، سـتـاد لـونـړو څـۀ څـۀ نـومـونـه دي؟ هغه خاندي او په خندا خندا کښې وائي: "دَ مشـرے نـوم حسـینـه دے ، دَ دویـمـې نوم میمونـه دے ، دَ دریـمـې نـوم شـمـع دے ، دَ څلورمې نوم زینت دے اوهغه چې لاړه دَ هغې نوم کرشمه دے ". شان چې دَ هغې خبره ووریده نو په خندا شو او تـاواني کـاکا ته يې اووے ، "ستا معمّه ستا دَ منت نه بغېر حل شوه ". دې سره تړول خاندي او په دغه خندا خندا کښې هغوي روان شي .

**﴿ دریمه برخه ﴾**

پـه صبا هغوي پـنـځـه وانـه ګاډې کښـې کـېـنـاستل او دَ باغ ډهـېـرۍ سـیـل تـه روان شـو .هغوي چې هلته اورسېدل نو دَ ګاډي نه کـوز شـو او دَ سـړك پـه غـاړه دَ باغ ډهیرۍ نظارې تـه اودرېدل . باغ ډهېرۍ واقعي دَ ګلونو ډهېرۍ وه . شنۀ واخۀ دَ غردَ لمنې نه ترسوکو پـورې رسـېـدلي او غـوړېـدلي وو. پـه دغـه شنۀ واخو باندې علاقائي ځنګلي ګلونه داسې ښکارېدل لکه په شین قالین چې ځاے په ځاے رنـګـیـن ګـلونه پراتۀ وي . دغه نظاره هغوي ته داسې ښکارېده لکه په یـو لوي کاغذي شیټ چې فطرت په خپل لاس دَ شنوواخو ، شنواونو، رنـګـیـن ګلونو، سپینو تیګرو ، په هواکښې د الوتونکو مرغو ، لولکو تـتـېـتـنـکـو یوه حسینه نظاره جوړه کړې وي او دَ هغوي کتنې ته يې په مُسـکـا مُسکا په دواړه لاسه نېولے وي . شان دَ فطرت دے شهکار ته ډېره شېبه ګوته په خوله وو . بیا يې هغوي ته په مُسکا اوکتل او وے



www.pukhto.Net

وئیل ، "راځئ چې دا سینرۍ انجواې کړو". دې سره هغه مخکښې شو او هغوي ورپسې روان شو موسم ډېرخوشګوار وو. دَ نمر سترګه ځلېده ، خندېده او پړقېده . نسیم په یخو وزرو غُنچې ټېنبولے او خندولے ، هره خوا دَ ګلونو خوږې وږمې او دَ مرغو دلاوېزه نغمې وې زیږ سرې بوراګان ، رنګینې نولکۍ او برګۍ چرګۍ ټنټنکۍ په ګلونو پرېدې ، کېناستې او دَ یوګل نه بل ګل ته تلې راتلې . دَ فطرت هره یوه ښېزونه دَ ډالۍ په شکل کښې لاس په نامه ولاړه وه او هغوي دَ دغه نازولواو دَ دغه نازك مخلوق نیولو پسې منډې وهلې. په دغه منډو تړړو کښې هغوي خوارۀ شواو په ګرځېدو ګرځېدو کښې سپین تکرته اورسېدل . دَ چینې اوبه دَ غردَ سوکې نه په مختلفو لارو بهېدې ، ډېر په تېزۍ سره لاندې په یو غټ ګټ پرېوتې او دغه ګټ نه بیا دَ پونې په شکل کښې لاندې ورېدې . دَ نمر په رڼا کښې دغه پونه داسې صفا ښکارېده لکه چې دَ رنګونو باران ورېږي . دغه ټولې اوبۀ په یو ډنډ کښې غونډېدې او په مختلفو لارو په شنوواخو کښې پټې پټې خورېدې . فاروق ، عمر ، عالیه او سعدیه هلته ورغلل ، دَ تکر اوبۀ به یې په موټو کښې نیوې او په یو بل به یې ویشتې .

شان دَ هغوي نه بیل شوے وو او په خپل سُر کښې ځان له ګرځېدو، کله به یې کاڼي راخستل او لکه دَ یو جیولاجسټ به یې دَ هغوي کرښو ، رنګونو او رګونو ته کتل او په هغې به یې غور کوو. کله به یې دَ غر کنټورز Contours شمېرل او دَ هغې نه به یې دَ غر دَ





عمر اندازه لګوله . کله به یې دَ یو بیالوجسټ غوندې دَ ګلونو دَ نازکو پاڼو او رنګونو معائنه کوله او په دغه کتو کتو کښې به دَ هغۀ خیال ډېر لرې لاړو . دې سره دَ هغۀ جمالیاتي حس بېدار شو او دَ بېدارېدو سره یې داسې غزونې اوکړے چې دَ تخیّل په کمند دَ شاعرۍ دنیا ته اورسېدو . دَ شاعرۍ ملکه دَ حسن په تخت ناسته وه او دَ رنګ وبو په غازه یې خپل سنګار کوو . هغې چې هغۀ ته اوکتل نو مسکۍ شوه . هغۀ لا دَ هغې دَ حسن په تماشه وو او په خپل ذهن کښې یې دَ هغې دَ تعریف دَ پاره توصیفي الفاظ لټول چې دَهغۀ په موبائېل رنګ راغے . رِنګ راتلو سره دَ شاعرۍ ملکه غیبه شوه ، دَ هغۀ دَ تخیّل کمند اوشلېدو او هغه خپل زوړ حالت ته واپس شو . هغۀ چې کړنګېدلے موبائېل اوچت کړو او نمبر ته یې اوکتل نو مُسکے شو او په مُسکا یې اووے ، "هیلو مائي ډیر پلوشي، څنګه یې"؟

پلوشه :. تۀ کوم ځائے یې شان ، زۀ تاسره لیدل غواړم .

شان :. زۀ ډېر لرې یم پلوشې ، في الحال زما اوستا ملاقات نشي کېدے.

پلوشه :. ملاقات نشي کېدے ؟ څۀ مطلب؟ تۀ چرته یې شانه ، زۀ تا سره لیدل غواړم، اوس او په دے ساعت .

شان :. زۀ په سوات کښې یم پلوشې . دَ باغ ډهېرۍ په غرونو کښې یم یوګټ ته ډډه وهلے ده او دا روماني موسم انجواې کوم .

پلوشه :. مانه بغېر به موسم څنګه روماني شي او څنګه به یې



www.pukhto.Net

انجواې کړے . Rubbish .

شان :. هاؤپلوشې ، ستاخبره بالکل رشتیا ده . موسم خوشګوارد ے خو مزېدار نه دے تانه بغېر هرڅه پیکه سیکه او بې خونده بې رنګه دي ". په دیکښې دَ وږمو یوه چپه راشي او دَ هغۀ په مخ دانه وانه شي هغه ته چې دَ خوشبوئي احساس اوشي نو یوه لویه ساه اخلي او دَ خولې نه یې بې اختیاره اوځي ، "اوه مائي ګاډ "

پلوشه :. What happened ، څۀ اوشو شانه ؟

شان :. (خاندي) پلوشې ما دَ موسم دَ بې ذوقۍ ګیله کوله چې دَ خوشبوئي یوه مسته چپه راغله او زما ګیله یې ختمه کړه .

پلوشه :. دغه خوشبوئي زۀ انجواې کولې شم ؟ زمامطلب دے چې زۀ ستا په څنګ کښې کېناستې شم .

شان (په حیرانتیا) زما په څنګ کښې؟ څۀ مطلب ؟ تۀ چرته یې ؟

پلوشه :. زۀ ستا شاته ولاړه یم.

شان:. زماشاته ؟ "هغه پاڅي او ډېر په تونده ی سره چې شاته ګوري نو هغه واقعي دَ هغۀ شاته ولاړه وي او خاندي .دَ هغۀ دَ خولې نه بې اختیاره اوځي "، "اوه مائي ګاډ"، تۀ دلته یې ؟ زما په زړۀ کښې دَ مخکښې نه پرته وه چې دَ وږمو دغه چپه تانه بغېر دَ بل هیچا نشي کېدې .

پلوشه :. په ما طنز کوے ؟

شان:. چرې هم نه بلکه دا حقیقت دے .

پلوشه :. دَناستې اجازت نه راکوے ؟





شان:. Oh,come on please .راځه کېنه پلیز، پلوشه چې دَ هغۀ په څنګ کښې کېني نو هغه ته په مُسکا ګوري او وائي، "اوس موسم څنګه دے "؟

شان (مسکے شي ) اوس خوشګوار هم دے ، مزېدار هم دے ، خوندور هم دے او بختور هم دے .

پلوشه :. ډېره ګیله مې درنه کېږي شان . ته یوائے راتلے او ماته دے اونه وے ؟

شان:. یوائے نۀ یم راغلے . ماسره ټوله کورنۍ ده . مورپلار مې مخکښې راغلي دي او دوه رونړه او دوه خویاندې ماسره راغلي دي .

پلوشه :. داخو ډېره ښۀ خبره ده ستاسو Stay چرته ده .

شان :. مونږ په کالام کښې په خپله بنګله کښې ډهېره یواو تۀ ؟

پلوشه :. ماسره مور راغلې ده او مونږ دلته په رسټ هاؤس کښې ډهېره یو .

شان:. مېډم تاسره دلته راغلي ده ؟

پلوشه :. نه شانه ، دَ هغې طبیعت ښۀ نه وو نو هغه په خپله کمره کښې پاتے شوه اوستاسو تېر؟

شان:. مورپلار مې کالام کښې پاتې شو او رونړه خویاندې مې هغه دي دَ ټکر په خواکښې راغونډ شوي دي او خپلو کښې لوبې کوي .

پلوشه :. اوه ، Fantastic ،شانه زۀ هغوي سره لیدل غواړم پلیز.

شان:. اوس نه چې ستا او زما لوظ قول پوره شي نو هله .



www.pukhto.Net

پلوشه :. لوظ قول پوره شي ؟ څۀ مطلب ؟

شان:. مطلب دا چې ستا ارمان يعني زما سي ايس ايس اوشي .

پلوشه :. اوه يس ، زما ارمان ، سي ايس ايس . ښه دا راته اووايه چې پرچې دې څنګه اوشوې ؟

شان:. ښۀ دي ، ډيرې بدې نه دي اوستا څۀ پوزيشن دے ؟

پلوشه :. ډيرې اعلیٰ ، زما دَ توقع عين مطابق .

شان:. ځه شکر دے چې تۀ مطمئنه يې.

پلوشه :. زماکاميابي يقيني ده خوستاله خوا مايوسه شوم .

شان :. زما له خوا مايوسه کيږه مه پلوشې . پاس فيل امتحان سره تړلي څيزونه دي . په دوو کښې به يو کيږي ، پاس يا فيل .

پلوشه :. دَ فيل نوم په ما بدلګي. زما په مخکښې داسې خبرې مۀ کوه پليز . دَ ناکامۍ ټکے زما په ډکشنرۍ کښې نيشته . کاميابي ، کاميابي اوس بس کاميابي ، نورهيڅ نه .

شان :. پلوشې نۀ په ګُره ګره وېلو خوله خوږېدېشي اونه دَ کاميابۍ په ګردان کاميابي ملاوېدې شي . دې د پاره دَ ښۀ کارکردګۍ او دَ ريياالسټك اپروچ ضرورت دے . ستادَ خوبونو په ډکشنرۍ کښې به دَ ناکامۍ ټکے نه وي خوزما په پريکټيکل ډکشنرۍ کښې دغسې ټکي ډېر دي . او که بالفرض زۀ فيل شوم نو بيا؟

پلوشه :. بيا داچې لاړے او خوېدے او توے شوے (خاندي)

شان:. اوه مائي ګاډ ، دومره په شارټ نوټس ؟ بيا ټرائي نشم کولے؟





پلوشه:. تۀ ټرائي کولے شے خوزۀ انتظار نشم کولے .

شان:. داخو مينه نشوه ، بې انصافي او خود غرضي شوه .

پلوشه :. دا نۀ بي انصافي ده او نۀ خود غرضي ده بلکه دا زماارمان دے او د دے پوره کول تا په ځان منلے دي .

شان :. زۀ دَ منلو نه انکار نه کوم خو هسې دا وېم چې که دا ځل اونشي نو بيا ګينې بيا.

پلوشه :. چې اختر تېر شي نو نکريزې په دېوال اوټپه په دغه بيا بيا کښې به عمرونه تېر شي او زما ارمان به خاؤرې اېرې شي . سوري.

شان:. پلوشې که تۀ زما انتظار نشې کولې نوزۀ تانه هيڅ ګيله نه کوم . تاته اجازت دے تۀ خپله لاره بيلولې شي .

پلوشه :. دا دے خاطر خو بيا دَ پاره داسې خبره اونکړے پليز.

شان:. دَ يو اعلیٰ تعليم يافته شخصيت باوجود تۀ دَ حقيقت نه ولې انکار کوې . که ستا په زړۀ کښې بل څۀ وي نو ماته صفاصفا اووايه پليز.

پلوشه :. صفا خبره داده شانه چې زما ړومبۍ او روستۍ مينه تۀ او صرف ته يې . خو زمونږ ټوله کورنۍ دَ سي ايس ايس افسران دي. زه غوارم چې زما شريك حيات دَ هغوي نه کم نه وي بلکه دَهغوي دَ پاره يو مثال وي . چې زۀ په تافخر کوم او تۀ په مافخر کوے ، بله دا چې مونږ دواړه يو بل ته محتاج نه يو او ښۀ خوشحاله ژوند تېره وو.

شان:. وعده ده ؟

پلوشه : وعده ده .



www.pukhto.Net

شان:. چې وعده ده نو بیا به مقابله کوو خو صرف دَ پاس کېدو نه بلکه په ټاپ تهري کښې دَ راتلو .

پلوشه (مسکی شي ) Is it so dear ?

شان:. Yes , it is so my dear ، دې سره هغوي دواړه په خنداشي. په خندا خندا کښې دَ هغې ګل پاڼې شونډې جُدا جُدا شي ، په خوله یې دَ غاښونو څلا شي او په مخ او اننګو یې دَ سپرلي دَ رنګونو ګډا شي . په دغه خندا خندا کښې هغه هغې ته وائي ، "پلوشې ، تهٔ چې خاندې نو دَ جنت دریچې کهلاؤ شي او حورې ستادَ خندا تماشې ته اودریږي ".

پلوشه :. حورې ؟ ولې زهٔ دَ حورې نه کمه یم څهٔ ؟

شان:. اوه نو ، چرې هم نه بلکه هغوي ستاسهیلۍ دي ، دې سره هغوي بیاخاندي . دَ هغوي دغه خندا لاجاري وه چې دَ هغهٔ رونړه خویاندې دَ هغوي خواله راغلې هغوي ټولو پلوشې سره روغ جوړ اوکړل . دَ پېژندګلو نه مخکښې عالیه مسکۍ شوه او شان ته یې اووې ، "ویّی لالاجي ، تهٔ پټ پټ کارونه کوے او مونږ نه خبروے"؟

شان(مسکے شي ) ولې لیونۍ ماڅهٔ کړي دي چې ته مِ خبر کړے نه یې؟

عالیه :. تامونږ له بابي خوښخه کړے ده اومونږ نه دے پته ساتلے ده (ټول خاندي ).

شان:. اوه لیونۍ دا ستا بابي نهٔ ده . داز مادَ یونیورسټۍ ملګرې ده.

سعدیه:. ولې دَ یونیورسټۍ ملګرې بابي نشي جوړېدې؟ (ټول خاندي).





شان (خاندي) جوړېدې شي ولې نشي جوړېدې په خولهٔ دې امین شه (ټول خاندي )

پلوشه:. څهٔ دے اووے ، څه څهٔ (هغه شان دَ غوږنه نیسي)

شان:. پلوشې ، که تهٔ زما په امین غصه یې نوزهٔ به خپل الفاظ واپس واخلم .

عالیه :. نه لالاجي نه ، داسې اونکړے (ټول خاندي) . . .پلوشه په خندا خندا کښې دَ هغهٔ غوږ پرېږدي.

عمر:. لالاجي ، تهٔ زر زر سي اېس اېس اوکړه چې بابي کورته راولو.

شان(خاندي) واه ، واه ، دے لیوني ته لا اوګوره .

فاروق:. مونږ ټول لېوني سهي خو بابي کورته راوله .

شان:. زهٔ خو وېم چې اوس یې دَ لاس نه اونیسی او څان سره یې کورته بوځي .

عمر:. داسې نه لالاجي ، مونږ ټول به دَ ډولۍ مخې ته ګډېږو.

عالیه:. بس ، بس ، نورې ټوقې ټقالي بند . . .راڅه خورې چې اوګرځوو ، عالیه هغه دَ یولاس نه نیسي او سعدیه یې دَ بل لاس نه او په مزه مزه یې څان سره دَ ټکر خواله بوځي ، هلته هغوي کله پټ پټهونې کوي او کله دَ اوبو جنګ کوي ، شان په ګنو ملګرو کښې یواځے پاتے شو . هغهٔ په مُسکا مُسکا هغوي ته کتل او خوشحالېدو. پلوشه په رومبي ملاقات کښې هغوي سره دومره بلده شوه لکه چې دَ هغوي دَ عمرونو ملګرې وي . هغوي ترناوخته پورې لوبې کولې .نهٔ پلوشې دَ هغوي نه جُدا کېدل غوښتل او نه هغوي



www.pukhto.Net

پرېښودو خو دَ سبا دَ راتلو په وعده ترېنه هغې رخصت واخستو . په ګاډي کښې کېناسته او رسټ هاؤس ته روانه شوه .

په سبا دَ هغوي دَ بحرین او مدین دَ سېل پروګرام وو عالیې او سعدیې ته دَ وعدې مطابق دَ پلوشې دَ راتلو انتظار وو. هغوي ترناوخته پورې دَ هغې لارې ته کتل خو چې هغه رانغله نو بیا ورته عالیې کال اوکړو . دَ کال نه معلومه شوه چې دَ هغې مور مېرمن شهنازبېګم ناجوړه شوې ده او پلوشې هغه دَ شپې الشفا هسپتال اسلام اٰباد ته بوتلې ده. دَ هغې په دے انکشاف ټولو رنګونه اووهل . دَ شان ښه مړاوې شوه . دَ بحرین مدین پروګرام یې فاروق ته اوسپارلو او په خپله بهر اووتو . هغه یوه شیبه بهرګرځېدو او په ګرځېدو ګرځېدو کښې به دَ هغهٔ په زړهٔ کښې دا خیال راتلو چې پلوشې هغه دَمور دَ بیمارۍ نه ولې خبر نکړو ؟ هغې هغهٔ ته کال ولې اونکړو ؟ اوکه عالیې هغې ته کال نه وې کړې نو کېدېشي چې هغوي هډو خبر شوې نه وې . بیا یې په زړه کښې راغله چې کېدېشي دَ هې مور سیریس وه او په دې وجه هغه دَ هغهٔ خبرولو ته جوړه نشوه . بهرحال هغهٔ په زړهٔ کښې جوړه کړه چې اوس هغهٔ له پکار دي چې هغې ته کال اوکړي ، دَ هغې دَ مور بیمارپُرسي اوکړي او دَ هغې حوصله افزائي اوکړي . دَ هغهٔ خیال هم د دے محور نه تاوېدو او لکه دَ مقناطیس دَ ستنې اخرهم په دغه ځاے اودرېدو . په دے عرض هغه موبائېل اوچت کړو او هغې ته یې کال اوکړو . دَ هغې له خوا یوژړغونے اواز راغی، "





هَ . . هَ . . هېلو، شَه . . .شه شان .

شان:. پلوشې مورېې بې څنګه ده ؟

پلوشه :. شَه . . .شَه . . .ان، هـَ . . هـَ . . . هغې ته . . .ته هارټ اټېک شوے دے .

شان :. اوه مائي ګاډ ، حوصله اوکړه پلوشې پلیز ، ریلېکس پلیز. ته کوم ځائے یې ؟

پلوشه :. شان . ز . .زهٔ په الشفا هسپتال اسلام آباد کښې مورسره یم . . .ایمر . . .ایمرجنسي وا . . .وارډ کښې یم .

شان:. ژاړه مه پلوشې حوصله اوکړه پلیز . زهٔ درځم ، نورې خبرې به بیا اوکړو .

پلوشه :. نه شان ، زمونږ په وجه خپل ځان په تکلیف کښې مه اچوه . . .تاسو . . .تاسو خپل ټُور انجواې کړۍ . . .اوهڅ عالیې او سعدیې سره ما په ننۍ ورځ دَ ملاوېدو وعده کړې وه خو دَ مور . . .دَ مور دَ بیمارۍ په وجه ماخپله وعده پوره نکړې شوه ما دَ پاره دَ هغوي نه معافي اوغواړه پلیز.

شان:. داسې هیڅ خبره نیشته پلوشې . That,s o.k دې سره هغهٔ موبائېل بند کړو او کورته لاړو . په کور کښې یې عالیې او فاروق سره خبره اوکړه خپل ګاډے یې هغوي ته پرېښودو او دَ پلار په ګاډي کښې اسلام آباد ته روان شو .

★★★



www.pukhto.Net

## ﴿څلورمه برخه﴾

دَ ماسپخین دوه بجې وې چې شان الشفا هسپتال اسلام اٰباد ته اورسېدو . هغهٔ چې دَ ایمرجنسي په انکوائري آفس کښې تپوس اوکړو نو معلومه شوه ورته چې هغه په ICU کښې ده . هغهٔ ډېر په توندۍ سره ICU ته ورغی . هلته ډېره ګڼه ګونه وه . پلوشه دَ ICU مخې ته په یو بینچ ناسته وه او په خپل خیال کښې ډېره لرې تلې وه . دَ هغې په لیدو هغه مسکے شو خو دَ هغهٔ مُسکا ډېره زرختمه شوه ځکه چې هغهٔ ته دَ هغې په مخ دَ خفګان دَ تاثراتو نه داسې معلومېده لکه دَ خړې وریځ نرۍ پړده چې دَ سپوږمۍ په مخ خوره شوي وي او دَ هغې ځلا څهٔ حده پورې تته شوي وي . هغهٔ نه غوښتل چې دَ هغهٔ په ناګهانه ورتلو او تپوس کولو هغه مضطرب شي . هغه دَ خپل ځائے نه واپس شو او په لرې فاصله باندې یو خوا ته غلے اودرېدو او دَ هغې دَ مخ دَ تاثراتو اندازه یې اخسته . ګڼ خلق راتلل او تلل خو هغه نه خوځېده او نه پاسېده . هغه لکه دَ یوې حسینې مجسّمې په خپل ځاے ناسته وه او په ناسته ناسته کښې دَ خیال په دنیا کښې ګرځېده . هغه یوه شېبه ولاړ وو ، بیا یې موبائیل اوچت کړو او هغې ته یې رېنګ اوکړو . دَ رېنګ ورتلو سره هغه دَسوچونو او فکرونو دَ دنیا نه اووته او خپلې دنیا نه واپس شوه . هغې موبائل اوچت کړو او وې وئیل ”هېلو شان څنګه یې“؟

شان:. زهٔ ښهٔ یم پلوشې خو دَ مور بي بي حال راته وایه . هغه څنګه ده ؟





پلوشه :. ښهٔ نه ده شانه . په ICU کښې پټې سترګې پرته ده .

شان:. زهٔ تاسره ملاوېدېشم پلیز ؟

پلوشه:. دَ راتلو تکلیف مهٔ کوه شان . په موبائېل به رابطه ساتو او تاسو به دَ حالاتو نه خبروم.

شان:. داخو ډېره بې مناسبه ده چې تاسره دَ ملاوېدو نه بغېر واپس لاړ شم.

پلوشه :. تهٔ چرته یې شان ؟

شان:. زهٔ ستا مخې ته ولاړ یم.

پلوشه :. زما مخې ته ؟ ”دې سره هغه موبائېل بنده وي او خپلې مخې ته ګوري . هغه چې هغه اووینې نو مسکی شي، پاسي ، هغهٔ له ورځي او ورته وائي ، ”بدل دے واخستو “؟

شان:. نه پلوشې بدل مې نه دے اخستے خوتهٔ په سوچ کښې ډوبه وې او مانه غوښتل چې تا ډسټرب کړم . په دې وجه مې تاسره په موبائېل رابطه اوکړه . . .ښه موربي بي څنګه ده ؟

پلوشه :. ښهٔ نه ده شانه . په ICU کښې وینټي لېټر ته پرته ده . ”دَ هغې په سترګو کښې غټې غټې اوښکې راشي . شان چې دَ هغې اوښکو ته اوګوري نو وائي ، ”اوه نو یو. تهٔ خو ډېره بهادره جینۍ وې. دومره بزدله ولې شوي . ریلېکس پلیز ریلېکس “. هغه خپلې اوښکې اوچوي او هغه ته وائي ، ”شانه ، داسې معلومېږي چې زما مور دَ ډېر لږ وخت مېلمنه ده “.

شانه:. نه پلوشې نه . داسې مهٔ وایه پلیز. داسې دَ مایوسۍ خبرې مهٔ



www.pukhto.Net

کوه پلیز . ستا موربي بي به ژوندۍ وي ، ستا دَ پاره او تاسو ټولو دَ پاره.
پلوشه :. تهٔ رشتیا وائے شانه .
شان:. زما زړهٔ داګواهي کوي چې موربي بي به ژوندۍ وي . زهٔ دَ الله نه دَ هغې دَ لوي او خوشحاله ژوند دعا غوارم او امېد کوم چې زما دعا به ضرور قبلېږي . . .هسې دَ موربي بي په حقله ډاکټران څهٔ وائي؟
پلوشه :. ډاکټران ترهغې هيڅ نشي وېلے چې هغه په هوش کښې نه وي راغلې . چې هغه په هوش کښې راشي او دَ هغې مکمل چېك اپ اوشي نو هله به پته لګي .
شان:. دَ موربي بي دَ بيمارۍ اطلاع تاخپل ابو ، رونړو او خپلوانو له ورکړې ده ؟
پلوشه :. خپلوانو له مِ نه ده ورکړې او ابو او رونړو سره مِ رابطه ساتلې ده خو هغه چې شي او مخکښې هيڅ اونه وېلې شي. شان په بې صبرۍ سره دَ هغې نه تپوس کوي ، "خو څهٔ ؟ تاڅهٔ وېل غوښتل خو چپ شوې ؟ "
پلوشه هغه له هيڅ جواب ورنکړي البته دَ هغې سترګې يو ځل بيا ډکې شي او په ډکو سترګو دَ مايوسۍ په نظر هغهٔ ته ګوري . هغه سترګې چې مُسکا به پکښې ګډا ګانې کولې اوس پکښې دَ مايوسۍ تيرې ښکاري . هغې په چپه خوله يوه شېبه هغهٔ ته کتل خو بيا يې ترېنه مخ واړه وو. شان پوهـ شوه چې ضرور داسې څهٔ خبره شته چې دَ هغې په وجه هغه خاموشه ده . هغهٔ په خپل تپوس





معذرت اوکړو او دَ شونډو په سرېې غلې غوندې "سوري"اووے. دې نه پس هغوي ډېره شېبه خاموش وو . په دغه خاموشۍ کښې به کله کله هغې هغهٔ ته اوکتل او څهٔ وېلو ته به يې خوله جوړه کړه خو چې هغه به ورته اوکتل نو هغې به ترېنه بيامخ واړه وو. دَ هغوي زړونو په خپلو کښې په خاموشه ژبو خبرې کولے خو دَ هغوي په خولو نه راتللې . هغوي دواړه لا په خپلو خپلو خيالونو کښې ډوب وو چې دَ شان مخې ته درې کسان اودرېدل او درې واړو په يو وخت کښې اووے ، "لالاجي سلام عليکم ".
شان چې هغوي ته اوکتل نو په حېرانتيا کښې مسکے شو او وے وئيل ، اوه ، تاسو ، تاسو دلته څنګه راغلۍ لېونو، په دې درې کسانو کښې يو دَ هغهٔ رور فاروق وو او دوه دَ هغهٔ خوياندې عاليه او سعديه وه . دَ شان نه پس هغوي پلوشي سره روغ جوړ اوکړل او دَ هغې نه دَ مور دَ بيمارۍ په حقله تپوس اوکړو . هغې ورته په مايوسه لهجه کښې اووې ، "دعا ورته کوئ ګلونو ، ښهٔ نه ده ".
عاليه :. چې زمونږ په دعا کېږي نو اوس به هم دعا اوکړو او بيګاه له به مونږ دَ هغې دَ سر نفلونه کوو ، بيا ټول لاسونه اوچت کړي او دَ هغې دَ روغ صحت دَ پاره دعا کوي . دَ دعا نه پس شان دَ هغوي نه تپوس کوي ، "تاسو بغير اطلاع څنګه راغلۍ . . .تاته ويم ليونۍ"
(هغه عاليي ته ګوته نيسی )
عاليه :. ستا دَ غلطي سزا مونږ ته راکړې شوه لالاجي .



www.pukhto.Net

شان: زما دَ غلطي سزا ؟ څهٔ مطلب ؟

عـالیه : دلته دَ راتلو نه پس ابوستا تپوس اوکړو . مونږ ورته دَ پلوشي بي بي دَ مور بي بي دَ بیمارۍ او ستا دَ تلو خبره اوکړه . ابو او امي ډېر خفـه هم شو او غصه هم شو . خفه دَ هغې په بیمارۍ او غصه ستا په بي تپوسه تلو شو. ابو وے چې زر تر زره هغه له ځان اورسوئ ، دَ پلوشې بي بي دَ مور پوښتنه اوکړئ ، که هلته هغوي سره پاتې کېدئ خو ډېره ښه ده ګینې واپس راځئ . ښهٔ لالاجي مونږ ته څهٔ حکم دے ؟ پاتې شو او که واپس لاړ شو .

شان : اوه لیونۍ دا هسپتال دے ، سراے نه دے چې کډې پکښې واړه وئ او خپې اوغزه وئ . البته یو کس یعني تهٔ یاسعدیه که پاتې کېږئ نو ډېره ښه ده . . .ستا څهٔ خیال دے پلوشي ؟

پلوشه : نه شانه ، دوي له تکلیف مهٔ ورکوئ . دوي پرېږده چې خپل تورانجواې کړي . تاسو ته اجازت دے تلې شئ .

سعدیه : ابو هم دا وے چې هغوي اووینئ نو زر راځئ .

شان (خانـدي) تاسو تول لېونیان یئ. پوښتنه خو په موبائېل هم کېدېشوه .

فاروق: پوښتنه په موبائېل کېدېشوه خولیدنه نشوه کیدې .

عالیه : ښه لالاجي ، اجازت دے ، لاړ شو درنه ؟

شـان : هـاؤ تـاسو لاړ شئ ، زهٔ دلتـه یم . چې مور بي بي پـه هوش کښې راشي نو زهٔ به اطلاع درکړم .





عـالیه دَ پرس نه یو کاغذ را اوباسي او شان ته وائي ، "لالاجي ، دا خپل امانت دے واخله ، مونږ درنه ځو .

شان (کاغذ ته ګوري ) دا څهٔ دي ؟

عـالیـه : لالاجي دا بېنک چېك دے . ابو پرې دستخط کړے دے او وے یې چې څومره پېسې یې پکار وي ځان له دے راؤباسي . شان خاندي او پـه خـندا خـندا کښې وائي ، "اوه ، زما اوښیارې خورې . تهٔ څومره رحم دله یې ؟ (خاندي)

عـالیـه : لږ ساعـت مـخکښې لیـونۍ ووم او چې چېك مې ورکړو نو اوښیاره شوم (خاندي)

شان : اوس زهٔ په خپلې غلطۍ پوهـ شوم . شکریه ابو ، شکریه امّی او ستاسو تولو شکریه . که چایې ، ډوډۍ ته موزړهٔ کېږي خو ایسار شئ ګینې ځئ ځان رسوئ .

فاروق: نه لالاجي هرڅهٔ مو په لاره کړي دي . نور نشو ایسارېدې.

دې سره تول دَ شان او پلوشې نه اجازت اخلي او روانېږي . دَ هغوي دَ تلو نه پس شان پلوشې ته وائي ، "پلوشې، کله کله یو خیال په زړهٔ کښې راشي او هغه کار ډېر په اسانه اوشي ".

پلوشه : او کله کله یو ډېر اسان کار په ډېرو دعاګانو هم نهٔ کېږي.

شـان : بـالـکـل هـم داسې ده . یوساعت مخکښې زما په زړهٔ کښې دا خیال راغی چې زهٔ کلي ته لاړ شم او خپل چېك بك راؤړم خو د دغه تکلیف نه خُداے ډېر په اسانه خلاص کړم او چېك دلته راغی ، شان



www.pukhto.Net

هغې تــه چېك نيسي او وائي ، "پـلوشي مـاسره خپل ATM كـارډ شتـه. دا چـېك ابـوسـتـا دَ موربي بي دَ بيمارئ دَ پاره رالېږلے دے . دا قبول كړه پليز.

پـلـوشـه :. مـاتـه پتـه ده شـانـه ، زۀ په هر څۀ پوهـ شوم . دا چېك زما دَ امـانـت پـه طـور ځان سره كېږده پليز، شان مسكے شي او وائي ، "ډېره ښـه ده ". دَ هـغـۀ دَ مُـسـكا په جواب كښې هغه هم مُسكئ شي او په مُـسـكا مُـسـكا كښـې هـغـۀ تــه وائي ، "شـانـه ، لږ ساعت مخكښې تـازمانه دَ ابو او زما دَ رونړو دَ اطلاع په باره كښې تپوس كړے وو خو دَ خپلي خبرې دَ وضاحت په باره كښې زۀ چپ پاتي شوې ووم . اوس زۀ غواړم چې تاته دَ هغې وضاحت اوكړم ".

شان:. نـه جي ډېـره شـكـريـه . ستـا دَ وضاحت ضرورت نيشتـه . ماته وضاحت شوے دے .

پـلـوشـه (پـه حيرانتيا ) تاته وضاحت شوے دے ؟ تۀ دَ زړۀ په حال او دَ زړۀ په پټو خبرو هم پوهېږے ؟

شان:. بالكل پوهېږم خو دَ نورچانه ، صرف ستا دَ زړۀ په حال احوال او ستا دَ زړۀ په پټو خبرو.

پلوشنه :. اوه امېزنګ. واقعي داسې ده ؟

شان:. پلوشي ، هغه خومينه نشوه ، هسې لوبې توقي شوې چې زړۀ ، زړۀ تـه حال اونۀ وائي ، زړونه خپلو كښې خبرې اونكړي او زړۀ دَ زړۀ په خبره پوهـ نشي .





پلوشه (خاندي) بياخو به دَ قسمت په حال هم پوهېږے ؟

شان :. نه جي ، دغه رتبې ته لانه يم رسېدلے . دَ قسمت په حال صرف دَ قسمت مالك پوهېږي ، نور هېڅوك نه .

پلوشه :. ښه چې دا خبره ده نو زما دَ خبرې وضاحت اوكړه .

شان :. وضاحت به ءِ كړے وو خو په تا يرېږم چې خفه رانه نشې.

پلوشه :. كه تۀ سنجيده يې نو چرې هم نه .

شـان:. ښه نو تۀ دَ خپـل ابـو او رونړو په ډاډ دلته راغلې وې. تا هغوي ته دَ مـوربي بي دَ بيمـارئ اطلاع وركړه خو هغوي معذرت اوكړو . داسې ده كـه نـه ده ؟ بـلـه دا چې هغوي تاته اووے چې دَ پېسو فكر مۀ كوه . تۀ خپل كار او چلوه بيا به ګورو . داسې ده كه نه ده ؟

پلوشه :. اوه مائي ګاډ . انسان او علم غېب ؟

شـان:. دا عـلـم غـېب نه دے بي بي بلكه دَ هغه صورت حال وضاحت دے چې ته يې پرېشانه كړې وې .

پلوشه :. دا معلومات تاته څنګه اوشو ؟

شـان:. مـاخـودرتـه مـخـكښې اووے چې دا د زړونو خبرې دي او ستادَ مخ دَ پريشانئ هره كرښه د دې ګواه ده .

پلوشه (خاندي) اوس زما په زړۀ كښې څۀ دي ؟

شان:. اوس ستا زړۀ خوشحاله دے او زما دَ زړۀ شكريه ادا كوي .

پـلـوشـه :. شان ته خوواقعي هغه خبرې كوے كومې چې زما په زړۀ كښې اوړي راؤړي .



www.pukhto.Net

شان:. که یوه خبره مِ درته بله اوکړه نو نوره به هم حیرانه شي او هغه دا چې تاسره او مور بې بې سره چې څۀ روپۍ وې هغه تا دَ سپکورتې په شکل کښې دَ هسپتال انتظامیې له ورکړې . داسې ده که نه ده ؟

پلوشه :. بالکل هم داسې ده خو ...''شان دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلي او وائي ، ''دَ خو، وېلو ضرورت نیشته . دا ټولې خبرې زما زړۀ ته رارسېدلې دي .

پلوشه (خاندي) شان ، تاته خو زما یره اوشوه . که زما په زړۀ کښې ستا خلاف څۀ خبره راشي نو بیا ؟

شان :. اول خو داسې کېدې نشي او که بالفرض اوشي نو بیابه زمونږ زړونه ، زړونه نه وي بلکه یو موټي موټي غوښه به پاتې شي . دې نه علاوه نور هیڅ نه .

پلوشه :. شان ، تاچې زما دَ ابو او رونړو په باره کښې څۀ اووے ، دا بالکل صحي ده . څۀ موده مخکښې زما ابو دَ سېکرټري دفاع دَ پوسټ نه ریټائرشوے دے اوس هغه دَ یو این جی او The exchange of culture, ډائرکټر دے او یو وفد سره امریکې ته تلے دے . زما یو رور طارق شاه خپلې ښځې سره کېنډې ته تلے دے او نعیم شاه یو کورس دَ پاره برطانیې ته تلے دے . دلته صرف زۀ او زما مور پاتې شوې ده . ماټولو سره رابطې کړې دي . ټولو ماله تسلي راکړے ده خو دَ راتلو نه یې معذرت کړے دے . البته ټولو راته وېلے دي چې دَ پېسو فکر مۀ کوه . ته کار اوچلوه بیا به ګورو . دا خبره ده شان .





شان خاندي او په خندا کښې وائي ، ''دا ښه ده چې زما خبرې دروغ نشوې ''.

پلوشه :. شانه ، ستا ټولې خبرې رشتیا دي خو که ستا خبرې دروغ هم وې نو ماورته دروغ نشو وېلې ځکه چې تۀ یو نېك او همدرد انسان یې.

شان:.دَ نېك او همدرد نه علاوه نور څۀ نه یم؟ دې سره دواړه یو بل ته اوګوري او خاندي .

★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.Net

## «اووم باب»

ترږمے مابښام وو چې عالیه رور خور سره کالام ته اورسېده. دَ رسېدو سره هغې خپل مورپلار ته دَ تلو راتلو هلته دَ ایسارېدو او شان او پلوشې سره دَ لېدو کتو ټوله خبره په خوند خوند تېره کړه . دَ هغې خبرې او سوالونه جوابونه دَ ماسخوتن پورې جاري وو. دَ ماسخوتن دَ ډوډۍ او نمانځۀ نه پس هغې دَ مطالعې او تې وي ټولو مصروفیات شاته کړل او دَ خپلې وعدې مطابق یې دَ پلوشې دَ مور شهناز بېګم دَ صحت یابۍ دَ اپره نفلونه شروع کړل . فاروق ، عمر او سعدیه هم هغې پسې ورغلل او هغوي هم دَ هغې په حق کښې نفلونه او دعاګانې شروع کړې . ترناوخته پورې هغوي الله ته په زارۍ وو او په عجز وانکسارۍ سره یې هغې ته دعاګانې کولې . هغوي یو په یو ټول لاړل سملاستل خو عالیه لاالګیا وه نفلونه یې کول . شپه دَ نیمې نه اوختې وه خو دَ هغې زړۀ لا مطمئن نه وو. دَ کالام او دَ خواۀ شا علاقو نه دَ ګیدړانو او نورو ځنګلي ځناورو اوازونه په غرونو کښې کړنګېدل او په خاموشه فضا کښې خورېدل خو هغه نه یرېده او نه ستړې کېده بلکه یو الله ته په سجده وه او دَ هغۀ نه یې دعا غوښته.

پلوشې سره دَ هغې لیدل دوه ځله شوي وو . په ړومبي ځل یې ورسره نیمه ورځ تېره کړې وه او په دویم ځل یې ورسره لس دولس منټه تېرې کړې وو خو دا ملاقاتونه هغې ته داسې ښکارېدل لکه چې دَ هغې دَ عمرونو ملګرې وي . هغې چې دَ خپل رور شان دَ پاره دَ کومې جینۍ





انتخاب کول غوښتل ، هغه ټول خائست او ټولې خوبۍ دَ پلوشې په شخصیت او دَ هغې په ذات کښې ظاهري او باطني طور موجود وې . هغه دَ شایان په انتخاب ډېره خوشحاله وه . هغې دا غوښتل چې په هره طریقه چې وي خو چې هغه کور ته راولي ، هغه دَ هغې بابي شي او هغه خپل رور له دَ دغه ښکلې ناوې دَ راوستو مبارکي ورکړي . هغې غوښتل چې دَ هغې خدمت اوکړي ، هغې سره ټوقې ټقالې کوي او هغه دَ هغې دَ بابي په روپ کښې دَ هغوي د کور مېرمنه شي.

دَ رورولۍ او خوروالۍ نه علاوه دَ شان ټول روڼه خویاندې دَ هغۀ ښۀ ملګرې هم وو او هریو به په زړۀ کښې وې چې هغه دَ هغۀ یا هغې دے . دَ دغه ټولو مینه محبت په خپل ځاے وو خو دَ عالیې خبره نوره وه ، ځکه چې هغه دَ هغۀ دَ بچپن ملګرې وه . دَ هغوي مشري کشري صرف دوه کاله وه . هغوي چې واړۀ وو نو په خپلو کښې به یې لوبې هم کولې او جنګ جهګړې به یې هم کولې . ساعت کښې به یې کچې وه او ساعت کښې به یې متې وو . چې ځومره ځومره هغوي لوئېدل هومره هومره دَ هغوي جنګ جهګړې کمېدې او مینه یې زیاتېده . اوس دَ هغو ي مینه انتها ته رسېدلې وه . هم دغه وجه وه چې دَ هغۀ دَ خاطره یې پلوشه په سرګرځوله او زړۀ پورې یې نیوله . دغه رنګې دَ هغې دَ خاطره یې دَ هغې دَ مور دَ پاره شپه روڼه کړه . دَ شپې روستې پهر وو ، دَ کور ټول خلق په دروند خوب اودۀ وو خو هغه ویښه وه او دَ شهناز بېګم دَ صحت یابۍ دَ پاره یې په کچکول لاسونو



www.pukhto.Net

دعا غوښتله . هغه لا په دغه دعا کښې مصروفه وه چې دَ هغې په موبائېل دَ شان له خوا رېنګ راغلې . دَ هغې دَ هېلو سره هغۀ اووے ،
"عالیې اودۀ وې که ویښه "؟

عالیه :. ویښه ووم لالا جي . دَ وعدې مطابق مِ دَ پلوشې بي بي دَ مور بي بي دَ پاره دعا غوښتله .

شان:. ښۀ لېونې ، ستا دعا قبوله شوه او دَ پلوشې موربي بي په هوش کښې راغله .

عالیه :. رشتیا لالاجي ؟

شان :. هاؤ عالیې ، بالکل رشتیا . هغه نه صرف په هوش کښې راغله بلکه مونږ سره یې خبرې هم اوشوې .

عالیه :. ستا دے هم مبارکي شي لالاجي او پلوشي بي بي له هم زما له خوا مبارکي ورکړه .

شان:. هغه لا مصروفه ده کېنې ستاخبرې به ورسره شوې وې . خیر ستا له خوا به زۀ مبارکي ورکړم . تۀ پروا مۀ کوه . اوس اودۀ شه لږ آرام اوکړه .

عالیه :. خوب چرته راځي لالاجي ، مخکښې دَ خفګان په وجه نۀ راتلو اوس دَ خوشحالۍ په وجه نه راځي ، دې سره دَ هغې موبائېل بند شي . هغه موبائیل یوخوا ته کېږدي او دَ الله دَ احسان په بدله کښې یوه لویه سجده لګوي . بیاپاسي او په خپله بستره کښې خوشحاله خوشحاله سملي . دَ ټولې شپې دَ شوګیرې نه پس هغه تر غرمې پورې په درونړ خوب اودۀ وه . فاروق ، عمر او سعد یې فضا ګټ





ته تلل غوښتل خو دَهغې دَ خوب په وجه پاتې وو . چې هغه ویښه شوه او ناشته یې اوکړه نو بیا یې ټولو ته دَ شهناز بېګم دَ صحت یابۍ زېرے ورکړو . دَ هغې ، رونړه او خور دومره خوشحاله شوه چې هغوي عالیه فضا ګټ ته په تلو مجبوره کړه او هغوي فوري طور دَ چکر پروګرام جوړ کړو . دَ شان دَ غېر موجودګۍ په وجه دَ هغوي مور طاهره بي بي هغوي سره تلو ته تیاره شوه . دَ عمر او سعدیې په مشوره باندې هغوی ځان سره دَ ډوډۍ اوړو اراده اوکړه ځکه چې دَ کالام دَ غرونو او دَباغ ډهېرۍ په چکروکښې هغوي ته دَ اولږې تجربه شوې وه . عالیې او سعدیې ډوډۍ تیاره کړه او فاروق او عمر ګاډے تیار کړو . چې دا هر څه مکمل شو نو هغوي ټول په ګاډي کښې کېناستل او دَ فضا ګټ په لور روان شو . فاروق ګاډے چلوو او مور ورسره په فرنټ سیټ کښې ناسته وه . په لاره عالیې او سعدیې دَ پلوشې دَ رومبي او دویم ملاقات خبرې بیا شروع کړې او یوه یوه خبره به یې څو څله کوله . په دغه خبرو خبرو کښې هغوي فضا ګټ ته اورسیدل .

هغوي چې دَ ګاډي نه کوز شول نو سپینه پونه ورېده او نرۍ یخه هوا چلېده . دَ چینو رنړې اوبۀ په لختو او نالو کښې بهېدې او په مستۍ مستۍ په خکته تلې . دَ غرونو په لمنه کښې ګډې بزې سرېدې او تر لرې پورې خورې ورې ګرځېدې . هغوي هم په دغه وادۍ کښې خوارۀ شول . پونه لا ورېده چې دَ نمر سترګه اوځلېده . فاروق او عمر چې دا نظاره اولیده نو چغې یې کړے ، "هله دَ ګیدړ وادۀ دے ". دَ



www.pukhto.Net

نمر په پلوشو کښې دَ پونې ورېدونکې څاڅکي او په ګډو، بزو پراتۀ څاڅکي لکه دَبلورو ځلېدل او خندېدل .فاروق ، عمر او سعدیه خوارۀ شوا و عالیه مور سره دَ یوې اونې لاندې اودرېده . دواړو په مُسکا مُسکا نظارې ته هم کتل او هغوي ته یې هم کتل . لږه شېبه پس د هوا چپو دَ اسمان فرش په خپلو وزرو جهارو کړو او دَ وریځې نوم نشان پاتې نشو . چې پونه اودرېده نو مور او لور دَ اونې دَ سائبان نه بهر شوې او په ګرځېدو ګرځېدو یو بهېدونکې لختي له ورغلې او دَ رنو اوبو دَ تماشې دَ پاره په غاړه کېناستي . په سپینو رنو اوبو کښې یې دَ مختلف رنګونو کاڼو ته کتل او دَ هغوي خائست ته پسخېدل . بیا عالیې متې اونغښتې ، پائینڅې یې اوچتې کړې او لختي ته ورکوزه شوه . په لپو لپو کاڼي یې دَ لختي نه راویستل او په غاړه یې ایښودل . چې ښه ډېر کاڼي یې جمع کړل نو بیا دواړه کېناستې ، یو یو کاڼې به یې راخستو د هغې ساخت ، رنګ ، کرښو او رګونو ته به یې ډېره شیبه په ځیر ځیر کتل اویو خوا ته به یې ایښودو . هغوي لا په دغه مشغولا وو چې دَ هغوي خوا کښې ځوك اودرېدل او هغوي ته یې سلام اوکړو . هغوي دَ سلام جواب ورکړو او چې په ناسته ناسته یې هغۀ ته اوکتل نو هغه په سپین پېنټ شرټ کښې ملبوس دَ اوویشت اته ویشت کالو یو وضع دار او خائسته زلمے وو. دَ هغه په سترګو لائټ ډارك چشمې وې، په مخ یې مُسکا وه او په غاړه کښې ګلابې ټائي زانګېده . هغوي ورته حېران حېران کتل خو په هیڅ نه





پوهېدل چې دغه زلمے څوك دے . البته دَ هغۀ دَ مُسکا نه معلومېده چې هغه هرڅوك چې دے خو دَ هغوي خپل سړے دے . هغوي لا په خپل خپل خیال کښې دَ هغۀ پېژندګلو لټوله چې هغۀ دَ سترګو نه چشمې لرے کړے او طاهرې بي بي ته یې په مُسکا اووے ، "خاله زۀ دے اونۀ پېژندم ؟ زۀ ستا خورئے عارف یم . عالیه مسکې شوه او په چغه یې اووې ، امي دا عرفوبهائي دے ". طاهري بي بي چې دَ عالیې دَ خولې نه دَ عرفو بهائي ټکې واورېدل نو مسکې شوه ، په مُسکا کښې یې هغه ښکل کړو او ورته یې اووې، تۀ خو بالکل بدل شوے یې زویه ، دَ پیژندو نه اوتے یې ".

عارف: هاؤ خاله عمر سره بدلون لازمي خبره ده . تۀ دے بتهار سترګې ته اوګوره دا څومره بدله شوې ده (هغه خاندي او عالیې ته اشاره کوي ).

عالیه (مسکې شي ) او عرفو بهائي ، دا دے خاطرخو که بیا دے ماته بتهار سترګې اووے نو ښۀ به نه وي ، دَ هغې په دهمکۍ طاهره بي بي او عارف دواړه خاند ي ) بیاورته طاهره بي بي وائي، "چرته یې زویه ؟ څۀ کاروبار کوے ؟

عارف :. خاله زۀ په آرمي کښې کپتن یم او دلته په کبل کښې م ډیوټي ده .

طاهره بي بي :. ډېره ښۀ ده زویه خُدائے دے لوے سړے کړه مور دې څنګه ده زویه ؟



www.pukhto.Net

عارف:. ښه ده خاله ، ماسره راغلې ده هغه ده ولاړه ده مونږ ته ګوري او خاندي ، عارف دَ مور طرف ته اشاره کوي . طاهره بي بي چې هغې ته اوګوري نو مسکې شي او وائي ، "تاسو هم لکه زمونږ سېل له راغلې يې "؟

عارف:. نه خاله چې مونږ ستاسو ليدو له راغلي يو .کالام ته درغلي وو خوماماجي وے چې تاسو فضاګټ ته تلي يې ، هغه نورځۀ هم وئيل غوښتل خو چې دَ هغۀ مور سائره بي بي راغله نو دَ هغې په وجه هغه چپ شو . دواړه خوياندي ډېره موده پس يوځائے شوے . هغوي دواړه يو بل ته ورترغاړه وتې او ډېره شېبه غاړه په غاړه وې.دَ هغوي روغ جوړ چې اوشو نو بيا يې عاليې خپلې سينې پورې نيولې وه او په شابه يې ټپوله . بيا يې هغه ښکل کړه او ځان سره يې خوا کښې اودروله . عارف په مُسکا مُسکا طاهري بي بي ته اووے، "خاله زۀ دوه ځله په تاسو تېر راتېر شوم خوتاسو خپلو کښې داسې سرونه ورکړي وو لکه چې څۀ اهم مسله باندې غورکوئ ". طاهره بي بي دَ هغۀ په خبره خاندي او وائي ، زويه مونږ دَ کانو دَ ښُکلا په تماشه کښې داسې بوخت وو چې ستا په تلو راتلو پوه نشو"، عارف عاليې ته ګوري او وائي ، "عاليې تاولې خوله ترلې ده "؟

عاليه :. چې ته خولې له وار ورکړے نو زۀ به خوله اوسپړم .سائره بي بي چې دَ هغې جواب ووري نو خاندي او په خندا خندا کښې وائي ، "لوې شو، بالغ شو خو خوي خصلت يې لا هغسې دَ ماشومانو دے"





دَ هغې په دې خبره دواړه مسکي شي او دَ هغوي نه روانېږي . چې لږ مخکښې لاړل نو اودرېدل . عارف ، عاليې ته اووے "عاليې تاماته دَ خاله په مخکښې عرفو بهائي ولې اووې ؟"

عاليه :. اوه ، ته زمانه په دے ټکې خفه شوے يې ؟ سوري عارف بهائي".

عارف:. بيا عارف بهائي؟

عاليه:. ولې ستانوم عارف نه دے ؟

عارف:. زما نوم عارف دے خو عارف بهائی نه دے .

عاليه :. تاخو مخکښې دَ بهائي په ټکي اعتراض نه وو کړے ؟

عارف:. مخکښې بيله خبره وه او اوس بيله خبره ده . زۀ دَ بهائي دا ټکې په بل ټکي کښې بدلول غواړم . ستا څنګه خوښه ده . عاليه اوشرمېږي ، مسکې شي او وائي ، "ماخپله خوښه ناخوښه په مور پلار پرېښې ده ماسره دا خبري مۀ کوه " . دې سره هغه دَ هغۀ دَ خوا نه روانه شي او خپلې خور او رونړو له ځان اورسوي . هغه چې هغوي له اورسي نو هغوي سره په لوبو کښې شامله شي او عارف په مُسکا مُسکا هغوي ته ګوري .

سائره بي بي دَ طاهري بي بي کشره خور وه ، هغه په حيات آباد کښې اوسېده او طاهره بي بي په ملك آباد کښې وه . عارف چې ورکوټے وو نو مور سره به کله کله ملك اباد ته تلو او هلته به يې څو څو ورځې تېرولے . دغه رنګې شان او عاليه چې واړۀ وو نو هغوي به



www.pukhto.Net

هم مور سره حیات آباد ته تلل او چې کله به هغوي یو ځای شو نو بیا به یې خپلو کښې لوبې کولې. دا ټول دَ یو تالي او یو نغري خلق وو خو دَ وخت تېرېدو سره هغوي په خپلو تعلیمي سرګرمیو کښې او دَ ژوند په نورو هلو ځلو کښې داسې اونختل چې مخه یې بدله شوه او اښتنه پوښتنه او تلۀ راتلۀ صرف دَ هغوي میاندو ته پاتې شو. هم دغه وجه وه چې عارف څو کاله پس هغوي سره لیدل اوکړل. عالیې چې فاروق او عمر ته دَ عارف او دَ سائرې بي بي دَ راتلو خبره اوکړه او دَ لاس په اشاره یې ورته عارف اوښودو نو هغوي ټول دَ غر نه کوز شو او دَ هغۀ سترې مشې له ورغلل. ټولو هغۀ سره په خندا خوشحالۍ روغ جوړ اوکړل .دَ هغۀ دَ سترې مشې نه پس هغوي ترور له ورغلل او هغې سره روغ جوړ اوکړل. هغوي ډېره شېبه ولاړ وو او دَ خپل ماشوموالي دَ لوبو ټوقو او زړو قیصو تماشو خبرې یې کولې. په دغه خبرو خبرو کښې طاهرې بي بي هغوي ته اووې، ځئ بچو درې خوره کړئ چې ډوډۍ اوخورو". د هغې خبره په هغوي ډېره ښۀ اولګېده او ټول ګاډي له ورغلل. چا درې خوره کړه او چا په درې ډوډۍ اولګوله. بیا ټول په خوشحالۍ خوشحالۍ ډوډۍ ته کېناستل. هغوي ډوډۍ هم خوړه او خپلو کښې یې خبرې هم کولې خو عارف او عالیه بالکل خاموش وو او دَ "اچھے بچوں" غوندې په ادب ناست وو. دَ ډوډۍ خوړلو په دوران کښې طاهرې بي بي به هر غوړ تالې دَ عارف مخې ته اېښودو او ورته به یې وېلې، "دا واخله زویه، شرمېږه مه ځان مړ کړه زویه" دغه رنګې کوم تالې به چې په سائره بي بي خوږ اولګېدو نو هغه به یې دَ خپلې مخې نه اوچت کړو، عالیې ته به یې کېښودو او ورته به یې اووې، "دا ترکاري اوخوره لورې، ډېره مزېداره ده". یو څو ځله چې چې طاهرې بي بي او سائرې بي بي دغسې اوکړل نو فاروق مسکې شو. عالیې ته یې په مُسکا اوکتل او وې وئېل، "کچھ تو ہے جسکی پردہ داری ہے"۔دَ هغۀ په کنایه ټول مسکي شول خو هېچا هېڅ جواب ورنکړو.

## ﴿ دویمه برخه ﴾

دَ پلوشې مور شهناز بېګم دَ اېمرجنسي دَ ICU نه دَ کارډیالوجي انسټیټوټ یوې خصوصي کمرې ته منتقل شوې وه او هلته دَ هغې علاج روان وو. دَ هغې حالت په ښۀ کېدو وو او ورځ په ورځ پکښې بهتري راتله. هغه چې ترڅو پورې په هسپتال کښې وه نو پلوشه او شان ورسره هم په دغه کمره کښې پاتې کېدل. شان دَ هغې په تیمار دارۍ کښې نه صرف شامل وو بلکه دَ هغې په خدمت کښې دَ پلوشې نه دوه ځلور قدمه وړاندې وو. اېکسرۍ، ECG او نورو ټسټونو له به بوتلل راوستل هغه کول، دَ هغې دارو درملو پسې به منډې هغۀ کولې، دَ هغې دَ خوراك څښاك لوازمات به هغۀ پوره کول او چې څومره څومره به وخت تېرېدو نو دَ هغۀ په خدماتو او جذبۀ ایثار کښې به اضافه کېده. چې هغې به لږ ټُخ اوکړو نو دَ پلوشې نه مخکښې به ورته هغه ولاړ وو او که نور کار به یې نۀ وو نو دَ هغې په


www.pukhto.Net

بستره به یې لاس وهلو او ګونجې به یې هوارول . هغوي شپه په دوه برخو کښې تقسیم کړې وه . دَ ړومبۍ نیمې شپې ډیوټي به پلوشې کوله او روستۍ شپه به هغۀ وهله . چې هغه به په بېړه کښې وو نو پلوشه به دَ مور خوا کښې په کرسۍ ناسته وه او چې هغه به په بېړه کښې وه نو شان به ورته ناست وو او دَ هغې نګراني به یې کوله . هغۀ ټوله دنیا هېره کړه او پوره یوه هفته یې هغې سره تېره کړه .

شان او پلوشه دوه کاله په یونیورسټۍ کښې کلاس فېلوز هم پاتې شوي وو ، ځوځو ځله یې یو په یو ناسته ولاړه هم شوې وه او یوبل سره یې په مختلفو موضوعاتو خبرې هم شوې وې خو په دې یوه هفته کښې چې هغوي دَ کومو اَزمائشي مرحلونه تېر شو او دَ یو بل په ذات کښې یې چې نظریاتي یا عملي طور څۀ اولېدل هغه دَ هغوي دَ مستقبل دَ پاره یوه خوشګواره ، امید افزا او دېرپا تجربه وه . هغوي په خپلو زړونو کښې دَ مستقبل زوجیت تسلیم کړې وو. په یو تالي کښې به یې خوراك کوو ، په یو ګلاس کښې به یې اوبه څکلې او لکه دَ دوو مئینو به یې ړومبۍ نوړۍ دَ یو بل خولې ته نیوې . هغوي دواړو سره دَ خبرو کولو او اورېدو دَ پاره کافي وخت وو. هم دغه وجه وه چې هغوي دومره بې تکلفه شوي وو چې په زړونو کښې یې هیڅ خبره پټه پرې نښوده . دَ هغوي دا بې تکلّفي دَ هغه شپې نه شروع شوې وه کله چې دَ هغې مور په هوش کښې راغله ، هغې چې ورته اوکتل نو هغې ته داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغې





مړه مور دوباره ژوندۍ شوې وي . هغه دَ ډېرې خوشحالۍ نه دَ ICU نه بهر اووته چې شان له مبارکي ورکړي خو هغه په ځان پوهـ نشوه او دَ زیرې دَ پیغام ورکولو په ځاے هغۀ ته ورترغاړه وته او ورته یې اووې ، "مبارك شه شانه ، زما امّي په هوش کښې راغله". دَ هغۀ دَ مبارکۍ خبره لا دَ هغۀ په خوله وه چې هغې دَ لاس نه اونیوو ، ځان سره یې ICU ته بوتلو ، دَ مور مخې ته یې اودروو او مور ته یې په مُسکا اووې ، "امّي دا شان دے . زما دَ یونیورسټۍ کلاس فېلواو ملګرے". د دې خبرې په اورېدو دَ هغې په سترګو کښې ځلا او په مخ یې مُسکاراغله . دَ هغې دَ مُسکا په جواب کښې هغه هم مُسکے شو او هغې ته یې په مینه مینه کتل . هغې په خپلو ضعیفو لاسونو کښې دَ هغۀ لاس اونیوۀ او ځوځو ځله یې ښکل کړو . دَ هغۀ دَ لاس په ښکلولو ، شان نه زیاته پلوشه خوشحاله شوه اودَ ردِ عمل په توګه یې هغۀ ته په مُسکا مُسکا کتل . دَ هغې په دغه خوشحاله کتو کښې ډېر زېري ، دَ مینې پېغامونه اودَ مستقبل امیدونه وو.

شهناز بېګم تر ډېر حده ښۀ شوې وه هغه کېناستې پاسېدې هم شوه، ګرځېدې هم شوه او واش روم ته په خپله تلې راتلې هم شوه خو هغوي هغه ګرځېدو ته یوائې نه پرېښوده . او شان یاپلوشي او کله کله دَ مینې په طور دواړو به په کمره کښې ګرځوله . کله به چې هغې دَ شان په اوږه لاس کېښودو او هغه به ګرځوله نو هغې ته به دا احساس اوشو لکه چې هغې دَ خپل کشر زوے نعیم شاه په اوږه لاس



www.pukhto.Net

ایښې وي او هغه یې ګرځوي . دغه شان ، شان به هم داسې محسوسوله لکه چې دَ هغۀ خپلې مور دَ هغۀ په اوږه لاس ایښې وي او هغه یې ګرځوي .

هغوي به ډوډۍ ته هله کېناستل چې مخکښې به یې هغه مړه کړه ، هغې له به یې دارو ورکړل او هغه به یې اوده کړه . یوه ورځ دَ هغې دَ اودۀ کېدو نه پس هغوي دَ ماسخوتن ډوډۍ ته کېناستل او دَ معمول مطابق یې دَ یو بل خولې ته ړومبۍ نوړۍ اونیوې نو په دغه وخت کښې ناګهانه دَ هغې سترګې اوغړېدې . هغې چې هغوي ته اوکتل نو په خوله یې هیڅ اونه وې البته سترګې یې پټې کړې . دې نه پس به هغې دَ هغوي دَ ډوډۍ وخت سارلو او چې کله به هغوي دَ ړومبو نوړو تبادله کوله نو هغې به لیدله . هغې به ورته اوکتل او بیا به یې سترګې پټې کړې . یوه ورځ دَ ډوډۍ خوړلو نه پس چې پلوشه دَ هغې بېډ له ورغله او هغې ته یې اوکتل نو دَ هغې سترګې پټې وې خو د دغه پټو سترګو دَ بڼو نه د اوښکو نرے زیم وتو او دَ هغې دَ سترګو او اننګو ترمینځه په نشیبي ځایونو کښې دَ وړو ډنډوکو غوندې جمع کېدو . هغې چې دَ هغې دَ اوښکو دا منظر اولیدو نو رنګ یې تک زېړ شو او زړۀ یې لکه دَ شګو دَ کمر اوخوېدو . هغې په یره یره شان ته اوکتل . هغه پوهـ شو چې ضرور څۀ داسې خبره شته چې دَ هغې په وجه هغه پرېشانه ده . هغه ډېر په تېزۍ سره دَ هغې خواله ورغۍ او چې دَ هغې دَ مور سترګوته یې اوکتل نووارخطا شو.





دَ بجلۍ په رڼا کښې دَ هغې په ښو کښې انختې اوښکې لکه دَ شبنم ځلېدې او دَ هغې په مخ پرتې اوښکې لکه دَ کهکشان ښکارېدې. دواړو په حېرانتیا یوبل ته داسې کتل لکه چې دَ هغې دَ اوښکو په حقله دَ یو بل نه تپوس کوي . هغوي دواړه ډېره شېبه یوبل ته کتل خو په هیڅ نتیجه اونه رسېدل . چې اونشوه نوپلوشه تیټه شوه او دَ خپلې لوپټې په پسکي یې دَ هغې اوښکې اوچولې . په دغه اوچولو اوچولو کښې دَ هغې سترګي اوغړېدې . پلوشې په بې صبرۍ سره دَ هغې نه تپوس اوکړو ، "ولې امّي تکلیف دے زیات شوے دے څه؟"

دَ هغې په تپوس دَ هغې انختې شونډې په نرۍ مسسکا بیلې بیلې شوې او یوه شېبه پس یې په پس پسو کښې اووې ، "نه لورې هیڅ نیشته زۀ ښۀ یم ".

پلوشه :." او دا اوښکې؟ " پلوشې هغې ته په سوالیه نظر اوکتل . دَ هغې په تپوس هغې ، هغې ته اووې ، "د دې اوښکو زما دَ زړۀ تکلیف سره هیڅ تعلق نیشته ".

پلوشه :. امي ، ضرور داسې څۀ خبره شته دې چې دَ هغې په وجه تاته تکلیف دررسیدلے دے . امّي که تۀ دَ ابو یازامنو په وجه خفه یې نو هغوي سره زما خبرې شوې دي . هغوي ټول صحي سلامت دي او ستا دَ روغ صحت اُرزومند دي . هغوي تاسره خبرې کول غوښتل خو دَ ډاکټر دَ هدایت مطابق مادغسې اونکړې شو. . .امّي ، ابووے چې "امّي له دې تسلي ورکړه او زما دَ طرفه ورته دَ نیکو پیرزونو پېغام



www.pukhto.Net

ورکړه او ورته وایه چې زهٔ به دې یو څو ورځو کښې درشم ''.

شهناز بېګم :. نه لورې دا خبره نه ده . . .؟

پلوشه :. چې دا خبره نه ده نو څهٔ خبره ده چې دَ هغې په وجه تهٔ پرېشانه یې ؟ داسې معلومیږي چې تهٔ زمانه څهٔ خبره پټول غواړې؟ شان غلې غوندې دَ هغوي له خوا نه روانیږي . پلوشه چې هغه په تلو اووینې نو ورته وائي ، ''تهٔ چرته ځې شانه ''؟

شان:. زهٔ به درنه اوځم چې تاسو خپلې ذاتي خبرې اوکړئ ، هغه چې بهراوځي نو پلوشه مورته وائي ، ''امّي شان بهر اووتو ، اوس ماته حال اووایه پلیز''. شهناز بېګم هغې ته په ځیر ځیر ګوري او وائي، ''لورې شان څنګه هلك دے ؟ '' هغه دَ هغې په تپوس مُسکې شي او وائي ، ''ښهٔ هلك دے امّي . . .ښه تعلیم یافته دے ، په یونیورستۍ کښې لکچرر دے او ښه خانداني هلك دے .

شهناز بېګم :. دې نه علاوه دَ کردار په لحاظ څنګه دے ؟ ''دَ مور په تپوس هغه اوشرمېده ، سترګې یې خکته کړې او وې وئیل ، ''امّي، دَ هغهٔ دَ کردار تپوس زمانه ولې کوې ؟''

شهناز بېګم :. دَ هغهٔ دَ کردار تپوس تانه ځکه کوم چې ستاکلاس فېلو هم پاتې شوے دے او ستا ملګرے هم دے ، پلوشه سنجیده شي او هغې ته وائي، ''امّي دَ هغهٔ دَ کردار د دے نه لوے ثبوت څهٔ کېدے شي چې هغه خپل ټول مصروفیات شاته کړي دي او ستا خدمت ته یې ماسره شپه ورځ یو کړے ده ''.





شهناز بېګم :. دا هر څهٔ زهٔ وینم ګورم . دېکښې هیڅ شك نیشته خو دَ هغهٔ باره کښې ستا څهٔ راې ده ، دَ مور په تپوس دَ هغې په مخ دَ سرخۍ شوخي راشي او هغې ته وائي ، ''امّي ته داسې تپوسونه ولې کوې ؟''

شهنازبېګم :. داسې تپوسونه ځکه کوم چې زهٔ ستا موریم او هره مور دَ خپل اولاد دَ خوشحاله مستقبل په باره کښې ښهٔ سوچ کوي، دَ هرې مور دا خواهش او کوشش وي چې دَ هغې اولاد خوشحال او دَ سیالانو سره سیال وي .

پلوشه :. امي هغه یونېك ، شریف النفس او همدرد انسان دے .

شهناز بېګم:. دَ خپل مستقبل په باره کښې ستا هغه سره څه وعده وعیدخونه دے شوے .

پلوشه :. شوے دے امّي .

شهناز بېګم :. زما دَ اجازت نه بغیر ؟

پلوشه :. سوري امّي .

شهناز بېګم :. چې پلار او رونړه دے دَ مینځ نه اووتل نوتهٔ دَ خپل مخ سر شوې او خپلې فېصلې په خپله کوې ؟

پلوشه:. امي ، ما فېصله نه ده کړې ، فیصله به تاسو کوئ .ماصرف وعده کړې ده او هغه هم په دے شرط چې هغه به سي ایس ایس کوي.

شهناز بېګم:. او که دَ هغهٔ سي ایس ایس اونشي نو بیا به دَ خپلې وعدې خلاف ورزي کوي ؟ معلومه نه ده چې هغې به مخکښې نور څهٔ څهٔ تپوسونه کول خو دېکښې ډاکټر راغې . هغهٔ پسې شان هم



www.pukhto.Net

راغـی. اویـوخـوا ته غلـے غوندے باادب اودرېدو . ډاکټر دَ راتلو سره دَ
هغـې مـېـډيـکـل هستـړي شيـټ اوکتو او بيا يې په مُسکا مُسکا دَ
هغې نه دَ هغې دَ صحت په باره کښې تپوسونه اوکړل . کله چې هغه
مـطـمـئـن شـو نـو دَ هـغـې پـه مـېډيکل هسټري شيټ کښې يې څهٔ
انـدراج هـم اوکـړو او پـه يـو کاغذ يې څه دارو هم اوليکل . هغه دَ دارو
چـټ شان لـه ورکړو او بهر اووتو . دَ ډاکټر دَ تلو نه پس پلوشې دَ شان دَ
لاس نـه دَ دارو چـټ واخستـو او بهـر اووتـه چې دَ مور دَ تپوسونو نـه
خلاصه شي . شان هم هغې پسې دَ تلو کوشش کوو خو دَ شهناز بېګم
پـه اواز راستـون شـو او پـه خپل ځاے اودرېدو هغه لا دَ هغې او پلوشې
متـعلق پـه خپل زړه کښې کرل ربېل چې هغې ورته اووې ، "دلته راشه
شانـه ...مـاتـه مـخـامـخ اودرېږه ". هـغـه چې پـه يره يره دَ هغې خواله
ورغـی. او هـغـې ته مخامخ اودرېدو نو هغې ورته پـه غټو غټو اوکتل او
تپوس يې ترېنه اوکړو ، "شانه ، تهٔ پلوشه څنګه پېژنـے؟"

شان:. مېـډم ، زهٔ او پلوشه دوه کاله په يونيورسټۍ کښې کلاس فېلوز
پاتې شوې يو .

شهـنـاز بېګم :. کلاس فېلوز خو به ستانورې جينکۍ هم پاتې شوي
وي . هغوي سره ستا تعلقات شته ؟

شـان :. مېډم ستاخبره صحي ده . زما کلاس فېلوز ډېرې وې خو چې
کلاسونه ختم شونو تعلقات هم ختم شو .

شهـنـاز بـېګم :. کلاسونه خو دَ پلوشې هم ختم شوي دي خو دې سره





ستـا تـعـلـق لا تـراوسـه شتـه . تپـوس کـولـې شم چې ستا دَ تعلق څهٔ
نـوعيـت دے ؟ (دَ هـغـې دَ خـولې نه ايله دغه تپوس اووتو او پلوشه دَ
دارو بـوتـل پـه لاس کـمـرې تـه دننـه شوه . هغه دَ دارو بوتل په شېلف
کښې اېردي اويو خواته خاموشه اودرېږي ).

شان:. مېډم دَ کلاس فېلوز نه علاوه مونږ دواړه ښهٔ ملګري هم يو.

شهـنـاز بـېـګـم :. ښـهٔ مـلګري ؟ . . .دَ يوې نامحرمې جينۍ او نامحرم
زلمي ترمينځه تعلق ته دَ شك په نظر کتلې شي، ستاڅهٔ خيال دے؟

شـان:. "ستا خبره صحي ده مېډم خو . . ."شهناز بېګم دَ هغهٔ دَ خولې
نـه خبـره اخـلـې او وائي ، "دَ خـو، اګـر مـګـر، چونکه چنانچهٔ ګنجائش
نيشتـه . سـائـنـټيفك جواب راکړه اوماته صفاصفا اووايه چې ستا دې
سره څهٔ تعلق دے او دَ ملګرتيا نه ستا څهٔ مطلب دے ؟

شـان:. دَ ګستـاخـۍ معافي غواړم مېډم خوصفا خبره دا ده چې زهٔ دې
سره مينه کوم .

شهـنـاز بـېـګـم (پـه بـې صبرۍ سره دَ هغهٔ خبره پرېکوي )"داخوصفا
ظـاهـره ده چې دَ خپلې مينې دَ خاطره په ځان دومره سختې تېروے . . .
زماخدمت کوے او داخوشحالوے خوستا دَ مينې نوعيت څه دے "؟

شان:. بخنه غواړم مېډم . . .زهٔ . . .پلوشه شريکهٔ حيات جوړول غواړم.

شهـنـازبـېـګم:. د دے دَ شرط نه خبرېې . دا به هغه چاته ودېږي چې دَ
سي اېس اېس افسر وي .

شـان :. هـاؤمـېـډم، مـاتـه پته ده . زهٔ به دا شرط پوره کوم نو هله به ځان دَ



www.pukhto.Net

دې جوګه کوم . په دے غرض مادَ سي اېس اېس امتحان ورکړے دے.
شهناز بېګم :. تاسو خپلو کښې څۀ وعده کړې ده ؟
شان:. جي مېډم.
شهناز بېګم :.'' او که ستا سي اېس اېس اونشي نو بیا؟ بیابه څۀ کوے؟ تۀ به دَ خپلي وعدې خلاف ورزي کوے ، که دا به یې کوي؟ . . .یا که ستاسو دَ شریك حیات جوړېدو وعدې به ختمې شي؟'' دَ هغې په دے تپوس هغه چپ پاتے شي او تر ډېر وخت پورې خاموش وي . دَ هغۀ په ذهن کښې مختلف جوابونه ځي راځي او هغه دَ مناسب جواب په لټون کښې وي . شهناز بېګم هغۀ ته په ځیر ځیر ګوري او وائي ، ''تا ماله جواب رانکړو''؟ دَ شان په تندي پخه خوله راشي . هغه خپله خوله دَ ګس لاس په مسواکه ګوته غونډه وي، څۀ لاندې زنځېرې او څۀ دَ تینګړي په شکل کښې یو خوا ته لړي کوي. بیا وائي ، ''مېډم پلوشه که زما شریکۀ حیات نشي نو شریکۀ ذات خو به مِ شي . ''
شهنازبېګم:. په دې دواړو کښې څه فرق دے ؟
شان:. دَ شریکۀ حیات تعلق ژوند ، طبعي عناصرو، ظاهري لوازماتو او نفساني خواهشاتو سره وي خو دَ شریکۀ ذات تعلق صرف زړۀ سره وي . دا غېر طبعي ، غېر نفساني اوغېر بصري وي . د دے ادراك په خواص خمسه نه کېږي بلکه په احساس او بصیرت کیږي.
شهناز بېګم:. داستا خود ساخته فلسفه ده ؟





شان:. نه مېډم . داخودساخته نه ده بلکه ډېره زړه فلسفه ده . دې ته فنا فی الذّات ویلې کېږي .
شهناز بېګم :. بیا به په زړو یادونو شخوند وهے او په دغه به وخت تېروے؟
شان:. نه مېډم دغسې نه ده . فنافي الذات سره طبعي صورتونه، نفساني ضرورتونه او زاړۀ یادونه ختم شي او شریکۀ ذات دَ بدن یوه برخه جوړه شي .
شهناز بېګم :. اوکه ستاسو ترمینځه څۀ داسې خبره راشي چې دَ هغې په وجه ستاسو په زړونو کښې دَ یوبل نه کرکه او نفرت پېدا شي او دَ فنا في الذّات نوبت رانشي نو بیا؟
شان:. بیا داچې دَ مینې لوبه به ختمه شي او هیڅ تعلق به ترمینځه پاتے نشي .
شهنازبېګم :. ښۀ نو داسې اوګڼه چې ستاسو ترمینځه دَ مینې لوبه ختمه شوه او هیڅ تعلق پاتے نشو. تۀ تلے شے .
شان(په حېرانتیا ) جي ؟
پلوشه (په جذباتي انداز ) امّي . . .؟
شهناز بېګم:. شانه زویه .تۀ ډېر قابل ، همدرد ، وفادار او ډېر نېك انسان یې . . .زۀ . .ستا دَ خدمتونو او ستا دَ نېکو خواهشاتو ډېره شکریه ادا کوم . . .خو ډېر په افسوس سره وائم . . .چې . . .چې پلوشه . . .ستا شریکۀ حیات . . .نشي جوړېدې .
شان :. اوه مائي ګاډ .



www.pukhto.Net

پلوشه :. امّي پلیز .... شهناز بېګم دَ هغې خبره پرېکوي او وائي، ”شانه زویه ...دَ پلوشي تعلق دَ سادات خاندان یوې مقدّسې کورنۍ سره دے او دَ سادات کورنۍ دَ سي اېس اېس افسر شریکۀ حیات به جوړېږي ...خفه نشے زویه . تۀ تلے شے . شکریه .

پلوشه:. نه امي . داسې نشي کېدے . شان زما یو مخلص ملګرے دے . زۀ دَ دۀ جُدائي نشم برداشت کولې .

شهناز بېګم :. دَ شان په اخلاص کښې هیڅ شك نیشته لورې خوزۀ دَ سادات برادرۍ او دَ خپلې کورنۍ سپورې ستغې اولاتعلقي نشم برداشت کولې ...زۀ دَ هغه روایاتو نه څنګه انحراف اوکړم چې دَ پېړو پېړو راسي روان دي او چلیږي . زۀ هغه رسمونه ، رواجونه او دود دستورونه څنګه مات کړم کوم چې زمونږ دَ مسلك یوه ګنډلې برخه ګرځېدلې ده ...مامعاف کړه لورې ماستا دَ مینې قدر اونۀ کړې شوه.“ هغه یوه شیبه خاموشه وې بیاشان ته وائي ، زویه زۀ تاپه خوش فهمۍ کښې ساتل نه غواړم . ماته پته ده چې زما په فېصله باندې تۀ خفه یې ...خو دَ روستي خفګان نه مخکښې خفګان ښۀ دے . ستا په تلو ماته افسوس دے خو زۀ ستا هیڅ مدد نشم کولې زویه. زۀ مجبوره یم زویه ، مامعاف کړه زویه “.

دَ شان رنګ داسې زیړ شوے وې لکه دَ خزان سپیرۀ بادونو چې دَ هغۀ مخ وهلے وي. هغه پلوشې ته په مایوسه او غمژنو سترګو ګوري او وائي ، ”پلوشې بي بي ...ما ...ما ...ماته څۀ حکم دے ؟دَ هغې په ځائے شهناز بېګم جواب ورکوي او وائي ، ”زویه بهتره خبره دا ده چې تاسو خپل تعلقات ختم کړئ ...لکه چې تاسو یوبل نه پېژنۍ او دَ یو بل دَ پاره بیخي اجنبي یې ، شان دَ پلوشي په مخ سترګې ښخې کړې وې او بیا وائي، ”پل ...پل ...پلو ...شې بي ...بي، ماته اجازت دے ؟ ...زۀ تلے شم ...؟ ...زۀ لاړشم که ایسار شم ؟ (دَ هغۀ په مخ غټې غټې اوښکې راشي ) ...ماله رخصت راکړه بي بي ... بي بي پلیز“. چې هغه څۀ جواب ورنکړي نو هغه خپل تېچي کېس راخلي ، لاس کښې یې نیسي، او دَ ورطرف ته په دروند بدن او درنو خپو روانیږي . چې ورله اورسي نو یو ځل بیا روستو ګوري خو چې هغه دَ څۀ رد عمل اظهار اونکړي نو ورلرے کړي او ډېر په تېزۍ سره دَ کمرې نه بهر اوځي . دَ هغۀ دَ وتو سره دَ پلوشې او شهناز بېګم دَ چغو او ژړا غبرګ اوازونه راشي . هغه ډېره په تېزي سره ځان خپل ګاډي له رسوي او شپه په شپه کلي ته روان شي.

### ﴾ دریمه برخه ﴿

خاله اوکرشمې دَ اکبرخان دَ عمرونو ګنده کور په خپلې خوارۍ او محنت دومره خائسته کړو چې ناسته ولاړه پکښې ښۀ ښکارېده چهتونه هم هغه وو ، دیوالونه هم هغه وو ، غسل خانه او باورچي خانه هم هغه وه خو اوسېدونکې ورله نور راغلل . دواړه کمرې چونه شوې ، باورچي خانه اوغسل خانه چونه شوه ، دَ مېږو او مږو سوړې تپې شوې او نورې کندې کوندې هوارې شوې. دَ



www.pukhto.Net

ملاستې اسبابونه اوسپړدلي شو، استرونه اووینځلې شول، مالوچ اورېشلې شو او بیا دَ هغه مالوچونه اسبابونه جوړ کړې شو. دغه رنګې کټونه دَ کټملو او ګونګټونه صفا کړي شو او هرسحر به دَ کمرو او باورچي خانې لپائي کېده . دې نه علاوه هرسحر او ماښام به په دواړو کمرو کښې دَ اګربتو لوګي کېدل . دواړه الماری صفا کړې شوې ، په یوه کښې دَ اکبرخان سامان کېښودے شو او په بله کښې هغوي خپل سامان کېښودو .

چې کله دَ هغو ي کور ستړ شو او هغوي مطمئنې شوي نو بیایوه ورځ خاله او کرشمه دواړه دَ پېښورتعلیمي ثانوي بورډ ته لاړې او هلته نه کرشمي خپل دَ لسم جماعت سرټیفیکیټ راواخستو او خاله خپل دَ کالونو کالونو زوړ دَ دولسم جماعت سرټیفیکیټ راوخستو. چې دا کار یې اوکړو نو بله ورځ دَ اخبار په یو اشتهار دواړه لاړې اوپه یو پرائیویټ سکول کښې استاذانې شوې . دې سره سره کرشمي دَ یؤلسم جماعت دَ پاره پرائیویټ داخله هم اوکړه . دواړه به سحر دَ کوره وتې او غرمه به کورته راتلې . بیا به خاله اخلې پخلې کوو او کرشمې به خپله مطالعه کوله . اکبرخان به دَ معمول مطابق سحر دَ ناشتي نه پس دَ کوره وتو او ماښام تیارهٔ به کور ته راتلو . هغه به مزدوري ځان له کوله او خوراك څخاك به یې دَ هغوي کوو. دې نه علاوه هغوي به دَ کور کرایه هم ورکوله او دَ بجلۍ بل به یې هم ورکوو . دې سره سره به دَ ګېس سلنډر خرچه هم هغوي کوله . اکبرخان په بیټك کښې





سملاستو او هغوي دواړه په خپله کمره کښې سملاستې . ډېر خوږ وخت تېرېدو او هغوي ټول ډېر خوشحاله وو. اکبرخان دَ کرشمي بابا شو اودَ خاله په وېنا به یې لکه دَ خپل پلار دَ هغهٔ خدمت کوو. چې کله به اکبرخان او خاله یو په یوناست وو نو اکثر به یې زړې خبرې کولې او زاړهٔ یادونه به یې تازه کول . په دغه خبرو خبرو کښې به اکبر خان ته خپل ځان زلمے ښکارېدو اوخاله ته به خپل ځان پېغله او دَ کالج طالبه ښکارېده . کله کله به هغوي یوبل سره لکه دَ مخکښې غوندې ټوقې ټقالې هم کولې . دَ خاله په شخصیت کښې هغهٔ دَ پاره دومره کشش راغلے وو چې هروخت به یې ورته په پسخېدلي نظر کتل . هم دغه وجه وه چې دغه ټوقو ټقالو کښې ورته هغهٔ څو څو ځله دَ نکاح خواست اوکړو خو خاله دَ ډېر قوي اعصاب خاونده وه. هغې به په مُسکا مُسکا جواب ورکړو ، "ړوند په موګي یو ځل تیندك وهي ، دوه ځله نه "خو دَ هغهٔ په دغه خبرو اومثالونو څهٔ پرواه نه وه . هغه خپل مطلب لیونے کړے وو او چې څومره به ورځې تېرېدې هومره به دَ هغهٔ په لیونتوب کښې اضافه کېده . هره ناسته پاسته او روانه ولاړه کښې به یې په اشارو کنایو او سترګو روځو کښې دَ مینې پېغامونه ورکړل خو هغه به مسکۍ شوه اومخ به یې ترینه واړوو . دَ کرشمي په غېر موجودګۍ کښې هغهٔ یو ځل دوه څهٔ بېهوده حرکات هم کړي وو خو هغې خپله غصه په مُسکا بدله کړه او په زړهٔ یې تېره اوهېره کړه . دې سره دَ هغهٔ حوصله نوره هم زیاته شوه او دَ



www.pukhto.Net

هغـهٔ حرکات ناقابلِ برداشت شول . یو ماسخوتن چې هغوي ډوډۍ اوخوړه نـوکرشـمـه خپـلـې کـمرې تـه لاړه او په خپله مطالعه کښې مـصروفـه شوه او خاله دَ هغهٔ دَ بسترې خورولو دَ پاره دَ هغهٔ کمرې ته ورغله . هغه په دغه کار کښې مصروفه وه چې هغه ورپسې ورغے او لاس يې ورتـه واچـوو خـو کوم لاس چې ورته هغهٔ اچولے وو هغه بيا ډېره مـوده دَ هغهٔ په غاړه کښې زانګېدو . چې دَ هغې نه مايوسه شو نـو بيـا يـې کـرشـمـې سره مراسم شروع کړل . هغې سره به يې خوږې خبـرې هم کولے او دَ پېرزونې ځیزونه به يې هم ورله راوړل . هغې به دَ هغـهٔ راوړلے شـوے پټ ځیـزونـه خالـه ته ښکاره کړل. خاله به په ظاهره مُسکۍ شـوه خـو په زړهٔ کښې به دَ قهره سره مچۍ شوه . دَ هغـې پـه زړهٔ کښـې دا يـره وه چې چرته هغه دهوکه نکړي . بهرحال هغـې په چپه خوله دَ هغوي سارنه کوله او دَ هغې دا کوشش وو چې هغـه هغـهٔ سره ناستې ولاړې ته يواځې پرې نه ږدي خو اخر يوه شپه هغـه څهٔ اوشـو څـهٔ نـه چې هغه يرېده . شپه دَ نيمې نه اوختې وه . هغـه او کـرشـمـه په خپله کمره کښې اودهٔ پراتې وي خو دَ هغې دَ زړهٔ سـتـرګـې او دَ هغې غوږونه دَ هغې دَ عزت دَ تحفظ په څوکۍ ولاړوو. هغـې پـه خـوب کښـې دَ چا دَ راتـلـو کـش کړپ واورېدو . هغې چې سترګې اوغړولې او وې کتل نو دَ کرشمې کټ ته څوك ولاړ وو. هغې دَ هغـهٔ مـنـعې کـول غـوښـتـل خـو بيـا يې پـه زړهٔ کښې راغلـه چې کېـديشي دَ کـرشمې په مرضۍ او بلنه راغلے وي . په دې وجه هغې





غړېدلې سترګې بيا پټې کړې خو دَ غوږونو څوکۍ يې ولاړه وه . يوه شـېبـه پـس دَ ګـنـګوسي اواز راغلـې . دې نه پس يو بل اواز راغلې، "تهٔ څـوك يې ؟" دَ دے په جواب کښې اووېلے شو ، "چغې مهٔ وهه زهٔ يم " خالـه پـو هـ شوه چې اکبر خان کرشمې له راغلے دے . هغې وېښ ځان اودهٔ کړو او دَ هغـوي پس پسو ته يې غوږ کېښودو . کرشمې په يـره يـره اووې ، "بـا . . . بـا . . . بـابـا تـهٔ ؟ اکبـرخان دَ هغې پـه خولـه لاس کـېښـودو او پس پسو کښې يې ورته اووې ، "راځه چې ښېټك ته ځو" پـه دغـه چـېـړ چاړ کښې دَ هغې دَ خولې نه ووتل ، "مورې" اکبرخان ورتـه پـس پـسـو کـښـې اووے ، "مـورتـه چـغـې مهٔ وهه ، زهٔ دَ هغې په صـلاح راغـلـے يم . . .راپاسه راځه چې ښېټك ته ځو". دَ خاله زړهٔ نور صبر اونکړو هغه ډېره په تېزۍ سره پاسېده او چې بجلي يې اولګوله او هغوي تـه يـې اوکتـل نو اکبرخان د هغې په سر طماچه ايښـے وه او دهـمکي يې ورکوله . خاله چې هغه طماچه په لاس اوليدو نووارخطا شـوه خـو ډېـر زر دَ هـغـې يـره پـه مُسـکـا کښې بدله شوه او په مُسکا مُسـکـا کښـې يـې اکبـرخـان ته اووې ، "ولې اکبر خانه ، دا جينۍ ولې تنګوے "؟ دې سره هغهٔ دَ هغې دَ خولې نه لاس لرے کړو خو طماچه يـې لا هغـسې دَ هغې په سر ايښـے وه . چې هغهٔ څهٔ جواب ورنکړو نو کرشمې ته يې اووې ، "ولې کرشمې ، څهٔ چل دے".

کرشمه :. مورې ، دے واقعي ستا په صلاح راغلے دے .

خاله (مسکۍ شي ) "ولې لورې ، دے څهٔ وائي ؟"



www.pukhto.Net

کرشمه :. مورې ، دے وائي چې ماسره ښېټك ته لاړه شه .
خاله (خاندي ) اوه دا خبره .دا څه دومره لویه خبره خونه ده وه کم عقلې تهٔ دَ دهٔ نه هم یرېږې . . .که تهٔ هلته تلل نه غواړې نودادومره مسله نه ده . زهٔ به درنه لاړه شم .
کرشمه :. دا ته وائې مورې ؟ دا چې زما بابا دے ؟
خالـه :. وَه کم عقلې ، نهٔ تهٔ د ده لورېې او نه دے ستا پلار دے . تش په وېلو خو دَ وینې رشته نه جوړېږي (خاندي ) . . .بنه تاسودلته پاتې شئ ، زهٔ به درنه ښېټك ته لاړه شم . داسې دې خوښخه ده کنه اکبرخانه؟
اکبرخان:. دا جینۍ خوډېره ترخه ده نفیسې ، دا پوهـ کړه .
خالـه:. (خانـدي) ترخه نه ده خو تا یرولې ده . په سردے ورله طماچه اېښے ده ځکـه ترخـه ده . پـه زور کـلي نـهٔ کېږي اکبرخانه . دا خپلې خوښخي تـه پرېـږده . زهٔ بـجلي مړه کوم او ښېټك ته درنه ځم " هغه بـجلي مـړه کړي او خپل کټ له راځي . چې کله روانه شي او بهر ته دَ تـلـو کـوشش کوي نوکرشمه په چغه وائي ، مورې . . .مورې، په دے اواز هغـه ډېره په تېزۍ سره واپس شي . دَ بجلي دَ بټن ټك سره دَ ترق اواز راشي . اکبرخان په سینه باندې دواړه لاسونه اړدي . دَ بجلي په رڼا کښې هغې ته ګوري او وائي ، "نفیسې تهٔ "دَ "تهٔ"سره هغه په زمکه پریوځي او لتې ټکوي. کرشمه هغې ته ګوري او په یره یره وائي . "دا څهٔ اوشو مورې ؟"
خالـه (مسـکۍ شي) هغـه اوشو ، څهٔ چې ماغوښتل ، ماتاته یو ځل





وېـلـې وو چې ، "کله کله بې ځایه غیرت انسان دومره بې غېرته کړي چې دَ غـېرت احساس یې ښخي مړ شي . دَ هرڅیز دَ پاره خپل وخت او خپـل مـقام وي ". بیا خپلې طماچې ته ګوري او وائي ، "لورې، دا دَ چودهري رحمت طماچه ده . په دېکښې اووهٔ ګولۍ وې. دوه ترې لاړې او پینـځـه پاتې شـوي ". بیـا دَ اکبـرخان طماچه اوچتوي ، خاندي او هـغې تـه وائي ، "چې څنګه اکبرخان دونمبر سړے وو، دغه شان یې طـمـاچـه هـم وه . دا دَ پـلاسټك کـهـلـونا طماچه ده" دې سره طماچه دَ هغـهٔ پـه سینـه کـېـږدي او وائي، "اکبرخانه ، ستاپه تلو ماته افسوس دے ، خو ستـا نـه زیـات ماته په خپل مستقبل افسوس دے ، سوري اکبـرخانـه ". بیـا کرشمي ته وائي ، "لورې ، زهٔ به چاې تیاره کړم او ته کټه تیاره کړه ".

★★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.Net

## « اتهم باب »

دَ شپې اخري سلګۍ وې چې شان کورته اورسېدو. هغۀ ګاډے په حجره کښې اودرو او غلې غونډې کورته لاړو. هغه دومره مايوسه وو چې مورپلار اوروڼو خويندو سره يې هم ملاقات اونکړو او په خپله بستره کښې ډب ډوب پريوتو. سحر يې روڼو خويندو سره هم ملاقات اونشو ځکه چې ټولې تعليمي ادارې کهلاؤ شوې وې او دَ هغوي تعليمي سرګرمۍ شروع شوې وې نو دَ هغۀ دَ پاسېدو نه هغوي مخکښې تعليمي ادارو ته تلي وې والبته په ناشته باندې يې مورپلار سره ملاقات اوشو. هغوي ترېنه دَ پلوشې او دَ هغې دَ مور دَ بيمارۍ په حقله تپوسونه اوکړل او هغۀ په خندا، مسکا بنۀ زړه پورې جوابونه ورکړل خو هغوي ته يې خپل خفګان ظاهر نکړو، په دغه خندا مُسکا کښې هغه خپل پلار ته هغه بېنک چېک هم واپس کړو کوم چې هغه دَ عاليې په لاس ورلېږلے وو. دَ ناشتې نه پس هغۀ هم يونيورسټۍ ته دَ تلو تيارې شروع کړه ځکه چې دَ هغۀ چهټيې هم ختمه شوې وه او کلاسونه هم شروع شوے وو. دَ هغۀ دَ تلو نه پس شهناز بېګم هم دَ هسپتال نه ډسچارج شوه او دواړه کورته لاړل. پلوشه چې کورته اورسېده نو هغۀ له يې ځو ځو رېنګونه ورکړل خو هغۀ دَ هغې يو کال هم اټېنډ نکړو. چې اونشوه نو بيا يې ورته په بدل نمبر رېنګ اوکړو. دَ هغۀ دَ هېلو سره چې دَ پلوشې اواز ورغى نو هغۀ موبائېل بندکړو. هغې بيا په بدلو نمبرو ځو ځو رېنګونه ورکړل





خو هغۀ دَ هغې نه دومره مايوسه شوے وو چې دَ هغې خبرې پرې بنۀ نۀ لګېدې. نتيجه دا شوه چې هغه سِم بدل کړو او هغې سره يې دَ موبائېل په ذريعه دَ رابطې سلسله بنده شوه. البته دَ هغې زاړۀ يادونه پرې بنۀ لګېدل او په دغه زړو يادونو هغۀ وخت تېروو. په دغه يادونو کښې يوه ورځ هغۀ ته هغه واقعه هم ياده شوه چې دَ طالبِ علمۍ په زمانه کښې دَ هغوي کلاس په مطالعاتي دوره باندې مري ته تلے وو. ټول طلباء وطالبات دَ مختلفو ډلو په شکل کښې خوارۀ شو او دَ خپلې خوښخې مطابق يې مطالعه کوله. په دغه ډلو کښې يوه ډله دَ شان او پلوشې وه. هغوي چې دَ نورو سرګرميو نه اوزګار شو. نو بيا په اېلکټريکل لفټ کښې کېناستل. زيړ مازيګر وو. څۀ موسم ډېر روماني او خوندور وو او څۀ دَ هغوي دَ باهمي قربت په وجه ډېر مينه ور وو.

اېلکټريکل لفټ په خوند خوند روان وو. دَ نمر زيړو پلوشو دَ فضا په فراخه مېدان دَ هغوي مخونه بنۀ په ډاګه ښکلول خو هغوي پرې بد نۀ ګڼل. دَ پلوشو په ښکلا، هوا له هم سيالي ورغله او دَ شېلے (shelley) دَ West wind غونډې يې دَ هغې زلفې تار په تار اړولې راړولې. کله به يې خورولې او کله به يې غونډولې. دَ هغې زلفې دَ هغې په مخ، سترګې شونډو او سينه لګېدې او دَ هغې دَ مينې خزانې تښنېدې. داسې معلومېده چې دَ هغې زلفې دَ نمر پلوشو سره جنګېدې او هغوي يې دَ هغې دَ بدن ښکلولو ته نۀ



www.pukhto.Net

پرېښودې . هغه چې دَ زلفو دَ شرارت نه تنګه شوه نو خپله لوپټه يې دَ سر نه تاؤکړه او خپلې زلفې يې پرې کلکې اوتړلې . دې سره دَ نمر دَ پلوشو ته هرڅۀ په ډاګه شو او د دې موقعې نه هغوي ښۀ فائده واخسته . هغوي په لفټ کښې دَ غرونو په سرونو تېرېدل ، کله به يې دَ غرونو سرونو ته کتل ، کله به يې دَ غرونو لمنو ته او کله به يې لاندې ژورو ګړنګونو ته . نمر په غرغره وو چې په ابلکټريکل لفټ دَ برقي رو سلسله بنده شوه او د هغوي لفټ دَ يو غر دَ پاسه اودرېدو . دَ لفټ په اودرېدو هغه ډېره خوشحاله شوه چې د دغه حسين منظرونو ښۀ زړه پورې تماشه اوکړي . هغې غوښتل چې دَ لفټ نه کوزه شي او دَ غر په سوکه اودرېږي . په دے غرض هغې شان دَ لاس نه اونيوو او ورته يې اووې ، Come on shaan . let,s engoy this seenery خو کوم لاس چې هغې دَ کوزېدو دَ پاره ورکړې وو هغه لاس هغۀ په خپل مضبوط لاس کښې تينګ اونيوو او ورته يې اووے ، " دا حماقت چرې هم اونکړې . که بجلي راشي او لفټ زمونږ دَ ګرفت نه اوځې نو بيا به څۀ کوو"؟ دې سره دَ هغې سرله عقل راغلے ،مسکے شوه او ورته يې اووې : " Yes, you are right "نمر لکه دَ سور غونډ سکي دَ اسمان دَ لوے مېدان نه دَ غرګول ته نزدے شوے وو خولا دَ هغوي په تماشه ، دَ غر په سوکه ولاړ وو. او چې کله دَ هغوي په ديدن موړ شو نو لکه دَ ډوبېدونکې کشتۍ په مزه مزه دَ غر په شالوې ګړنګ ته پريوتو او ډوب شو .





دَ نمر دَ ډوبېدو سره دَ نمر پلوشې څۀ وخته پورې دَ اسمان په لمنه دَ ګلدستو په شکل کښې ښکارېدې خو دَ تيرې په جهارو رو رو غيبېدې دَ تورې شپې دَ تورو زلفو تورجال په زمکه او اسمان خورېدو . کومه پښه چې څۀ وخت مخکښې هغې کوزېدو دَ پاره کوزه کړې وه هغه يې بيا راغونډه کړه او په يره يره يې هغۀ ته اووې، "دا به څۀ کېږي شان ؟ . . .داسې معلومېږي چې زمونږ شپه دلته راشي".

شان:. دلته خو به بيا هم څۀ لږه ډېره ګزاره اوشي او دَ ځنګلي ځناورو نه به څۀ حده پورې محفوظ پاتې شو او دا اميد موشته دے چې که بجلي راشي نو لفټ به روان شي خو که دَ لفټ نه کوز شوې وې او په دے کانهو مو شپه راغلې وه نو بيابه مو څۀ کول ؟" چې څومره شپه پخېده هومره يخني هم زياتېده او دَ هوا په رفتار کښې هم اضافه کېده په دېکښې دَ هوا يوه ليونۍ چپه راغله او دَ هغې د سر نه يې ځان سره لوپټه يوړه . هغه دَ يخنۍ نه رو رو غونډېده او هغۀ ته نزدے کېده . هغو ي دواړه دومره خفه وو چې دَ خفګان په وجه چپه خوله ناست وو. په دېکښې دَ ځنګلي ځناورو اوازونه شروع شو . هغې چې دغه اوازونه اورېدل نو زړۀ يې دَ يرې نه داسې ټوپونه وهل لکه چې په هغې دَ حملې کولو په عرض هغه ټول ځناور په منډه منډه را روان دي . دغه اوازونه رو رو لنډېدل او يوه موقعه داسې راغله چې هغوي سره نزدې دَ ځنګلي ځناورو چغې شوې . هغې چې دا ناګهانه چغې اورېدلې نو دَ خوله نه يې بې اختياره دَ يرې چغه اووته . دَ چغې سره



www.pukhto.Net

یې دَ هغهٔ نه دواړه لاسونه تاؤ کړل او سر یې دَ هغهٔ په اوږه کېښودو. دَ هغې دَ تسلۍ دَ پاره هغهٔ هم دَ هغې نه لاسونه تاؤکړل او سر یې دَ هغې په سر کېښودو. هغه دَ هغهٔ بدن پورې داسې انختې وه لکه یو یرېدلې ماشوم چې دَ مور په خېټه سر اېښے وي او دَ خیټې په لاره دَ هغې په بدن کښې دَ ننوتو کوشش کوي. یو خوا یخه هوا وه بل خوا دَ دو زړونو درزاوه، یو خوا په تیارهٔ شپه کښې دَ ځنګلي ځناورو اوازونه وو، بل خوا دَ ځوانې وینې دَ جذباتو نه ډك غورځنګونه وو. څهٔ عجیبه غوندې کېفیات او څهٔ هیجاني غوندې لمحات وو. اوس هغوي نه دَ ځنګلي ځناورو دَ اوازونو نه یرېدل اونه یې خپل حیات وممات ته کتل. هغوي دَ مینې په الله هو یوبل پورې پټې سترګې انختي وو او داسې معلومېده چې دواړه په یوه ساه، ساه اخلې او په یوه ساه دوه زړونه درزیږي. هغوي لا دَ دغه قندونو خوندونه اخستل چې برقي رو بیا شروع شو او لفټ روان شو. چې هغوي په ځان پوهېدل نو هغوي خپل منزل ته رسیدلي وو. دا هغه واقعه وه چې دَ نن نه څهٔ موده مخکښې دَ مري په مطالعاتي دوره کښې هغوي ته پېښه شوې وه. دے خیال سره دَ هغهٔ په مخ مُسکا راشي. دَ هغهٔ په مخ لا هغسې مسکاخوره وه چې دَ هغهٔ دَ کمرې په ور ناکنګ اوشو. دې سره دَ هغهٔ ټول یادونه منتشر شو او په مختلفو لارو دَ هغهٔ دَ ذهن نه اووتل. هغهٔ دَ کتاب په مطالعه کښې مصروف شو البته دَ Yes, come in ټکي یې دَ خولې نه اووتل. چې ورلرے شو نو پلوشه دَ





هغهٔ کمرې ته ورغله، هغه ته یې سلام اوکړو او هغهٔ ته مخامخ اودرېده. هغهٔ دَ هغې سلام واخستو خو دَ کتاب نه یې سر اوچت نکړو. هغې په یو لاس دَ هغهٔ دَ لاس نه کتاب واخستو، بل لاس یې دَ هغهٔ زنې ته لاندې کېښودو او دَ هغهٔ سر یې په مزه مزه اوچت کړو. دَ هغهٔ سر چې اوچت کړے شو نو هغهٔ دَ هغې نه مخ واړوو. هغې کتاب یو خوا ته کېښودو، په دواړه لاسه یې دَ هغهٔ مخ ځان ته اوګرځولو او ورته یې اووې، "دَ ناستې ست نه کوے؟ زهٔ تاله راغلې یم شان. زهٔ سوري او وېري سوري وېلو له راغلې یم، شان". هغې چې دَ هغهٔ سر پرېښودو نو هغهٔ ورته په غټو غټو اوکتل او وے وئیل، "ستا په سوري وېلو زما دَ مات زړهٔ ټوټې پېوند اخستې شي؟ ستا په سوري زما لولپه امیدونه روغېدېشي؟ ستاسوري زما دَ سوے لوے ارمانونو مرهم پټۍ جوړېدېشي؟ستا په سوري زما منتشر ذهن راغونډېدېشي...؟ ستا په سوري په ماتېرې شوې دَ قیامت لمحې په راحت کښې بدلېدې شي؟ که ستا په سوري او وېري سوري دا هر څهٔ کېدېشي نوراځه کېنه پلیز". دَ هغهٔ دے تپوسونو هغه په لوے سوچ کښې واچوله. هغه نهٔ پوهېده چې هغهٔ له څهٔ جواب ورکړي، هغې سترګې خکته کړې وې او ډېره شیبه خاموشه ولاړه وه. هغهٔ هغې ته په سوالیه نظر کتل خو چې هغې جواب ورنکړو نو بیا یې کتاب راواخستو او دَ هغې په مطالعه کښې داسې مصروف شو لکه چې دَ سسپنس نه ډك په جاسوسي ناول کښې څهٔ سنسني



www.pukhto.Net

خبره واقعه لولي او دَ دنیا او مافي فیها نه خبر نهٔ وي . هغه چې په جواب ورکولو کښې ناکامه شوه نو سر یې اوچت کړو ، هغهٔ ته یې په مایوسه لوندو سترګو اوکتل او وې وئیل،"شانه، ماته څه حکم دے ؟ . . .شانه ، زهٔ ایساره شم که لاړه شم ؟ . . .شانهٔ پلیز ، ماله جواب راکړه . . .زهٔ څهٔ اوکړم پلیز" . دَ هغې په مخ لړۍ لړۍ اوښکې راتلې او دَ وخکو په لاره دَ هغې خولې ته تلې . چې هغهٔ څهٔ جواب ورنکړو نو هغه یوقدم دوه روستو شوه او دَ هغهٔ دَ کمرې نه واپس روانه شوه . چې ور له اورسېده نو اودرېده او هغهٔ ته یې یو ځل بیا روستو اوکتل خو چې هغهٔ دَ کتاب نه سر اوچت نکړو نو غلې غوندې په ور بهر اووته . دَ هغې دَ تلو نه پس هغه کتاب بند کړو او یو اړخ ته یې لړه کړو ، په کټ کښې بوړي بوړي پرېوتو او پاس چهت ته یې کتل لکه چې دَ چهت په سکرین هغه روانه وي او هغه یې قدمونه شمېري . هغه ډېره شېبه په خپل سوچ کښې ډوب پروت وو بیا یې دَ خولې نه ناګهانه اووتل ، هاې قسمته څهٔ کانې دې راسره اوکړے ؟ دې سره یې دَ علي خان بې نکته شعر بې اختیاره په خولې راغې چې :

ے دا مِ دم که مِ همدم که د لارام لاړ    هم مِ روح وولہ مالاړ هم مِ ارام لاړ

هغهٔ په دلسوزه لهجه کښې د دے شعر ګردان کوو. او چې څومره دَ هغهٔ ګردان زیاتېدو هغومره دَ هغهٔ غصه کمېده او اخر یووخت داسې راغې چې دَ هغهٔ غصه نه صرف ختمه شوه بلکه خپل ځان ورته ملامته ښکاره شو . دې سره هغهٔ موبائېل راواخستو او هغې ته یې رېنګ اوکړو





. دَ هغې دَ هېلو سره هغهٔ اووے ، "پلوشې ، ته چرته یې"؟

پلوشه :. تهٔ څوک خبرې کوے پلیز.

شان(خاندي) زهٔ شان خبرې کوم .

پلوشه :. شان . . .؟ څوک شان پلیز؟

شان :څوک شان؟ . . .ستا شان ؟

پلوشه :. سوري رانګ نمبر، دې سره هغې موبائېل آف کړو . دَ هغې په رویه شان مُسکے شو او هغې ته یې بیاکال اوکړو. هغې موبائېل اوچت کړو او وې وئیل "هیلو ، څوک پلیز"؟

شان:. پلوشې تهٔ زمانه خفه یې ؟

پلوشه :. تهٔ څوک خبرې کوې پلیز؟ دَ هغې په تپوس هغه مُسکے شو او وے وئیل ، "فارګاډ سپك پلوشې، زهٔ شان خبرې کوم شان .

پلوشه:. شان . . . .شان . . . .دا نوم ما اورېدلې هم دې او دا صبب مِ لیدلې هم دې خو اوس مِ د خیال نه اوتے دے زهٔ معافي غواړم ماوانهٔ پېژندې . بهرحال تهٔ څهٔ وېل غواړے ؟

شان:. پلوشې ، زهٔ تانه معافي غواړم . آئې ایم سوري .

پلوشه :. اوه ، سوري ،دا تهٔ یې؟ خو یو تپوس درنه کولې شم چې تهٔ دَ سوري په معنىٰ پوهېږے ؟ دَ سوري معنىٰ ده تېر په هېر او باقي روزګار . آیا تهٔ دې ته تیار یې؟

شان:. تهٔ راشه پلیز ، زهٔ تاته څهٔ وېل غواړم .

پلوشه :. چرته درشم ؟ تهٔ چرته یې ؟



www.pukhto.Net

شان :. زۀ په خپله کمره کښې یم ، زۀ ستاانتظار کوم پلیز.

پلوشه :. سوري شان . کومې کمرې نه چې زۀ بې نوا اوتي یم ، هلته نشم درتلې .

شان :. نیورمائنډ ، که تۀ نشې راتلې نوزۀ به درشم خوته چرته یې.

پلوشه :. زۀ ستا دَ کمرې مخې ته په لان کښې ناسته یم .

شان:. اوه مائي ګاډ (خاندي) زۀ درغلم ". هغه په توندۍ سره بهر اوځي او چې هغې ته اوګوري نو په هغې ځان ناغرضه کړي، دَ هغې مخې ته اودرېږي او وائي، "بي بي تۀ ما چرته لیدلې یې ، ستا نوم غالبًا پلوشه دے".

پلوشه :. اوه ، داسې معلومېږي چې ما هم چرته لېدلې یې. ستا نوم شاید شان دے ؟

شان:. جي بي بي جي، ستااندازه بالکل صحي ده ، خو بي بي یو تپوس درنه کولې شم ؟

پلوشه :. تۀ تپوس کولے شے خو دا ضروري نه ده چې زۀ جواب درکړم .بهرحال ته څۀ وېل غواړے ؟

شان:. زۀ دا وېل غواړم بي بي جي چې ستا چاسره څۀ کار دے؟ زما مطلب دے چاسره ملاوېدل غواړے ؟

پلوشه :. زۀ تاته جواب ده نه یمه . تۀ پردے سړے یې ، ستازما په ذاتي معاملاتو کښې څه کار دے .څه دانګه خپله مخه وهه.

شان :. معافي غواړم بي بي جي ، غلطي اوشوه ، بیابه داسې نه کیږي.





پلوشه :. بیا؟ څۀ مطلب؟ لکه تۀ چې ماسره تعلق جوړول غواړے ؟

شان:. جي بي بي جي.

پلوشه : ستا او زما دَتعلق څه نسبت څۀ رشته ؟

شان:. ستا اوزمادَ مینې رشته ده I Love you my sweet heart.

پلوشه (په بناوټي غصه)څۀ دے اووے ؟ ستادا جرأت ؟ هغه هغۀ پسې په غصه ور روانه شي . شان خاندي او خپلې کمرې ته منډه کړي، هغه ورپسې کمرې ته ورشي او ورته وائي "غوږونه اونیسه او توبه اوباسه چې بیا به داسې نه وائے ".

شان :. غوږونه به اونیسم خو توبه نشم ویستلے ، دې سره دواړه په خندا شي ، پلوشه ورته په خندا خندا کښې وائي "منے که نۀ ، څنګه مِ درباندې غوږونه اونیول ".

شان :. منې او که نه ، څنګه مِ کمرې ته راوستے ، دې سره هغوي دواړه ډېره شېبه خاندي . شان په خندا خندا کښې سنجیده شي. او هغې ته وائي ، "پلوشې ته زما نه خفه یې""؟

پلوشه :. نوشان ، چرې هم نه . که خفه وې نو په خپله لاره به تلې خو تلم ځکه نه چې ماته پته وه چې ستاغصه ستا دَ خفګان ردِ عمل دے چې ستا کېتهارسز( Catharsis ) اوشي نو ستا غصه به ختمه شي. په دې وجه ماتلل نه غوښتل ستا په انتظار کښې بهر کېناستم چې ستا غصه سړه شي او هم هغسې اوشو څۀ چې زما خیال وو... شانۀ چې رشتیا خبره درته اوکړم نوکوم خفګان چې ستا دَ تلو په وخت او



www.pukhto.Net

ستا دَ تلو نه پس په ماتېر شوے دے ، دا خفګان دَ هغې عشر عشير هم نه دے . اوس هم چې کله ستا دَ تلو منظر راياد شي نو دَ خپله ځانه شرم راشي چې ما ستا هيڅ مدد اونکړې شو . تا ماسره ځۀ کړي وو او ما تاسره ځۀ اوکړل . ستا دَ تسلۍ دَ پاره زما دَ خولې نه دوه ټکي هم اونه وتل او زۀ داسې چپ پاتې شوم لکه چې زۀ هډو تا پېژنم نه . . .شانه، زما خاموشي بي وفائي مه ګڼه پليز . . . بلکه دَ يوې پېغلې مجبوري اوګڼه . دَ هغه مجبورۍ پېغلې مجبوري چې هغه اګر چې اعلیٰ تعليم يافته ده خو دَ خپل دود دستور او روايانو په زولنو کښې اوس هم ګېره ده . مامعاف کړه پليز ''.

شان :. پلوشې ، ته ما هغه وخت معاف کړے يې چې ستا موربي بي ماله رخصت راکړو او زۀ ستاسو دَ کمرې نه اووتم . زۀ ستادَ موربي بي ډېر مشکوريم چې هرڅۀ يې په ډاګه کړل او ستا متعلق يې زما خوش فهمي ختمه کړه . . .پلوشې ، دېکښې نه ستا قصور شته او نۀ ستا دَ مور بي بي بلکه قصور دَ هغه عواملو دے چې انساني معاشره يې په څو څو قومو، قبيلو او طبقو کښې تقسيم کړے ده او هرقوم ، قبيله او طبقه يې دَ بلې دشمنه کړې ده . هر قوم ، قبيله او طبقه دَ خپلې خپلې نظريې په دائره کښې دَ خپلې خپلې انا دَ محور نه تاوېږي او خپله متعلقه حلقه ورته دَ نورو نه بهتره ښکاري . که دغه تقسيم ته دَ هندومت دَ معاشرې په توګه اوکتلې شي نو بدنشي ګڼلې ځکه چې دَ ذات پات او اعلیٰ وادنیٰ دغه تقسيم دَ هغوي په



www.pukhto.Net



معاشره کښې دَ پېړو پېړو راسې روان دے ، بلکه د دغه مذهب يوه ګنډلې برخه ښکاري . د دے ثبوت دَ هغوي په موجوده معاشره کښې واضحه ليدے شي خو ترڅو چې زمونږ دَ مذهب تعلق دے نو اسلام دَ معاشرتي تفريق او امتيازي عواملو نفي په سؤنو کاله مخکښې کړے ده . په قرآن معظّم ، احاديث مبارکه او سنتِ طيّبه کښې دَ دې ثبوتونه موجود دي خو زۀ ډېر په افسوس سره دا وېم چې د دے واضحه ثبوتونو باوجود هم ځينے مسلکونه ، طبقې او کورنۍ دَ خپل نرګسيت په وجه دَ دغه هداياتو نه منحرف شوي دي او دَ هندومت دَ ذات پات نظريې ته مائل شوي دي . دَ مشترکه مذهب او مشترکه نظريۀ حيات باوجود هم دَ باهمي قربت رشتې ته تيار نه دي .زما خبرې اورېدې شوې معافي غواړم خو دا خبري هم ضروري وې چې زمونږ تر مينځه څۀ ابهام پاتے نشي . کېدېشي زما او ستا ملاقات بيا اونشي او د دې خبرو نوبت بيارانشي ''.

پلوشه دَ هغۀ دَ خولې نه خبره اخلي ، هغه ته په ډکو سترګو ګوري او وائي ، ''داسې مه وايه پليز زۀ ستا د جُدائي تصور هم نشم کولې ، ستا دَ حصول دَ پاره زۀ هرڅۀ ته او هرې قربانۍ ته تياره يم. دَ دغه معاشرې خود ساخته اصول او د دغه زولنو ختمولو دَ پاره زۀ هرڅۀ ته تياره يم . شانه ، . . .زۀ دغه مسلك ، دغه معاشره او خپل مور پلار پرېښودې شم خو تا او ستا مينه نشم پرېښودې ما تاسره وعده کړې ده او دَ خپلې وعدې دَ تجديد دَ پاره تاله راغلې يم ''

شان:. داسې مۀ وایه پلیز. زۀ نۀ غواړم چې زمونږ مینه رسوا شي او دَ خلقو دَ خندا شي . زۀ نه غواړم چې زما په وجه تۀ دَ خپل مسلك، خپلو عزیزانو او خپل مور پلار نه لا تعلقه شي زۀ نه غواړم چې زما په وجه تۀ رسوا شې. اګر چۀ زوجیت دَ پاره مینه ضروري ده خو دَ مینې دَ پاره زوجیت ضروري نۀ دے . تۀ زما دَ بدن یوه برخه ګرځېدلې یې . ته زما دَ زړۀ ملکه یې . که تۀ زما شې او که نشې خو ستا راج به چلیږي . . .پلوشې یوه خبره بلکه یو خواست م اومنه چې بیا ماسره دَ ملاوېدو کوشش اونکړې . زۀ نه غواړم چې زما په نامه توره او دَ خلقو دَ پېغوره شې. زما دعا ده چې تل ترتله خوشحاله اوسې ، لکه دَ سپوږمۍ پړقېږې او ځلېږې. چې ستا دَ ځلا پلوشې ماته رارسیږي نو زما زړۀ به پرې خوشحالیږي . او یوه خبره بله او هغه دا چې دَ خپل موبائېل سِم بدل کړه چې عالیې سره ستا رابطه ختمه شي، ځکه چې که چرې هغې ته زمونږ دَ لاتعلقۍ پته اولګیده نو هغه به دَ ډېره غمه لیونۍ شي ، هغوي دواړه ډېره شېبه خاموش وو. په دغه خاموشۍ کښې دَ هغوي دَ سترګو نه لړۍ لړۍ اوښکې بهېدې . په دغه حال کښې هغه په چپه خوله پاسېده او روانه شوه . په تلو تلو کښې دَ کمرې ورسره اودرېده او هغۀ تۀ یې په شا اوکتل . دَ هغې په جواب کښې هغه خپلې اوښکے اوچے کړے او ورته یې اووے ، I Love you my dear ".

★★★





## ﴿ دویمه برخه ﴾

دَ ملك حالات دَ دهشت ګردۍ په وجه انتهائي خراب شوي وو . دَ ګوادر نه تر خېبر او دَ کراچۍ نه تر خرلاچۍ پورې ټول ملك ، بالخصوص خېبر پښتونخوا او قبائلي سیمه دَ دهشت ګردۍ ، غنډه ګردۍ ، انتها پسندۍ او عسکریت پسندۍ په وجه په سرو وینو ککړه وه . دَ زور ګرۍ او لاقانونیت دا حال وو چې په رڼا ورځ به دَ بازار دَ مینځ نه سړے اوچت کړے شو او دَ لاکهونو او کروړونو روپو مطالبه به ترېنه اوشوه . که پېسې به ورکړې شوې خو ډېره ښۀ ده ګینې بله ورځ به دَ هغۀ سر دَ هغۀ په سر پرېکړي لاش دَ سړك په غاړه پروت وو او مچان به پرې بنګېدل . . .بازارونو کښې چودنې وې ، په روانو بسونو کښې چودنې وې ، لارو کوڅو ، هسپتالو ، جماتونو او جنازو کښې چودنې وې . بې درېغه چودنې کېدې ، سرې وینې بهېدې ، سرونه الوتل ، لاشونه پرېوتل ، بې ګناه اولس مړۀ کېدل پولیس او فوځیان مړۀ کېدل او ډېرې ښۀ ښۀ کورنۍ دَ امن په تلاش کښې کډه په سرګرځېدل .

بل خوا دَ مذهبي دهشت ګردۍ په وجه سُني مړکېدو ، شیعه مړ کېدو ، دیوبندي مړ کېدو ، اهل حدیث مړ کېدو ، پنج پیرے مړ کېدو ، مرزائي مړ کېدو عیسائي مړ کېدو او هرې ډلې خپل ځان په حقه ګڼو . هرې ډلې ځان ته سو چه مسلمان او بل ته سو چه کافر وېلې . داسې معلومېده چې دَ امویانو او عباسیانو مړه دُشمني بیا ژوندۍ شوه ، دَ چرته چرته نه راغله او زمونږ په ملك کښې خوره شوه . بل



www.pukhto.Net

خوا ډرون حملې کېدې ، نارینه ، زنانه ، زاړهٔ ، ځوانان او دَ پیو ماشومان سره دَ میاندو مړهٔ کېدل . جنجیان مړهٔ کېدل ، ناویانې او دَ وادهٔ زلمي مړهٔ کېدل او دَ مودو مودو خواږه ارمانونه یې ګودر ته اوړل . دَ هر مرګ ژوبلې ذمه واري ښهٔ په نره اخستلې کېده او دَ ائنده دَ پاره بله دهمکي ورکړې کېده .

دَ ملك حمکرانې ډلې به په خپلو شاهي محلونو کښې دَ هر مرګ ژوبلې غندنه هم کوله او دَ ترهه ګرۍ خلاف به یې دَ خپلې کلکې ارادې بیا بیا سرګندونه هم کوله . دې نه علاوه دَ عوامو دَ تسلۍ دَ پاره به یې دَ زیري په توګه دا پېغام هم ورکوو چې ، "مجرم که هر څومره طاقتور وي خو د قانون دَ ګرفت نه نشي بچ کیدے". عوام حېران وو چې قانون کوم دے او دَ قانون عملداري او ګرفت کوم دے ؟ او کوم ملزمان او دَ سؤنو بې ګناه انسانانو قاتلان چې دَ خوش قسمتۍ یا بد قسمتۍ نه نیولې شوي وو هغوي سره څهٔ اوشو؟ ظاهره ده چې دَ جېلونو تمبې ماتې کړې شوې او هغوي سره نور قاتلان هم اوویستلې شواو خپلو خپلو اډو ته اورسولې شو . دَ هغوي تحریبي سرګرمۍ نه صرف بحال شوې بلکه هغې کښې شدّت هم راغۍ او جدّت او حدّت هم راغۍ . بازارونو ، سکولونو ، هسپتالواو کالجونو ته تګ په یره وو ، جنازو له تګ په یره وو، جماتونو کښې نمونځ په یره وو او په کورونو کښې ناسته ولاړه او خوب په یره وو. داسې معلومېده چې دَ نړۍ ټول طاقتونه یوموټے شوي دي او دَ خپلو





کارندو په ذریعه په دغه بل اور دَ تېلو پونه کوي . دا ټول تنظیمونه فوځ، پولیس او حکمرانې ډلې سره برسرِ پېکار ووخو دَ هغوي سره سره عام بې ګناه خلق هم دَ هغوي دَ ظلم او بربریت ښکار وو. انتشار، قتل وغارت ګري او دَ سرکاري املاك تباهي دَ هغوي مشن وو . د دې زیاتي باوجود هم حکمرانې ډلې څوڅو ځله هغوي له دَ مذاکراتو بلنه ورکړه خو هر ځل به څهٔ داسې واقعه پېښه شوه چې هغوي به انکار اوکړو . دَ معاشرتي زبون حالۍ نه علاوه دَ ملك معاشي حالت هم دَ بد نه دَ بدتر په مخ روان وو . دَ ګرانۍ ، ګران فروشۍ او بې روزګارۍ په وجه عوام پوزې له راغلي وو او هرسړے دَ لوږې نه ژورې ته په دو وو. دغه حال دَ تاواني کاکا او دَ هغهٔ دَ ټبر هم وو . هغهٔ څهٔ موده په کالام کښې په داسې حال کښې تیره کړه چې دَ هغهٔ لونړو به دَ غرونونه خشاك راؤړو او هغهٔ به په بازار اویو ځاے بل ځائے کښې خرڅوو. په دې به دَ هغوي خوړل څکل کېدل او وخت تېرېدو خو هغه او دَ هغهٔ ښځې مرجانې سره دَ خپلو لونړو دَ مستقبل غم تردے حده رسېدلے وو چې دَ هغوي دَ زړونو نول جوړ شوے وو . چې کله به دَ هغوي لونړه خشاك راؤړلو دَ پاره غرونو ته لاړې نو هغوي ښځه او خاوند به دَ هغوي دَ راتلو پورې په دغه یوه اېجنډا خبري کولې . هغوي دکرشمې په وجه هم پریشان وو ځکه چې دَ هغې دَ تلو نه پس مور پلار او خویاندو سره دَ هغې رابطه نه وه شوې . چې کله نه هغه دَ کوره اوتې ده نو دَ هغې دَ مور سترګې دَ هغې په غم کښې دَ اوښکو نه نۀ وې



www.pukhto.Net

اوچې شوې . اګر چۀ هغې به خپل خفګان دَ خاوند نه پټ ساتو خو
اخر ترکومه ؟ هغۀ ته دَ هغې دَ خفګان پته وه خو نه هغۀ څۀ کولے
شو او نۀ هغې څۀ کولې شو . البته چې کله به په خبرو خبرو کښې دَ
هغې ذکر راغے نو دَ مرجانې سره سره به دَ هغۀ سترګې هم ډکې
شوې . دغه خبرې به هره ورځ کېدې خو يو ځل دَ معمول نه اوږدې
شوې . مرجانې هغۀ ته په خبرو خبرو کښې اووې ، "ډېره موده اوشوه
سړيه ، چې دَ کرشمې دَ حال احوال نه خبر نشو . زۀ ويم چې څۀ وخت
ځان تياره کړه او هغې پسې يو منډه اوکړه چې په څۀ حال کښې ده ؟
"دَ هغې په خبره تاواني کاکا په لوے سوچ کښې پرېوتو او ډېر شېبه
زوړنده سرناست وو . بيا يې سر اوچت کړو ، غاړه يې تازه کړه او وے
وئيل ، " خبره خو دې بده نه ده بلکه ډېره ښۀ ده . دَ هغې حال احوال
معلومول پکار دي . . ښځې زما په زړۀ کښې يوه بله خبره راغله او
هغه دا چې يو خو به دَ هغې حال احوال معلوم شي بله دا چې که هغه
په خپل کور خوشحاله وي نودا نورې شلور واړه به هم هلته ورکړو".
مرجانې خپل سر په دواړه لاسه اونيوو او وې وئيل ، "نۀ سړيه ، داسې
نشي کېدې . زما هغې پسې زړۀ خوږ دے او چې دا نورې رانه لاړې
شي نو بيا خوبه په زړۀ سورې اورې شم ". تاواني کاکا دَ نسوارو
چونډۍ خوله کښې واچوله ، خپلې ګوتې او خوله يې دَ څادر په
پسکي صفا کړه او هغې ته يې اووې ، "ښځې حالاتو ته به ګورو ، که
کرشمه خوشحاله وي او هغې غوښتل نو دَ هغې په خوښخه به دا





نورې هم هلته ورکړو . دغسې به هغوي خپلو کښې نزدې هم وي او
تګ راتګ او ښتنه پوښتنه به هم ورته اسانه وي او که خوند يې وو
نو مونږ به هم ورپسې لاړ شو او دَ ژوند دغه پاتې شپې ورځې به هلته
تېرې کړو. دغه رنګې به دوي هم خوشحاله وي او زمونږ زړونه به هم
جمع وي . زمونږ دلته څۀ دي . دا لونه زمونږ دَ ژوند سرمايه ده چې
دوې لاړې شي نو مونږ دلته څۀ کوو؟
مرجانه :. چې څنګه دے خوښخه وي ، هغسې کوه سړيه ، ستامخې
لـه څوك درتلې شي ؟ تا لامخکښې زمانه څۀ تپوس کړے دے چې
پاتې شوه لا اوس ؟
تاواني کاکا:. ښځې ، دا جينکۍ زما دَ زړۀ ننکۍ دي . که دوي په خېر وادۀ
شي نو دَ ژوند ټول غمونه به مې ختم شي . دَ جينکو عمر دَ لُوخې په مثال
وي ، په سترګو سترګو کښې لوئېږي او په سترګو سترګو کښې زړېږي .
مرجانه:. دَ حسينې په وېښتو کښې سپين تارونه اولګېدل او دغه
حال دَ ميمونې هم دے .شپه ورځ دغه دعاګانې کوم چې خُدائے يې
زمونږ په ژوند دَ خپله کوره کړي چې غمونه مې غُس شي خو کوم دے
"هغه لاسونه مروړي "
تاواني کاکا:. په دے غرونو کښې به دَ دوي څوك تپوس اوکړي؟ او بيا په
داسے حال کښې چې نه خپل کور لري نه اور ، نه خپل درلري نه ور . . .
که ستا خوښخه وي نو دغسې به اوکړم . دَ کرشمې حال احوال به هم
معلوم کړم او په رموز رموز کښې به ورسره د دې جينکو خبره هم اوکړم .



www.pukhto.Net

مرجانه:. تاته دَ کرشمې ور ، در معلوم دے ؟

تاواني کاکا:. هاؤ هاؤ ، ولې نه ، دَ کرشمې یعني دَ شاهد کور هم په هغه محله کښې دے په کومه کښې چې چودهري رحمت اوسېږي بلکه هغهٔ اکثر دَ هغهٔ په ځاے کښې ناست وي .

مرجانه:. چودهري رحمت څوک دے ؟

تاواني کاکا:. چودهري رحمت ښهٔ سرمایه دار او کاروباري سړے دے . دَ دغه محلې صدر هم دے او په خپل حکم ترل ،پرانستل کوي. شاهد سره زما خبره دَ هغهٔ په ذریعه شوې وه . که ستا خوښخه وي نو زهٔ وېم چې هډو اوس روان شوې . جینکۍ هسې هم بهردي چې هغوي راځي راځي نو مابه نیمه لاره وهلے وي . زهٔ وېم چې دَ هغوي نه پټ په پټه اووتے او هغوي زما په تلو پوهـ نشي . . .تهٔ هم ورته زما دَ تلو په حقله څهٔ مهٔ وایه .(خاندي) اویوه خبره بله ، او هغه دا چې کېدېشي کرشمه هم ځان سره دَ یوځو ورځ په مېلمستیا راولم .

مرجانه:. یَه خُدایه هغه ورځ به کله وي چې دَ خپلې ماشومې لور سترګې بیا اووینم .

تاواني کاکا(خاندي) هغه ورځ ډېره نزدې ده ، ته ورشه ، زما هغه دَ غم ښادۍ جوړه او واسکټ راواخله چې روانېږم ورپسې ، دَ هغهٔ په دې خبره مرجانه پاسېده او دَ هغهٔ جامې او واسکټ یې راواخستو . چې هغهٔ خپله تیاري اوکړه او روانېدو نو په تلو تلو کښې ورته مرجانې اووې ، ”هلته ډېره کېږه مه ، یوه شپه دوه اوکړه او راځه . او هڅ هغه





جینۍ ځان سره خامخا راوله “.

تاواني کاکا:. هم دغسې به کوم انشاء الله. څه لاړم درنه .سلام علیکم

مرجانه:.لوے الله دے مل شه ، چې هغه روان شو نو مرجانې ورته تر هاغې پورې کتل چې هغه یې دَ نظر نه پناه شو . دَ هغهٔ دَ تلو نه پس هغه خوشحاله خوشحاله دَ کور په کار کښې اخته شوه .هغې کټوې هم پخوله او ځان سره ګونېده هم ، لکه چې دَ کرشمې دَ راتلو په خوشحالۍ کښې ځان سره سندرې وائي. چې کټوې او ډوډۍ یې پخه کړه نو بیا یې منګي ډك کړل او درۍ یې خوره کړه دَ لونو دَ راتلو په انتظار کښې په درۍ خوشحاله خوشحاله سملاسته او دَ هغوي دَ راتلو لارې ته یې کتل . غرمه شوه ، ماسپخین او بیا مازیګر شو خو نه هغوي راغلې او نه دَ هغوي څهٔ خبر خبر راغۍ. چې څومره څومره به وخت تېرېدو هومره هومره دَ هغې زړهٔ خوږېدو . چې نمر په غرغره شونو هغې هرڅهٔ په ځائے پرېښودل او هغوي پسې په هغه لار روانه شوه په کومه به چې دَ معمول مطابق هغوي تلې راتلې ، خو چې هغوي یې اونه لیدې نو دَ یوغر دَ پاسه اوختـه ، دَ حسینې ، میمونې ، زینت او شمعې نومونه به یې په چغه اخستل خو چې دَ هغوي له خوا هیڅ ښکالو اونشوه نو په چغو چغو دَ هغه غرنه کوزه شوه او بل غرته په چغو چغو اوختـه . په دغه ختو او کوزېدو کښې هغه ترلږ اورسېده خو دَ هغوي پته اونه لګېده . نمر په ډوبېدو وو چې هغه هغه ځاے ته اورسېده چرته چې دَ هغوي دَ خشاك ګېډې پراتهٔ وو،



www.pukhto.Net

تبرګي پراتـهٔ وو خو هغوي نـه وي. دَ هـغـې چـغـې پـه غرونو کښې کـړنګېدې خو هغوي نه اورېدې . دَ هغې ژړا سره نمر په سلګو رپېدو دَ تـورغـر نـه پـناه شـو او هـغـه يې ژړېدلې پرېښوده . هغه دَ هغوي په تـلاش کښې ګرځېده دَ يو غر نه کوزېده او بل غر ته خته ،په دغه ختو کـوزېدو کښـې هـغـه دَ لاډوبـادو پرېوته خو دَ هغې په حوصله کښې هيـڅ کـمـې رانه غی . څهٔ شپه تياره وه او څهٔ دَ هغې په زړهٔ او سترګو تيـارهٔ وه . په دغه ګرځېدو ګرځېدو کښې دَ هغې پښه اوخوېده او دَ غر دَ سرنـه يـو ژور ګـړنګ تـه لړه شوه دَ هغې دَ خولې نه يوه ، صرف يوه چـغـه اووتـه ، پـه غـرونو کښې اوګړنګېده او بيامکمل خاموشي شوه تـاواني کـاکـا لاړو ، څـلـور واړه جينکۍ لاړې او هغه هم ورپسې لاړه . ودان کـور وران شـو ، تيـاره ډوډۍ وحشي ځناورو ته پاتې شوه او دلته هغه بذات خود دَ وحشي ځناورو خوراکه شوه . په لمحو لمحو کښې هغه کار اوشو چې دَ چا په وهم وګمان کښې هم نه وو.

**﴿ دريمه برخه ﴾**

دَ اوړي اوږده ورځ وه . تـاواني کـاکـا دَ کوره هم اوږې خېټه اوتـے وو او دَ لارې پـه هـوټـلـو کښـې يـې هم پـه دے غرض ډوډۍ اونـه خوړه چې لاهـور تـه اورسي نو چودهري رحـمـت يـا شـاهد کره به ښهٔ زړهٔ پورې ډوډۍ پـه مـړه خـېټه اوخوري او دغه رنګې به ورته دَ دوه وخته ډوډۍ پـېسـي بـچـت پاتې شي . په ټوله لاره دَ هغهٔ په غوږونو کښې دَ ډوډۍ تيـار او دَ هـغـهٔ پـه خـولـه کښـې دَ بـازار دَ غـوړې اوترسکونې ترکارۍ





خيـالـي خـونـدونـه وو خـو هغه دَ چاخبره چې هغهٔ دانه ليده او دام يې نه ليـدو . دَ شپـې لـس بجې وې چې هـغـه دَ چـودهـري رحمت کور ته اورسـېـدو . دَ هـغـهٔ پـه حوېلۍ کښې ګڼ خلق ناست وو . په دغه خلقو کښـې شـاهـد هـم وو او دَ پـولـيـس يـو تفتيشي ټيم هم وو . پوليس دَ شـاهـد نـه دَ کـرشـمې پـه حقله څهٔ تپوسونه کول چې هغه په مُسکا مُسـکـا وراورسـېـدو دَ هـغـهٔ پـه ليـدو شـاهـد پاسيدو . دَ هغهٔ دَ سترې مشي لاس يې دَ تفتيشي افسر په لاس کښې ورکړو او ورته يې اووے ، "صيـب دا دَ کـرشـمې پلار دے . دَ هغې معلومات دَ دهٔ نه اوکړه". پـولـيس دَ تپوس په ځاے دَ هغهٔ لاس ته هتکړۍ واچولې او ځان سره يـې تانې ته روان کړو . تاواني کاکا حېران وو چې دا څهٔ دي او څهٔ اوشو . پـه تـلـو تـلو کښې به هغه کله شاهد ته کتل او کله پوليس ته . چې تـانې ته اورسېدل نو دَ حوالات تمبې ورته لرې کړې شوې او هغه بند کـړے شـو . دَ شپـې يؤلس بجې وې چې هغه دَ حوالات نه بهر کړے شـو او دَ انټـروګـېشـن دَ پـاره دَ تـفـتيـشي افسـر دفتر تـه راوسـتـے شو. تـفـتيـشي افسـر هـغـهٔ تـه لانـدې باندې اوکتل او وے وئيـل ، "ستا څهٔ نوم دے "؟

تاواني کاکا: زما نوم تاواني دے صېب .

تفتيشي افسر: کرشمه ستا لور ده ؟

تاواني کاکا: هاؤ صېب ، کرشمه زما لور ده .

تفتيشي افسر: هغه چرته ده ؟ تاسره ده ؟



www.pukhto.Net

تاواني کاکا:. نه صیب ، هغه ماشاهد له ورکړے ده . یعني دَ شاهد ښځه ده او شاهد سره ده . زهٔ دَ هغې لیدو له راغلے یم صېب.

تفتیشي افسر:. تهٔ دَ چودهري رحمت کورته څهٔ مقصد دَ پاره راغلے وے.

تاواني کاکا:. چودهري رحمت زما دوست دے . زهٔ دَ هغهٔ ملاقات له راغلے ووم .

تفتیشي افسر:. چودهري رحمت سره ستا ملاقات اوشو ؟

تاواني کاکا:. نه کنه صېب ، دَ سلام نه مخکښې راته تاسو هتکړۍ واچولے او تاني ته مو راوستم .که هغه زما دَ راتلو نه خبرشي نو کېدېشي چې دلته راپسې راشي .

تفتیشي افسر:. هغه تاپسې راتلے نشي خو کېدېشي چې تهٔ ورپسې لاړ شے (مسکے شي )

تاواني کاکا:. یوه خبره ده صېب ، که هغه په څهٔ وجه رانشي نوزهٔ به ورشم . دا څهٔ دومره لویه خبره نه ده .

تفتیشي افسر:. ته چودهري رحمت څنګه پېژنے ؟

تاواني کاکا:. صېب ، ماخپله جینۍ یعني دا کرشمه دَ هغهٔ په لاس شاهد له ورکړے ده . یعني زمونږ خبره دَ چودهري رحمت په ذریعه شوي ده .

تفتیشي افسر:. اوس څنګه راغلے یې؟

تاواني کاکا:. دَ چودهري رحمت سلام له او دَ خپلې لورلیدو له راغلے یم صېب . ډېره موده اوشوه لیدلے مې نهٔ ده .ماوے چې هغه به هم





اووینم او که هغه راسره شاهد پرېښوده نودَ یوځو ورځو په مېلمستیا به یې ځان سره کورته بوځم هغه مورغرېبه ورپسې ډېره خفه ده .

تفتیشي افسر خپل سر په دواړه لاسه نیسي ، سترګې پټې کړي او ډېره شېبه خاموش وي . بیا سترګي اوغړوي ، هغه ته ګوري او وائي ، "ماوے که ته دَ چودهري رحمت تعزیت دَ پاره راغلے یې ؟"

تاواني کاکا:. څهٔ مطلب ؟ زهٔ پوهـ نشوم صېب؟

تفتیشي افسر:. چودهري رحمت قتل شوے دے او دَ هغه دَ قتل دعویٰ ستا په لور کرشمې ده.

دَ تاواني کاکا رنګ تك زیړ شي . هغه تفتیشي افسر ته په حېرانتیا ګوري او وائي ، "زما په لور...کرشمه ؟"

تفتیشي افسر:. ښه اوس راته دا اووایه چې هغه چرته ده ؟

تاواني کاکا:. صېب ، ماته نه دَ چودهري رحمت دَ قتل معلومات شته او نه دَ خپلې لور کرشمې ؟

تفتیشي افسر:. ښهٔ به دا وي چې تهٔ په دے کېس کښې مونږ سره مرسته اوکړے او دَ کرشمې په حقله مونږ ته صحي صحي معلومات راکړے . ته مشر سړے یې ، زهٔ نه غواړم چې تهٔ دَ چوکې په زور هغه څهٔ اووے ، څهٔ چې اوس وېل نه غواړے "؟

تاواني کاکا(په یره یره ) صېب، تهٔ ...تهٔ ...په...په...په خد...اے ...با...با...باوراوکړه چې ...چې ماته دَ هغې په با...باره کښې هیڅ معلوم...معلومات نیشته .



www.pukhto.Net

تفتیشي افسر:.ډېره ښهٔ ده (سپاهیانو ته) راشئ هلکو دے مېلمه خانې ته بوځئ ، اُلټه یې زوړند کړئ ، چوکې ورته اونیسئ اوتر هغې یې وهئ چې په خپله لکه دَ طوطي اوچغېږي .هغوي ټولو په هغه راغړم کړے دَ مخې سره یې دَ تفتیشي افسر دَ دفتر نه اوویستلو او میلمه خانې ته یې بوتلو . هلته یې دَ هغه دَ حکم مطابق الټه زوړند کړو ، چوکې یې ورته اونیوے اوتر هغې یې وهلو چې په وهلو وهلو کښې بې هوشه شو. هغه اووه ورځې پرله پسې په دغه عقوبت خانه کښې پروت وو او هره شپه به تازه دم سپاهیانو دَ هغهٔ مېلمستیا کوله خو سره د دې دومره وهلو هم هغهٔ څهٔ نوے انکشاف اونکړو. په اتهمه ورځ هغه په هتکړو کښې دَ تفتیشي افسر دفتر ته په داسے حال کښې راوستے شو چې دَ هغهٔ په غاړه کښې قمیص نه وو او دَ هغهٔ په بدن کښې دومره روغ ځائے نه وو چې ګوته پرې کېښودې شي . تفتیشي افسر چې هغهٔ ته اوکتل نو وے وئیل ، "ښه اوس وایه چې کرشمه چرته ده ؟" تاواني کاکا سرخکته کړے وو او خاموش ولاړ وو .دَ هغهٔ دَ بیا بیا تپوسونو په جواب کښې هغهٔ اووے "صېب...دَ خدائے په خوږو نومونوم قسمونه اوخوړل ، په خپل مذهب م قسمونه اوخوړل ، په هغه کتاب م قسمونه اوخوړل چې ما پرې ایمان راؤړے دے . اوس دې دَ پاسه چې ستاسو زما په خوله یقین نه کېږي نو زهٔ څهٔ اوکړم ""؟ تفتېشي افسر ډېره شېبه خاموش وو . بیا یې سپاهیانو ته اووے ، "دے پرېږدئ چې ځي . دے بې ګناه دے ". دې سره هغه پاسېدو دَ دفتر نه اووتو او دَ تاواني کاکا نه هم هتکړې اوویستلې شوې .

### ﴿ څلورمه برخه ﴾

دَ تاواني کاکا ټول بدن لکه دَ ډکو ننکو خوږېدو . په دغه اووهٔ ورځو کښې دَ هغهٔ بدن دومره پړسېدلے وو چې دَ پېژندونه اوتے وو خو سره د دې هم هغهٔ دَ ځان په خوږو نه وو بلکه هغه سره دا غم او دا فکر ملګرے وو چې هغه به خپلې ښځې او لوڼو ته دَ کرشمي دَ نه راوستو متعلق څهٔ وائي ؟ دغه سوچونه او فکرونه دَ لاهور نه ترکوره پورې په ټوله لار هغه سره ملګري وو . هغهٔ دَ ځان دَ خلاصي دَ پاره ډېرې انې بهانې او ډېرې خبرې جوړے کړے خو دغه ټولو کښې یې دا بهانه خوښه شوه چې هغه شاهد سره هني مون دَ پاره یورپ ته تلې ده . دغه بهانه دَ هغهٔ زړهٔ ته پرېوته ځکه چې په دې به دَ کرشمې پوزیشن هم اوچت شي او دَ هغې مور او خویاندي به هم دَ هغې په خوشحاله کور خوشحاله شي. بیا یې په زړهٔ کښې راغله چې که هغوي ترېنه دا تپوس اوکړي چې هغه کورنه وه نو دومره شپې دې ولې کولے . دے تپوس دَ پاره هغهٔ دا جواب تیار کړو چې ، "چې هغه کورنه وه نو نور خلق خو وو کنه . مېلمه خودَ کوربه دَ واکه وي چې هغوي نه پرېښودم نوخفه کولے خوم نشو کنه ". په دغه سوچونو او فکر کښې چې کله هغه خپل پړاؤ ته اورسېدو نو حق حېران شو چې هلته نه پړاؤ شته او نهٔ دَ هغهٔ ښځه او لوڼه شته . یو



www.pukhto.Net

ځل دوه دَ هغهٔ په زړه کښې راغله چې شاېد هغه تېروتو او بدل ځائے ته راغی. خو چې هغه غرونو ، غارو او نورو نښخو ته یې اوکتل نو پوهـ شو چې نه ځاے هم هغه دے. یو ځائے خاورینه کټوي ماته پرته وه بل ځاے خاؤرین منګي او خاورین کنډولي الاؤړي پراتهٔ وو. دې نه علاوه یو څو زړے کیندړے دَ خېمې په ځائے پرته وې خونه خېمه وه ، نه دری وه او نه دَ شپې دَ اغوستو نورسامان وو . هغه دَ ډېره سوختـه دَ ولاړے نه کښناستو او خپل سر یې په دواړه لاسه اونیوو. هغهٔ دا سوچونه کول چې دَ هغهٔ ښځه او لونه څهٔ شوې. دَ ډېر سوچ او فکر نه پس هغه په دې نتیجه اورسېدو چې شاید هغوي کلي ته تلي دي او ځان سره یې کډه اوړلې ده ، دَ کډې په خیال او کلي ته په تلو دَ هغهٔ خیال پوخ شو . هغه غصه هم وو او خفه هم وو او ځان سره یې دا وے چې دَ هغو ي دا نیت وو نو دَ هغهٔ دَ راتلو انتظار خو به یې کړې وې . خو بیا یې دَخپلې خبرې تردېد په خپله اوکړو او ځان سره یې اووے ، "ماته خو دا وېلې شو ي وو چې هلته ډېره کېږه مهٔ ، یوه شپه دوه اوکړه او بیا راځه خو ما دَ تلو راتلو سره لس شپې بهر تېرے کړے ...او کېدېشي دَ کلي نه وریسې څوك راغلي وي او هغوي یې کډه اوړو ته مجوره کړي وي " . په دے خیال دَ هغهٔ یقین پوخ شو .دې نه پس به چې څومره خیالونه دَ هغهٔ ذهن ته راتلل ، واپس به تلل . هغهٔ به په زړهٔ کښې کرل ربېل چې دا خواخوږے څوك کېدېشي چې دَ هغه په غېرموجودګۍ کښې یې دَ هغهٔ دَ ښځې په





سر لوپټه واچوله او دَ هغهٔ دَ لونو په سر یې لاس کېښودو . په خپلو خپلوانو کښې ورته هېڅوك دومره زړهٔ خوږے او زړهٔ پورے ښکاره نشو . دَ خیال په درېچه کښې ورته اخر دَ پهلوان کاکا څهره ښکاره شوه او دا یې په زړهٔ کښې راغله چې کېدېشي هغه خپل ضمیر ملامته کړي وي ، خپله غلطي یې منلے وي ، دَ هغوي نه یې معافي غوښتے وي او دَ هغوي کډه یې ځان سره پورته کړے وي. دے خیال سره هغه اووے ، "پهلوانه ، ستا دَ لاسه خو زهٔ په شرمونو اوشرمېدم ، د دنیا دَ خندا شوم، ستا دَ لاسه زما لور خرڅه شوه ، ستا دَ لاسه زما کډه پورته شوه ، ستا دَ لاسه زهٔ چاسره دَ سترګو لګېدو قابل نه یم ، ستا دَ لاسه زما لور قاتله شوه او معلومه نه ده چې کوم ځائے به خواره زاره ګرځي ...خو څه ښهٔ ده چې تاخپله غلطي اومنله نو مامعاف کړے او زما هم هغسي رور یې لکه چې مخکښې وے ". دې سره هغه مُسکے شو ، خپله کیندړه یې اوسنډله ، بیا یې خوره کړه او په هغې کښې سملاستو.

په سبا هغه کلي ته روان شو . لوړ مازیګر وو چې کلي ته اورسېدو. په لاره کښې څوڅو کسان دَ هغهٔ مخې ته تېر راتېر شو خو هیچا اونه پېژندو ځکه چې هغهٔ په سرڅادر اچولے وو . هغهٔ څادر هله دَ سر نه لرې کړو چې کور ته اورسېدو . دَ هغهٔ په کورکښې دَ زېن خان غوا ولاړه وه او هغهٔ او دَ هغهٔ مور ورته ګوتاوه کوله . دَ هغهٔ په لیدو باندې هغوي ګوتاوه پرېښوده او هغهٔ سره یې په خندا مُسکا روغ



www.pukhto.Net

جوړ اوکړل . دَ زین خان مور دَ هغۀ نه دَ هغۀ دَ ښځې اولونو تپوسونه کول . تاواني کاکا پوهـ شو چې دَ هغۀ ښځه او لونړه کلي ته نه دي راغلې ګینې دومره خوبه ترینه خبر شوې وه . بهرحال هغه په خپل څادر خپلـه خولـه هم اوچولـه او هغې لـه یې دَ هغې دَ تپوسونـه جوابونـه هم ورکـول . دَ تپوسونو نـه پس هغې ګوتاوه زین خان ته پرېښـوده او چاې راؤړلو دَ پاره کورته لاړه . چې چا یې راتله نو دَ هغۀ نورخپلوان هم خبر شوي وو او ټول په یوه خپه راچلېدلي وو . ځینے خپلوانو به ورته وے ، "تاواني کاکا غټ شوے یې". ځینے به ورته وے ، "تۀ خو بېخي دَ پېژندونه اوتے یې "؟ یوپکښې دا هم اووے چې ، "تـه مالـه پـه مخـه راغلـے وے خو تا په سر څادر اچولے وو ، خدا ے شته اوم نه پېژندې ". بل پکښې اووے "مونږ یې بغیر څادره نۀ پېژنو، نو تا به په څادر کښې څۀ پېژندو " دَ سرو نه علاوه ښځودَ مرجاني ، حسیني ، میموني ، زینت او شمعې تپوسونه کول . په اخر کښې بـه یې پکښې دا هم اووې چې ، " دَ کرشمې نه خبرېږے هغه خنـګـه ده ؟" تاواني کاکا به هرې یوې ته وے ، ښۀ ده هغه هم ښه ده ، سلامونه یې وېي ، هغه چایې هم څکله او هغوي سره یې خبرې هم کولے ، دَ چایو پیالې لا دَ هغۀ په لاس کښې وه چې پنځه کسان پولیس دَ هغۀ پخبر راغلي له کورته ورننوتل . په دغه پنځو کښې یو اے اېس آئي وو او څلور سپاهیان وو . اے اېس آئي ، هغۀ ته مخامخ اودرېـدو او سپاهیان ترېنه چاپېره اودرېدل . دَ سلام نه مخکښې ترېنه





اے اېس آئي تپـوس اوکړو "ستا نوم تاواني دے"؟ دَ هغۀ په اودرېدو او تپـوس بـانـدې تـاواني کـاکـا دَ چایو پیالـۍ یو خوا تـه کېښوده او پاسېـدو. دَ پاسـېـدو سره یې ورته اووے "هاؤ صېب ، زمانوم تاواني دے " دې سره یې هغه له دَ ستړي مشي لاس ورکړو .

اے اېس آئي:. ښه نومونږ تاپسې راغلي یو.

تاواني کاکا:. ماپسې ...؟ ولې ما څۀ جرم کړے دے "؟

اے اېس آئي:. تاسره اېس پي صاحب هم لیدل غواړي خوتاپسې دَ عدالت لـه خوا هم دَ ګرفتارۍ وارنټ دے او مونږ دَ دوارو په تعمیل کښې تاپسې راغلي یو.

تاواني کاکا:. ماڅۀ جرم کړے دے ؟

اے اېس آئي:. تاخپله لور مسماتِ کرشمه خرڅه کړے ده او په دغه سلسله کښې تۀ مونږ ته مطلوب یې .

تاواني کاکا:. هاؤ صېب ماخپله لور خرڅه کړے ده ، هغه خپل لاس هغـۀ تـه وړاندے کوي او وائي ، "دے لاس کښې هتکړۍ واچوۀ صېب ، ځکه چې په دے لاس ما دَ هغې دَ سر پېسې اخستي دي او په دے لاس مِ دَ هغې لاس دَ هغې دَ خاوند په لاس کښې ورکړے دے " پولیس هغـۀ تـه هتکړۍ اچوي ، په هتکړو کښې یې دَ کوره اوباسي او په هتکړو کښې یې تانې ته بوځي .

★★★

★



www.pukhto.Net

## ﴿نهم باب﴾

دَ پلوشې په تلو باندې شان ته سخته ذهني او قلبي صدمه اورسېده . هغه ډېره شېبه په خپل بېډ کښې پروت وو او دَ هغې متعلق يې سوچونه او فکرونه کول . هغه دَ هغهٔ په زړهٔ او ذهن کښې داسې ننوتې وه چې دَ هغهٔ په ويستونه وته او دَ هغهٔ په هېرولو نه هېرېده . دَ هغهٔ دَ کمرې په لاندې چهت هغه وه . دَ کمرې په ګوټونو کښې هغهٔ وه ، دَ يونيورسټۍ په پارکونو کښې هغه وه ، تردې چې کله کله به يې په خپل سيورې هم دَ هغې ګمان کوو او څوځو ځله دَ هغې په خيال دهوکه شو . چې کله به هغهٔ ته دَ هغې دَ جُدائې احساس اوشو نو په ګڼو خلقو کښې به ورته ځان تنها او په اباده ابادۍ کښې به ورته ځان په بېديا ښکاره شو . بل خوا دَ عاليې دَ وادهٔ نېټه اينښودې شوې وه . دَ هغې دَ وادهٔ پروګرام جوړېدو او دَ هغې دَ تلو په خيال دَ هغهٔ زړهٔ خوږېدو . دَ هغې دا ارمان وو چې دَ هغې دَ وادهٔ نه مخکښې دَ هغې دَ لالاجي وادهٔ اوشي او هغه دَ خپلې بابي خدمت اوکړي خو قدرت ته دا منظوره نه وه او دَ شان هغه خبره رشتيا شوه چې ، "زما دَ ناوې ډولۍ به هله راځي چې ستا ډولۍ پورته شي".

عاليې غوښتل چې دَ هغې وادهٔ له پلوشه راشي او هغه ورسره پټ په پټه دَ هغهٔ خبره پخه کړي . په دے غرض هغې څوځو هغې ته کال اوکړو خودَ هغې موبائېل بند وو . هغې څوځو ځله کوشش اوکړو خو چې اونشوه نو بيا يې دَ شان په ذريعه هغې سره دَ رابطې کوشش





اوکړو خو هغې دَ شان په خواست موبائېل نمبر بدل کړې وو او دَ هغې نه پس يې هغهٔ سره رابطه نه وه شوې . دَ پلوشې اته پته هغه ته معلومه وه خو هغهٔ نه غوښتل چې هغې له دَ عاليې دَ وادهٔ بلنه ورکړي ځکه چې هغهٔ هغې ته وېلے وو چې ، "ماسره دَ ملاوېدو کوشش اونکړې . زهٔ نه غوارم چې زما په نامه توره شې او دَ خلقو دَ پېغوره شې " اګر چهٔ هغهٔ ته خپل ځان ملامته ښکارېدو خو هغهٔ نه غوښتل چې دَ هغهٔ په وجه هغې ته نورې کړمې پېښې شي . دَ عاليې دَ وادهٔ نه پس هغهٔ دَ يونيورسټۍ په هاسټل کښې ښه په پخه پرېوتو . په يونيورسټۍ کښې خپلو ملګرو او استاذانو پروفېسرانو سره دَ هغهٔ ناسته ولاړه او ګډون کم شوے وو . چې کله به کلاس ختم شونو کېفې ته به لاړو او په هغه کرسۍ به کېناستو په کومه به چې دَ طالب علمۍ په زمانه کښې هغه کېناستو او هغه مخامخ کرسۍ او هغه ځاے ته به يې کتل په کومه به چې پلوشه کېناسته . او که بالفرض هغه کرسۍ به خالي نه وې نو تر هغې به بهر اخوادېخوا ګرځېدو چې ترڅو به هغه کرسۍ خالي شوې نه وې . يوه ورځ هغه په کېفې کښې په خپله زړه کرسۍ ناست وو او دَ چايې پيالۍ ورته په مېز پرته وه . هغهٔ به مخامخ خالي کرسۍ ته هم کتل او په خوند خوند به يې دَ پيالۍ نه ګوټ هم کوو، په دېکښې دَ ايم فِل يوه جينۍ نرګس راغله ، هغه ته يې سلام اوکړو او دَ هغهٔ نه يې په هغه کرسۍ دَ ناستې اجازت اوغوښتو په کومه به چې پلوشه کېناسته . هغهٔ ورته



www.pukhto.Net

په مُسکا اووے ، "یس پلیز ".

دَ هغـهٔ دَ مُسـکا په جواب کښې هغه هم مسکی شوه او وې وئیـل ، "تینك یو سر". یوساعت دَ پاره هغهٔ ته دا محسوسه شوه لکه چې دَ نـرگس پـه ځـاے هغـهٔ ته پلوشه مخامخ ناسته وي . هغهٔ به دَ هرگوټ سره هغې ته په مُسکا مُسکا کتل . دَ هغهٔ دَ مُسکا په جواب کښې بـه هغه هم مسکی شوه . دَ هغوي دَ سترگو دَ مُسکا دغه پټ پټونې لاشروع وو چې هغهٔ ته دَ هغې دَ وجود احساس اوشو . دې سره هغهٔ سوري اووے ، پاسېدو او روان شو . دې نه پس به نرگس هغه سارلو او چې کـلـه بـه هغه کېفی ته ورغی او په خپل زوړ ځاے به کېناستو نو هغه به هم دَ چرته نه راغله او دَ هغهٔ په اجازت به هغهٔ ته مخامخ په کرسی کېناسته . هغوي دواړه ډېره موده یوبل ته مخامخ یو مېـز تـه کېناستل او دواړو به یو بل ته په مُسکا مُسکا کتل خو یو بـل سره یې ذاتي خبرې نه وې شوې . یوه ورځ چې دَ معمول مطابق هغـهٔ چایې اوڅکله او روان شو نو خپلې چشمې ترینه په مېز پاتې شـوې . دَ هغـهٔ دَ تـلو نه پس نرگس هغه چشمې اوچتې کړې او هغهٔ پسـې دَ کـېـفی نـه اووتـه خو هغهٔ ډېر په توندی روان وو او اواز ورکول هغـې مـنـاسب اونه گڼل . هغه تلو تلو اڼ چې هاستېل ته ننوتو . هغه چې کـلـه خپلې کمرې ته ورتلو نو هغې دَ روستو نه اواز ورکړو او وې وئېل ، Professor shan, your sunglasses please . هغهٔ چې هغې ته او خپلو چشمو ته اوکتل نو مُسکے شو، دَ هغې مخې له ور





روان شـو او ورتـه یـې اووے ، oh,sorry. you took so much trouble for me .

نرگس (په مُسکا ) Never mind sir .

شان:. ?....Thank you miss .

نرگس :. (مسکی شي).Nargas, sir .

شان:. . Thank you miss Nargas, once again

دې نـه پـس بـه هغـوي دَ معمول مطابق پـه کېفی کښې مـلاوېدل او یوبل ته به یې په مُسکا مُسکا کتل . دَ وخت تېرېدو سره هغـهٔ تـه دا احساس اوشو چې هغه دَ هغهٔ په ذات کښې دَ حد نه زیاته دلچسپي اخلي خو هغـهٔ نـه غـوښتـل چې دَ پلوشې مقام بل چاله ورکړي . بهرحال هغـهٔ نـه خپـل معمولات بدلولي شواونه یې دغه کېفي پرېښودے شوه . یوه ورځ چې هغه کېفی ته ورغی نو نرگس دَ هغـهٔ نه مخکښې رسېدلې وه ، په خپله کرسی ناسته وه او دَ اخبار په کتـو کښـې مصروفه وه . هغه چې خپله کرسی له ورغی نو هغې ته یـې سلام اوکـړو . هغـې دَ هغـهٔ سلام واخستو او پـه مُسکا یې دَ کـېـنـاستـو اجازت ورکـړو . دې سره هغه دَ اخبار په لوستلو کښې بیا مـصروفـه شوه . یوه شېبه پس یې دَ اخبار نه سر اوچت کړو او هغهٔ ته یې اووې ، "شان صیب ، تاسو نننے اخبار کتلے دے ؟"

شـان:. نه مس نرگس لامِ نه دے کتلے . زهٔ اخبار هله گورم چې خپلې کمرې ته اورسم او ریلېکس شم .ولې څهٔ خاص خبره ده پکښې؟



www.pukhto.Net

نرګس:. تاسو دَ CSS په تېر امتحان کښې شامل شوے وئ ؟

شان:. هاؤ شامل شوے ووم.

نرګس:. ستاسو رول نمبر څهٔ دے ؟

شان :. زما رول نمبر 290 دے .

نرګس (مسکے شي) ښه نو مبارك شه . تاسو نه صرف پاس شوے یئ بلکه ټول بېچ مو ټاپ کړے دے . دا اخبار اوګورئ پلیز، هغه چې دَ هغې نه اخبار واخلي او په هغې کښې دَ خپل رول نمبر کتو هڅه کوي نو دَ هغهٔ په موبائېل رینګ راشي . هغه اخبار واپس اږدي او موبائېل اوچتوي . هغه چې موبائېل او.کے کړي او هیلو اووائي نو اواز راشي ، "نن اخبار دے کتلے دے ؟". موبائېل نمبر اګر چهٔ بدل وو خو اواز بدل نه وو. دا اواز دَ پلوشې وو. دَ هغې په تپوس هغه مُسکے شو او وے وئیل ، نه، نه مِ دے کتلے ؟

پلوشه :. مبارك شه شان. تادَ CSS ټول بېچ ټاپ کړے دے .

شان:. تېنك یو پلوشې . ستاڅهٔ پوزیشن دے ؟" دَ جواب ورکولو په ځائے دَ هغې په خوله سلګئ راشي . هغه چې دَ هغې دَ سلګئ اواز واورېدو نو دَ هغهٔ دَ خولې نه بې اختیاره اووتل ، اوه مائي ګاډ .تهٔ ژاړې پلوشې relax please . Come on please ، دې سره دَ هغهٔ په موبائېل دَ هغې اواز بند شي . هغه وارخطا پاسېدو ، ډکه پیالئ چاې یې په مېز پرېښوده او ډېر په تېزئ سره بهر اووتو . هغه چې خپلې کمرې ته اورسېدو او اخبار یې راواخستو نو دَ اخبار په درېم مخ دَ CSS





دَ امتحان نتیجه اوتې وه . هغهٔ چې خپل نوم او رول نمبر ته اوکتل نو هغه واقعي په ټاپ راغلے وو ، خو چې روستو چې ورپسې لاړو نو دَ پلوشې نوم او رول نمبر پکښې نه وو. دَ هغې په ناکامئ هغهٔ ته ډېر افسوس او شو ځکه چې CSS پاس کول دَ هغې ارمان وو او دَ هغې ارمان نیمګړے پاتې شو . دې سره هغهٔ ته دَ باغ ډهېرئ هغه منظر رایاد شو چې هغوي یو بل له چېلنج ورکړے وو او شان ورته وېلے وو چې دا مقابله به کوو خو صرف دَ پاس کېدو نه بلکه په ټاپ تهري کښې دَ راتلو . . .او هغې دغه چېلنج قبول کړې وو. د دے خیال په راتلو باندې دَ هغهٔ دَ خولې نه بې اختیاره اووتل "اوه خُدایه ، ماخو داسې نه ګڼله . . .دریغه زما په ځائے هغه پاس شوې وې . CSS پاس کول دَ هغې ارمان وو او دَ هغې ارمان نیمګړے پاتے شو. داسې معلومیږي چې ما په ګټه کښې تاوان اوکړو ، هغهٔ ډېره شېبه ځان سره خودکلامي کوله . بیا یې موبائېل اوچت کړو او دَ هغې دَ تسلي دَ پاره یې هغې ته کال اوکړو . دَ هغې دَ هیلو سره هغهٔ اووے ، "پلوشې څنګه یې ".

پلوشه :." ښهٔ یم شانه . . .شانه ، ستا په کامیابئ ډېره خوشحاله شوم زما دعاده چې خدائے دے لوے سړے کړه ". شان دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلي او وائي ، "پلوشې ، ستا دَ نېکې پېرزونې ډېره ډېره شکریه خو که تهٔ CSS پاس کولو زما کامیابي ګڼې نو په دې کښې زما هیڅ دلچسپي نیشته . دا امتحان ماستاپه خوښه ورکړے وو.



www.pukhto.Net

CSS پاس کول او دَ CSS افسر جوړېدل نه مخکښې زما ارمان وو او نـه مِ اوس دے . زمـا ارمـان تـهٔ یې ، صرف تـهٔ ، خو چې تهٔ لکـه دَ صحرانـۍ کـونترې زما دَ لاس نه والوتې او زهٔ دې تش لاس پرېښودم نو په CSS به څهٔ اوکړم . زما ارمان تهٔ یې CSS نه دے ".

پلوشه :. داسې مه وایه شانه پلیز . ته به CSS پوسټ اخلے او خامخا به یې اخلے . زما دَ پاره ، زما دَ زړهٔ دَ پاره . چې تهٔ دَ CSS پـه کرسۍ کېنے نو داسې اوګڼه چې زما یو ارمان پوره شو . . .شانه یو خواست مِ منے ؟

شان:. خواست ؟ حکم کوه پلوشې . . .وایه څهٔ وېل غواړې ؟

پلـوشه :. شانه ، تاماته په اخري ملاقات کښې وېلے وو چې ، "ماسره دَ مـلاوېـدو کوشش اونکړې "خو که تهٔ خپل الفاظ واپس اخلے نو زهٔ تاسره ملاوېدل غواړم .

شان:. نـه پـلـوشې ، مامهٔ مجبوره وه پلیز . زهٔ خپل الفاظ واپس نشم اخستے البتـه کـه تـهٔ څـهٔ وېـل غـواړے نـو ماسره په موبائېل رابطه کولې شې . وایه پلیز ، تهٔ څهٔ وېل غواړې ؟

پلوشه :. داسې نه ، شانه پلیز ، دَ یو اخري ملاقات موقع راکړه .

شان:. تهٔ نه پو هېږې پلوشې ، زهٔ نه غواړم چې زمونږ مینه رسوا شي مامهٔ مجبوره وه پلیز .

پلوشه :. شانه پلیز ، فارګاډ سېك پلیز . دَ یو اخري ملاقات موقع راکړه پلیز .

شان:. O,k ، ټیك ده ، راشه ، "دې سره هغه موبائیل بند کړې".

★★★★★





## ﴿دویمه برخه﴾

پـه صبـانـرګـس پـه کېفـۍ کښې ترناوخته پورې دَ هغهٔ انتظار کـوو خـو هغـه دَ کلاس ختمېدو نه پس کېفۍ ته لانه رو بلکه هاسټل تـه لاړو ځـکـه چـې هـغـه ته پته وه چې پلوشه به دَ هغهٔ لیدوله ضرور راځي . هغهٔ لا دَ هغې دَ راتلو په باره کښې سوچ کوو چې هغه راغله. هغـه دَ هغـهٔ دَ کـمـرې پـه دُرشل اودرېده او هغهٔ ته یې اووې ، "اجازت دے پـلـیـز ؟"شـان هـغـې تـه پـه مُسکا اوکتل او وے وئیل ، "کـه زهٔ اجازت درنکړم نو واپس به شې ؟" دَ هغه په تپوس هغه مسکۍ شوه او وې وئیـل ، "نه چرې هم نه ، *چاہے میری روح جائے، چاہے میری جان جائے*". دې سره هـغـه بـغـېـر اجازتـه دَ هـغـهٔ کمرې ته ورغله. شان دَ هغې په احتـرام کښـې دَ خپـل بـېـډ نـه کوز شو او دَ هغې هرکلي ته اودرېدو . هغې دَ مېهټائي ډبلې یو خوا ته کېښودو او چې هغهٔ ته یې اوکتل نو پـه ځـان پـو هـ نشـوه او بې اختیـاره ورتـرغاړه وتـه. دواړو دَ یو بل نـه لاسـونـه تـاؤ کـړل او دَ یو بل په اوږو یې سرونه کېښودل. دَ دواړو زړونه درزېدل او یوبل ته یې ډېرڅهٔ وئیل خو دَ جذباتو په هنګامه کښې پرې هغوي نه پو هېدل . هغوي دَ مینې په سمندر کښې دَ طوفاني جذباتو او دَ هـیـجاني کېفیاتو په لاشعوري مدوجزر کښې ډېره شېبه خاموش ولاړ وو . پـه ولاړه ولاړه کښـې هـغـهٔ دَ هغې دَ سلګۍ اواز واورېدو. دې سـلـګـۍ سره دَ هغهٔ په بدن کښې دَ احساس یوداسے برقي رو تېر شو چې دَ هـغـهٔ دَ مـیـنـې دنیـا یـې اولـړځـولـه . هـغـهٔ دَ هغې دَ اوږې نـه



www.pukhto.Net

سراوچت کړو او چې هغې ته یې اوکتل نو دَ هغې سینه لکه دَ اَتش فشا ن غرلړځېده او اَتشینه لاواترېنه دَ هغې دَ سترګو په لارو وته . هغهٔ په یره یره هغه په خپل ښۍ کښې کېنوله . دَ هغې سر یې په خپله غېږه کښې کېښودو او په خپل رومال یې دَ هغې اوښکي اوچولې خونه دَ هغې سلګۍ قلارېدلې او نه دَ هغې اوښکے اودرېدلې . هغهٔ خپل تندے دَ هغې په تندي کېښودو . دَ هغهٔ دَ سترګو اوښکې دَ هغې په سترګو ورېدې ، دَ هغې اوښکو سره یو ځائے کېدې او په بیلو بیول لارو دَ هغې په سپین مخ بهېدې. یوه شېبه پس هغې دَ هغهٔ دَ غېږ نه سر اوچت کړو، خپلې اوښکې یې اوچولې او خاموش ناسته وه . شان خپلې اوښکې اوچے کړے، مسکے شو او هغې ته یې اووے ، "پلوشې ته خو ډېره بهادره جینۍ وې .تاخو به اکثر ماله ډاډ راکوو . دومره بزدله ولې شوې؟ په تاځهٔ اوشو؟ دا اوښکې به ترکو مې بهوې ؟" پلوشې هغهٔ ته په سرو سترګو اوکتل او په ډډ اواز کښې یې اووې ، "شانه ، ترڅو چې زهٔ ژوندۍ یم او سترګې مې غړیږي نودا اوښکې به بهیږي ، اوچې پټې شي نو په خپله به اوچې شي ".

شان :. اوه مائي ګاډ . . .دا کېس تهٔ دومره سیریس ولې اخلې . پاس فېل خو ژوند سره تړلي څېزونه دي . دا دَ یوې سکې دوه مخونه دي . کله یو اوکله بل . ریلېکس پلیز .

پلوشه :. شانه ، زهٔ دَ امتحان په ناکامۍ نه ژاړم بلکه دَ خپل مستقبل





او دَ خپل ژوند په ناکامۍ ژاړم. شانه ، تهٔ زما ړومبۍ مینه او اخري ارمان یې . داسې معلومیږي چې زمونږ دَ قسمت مزي دَ بل په لاس کښې دي . زمونږ امیدونه او ارمانونه دَبل په لاس کښې دي . زمونږ وارې دَ بل په لاس کښې دي . هغه مونږ خپلې خوښخې ناخوښخې او خپلې مرضۍ ته نهٔ پرېږدي . . .زهٔ څهٔ اوکړم شانه ؟ شانه، لږه شېبه مخکښې تا وېلے وو چې ، " ته دومره بزدله ولې شوې"؟ زهٔ بُزدله نه یم شانه خو تا اودې معاشرې رانه بُزدله جوړه کړې ده . ماتاسره دَ شریکهٔ حیات وعده کړې ده او په خپله وعده ټینګه ولاړه یم. زهٔ دَ خپلې معاشرې نه بغاوت کولې شم خوستا دَ مینې نه بغاوت نشم کولې . زهٔ دَ هر هغه چانه بغاوت کولې شم چې زما دَ مینې په لاره کښې خنډ جوړیږي خو چې ته مِ نه قبلوے نوتاسره څهٔ اوکړم . . . شانه ، کېدېشي دا زمونږ اخري ملاقات شي. اوس هم وخت دے ، راځه چې یوبل له دَ مینې لاس ورکړو او همېشه همېشه دَ پاره یو شو زهٔ دَ ژوند دَ ډرامې هغه بدقسمته کردار یم چې دَ دنیا ټول غمونه یې راغونډ کړي دي او زما په سریې پنډ کړي دي . درېغه چې زهٔ پېدا نه وې او که پېدا وې خو چې تهٔ مِ لیدلې نه وې . . .شانه ، ډوبېږمه ، غرقېږمه ، دَ ژوند د طوفانونو دَ خړ سېلابونه مِ وېستلے شے؟ شانه، دا نازك بدن او تنکۍ مینه دَ ازغین حالاتو دَ ترسکو او حادثونه وېستلے شے ؟ که دا کولے شے خولاس راکړه پلیز. (هغه هغهٔ ته لاس نیسي) "او که لاس نه راکوے نو خپله وعده دے ماته کړه او ما



www.pukhto.Net

له اجازت راکړه چې دَ خپل ژوند خاتمه په خپله اوکړم".

شان:. پلوشې، دا دَ بې عقلۍ او حماقت خبرې مۀ کوه .تا په خپله اووې چې زمونږ دَ قسمت مزې دَ بل په لاس کښې دي .ښه به دا وي چې په خپل قسمت صبر اوکړې اودَقسمت فېصله ازلي فېصله اوګڼې". هغه خپل لاس راغونډه وي او په ترخه لهجه کښې وائي، "ماته ستا دَ نصيحت ضرورت نيشته . اونه ماته ستا دَ اجازت ضرورت شته . دا کار زۀ په خپله هم کولې شم (هغه پاسي) زۀ درنه ځم . . .شايد بيا زمونږ ملاقات اونشي . . .دا هم کېدېشي چې مونږ دَ يوبل دَ مينې نه همېشه همېشه دَ پاره محروم شو. بهرحال زۀ په تلو تلو کښې ستا شکريه ادا کوم چې تا خپل لوظ او زما ارمان پوره کړو. زۀ تاله مبارکي درکوم او دا اميد کوم چې ته به دَ CSS پوسټ اخلے چې زما د ارمان تکميل اوشي .

شان :. پلوشې ماتاته مخکښې هم وېلے وو او اوس درته بياوېم چې زۀ په خپله نوکرۍ خوشحاله يم. زۀ دَ الله ډېر شکرګزار يم چې ماله يې هغه نوکري راکړے ده کومه چې ما غوښته .

پلوشه :. ستا دَ پاره دوه آپشنز دي خو روستې زماخواست اوګڼه پليز.

شان:. ستاخواست به هله پوره کېږي چې ماسره دا وعده اوکړې چې دَ خپل مورپلار دَ خوښخې ناخوښخې نه به روګرداني نۀ کوې او په هر حال کښې به دَ هغوي دَ عزت پاسداري کوې .

پلوشه:. دا ستا خواست دے که حکم .





شان:. چې کوم درته بهتر ښکاري . . .ماسره وعده اوکړه، هغه ډېره شېبه خاموشه وي . بيا وائي، "وعده ده" دې سره هغه پاسي . شان هغې ته په مُسکا ګوري او وائي، "Smile please". دې سره دَ ناخوالې مُسکا دَ هغې په خولۀ خوره شي، هغۀ ته په ډکو سترګو ګوري او وائي "دَ الله په امان".

شان:. دَ الله په اما . . . . . . . . .ن"

## ﴿ دريمه برخه ﴾

په ټوله يونيورستۍ کښې دَ شان دَ امتيازي کاميابۍ غږ خور شوے وو. دَ هغۀ شاګردان پروفيسران او هرڅوک چې دَ هغۀ دَ کاميابۍ نه خبرېدل نو خوشحالېدل او ډلې ډلې دَ هغۀ مبارکۍ له ورتلل . دَ هغۀ دَ کاميابۍ نه دَ هغۀ مور پلار او رونړه خويندې هم خبر شوې . هلته دَ خوشحالۍ ډزے کېدے او شيرينۍ تقسيمېدې . دَ هغوي حجره په رنګا رنګ پرپرکو اوسهرو ښائسته کړې شوي وه او دغه حال دَ هغو ي دَ کور هم وو لکه چې درنګ ساعت له دَ هغوي حجرې ته دَ هغۀ دَ وادۀ جنج راځي او دَ هغوي کورته دَ هغۀ دَناوې ډولۍ راځي . عاليه رارسېدلې وه او دَ هغۀ په انتظار کښې ناسته وه . هغه چې حجرې ته ورغۍ نو ټول نوکران او زميداران دَ هغۀ په خېر راغلي ته پاسېدل . يويو به ورترغاړه وتو او مبارکي به يې ورکوله. محمد اعظم خان په خپل خصوصي کټ کښې بالښت ته ډډه وهلے وه . شان چې دَ نوکرانو، زميدارانو او دَ کلي دَ نورو خلقو دَ مبارکۍ نه



www.pukhto.Net

فـارغ شو نو دَ پلار سلام له ورغی . اعظم خان هغهٔ ته ورترغاړه وتو یو لاس یـې دَ هغـهٔ نه تاؤ کړے وو او په بل لاس یې دَ شابشي په توګه په ملا ټپوو . هغه لا هغهٔ سره غاړه په غاړه وو چې دَ کور نه ورپسې بلنه راغـلـه . هغه چې کورته ورغی نو دَ هغهٔ رونړه خویاندې او دَ هغهٔ مور دَ هغـهٔ استـقبال تـه ولاړه وه . دَ هـر یـو دا خواهـش وو چې مخکښې ورسره هغـه مـلاؤ شي او هغهٔ له مبارکي ورکړي . په دغسې موقعه کښې دَ عـالیې مقابله چاکولې شوه ؟ هغې ټول دیکه رادیکه کړل ، دَ ټولـو نـه مـخـکښـې شـوه او هغهٔ له یې مبارکي ورکړه . دَ هغهٔ دَ مور نـمبـر هـلـه راغـی چې دَ هغهٔ دَ رونړو خویاندو مبارکي اوشوه . دَ هغهٔ مـور هغـهٔ تـه ورتـرغـاړه وتـه او هـغـه یې څوڅوځله ښکل کړو. هغه حېـران وو چې دا څـهٔ دي او څـهٔ کېږي ؟ په دومره معمولي کامیابۍ دومره لویه خوشحالي؟ دا کامیابي اګر چې دَ هغهٔ دَ پاره لویه نه وه خو دَ هـغـوي دَ پاره لویه ځکه وه چې په دې بهانه بلکه په دے شرط هغهٔ خپـل وادهٔ څوڅوځله ځانګولے وو. او چې دا شرط پوره شو نو دَ هغه انـه بهانـه ختـمـه شـوه او دا کـامیـابي دَ هـغـوي دَ پاره دَ هغهٔ دَ وادهٔ یو زېـرے وو. نـرګـس پـه یـونیـورسټۍ کښې څوڅوځلـه هغـهٔ سره دَ ملاوېدو کوشش اوکړو خو داسې مناسبه موقعه ورته ملاؤ نشوه چې هغـه سره پـه تـنهـائي کښـې ملاؤ شي . او کومه مبارکي چې هغې ورکړې وه پـه هغـې یـې سـود نـه کېـدو . چې کله هغه کلي ته لاړو نو هلته دَ مېلمنو په وجه یو څو ورځې په کلي کښې ایسار وو. په دغه





دوران کښـې هـغې څو څوځله هغهٔ سره دَ ملاوېدو کوشش اوکړو خو چې هـغه یې اونه لیدو نو بیا یې دَ هغهٔ دَ ډیپارټمنټ نه دَ هغهٔ اته پته او مـوبـائـېـل نمبر معلوم کړو او هغهٔ ته یې کال اوکړو ، دَ رینګ ورتلو سره هغه موبائېل اوچت کړو او وے وئی "هیلو څوك خبرې کوی"؟

نرګس: . زهٔ نرګس خبرې کوم شان صېب.

شان: . (په حېرانتیا، نرګس ...؟ څوك نرګس پلیز؟)

نـرګس: . شان صېب ، زهٔ هغه نرګس یم چې تاله مې دَ یونیورسټۍ په کیفۍ کښې مبارکي درکړې وه .

شان :. oh, yes I see. ښه مس نرګس ته څنګه یې .

نـرګس :. زهٔ ښـهٔ یـم سر، امّی مِ ستا دَ کامیابۍ نه خبر کړه . هغه ډېره خـوشـحـالـه شـوه . هغـه تـالـه مبارکي هم درکول غواړي او تـاسره ملاوېدل هم غواړي .

شان :. ډېره ډېره شکریه ، امّی ته زماله خوا سلامونه وایه خوفی الحال زهٔ پـه کـلي کښـې مـېلمنو سره ناست یم که موقعه ملاؤ شوه نو تاسو دواړو سره به ضرور ملاقات کوم. دې سره هغه موبائېل بند کړو او بند موبائېل ته یې ډېره شبهه په سوالیه نظر کتل . داسې معلومېده چې هغه خپل موبائېل ته نه بلکه دَ هغې کردار او شخصیت ته دَ شك په نظر ګوري او زړهٔ کښـې وائي چې ستـامـاسره څهٔ تعلق او څهٔ نسبت دے ؟ مـعـلـومـه نـه ده چې نـرګـس به هغهٔ ته نور څهٔ څهٔ وېلې خو دَ مـوبـائـېل بندېدو سره دَ هغې دَ زړهٔ خبرې په زړهٔ او دَ خولې خبرې یې



www.pukhto.Net

په خوله پاتې شوي . هغې دَ هغهٔ حرکت مائنډ نه کړو او بله ورځ هغهٔ اودَ هغې مور مېډم مسرّت په خپل موټر کښې سره دَ تحفو کېناستل او دَ هغهٔ مبارکۍ دَ پاره دَ هغهٔ کور ته روان شول . چې هلته اورسېدل نو هغوي دَ ګاډي نه کوزې شوې او سره دَ تحفو دَ هغهٔ کور ته ورغللې . دَ هغوي په ورتلو سره دَ شان رونړه خویاندې او دَ هغهٔ مور دَ هغوي سترې مشي ته پاسېدل او هغوي يې ډېر په عزت سره کېنول . دَکېناسو نه پس نرګس خپل تعارف داسې اوکړو ، "زما نوم نرګس دے (مورته اشاره کوي) او دا زما مورده . مونږ دواړه دَ شان صېب مبارکۍ له راغلي یو.

عاليه :. اوه نرګس ، هغه بله ورځ شاید تافون کړې وو.

نرګس :. هاؤ جي مافون کړې وو. ما هغوي له مبارکي ورکړه خو امّي وې چې دواړه به کورته ورشو هغه له به هم مبارکي ورکړو او دَ هغهٔ مور پلار او خویاندو رونړو له به هم مبارکي ورکړو .شان صېب کلي کښې دے ؟

عاليه :. نه بي بي هغه ستاسو دَ راتلو نه لږ مخکښې یونیورسټۍ ته لاړو . هلته ورله خپلو ملګرو دَ پارټۍ څهٔ پروګرام کړے دے .

مېډم مسرّت (مېډم طاهري بي بي ته ) بي بي زمونږ دَ طرفه مبارکي قبوله کړې اودَ مبارکۍ نه پس زهٔ تاسو ټولو له په خپل کور کښې یو وړوکې شان دعوت درکوم . په دې بهانه به ستاسو آؤټنګ هم اوشي او یوبل سره به خبرې اترې هم اوشي .





طاهره بي بي :. بي بي تاسو کوم ځائے اوسېږۍ ؟

مېډم مسرت:. مونږ په ډیفنس کالوني کښې په ګلي نمبر 1 کور نمبر 4 کښې اوسېږو او زهٔ غواړم چې دَ هغهٔ دَ انټرویو او ټرېننګ له دَ تلو نه مخکښې زهٔ هغه سره دَنرګس په باره کښې یو څو خبري اوکړم. په دې خبره هغه مسکۍ شي او دَ هغوي تاثراتو ته ګوري . عاليه او دَ هغې موریو بل ته په سواليه نظر ګوري . بيا ورته عاليه وائي ، "دا خو ډېره ښهٔ خبره ده ، چې لالاجي راشي نو زهٔ به ورته ستاسو پيغام وررسوم ". دې نه پس دَ چاې شربت دور شروع شو. هغوي ډېره شېبه ناستې وې او خپلو کښې يې خوږې خبرې کولې خو چې هغه رانه غۍ نوبيا واپس لاړې . ماښام چې شان کور ته راغۍ نو مور او عاليې ورته دَ نرګس او مېډم مسرّت دَ راتلو او دَ هغوي دَ دعوت ټوله خبره اوکړه خو هغهٔ دَ هغوي راتلو اوتلو کښې هيڅ دلچسپي وانه خسته . دَ هغوي خبره يې په خندا کښې واړوله او خپلې کمرې ته روان شو . هغه نه غوښتل چې دَ پلوشي نه پس هغه نرګس سره مراسم شروع کړي . دَهغې او دَ هغې دَ مور په راتګ هغه نور هم شکي شو . هم دغه وجه وه چې په موبائېل يې هغوي دَ راتلو شکريه ادا نه کړه او خبره يې داسې پټه اوساتله لکه چې هغه دَ هغوي دَ راتلو نه هډو خبر نه وي . دې نه پس نرګس څو څو ځله هغه ته فون اوکړو خو هغهٔ ورسره رابطه اونکړه .

★★★★★



www.pukhto.Net

## لسم باب

دَ شان دَ ژوند نوے باب شروع شوے وو. دَ انټرویو نه پس هغه ټرېننګ دَ پاره سېول سروسز اکېډمي اسلام آباد ته لاړو. دَ ټرېننګ دَ پاره ټولو کامیابو امیدوارانو له بلنه ورکړې شوې وه . په ړومبۍ ورځ چې هغه هال ته ورغے نو دَ ټاپ ټو کامیابو کسانو دَ پاره په ړومبي قطار کښې دوه کرسۍ اېښودے شوې وې او په هغه کرسیو دَ هغوي دَ رول نمبرو کارډونه پراته وو. دې نه علاوه په نورو کرسیو نمبرې نهٔ وې لیکلے شوے او هر سړے په خپله مرضۍ کښېناستے شو . لږه شېبه پس یوه صنف نازك په نازوادا راغله ، هغه ته یې سلام اوکړو او په مُسکا مُسکا یې دَ هغهٔ خوا کښې په یوه کرسۍ یې دَ کښېناستو اجازت اوغوښتو . شان چې هغې ته اوکتل نو په حېرانتیا یې اووے ، "مس نرګس ته ؟ دلته ؟ تهٔ دلته څهٔ کوے ؟ هغه یو ځل بیا مسکۍ شوه او هغهٔ ته یې اووې ، "ماته پته وه چې ته به دلته راځے . زهٔ ستالیدو له تاپسې راغلې یم شان صیب ".

شان :. که څهٔ ضروری خبره وه نو ماسره به دې په موبائېل رابطه کړې وه .

نرګس:. موبائېل ؟ موبائېل باندې خو تهٔ ماسره رابطه نه کوے ځکه راغلم. زهٔ تاسره کښېناستې شم پلیز؟

شان :. سوري نرګس . زهٔ تاله دَ ناستې اجازت نشم درکولے ځکه چې دا کرسۍ الاټ شوي دي او دې باندې به هغه کسان کښېني څوك چې راغوښتے شوي دي . تهٔ اوس لاړه شه نن زمونږ دَ ټرېننګ ړومبۍ





ورځ ده او د دې ټرېننګ دَ افتتاح دَ پاره وزیرداخله راروان دے . څه تهٔ اوس لاړه شه پلیز ، مازیګر څلور بجې به زهٔ تاسره په فون رابطه اوکړم ". نرګس دَ هغهٔ دَ هدایاتو هډو څهٔ پروا اونکړې او هغه سره خوا کښې په بله کرسۍ کښېني . دَ هغې په سرکشۍ دَ هغهٔ خاطر دروند شي خو هغې ته دَ خپل خفګان اظهار اونکړې . دَ کښېناستو سره هغه مسکۍ شي ، هغه ته ګوري او وائي ، "شان صېب زهٔ او زما مور ستاسو دَ کامیابۍ دَ مبارکۍ دَ پاره ستاسو کورته درغلي وو خو دا معلومه نه ده چې تاسو کورنه وېۍ او که مونږ سره مو ملاوېدل نه غوښتل . البته ستاسو مور بي بي او عالیې او سعدیې له مو مبارکي ورکړه . عالیه ډېره ښه جینۍ ده . زما ډېره خوښه ده .زمونږ یې ډېر عزت اوکړو او په لږ ساعت کښې راسره داسې بلده شوه لکه چې زما دَ عمرونو ملګرې وي . تاته به شاید هغې زمونږ دَ راتلو خبره کړې وي . زماستاسو کور او ستاسو دَ کور ماحول ډېرخوښ شو . ماته پکښې ډېر سکون ملاؤ شو . خپل کورته مِ تلو ته زړهٔ نه کېدوخو دَ مور په وجه مِ خپل زړهٔ ته اونه کتل او هغې سره نیمګړې نیمه خوا روانه شوم. ماخو تاته څوځوکالونه اوکړل خوتاسو زماکال اټنډ نکړو . څو څو مېسجز مِ درکړل خو تا جواب رانکړو . . .افسوس چې تاسو ماته هډو هیڅ نظر اونکړو . ډېره ګیله مِ درنه کېږي شان صېب" . هغه په یوه ساه لګیاوه او خولي له یې وارنه ورکوو چې هغې خپلې خبرې ختمې کړې نو هغهٔ ته یې په مایوسه نظر اوکتل او وې وئیل ، "شان



www.pukhto.Net

صېب ، تا خو ماله دَ یوې خبرې هم جواب رانکړو “.

شان (په لاپروائي ) هنّ ، څۀ دي اووې ؟ دَ هغۀ په بې اعتنائي دَ هغې خاطر دروند شو او هم دَ هغۀ په لهجه کښې یې اووې ، ”هیڅ نه “. دې سره هغه چپ شوه ، دَ هغۀ نه یې مخ واړه وو او په کرسۍ راخکلي کېناسته . هغۀ ته دَ هغې دَ خفګان احساس اوشو خو هغه دَ هغې په خفګان خفه نه وو بلکه هغۀ غوښتل چې هغه په څۀ طریقه خفه شي او لاړه شي . خو هغې دَ تلونوم نه اخستو او ښۀ په پخه ناسته وه . البته کله کله به یې په نیم کخو سترګو دَ هغۀ تاثراتو ته کتل او دَ هغۀ دَ احساساتو اندازه به یې اخسته . یوځل دَ شان په زړۀ کښې راغله چې هغه یوځل بیا پوهـ کړي او ورته اووائي چې هغه په پردي سیټ ناسته ده . که د دې خاوند راشي او بیا یې پاسوي نو بهتره دا ده چې هغه په خپله پاسي او ځي . او هغۀ هم دغسې اوکړل . هغۀ یوځل بیا هغې ته اووے ، ”مس نرګس ، تۀ چې په کوم سیټ ناسته یې ، دا پردے دے . دا سیټ خپل مالك ته پرېږده او که ماته څۀ وېل غواړې نو خپله خبره اوکړه او ځه اوځه پلیز“، هغۀ هغه په نرمه پسته ژبه پوهول غوښتل خو داسې معلومېده چې دَ هغۀ خبره په هغې هډو هیڅ اثر نه کوي . یوځل دَ هغۀ په زړۀ کښې راغله چې دَ انتظامیې دَ افسر په ذریعه هغۀ دَ هال نه اوباسي خو بیا یې په زړۀ کښې راغله ”چې چرته نه کار نو هلته څۀ کار ؟ هغه پوهـ شه او دَ سیټ مالك پوهـ شه “، هغۀ لا دَ هغې دَ حماقت په باره کښې مختلف سوچونه





کول چې په سټېج ناستو خلقو کښې یو سړے پاسېدو . ډېس له ورغے او وے وئیل ، ”حاضرین وناظرین کرام السلام علیکم ! عزت مآب سېکرټري داخله صېب تشریف راؤړے دے او مهمانِ خصوصي وزیر داخله صېب راروان دے . دَ هغۀ دَ خولې نه دغه ټکے په مشکله اوتے وو چې وزیر داخله صېب هال ته دننه شو . دَ هغۀ په راتلو باندې دَ هغۀ استقبال ته ټول پاسېدل . په دغه پاسېدلے خلقو کښې نرګس هم شامله وه . دَ هغۀ راتلو سره دَ پروګرام باقاعده آغاز اوشو . دَ پروګرام شروع دَ تلاوت کلام پاك نه اوشوه او بیا ورپسې یونعت اوویلے شو. دې نه پس سټیج سېکرټري ، سېکرټري داخله ته دَ اظهار خیال بلنه ورکړه . سېکرټري داخله چې پاسېدو او ډېس له ورغے نو دَ تقریر شروع کولو نه مخکښې هغۀ ټولو افسرانو له دَ هغوي په کامیابۍ مبارکي ورکړه . دې نه پس یې دَ ملك په اندروني حالاتو او بیروني خطراتو ښۀ لویه تبصره اوکړه او هغوي ته یې دَ محنت ، لګن ، ایمانداري ، حب الوطنۍ تلقین اوکړو . دې سره سره یې ورته دَ خپلي ذمه وارۍ په صحي طریقه دَ استعمال هدایت اوکړو . دَ هغۀ نه پس چې وزیر داخله پاسېدو نو ټولو له یې مبارکي ورکړه او هغۀ هم لکه دَ سېکرټري داخله په ملك کښې دَ موجوده ترهه ګرۍ ، غنډه ګردۍ ، عسکریت پسندۍ او شدت پسندۍ په باره کښې ښه زړه پورے تقریر اوکړو . دغه رنګې هغۀ ټولو له دَ هغوي دَ ائنده ذمه وارۍ احساس ورکړو او دَ ټولو نه یې کلکې وعدې هم واخستې. په



www.pukhto.Net

وعده کونکو کښې نرګس هم شامله وه . دَ تقریر په اخر کښې هغه اووے ، "زهٔ یو ځل بیا تاسو ټولو له مبارکي درکوم او امید کوم چې تاسو به دَ خپل ملك وقوم نوم روښانه کړئ " دې نه مخکښې به دا قسمه پروګرامونه نه کېدل خو زمونږ حکومت دا پالیسي شروع کړے ده چې دَ ټریننګ شروع کېدو نه مخکښې او دَ ټریننګ په اخره کښې به تاسو له ستاسو دَ ذمه وارۍ احساس هم درکوو او کومو امیدوارانو چې اول او دوېم پوزیشن اخستے دے هغوي له به اېوارډ هم ورکوو ، "دې سره ستیج سېکرټري یو ځل بیا ستیج ته راځي او وائي ". اګر چهٔ تاسو ټول دَ قدر وړ یې خو دَ حکومت دَ پالیسي مطابق زهٔ هغه عزت مندو ته خواست کوم چې ستیج ته راشي او خپل خپل اېوارډونه واخلي ، زهٔ مسټر شان اومس نرګس ته خواست کوم چې هغوي ستېج ته تشریف راؤړي " دَ نرګس دَ نوم په اورېدو سره شان حېران هم شو او شرمنده هم شو . بهرحال هغه خپله حېرانتیا په مُسکا بدله کړه او ستېج ته اوختو . وزیرداخله هغوي له مبارکي هم ورکړه او اېوارډونه یې هم ورکړل . دې نه پس دَ هغوي دغه پروګرام ختم شو او دَ ټرېننګ پروګرام شروع شو . شان په خپلو کړو او خپله رویه شرمنده وو. هغهٔ په اشارو کنایو کښې دَ هغې نه څو څو ځله معافي اوغوښته. دَ هغهٔ دَ معافۍ په خواست به هغه هرځلي مسکۍ شوه او مخ به یې ترېنه واړه وو چې کله دَ هغوي ټي برېك اوشو او دَ چایې په مېز دواړه یو بل ته مخامخ کېناستل نو شان هغې





سره سترګې نشوے لګولے .داناسته د یونیورسټۍ په کېفۍ کښې دَ ناستې نه مختلف وه . هلته به ورته شان په مُسکا مُسکا کتل او هغې به لاندې کتل او دلته ورته هغې په مُسکا مُسکا کتل او هغه به لاندې کتل .چې کله دَ هغوي دَ ړومبۍ ورځې پروګرام ختم شو او هغوي خپلو خپلو کمرو ته تلل نو دَ شان حېرانتیا نوره هم زیاته شوه ځکه چې دَ هغوي رهائشي کمرې هم خپلو کښې ټچ وې . شان چې خپلې کمرې ته ورغی نو جامې یې بدلے کړے ، په خپل بېډ کښې پرېوتو او په پورے ورېې خپل حماقت پورې په کړس کړس خاندل. کېدیشي دَ هغهٔ دَ خندا اواز هغې هم اورېدو خو هغه خاموش وه او دَ هغهٔ دَ غلط فهمۍ په باره کښې یې سوچ کوو . په دغه کښې دَ هغې سترګې ورغلې او اودهٔ شوه . شان هغې له څو څو کالونه ورکړل خو چونکه دَ هغې موبائېل سائلنټ (Silent) وو نو هغه دَ هغهٔ په کالونو پوهه نشوه . مازیګر چې هغه په خپله طبعه پاسېده نو واش روم ته ورغله ، جامې یې بدلې کړې او خپله سرشنه یې کوله چې دَ هغې دَ کمرې په ورناکنګ اوشو . هغې ځان راغونډ کړو اودَ Yes, come in ټکے یې دَ خولې نه اووتو . دَ هغې په اجازت یو ملازم دَ ور په درشل اودرېدو او هغې ته یې اووے ، "بي بي تاسو له چایې دلته راؤړم ، که ډائننګ هال ته تلل غواړئ ". هغې هغهٔ ته په افسرانه موډ کښې اووې " I want to take it here "دې سره هغه مسکے شو او واپس لاړو . یوه شېبه پس هغه دَ یو کپ چایې او دَ یو څو بسکټو سره واپس



www.pukhto.Net

راغلی. هغه ټرې په مېز کېښوده او هغې ته يې اووے، ''مېډم، تاسو په خپل لنچ، ډنر او ناشته کښې څۀ خوړل غواړې''.

نرګس: په ناشته کښې يوه انډا، يوتوس او يو ګلاس پې، په لنچ کښې عامه سبزي او ډنر کښې لائټ خوراك''، ملازم دا هر څه ځان سره اوليکل او بهر اووتو. هغې چې چايې اوڅکله او بهراووته نو شان بهر په لان کښې ولاړ وو او دَ هغې انتظار يې کوو. هغه هغې سره په مُسکا ملاؤ شو او دَ ګيلې په انداز يې اووے، ''مس نرګس، ماتاله ځوځو کالونه درکړي وو خوشايد ستا موبائېل بند وو''

نرګس: اوه يس، کېدېشي زۀ اودۀ اوم. شان صېب، زۀ هر کار په خپل وخت او په خپله موقعه کوم. په دغه کارونو کښې يوکار دا هم دے چې دَ اودۀ کېدو او مطالعې په وخت کښې زۀ موبائېل سائلنټ ساتم.

شان: که په دغه وخت کښې تاسره څوك ضروري رابطه کول غواړي نو بيا؟

نرګس: زمااصول ټولو ته معلوم دي، صرف يوتۀ پاتے وے.

شان: په دغه وخت کښې که څۀ ايمرجنسي پېښه شي نو بيا؟

نرګس: بيا دا چې انتظار به کوي.

شان: تادَ کال اخستو دَ پاره دَ وخت څۀ تعين کړي دے؟

نرګس: څلور بجو نه تر اتهۀ بجوپورې. دې نه علاوه زۀ نه دَ چا کال اخلم او نه چاله ورکوم. (هغوي دواړه په چمن کښې يوبل ته مخامخ کېني) ''زۀ موبائېل د enjoyment دَ پارهه نه بلکه دَ ضروري خبرو دَ





پاره استعمالوم او هغه هم ډېرې مختصرې اومقصدي.

شان: په ائنده څو مياشتو کښې چې افسره شې نوستا په مصروفياتو کښې خوبه نوره هم اضافه اوشي.

نرګس: ستاسو خبره صحي ده. په مصروفياتو کښې مِ اضافه اوشي خو په روټين لائف کښې به مِ هيڅ فرق رانشي او دا به هم دغه رنګې چلېږي، په دېکښې دَ شان په موبائېل باندې رېنګ راشي. هغه چې موبائېل اوچت کړي او نمبر ته اوګوري نو هغه دَ پلوشې وي. هغه مسکے شي او وائي، ''هېلو پلوشې څنګه يې؟''

پلوشه: ښۀ يم شانه خو لږ ساعت دَ پاره تاسره ملاوېدل او څۀ ضروري مشوره کول غواړم.

شان: پلوشې ته چې څۀ وېل غواړې نو ماته په موبائېل اووايه. زۀ تاسره ملاوېدے نشم. زۀ اسلام آباد ته ټرېننګ دَ پاره راغلے يم.

پلوشه: شانه، زما دَ مستقبل فېصله کېږي، زۀ څۀ اوکړم؟

شان: تۀ هم هغه اوکړه څۀ چې درته ما وېلے دي. (دَ هغې دَ سلګې اواز راشي) تۀ ژاړې پلوشې، هېلو هېلو''، دې سره دَ هغې موبائېل بند شي. يوه شېبه هغوي دواړه خاموش وي. نرګس هغۀ ته دَ تجسس په نظر ګوري او وائي، ''دا هغه پلوشه ده چې دَ CSS په امتحان کښې شامله شوې وه''؟

شان: هاؤ بالکل، دا هغه ده خو تۀ هغه څنګه پېژنې؟

نرګس: زۀ هغه ځکه پېژنم چې مونږ سره په تحريري امتحان کښې



www.pukhto.Net

شامله شوي وه . مونږ به دَ پرچي نه مخکښې روستو یوبل سره تبادلۀ خیال کوو. داخو ډېره مطمئنه وه خو معلومه نه ده چې په څۀ وجه ډراپ شوه . I feel sorry for her .

شان:. هاؤ مس نرګس . هغه صرف مطمئنه نه وه بلکه دَ حد نه زیاته پُرامیده وه او هم په دې وجه هغې ته دَ خپلې ناکامۍ ډېرافسوس دے.

نرګس:. شان صېب یوذاتي تپوس درنه کولې شم ؟

شان:. هاؤ بالکل کولې شي .

نرګس :. ستا پلوشې سره څۀ تعلق دے .

شان :. هغه زما کلاس فیلو هم وه او زما ښۀ ملګرې هم ده .

نرګس:. دې نه علاوه ؟

شان (مسکے شي) سوري "دَ هغۀ په سوري هغې هم سوري اووې. یو ځل بیامسکۍ شوه او خپلې کمرې ته روانه شوه . دَ ټرېننګ په دوران کښې به هغوي اګرچۀ یوبل سره جخت کېناستل ، په ډائننګ هال کښې به هم یو ځاے کېناستل او یوبل سره به یې دَ ټرېننګ په باره کښې تبادله خیال هم کوو . خو ذاتي تپوسونه یې نه کول . دَ مازیګر نه پس به هغه دَ خپلې کمرې نه وته او اووۀ بجې به واپس راتله . دَ راتلو سره به ډائننګ هال ته لاړه ، هلته به یې ډوډۍ اوخوړه او خپلې کمرې ته به لاړه . دغه رنګې به دَ اتوار په ورځ سحر اتۀ بجې دَ کمرې نه اووته ، ناشته به یې اوکړه او چرته به لاړه . شان اګر چۀ دَ هغې دَ اکسټرا مصروفیاتو په باره کښې دَ هغې نه تپوس کول





غوښتل خو دَ تپوس جرأت یې نشو کولے . چې څومره به وخت تېرېدو هومره به دَ هغې په ذات کښې دهغۀ دلچسپي زیاتېده .آخر یوه ورځ ترېنه هغۀ په ډائننګ هال کښې تپوس اوکړو ، "مس نرګس یوذاتي تپوس کولے شم ؟"، هغه مسکۍ شوه او وې وئېل هاؤ بالکل کولے شے .

شان:. تۀ دَ څلورو بجې نه پس چرته ځې؟ او دَ اتوار ټوله ورځ چرته تېره وې ؟

نرګس:. زۀ د دے انتهائي ذاتي تپوس په جواب کښې تاته سوري هم وېلې شم خو زۀ ستا غوندې نه یم چې خپل ذاتي معاملات تانه پټ اوساتم .(دَ هغې په دې طنزیه خبره هغه شرمنده شي ) زۀ نه تا په سسپنس کښې ساتل غواړم او نه ستا په شکوك وشبهات کښې اضافه کول غواړم . . . .شان صېب ، زما مشره خور ماریه په سي ایم ایچ راوالپنډي کښې کپټن ډاکټره ده .زۀ چې دَ کوره راتلم نو ماته مِ مور وېلي وو چې شپه ماریه سره کوه ، ما هغې ته ښه اوکړل چې دَ هغې خاطر دروند نشي خوزړۀ مِ نه غوښتل چې زۀ په چا بوجهـ شم خو چې ماریه زما دَ راتلو نه خبر شوه نو هغې ماته څوڅو ځله فون اوکړو . چې زۀ هلته لاړم نو هغې ماته اووې چې "خپل سامان دلته راؤړه او ماسره به پاتې کېږې"ماورته دَ شپې دَ سټډي بهانه اوکړه او څۀ نور تاوېلونه مِ هم ورته پېش کړل . بیا په دې فېصله اوشوه چې هر مازیګر او هراتوار به راځم او بیا به ځم ".



www.pukhto.Net

شان :. oh, yes i see . زۀ ستا دَ اصولو نه ډېر متاثر شوم .

نرګس:. شان صېب ، زما مور زما په باره کښې ډېر حسّاسه ده. زۀ چونکه دَ هغې کشر اولاد یم نو زۀ ورته اوس هم ماشومه ښکارم شان صېب، زما دَ CSS پاس کولونه پس هغه ډېره پریشانه وه . هغې نه غوښتل چې زۀ یوائې ټرېننګ له لاړه شم خو چې ماورته ستاذکر اوکړو نو هغه ډېره خوشحاله شوه او په دې وجه هغه ماسره ستاسو کورته هم درغله چې ماپه تا اوسپاري او دَ هغې پرېشاني کمه شي . خو چې ستا دَ طرفه مایوسه شوه نو بیا یې ماریه ته فون اوکړو او چې کله مطمئنه شوه نو ماله یې دلته دَ راتلو اجازت راکړو .

شان :. نرګس زۀ تاته دومره شرمنده یم چې ماسره هغه الفاظ نیشته چې تانه پرې معافي اوغواړم . بهرحال زۀ په خپله رویه شرمنده“ . . . نرګس ډېره په بې صبرۍ سره دَ هغۀ دَ خولې نه خبره اخلې او وائي، ”اوه نو نو ، نه شان صېب چرې هم . تادے خدائے چرې هم شرمنده نه کړي . تۀ بالکل حق بجانب یې. په نني وخت کښې نۀ څوک په چا اعتبار نشي کولے شي او نه دَ اعتبار وخت دے .تۀ زما دَ پاره مخکښې هم معزز وے او اوس هم معزز یې . داسې هیڅ خبره نیشته .نیور مائنډ پلیز.“

**﴿دویمه برخه﴾**

دَ پلوشې په ناکامۍ دَ هغې ټوله کورنۍ خفه وه دَ هغې مشر رور صادق شاه هغې ته دَ کېنډا نه فون اوکړو او نعیم شاه ورته دَ برطانیې نه . دواړو دَ هغې په ناکامۍ هغې سره غم رازي اوکړه او





هغې له یې تسلي ورکړه . دَهغې پلار دَ امرېکې نه راغلے وو او خپلې ښځې سره یې دَ هغې دَ مستقبل په باره کښې صلاح مصلحت او مشورې کولے . په دغه مشورو کښې دَ هغې دَ ملازمت خبره هم راغله ، دَ هغې دَ خپل کاروبار یعني امپورټ ایکسپورټ خبره هم راغله ، دَ خپل این جی او شروع کولو او دَ هغې دَ چلولو خبره هم راغله او دَ اعلیٰ تعلیم دَ پاره فارن ته دَ لېږلو خبره هم اوشوه . دا ټولې خبرې په خپل خپل ځاے ښۀ وې خو دَ شهناز بېګم په خیال بهتره خبره دا وه چې هغه په یوه شریفه او معززه کورنۍ کښې وادۀ شي او چې دا کار اوشي نو بیا هغه پوهه شه او دَ هغې سخرګنۍ پوهه شه . دا مشوره دَ عاصم شاه صېب هم خوښه شوه او هغوي دَ مناسبې کورنۍ په تلاش کښې شو . دَ مناسبې کورنۍ نه دَ هغوي مقصد دا وو چې کورنۍ درنه وي ، خوږه او مقدّسه هم وي ، هلك هم دَ هغې هم عمر وي او دَ CSS افسر هم وي . هغوې چې په خپله برادرۍ نظر واچوو نو هېڅوك هم پکښې داسے نه وو چې په دغه شرطونو پوره وي . څۀ نا څۀ کمې به پکښې ضرور وو. دَ هغوي په برادرۍ کښې دَ سي ایس ایس افسران ډېر وو خو دَ هغې هم عمر پکښې یو هم نه وو، دَ څو څو ورځو دَ سوچ اوفکر نه پس هغوي په دې نتیجه اورسېدل چې دَ عمر شرط ترېنه لرے کړي خو دَ کورنۍ او عهدې شرطونه برقرار پاتې شي . دَ هغوي دَ خوش قسمتي او دَ پلوشې دَ بدقسمتۍ نه څۀ موده مخکښې دَ هغوي دَ برادرۍ دَ یو



www.pukhto.Net

سېکشن افسر سکندر شاه ښځه مړه شوې وه او دوه وړه وړه بال بچ ترېنه پاتې شوي وو. دَ سکندر شاه په خيال شهناز بېګم خپل خاوند ته اوکتل او وې وئېل، " ستا په خيال سکندر شاه څنګه هلك دے "؟

عاصم شاه هغې ته دَ حېرانتيا او غصې په مشترکه نظر اوکتل او وے وئيل ، "سکندر شاه هلك دے ؟ . . . هغه خو دَ پنځوست کالو سړے او دَ دوه بال بچ پلار دے".

شهناز بېګم :. سکندر شاه نه علاوه زمونږ په برادرۍ کښې بل هېڅوك داسے نېشه چې په دغه دوه شرطونو پوره وي . عاصم شاه هغې ته په سواليه نظر ګوري او وائي ، "که دَ هغې وادۀ دَ خپلې برادرۍ نه بهر اوشي نو بيا ؟".

شهناز بېګم :. که دغسې اوشي خو ډېره ښۀ خبره ده . داخو هغه هم غواړي ، زۀ يې هم غواړم او چې تۀ غواړے نو ډېره ښۀ خبره ده خو دَ خپلې برادرۍ او دَ خپل مسلك خلقو له به څۀ جواب ورکوے . زۀ خو دَ چا دَ ډغرو نه يم او که تۀ ورته ځان نيولے شے نو ډېره ښه ده، دَ هغې په خبره عاصم شاه په لوي سوچ کښې پرېوځي . يوه شېبه پس هغه سر اوچت کړي او هغې ته وائي ، نه ، داسې نشي کېدې . زۀ خپلې برادرۍ سره تعلق پرېښودے نشم ".

شهناز بېګم :. ښه نو بيا به څۀ کوو ؟

عاصم شاه : بيا دا چې ستا مشوره م خوښه ده . دَ سکندرشاه مور سره خبره اوکړه .





شهناز بېګم :. هغې سره دَ خبرې کولو نه مخکښې زۀ پلوشې سره خبره کول غواړم .

عاصم شاه :. هاؤ دا خبره بالکل صحيح ده . هغې سره خبره اوکړه خو ډېر په محتاط انداز . دَ وادۀ دَ خبرې نه مخکښې په مذهبي نقطۀ نظر يې دَ خپلې وينې دَ تقدس او دَ پېړو پېړو دَ مروّجه دود ستور او رواياتو نه يې خبر کړه .

شهناز بېګم :. زۀ به هم دغسې کوم خو که زما دَ کوشش باوجود هم هغه دغه رشتې ته تياره نشوه نو بيا به څۀ کېږي ؟

عاصم شاه :. که دا رشته مو دَ ګوتو نه اووته نو ټول عمر به کورناسته وي او په کور به زړۀ شي. بله دا چې مونږ به ترکومې ژوندي يو. ستا هم دغه دَ شمار ورځې پاتې دي او زما هم دغه حال دے او زمونږ نه پس به هغه څۀ کوي .

شهناز بېګم :. که دَ سي ايس ايس شرط ترېنه اوباسو نو بيا ؟

عاصم شاه :. دَ CSS شرط ترېنه ولې اوباسې ؟

شهناز بېګم :. سکندر شاه په اصل کښې CSS افسر نه دے بلکه رينکر دے .

عاصم شاه :. ماته پته ده خو مونږ سره دَ هغۀ متبادل نيشته که هغه رېنکر دے خو سېکشن افسر دے . زمونږ دَ هغۀ ماضي سره څۀ کار نېشته ، مونږ به دَ هغه موجوده Status او دَ هغۀ موجوده پوزيشن ته ګورو . دې نه علاوه هغه ښۀ نېك او شريف سړے دے . زۀ امېد



www.pukhto.Net

کوم چې پلوشه به هغۀ سره خوشحاله وي . شهناز بېګم دَ هغۀ دَ خبري په تائېد کښې وائي ، "دَ ټولو نه لویه خبره دا ده چې دَ خپلي برادرۍ سړے دے". دې نه پس هغه اوشوه چې دَ پلوشې په خیال کښې هم نه وه . سکندرشاه او دَ هغۀ مور سره خبره اوشوه او هغوي تیار شو . بله ورځ دَ هغوي دَ برادرۍ یو څو سړي او زنانه راغلې ، دَ هغوي ګوتې هم اوشو او دَ وادۀ نېټه هم کېښودے شوه . دَ هغۀ وادۀ ډېر په ساده طریقه اوشو. دَ داج ضرورت ځکه نه وو چې دَ سکندر شاه کور دَ فرنیچر او سامان نه ډك وو . دَ ولېمې ضرورت ځکه نه وو چې دَ هغۀ په رومبي وادۀ ټول خلق ماړۀ شوي وو. دَ جنج ، ضرورت ځکه نه وو چې دا دَ هغه رومبے وادۀ نه وو بلکه دَ مجبورۍ دویم وادۀ وو . په پالنګ دَ ختو ضرورت ځکه نه وو چې دا دَ یوزلمي وادۀ نه وو بلکه دَ یو کونډ وادۀ وو. دَ ماسخوتن په تیاره کښې سکندرشاه او دَ هغۀ مورراغله ، نکاح اوشوه ، او ناوې یې په موټر کښې کېنوله او ځان سره یې بوتله. هغه لا بکره وه چې شپه په شپه دَ دوه بال بچ مور شوه او بال بچ هم هغه چې مشره جینۍ دَ شپږو کالو وه او هلك دَ څلورو کالو وو. سکندر شاه ډېر نېك ، دیندار او وفادار سړے وو. هغۀ دَ خپل بال بچ دَ تربیت ډېرخیال ساتو ځکه چې دغه دواړه دَ هغه دَ مرحومې بي بي سترګې وې . هغوي دواړه به یې سحر په سرکاري ګاډي کښې سکول ته لېږل او دَ چهټي نه پس به هغه ګاډي کښې واپس کورته راتلل. دَ هغوي دَ ناظرې دَ پاره یې دَ یوقاري خدمات هم حاصل کړي





وو . هغه به هرمازیګر راتلو ، په حوېلۍ کښې به یې هغوي سره ناظره کوله او دَناظرې نه پس به یې دَ هغۀ مورته دَ قرآن شریف ترجمه کوله . چې کله دَ هغوي کور ته پلوشه راغله نو هغې ته هم په دغه صحبت کښې دَ کېناستو بلنه ورکړې شوه خو دَ یو نامحرم مخې ته کېناستل هغې خوښ نه کړل . دې نه علاوه هغه دومره شفیق پلار وو چې دَ بال بچ جُدائی یې نشوه برداشت کولے . دَ هغۀ لور اګر چۀ نیاسره سملاسته نو دَ هغۀ زوے او هغه خپلو کښې دَ یو ځاے ملاستې دومره عادت وو چې دواړو له دَ یوبل نه بغیر خوب نه ورتلو . پلوشې به تر ناوخته پورې په خپله کمره کښې دَ خپل سرتاج دَ راتلو انتظار کوو خو چې په خپله کمره کښې به یې دَ هغۀ دَ سپېړمو دَ خنېدو او دَ هغۀ دَ خولې دَ شپېلو غبرګ اوازونه وورېدل نو هغې ته به داسې معلومه شوه لکه چې دَ راخکلې شوې چاړې لاندې چې څاروې خنېږي او پرشېږي . هغې به دَ یرې نه ورپورې کړو ، خپل بېډ کښې به ډکې سترګې سملاسته او دَ شان په تصور به اوده شوه . دَ سکندر شاه مور هم څۀ بده ښځه نه وه . دَ برادرۍ دَ رشتې نه علاوه هغه دَ هغې دَ مورله اړخه دَ هغې په رشته کښې هم راتله . هغه بوډۍ ښځه وه خو دَ مضبوط اعصاب خاونده وه . دې نه علاوه ډېره مینه ناکه او خوږه ښځه وه. هغې به دَ هغې ډېرخیال ساتو او څو په څوېمه به یې ترېنه دَ نوے مېلمه دَ راتلو تپوس کوو. دَ هغې په تپوس به هغه دَ قهره سره لمبه شوه خو دَ څۀ مصلحت په وجه به ډېره



www.pukhto.Net

زر سره شوه . په مُسکا به يې هغې ته اوکتل ، خپلې کمرې ته به لاړه او هلته به يې ښۀ اوژړل . يوه شپه سکندر شاه دَ خپل زوي نه پټ دَ هغې کمرې ته ورغی. خو چې هغه پرې پوهـ شونو هلته ورپسې ورغی. او دَ هغۀ غېږ ته اوختو . سکندرشاه هغه ښکل کړو، مسکے شو ، هغې ته يې سوري اووے او هغه يې په غېږ کښې اوچت او خپلې کمرې ته روان شو . خو په تلو تلو کښې يې هغې ته اووے ، "زۀ دا هلك اودۀ کوم نوراځم ".

دَ هغۀ دَ راتلو په انتظار کښې هغه ناسته وه خو چې دَ شپې اخري سلګی. شوې نو دَ هغې سترګې مرغی. مرغی. شوې او دَ مرغو په سيل اودۀ شوه . دَ سکندر شاه مور به دَ هغوي سارنه کوله ، په دغه سارنه کښې هغې ته معلومه شوه چې سکندرشاه په هغې کښې دلچسپي نه اخلي ياکېدېشي چې دَ عمر په لحاظ هغه په هغې کښې دَ دلچسپی. اخستو قابل نه وي. بهرحال دَ هغې په ډېرو رټلو او نصيحتونو هغه يوه شپه خپل زوے په وخت اودۀ کړو ، غلې غوندې ترېنه پاسېدو او دَ هغې کمرې ته ورغی. . دَ نکاح نه پس دَ هغې کمرې ته دَ باضابطه ورتګ دا دَ هغۀ ړومبے ځل وو . هغۀ چې هغې ته رجوع اوکړه نو هغې دَ خپلې بيمارۍ په وجه هغۀ ته سوري اووې ، ډېره يې بدله کړه او سترګې يې پټې کړې . دَ هغې سوري ، هغۀ دَ هغې حکم عدولي او ګستاخي اوګڼله او په مخ يې ترېنه يو شړق اوويستلو . دَ شړق سره دَ هغې سترګې اوغړېدې . په ببږ کښې





کېناسته ، په مخ به لاس کېښودو او هغه ته به يې په ډکوسترګو اوکتل . دَ هغې کتل په هغۀ بد اولګېدل او په مخ يې ترېنه يوبل پړق اوويستلو . هغې په مخ لاس کېښودو ، دَ ببږ نه پاسېده ، هغۀ ته مخامخ اودرېده او ورته يې اووې ، "ته ماله دَ کوم جُرم سزا راکوے ؟"

سکندر شاه (په غصه) تاته خپل جرم معلوم نه دے ؟ تاماته سوري ولې اووې ؟

پلوشه :. تۀ دَ سوري په مطلب نه پوهېږے ؟ دَ ښځې او خاوند ترمينځه سوري دَ څۀ عذر په وجه وېلے کېږي . او که هسې دے زړۀ ډك وي نو دا دې ولاړه يم درته ، وهه مې ، او ترهغې مې وهه ترڅو چې ستا لاس چليږي ، دې سره هغۀ هغې ته هغه پوچه وېنا شروع کړه چې دَ کنجرې ټکے پکښې مهذّبه وو. هغې سره سره يې دَ هغې مور پلار هم معاف نکړل او هاغه ناروا يې دَ خولې نه دوړوله چې نه دَ وېلو قابله ده او نۀ دَ اورېدو . د دې په بدل کښې ورته هغې اووې ، "ماته هر څۀ وېلے شے خو که بيا دے زما مور پلار ته بدرد اووے نوښه به نه وي" . دَ هغې په دې خبره هغه نورهم غصه شو او په غصه کښې يې ورته اووے ، "اوه ته ماله چېلنج راکوې ؟" دې سره يې ترېنه په مخ يو بل تړق اوويستلو تړق سره هغې په مخ لاس کېښودو او بل مخ يې ورته اونيوو. دَ هغۀ په بل ګزار دَ هغې غوږ اولګېدو . هغه دَ درد نه ړنده ، کڼه شوه او لکه دَ برلندي يوه شېبه تاوېده، په دغه تاوېدو تاوېدو کښې هغۀ دَ وېښتو نه اونيوه او په کمره کښې يې راخکله. دَ



www.pukhto.Net

هغه مور چې په خپله کمره کښې دَ شرق ، پرق او ترق اواز واورېدو نو دَ خپل کټ نه پاسېده دَ هغهٔ کمرې ته ساه ختلې ورغله . هغې چې دَ سکندر شاه زور ، ظلم او زیاتي ته اوکتل نو ورمنډه یې کړه او دَ هغهٔ دَ لاسونو نه یې دَ هغې زلفې خلاصي کړې او ورته یې اووې ، "بې شرمه ، بې غېرته داسې کار هم څوك كوي لکه تا چې اوكړو . ته ځان ته سړے وائے ، په خپله ښځه لاس اوچتوې ، په هغه ښځه چې دَ ګل ګزار هم نشي زغملې . دَ سکندر شاه پاره ډېره اوچته ختلې وه . دومره اوچته چې دَ هغهٔ دَ هوش وحواس نه اوتې وه او هغه چې سرېده او لاندې راتله نو دَ هغهٔ دَ خولې نه هغه څهٔ دورېدلي وو چې دَ هغې دَ اورېدو نه هره ښځه امان غواړي ، توبې اوباسي او په غوږونو کښې ګوتې اړدي ، هغه اوے، "دا ښځه ده ؟ . . .ښځه داسې وي؟ دا ډمه ده ، او په ما طلاقه ده . . .طلاقه ده . . .طلاقه ده . دَ طلاق په اورېدو سره دَ هغهٔ مور په زمکه پرېوته او بې هوشه شوه او پلوشه په چغو چغو په ژړا شوه .

**﴿دریمه برخه﴾**

دَ سکندر شاه مور دوه ورځې په یو پرائیوېټ هسپتال کښې دَ مرګ او ژوند په کشمکش کښې پټې سترګې پرته وه . دَ هغې دَ زغم دَ پاره دا حادثه ناقابلِ برداشت وه . بهرحال په دریمه ورځ چې دَ هغې سترګې اوغړېدې نو پلوشه ورته ناسته وه او دَ هغې پښې یې منډلې . دَ هغې دَ سترګو غړېدو په وجه دَ هغې په مخ مُسکا خوره شوه . ډاکټران هم





خوشحاله شو او نرسیانې هم خوشحاله شوې . دې نه پس دَ هغې مکمل چېك اپ او ټېسټونه اوشو . دَ شوګر او بلډ پرېشر نه علاوه دَ هغې نوره هیڅ بیماري نه وه . ډاکټر هغې ته نُسخې اولیکلے او رخصت یې کړه . سکندر شاه هم سره دَ بال بچ راغلے وو . ټول په ګاډي کښې کېناستل او کور ته روان شول . چې کور ته اورسېدل نو پلوشې خپله کمره پرېښوده او خواښخې سره دَ هغې په کمره کښې پاتې شوه . دَ طلاق په وجه دَ سکندر شاه او پلوشې خپلو کښې خبرې بندې شوې وې . په سبا هغهٔ دَ مور په وینا دَ هغې نه معافي اوغوښتله خو هغې دَ هغه نه مخ واړه وو. هغه څو ورځې هلته وه او دَ خواښخې خدمت به یې کوو خو دَ سکندر شاه نه یې مخ پټوو. دَ طلاق په شپږمه ورځ هغې خپله غاړه غوټه تیاره کړه او خپل کور ته یې دَ تلو اراده اوکړه . کله چې دَ رخصت اخستو دَ پاره خواښخې له ورغله او هغې نه یې اجازت اخستو نو هغه په چغو چغو په ژړا شوه . هغې نه غوښتل چې پلوشه دَ هغې دَ کور نه همېشه همېشه دَ پاره اوځي او هغو ي دَ خلقو دَ خندا شي . سکندرشاه هم په خپلو کړو پښېمانه وو خو تُوکلې لاړې خولې له بیا نه راځي . مازیګر چې قارې صیب دَ هغوي حویلۍ ته راغلی نو دَ ناظرې او ترجمې نه پس ورته هغې دَ پلوشې او سکندرشاه دَ طلاق خبره اوکړه. قاري صیب چې په سره سینه ټوله خبره واورېده نو وے وئېل ، "طلاق شوے دے او دَ دوي باهمي صحبت په دوي حرام دے . البته که صیب جي په خپل



www.pukhto.Net

طلاق ورکولو پښېمانه وي او هغې سره بیانکاح کول غواړي نو دَ عدت ختمېدو پورې به انتظار اوکړي ، بیا به هغه بل چاته په نکاح کړي او چې کله هغه طلاق ورکړي نو دَ هغې دَ عدت نه پس ورسره هغه دوباره نکاح کولے شي . هغې په مایوسۍ هغهٔ ته اوکتل او وې وئېل ، "قاري صېب ، دې سره خو به زمونږ کورنۍ ډېره رسوا او دَ خلقو دَ خندا شي ، قاري صېب ، چاسره به موږ دَ سترګو لګېدو شان پاتې نشي . داسې څهٔ اسانه غوندې طریقه راته اوښایه چې زمونږ حیا هم په حیا پاتې شي او شرعې ته هم درسته شي ".

قاري صېب: دې نه علاوه بله هیڅ طریقه نشته ، دَ سکندرشاه مور هغهٔ ته په ډکو سترګو ګوري او وائي ، "قاري صېب ، زهٔ نهٔ غواړم چې زمونږ برادري د دې واقعې نه خبر شي زهٔ وېم چې پټ په پټه کار اوشي ".

قاري صېب: بیا داسې څوك قابلِ اعتبار سړے اوګورۍ چې هغه ستاسو حیاخپله حیا ګڼي . هغه به ورسره پټ په پټه نکاح اوکړي او څهٔ ورځې پس به پټ په پټه طلاق ورکړي . دَ سکندر شاه مور هغهٔ ته په رازدارانه انداز کښې وائي، "قاري صېب ، زما په تاسترګې خوږېږي ، دا مسله تهٔ حل کولے شې ، تهٔ ورسره نکاح اوکړه خو چې یوغوږ او بل غوږ درنه خبر نشي ".

قاري صېب: بي بي زهٔ ؟ زهٔ دا کار څنګه کولے شم بي بي ؟ زهٔ دَ سادات کورنۍ دَ یوې معززې بي بي سره څنګه نکاح اوکړم ؟ داسې نشي کېدے بي بي .





دَ سکندر شاه مور هغهٔ ته دَ امید په نظر ګوري او وائي ، "قاري صېب، دا به ستا مونږ سره لوے احسان وي . انکار راته مهٔ کوه قاري صېب، دا کار به تهٔ کوے ، بل چاته مو مهٔ شرموه ".

قاري صېب: بي بي ته صېب جي سره خبره اوکړه چې هغه څهٔ وائي ؟ " ، دې سره هغه پاسي دَ کمرې نه اوځي او لږه شېبه پس سکندر شاه او پلوشه دواړه ځان سره راولي .سکندر شاه هغهٔ ته مخامخ کښېني او پلوشه یو خوا ته په پړده کښې کښېني . دَ سکندر شاه مور قاري صېب ته وائي ، "قاري صېب ، دواړه مِ درله راوستل . زهٔ درنه ځم او تهٔ دوي پوهـ کړه ".

سکندر شاه :. زما دَ پوهولو ضرورت نیشته . دا مسئله ماته معلومه ده . زهٔ په هرڅه پوهـ یم . قاري صېب ته دې سره نکاح کول غواړے ؟

قاري صېب: . صېب جي زما دَ دې بي بي په نکاح کښې هېڅ دلچسپې نیشته . البته که دا ستاسو مطالبه وي نو په سرسترګو.

سکندرشاه: . قاري صېب ، دا زمونږ مطالبه اوګڼه بلکه دا به ستا مونږ سره لوے احسان وي چې زمونږ دا مسله حل کړے .دَ سکندر شاه مور دَ کمرې نه دَ وتو کوشش کوي ، قاري صېب هغې ته وائي، "بي بي ، دَ تلو کوشش مه کوه ، تهٔ دَ ګواه په طور دلته کېنه چې هرڅهٔ ستاسو په مخکښې اوشي او خبره شرعې ته درسته شي .

سکندر شاه (دَ حکم په انداز ) زرکوه قاري صېب . زهٔ درنه اسلام آباد ته روان یم په ماناوخته کېږي .



www.pukhto.Net

قاري صېب:. صېب جي ، که تهٔ اسلام آباد ته تلل غواړے نو تلے شے . بي بي سره به زما نکاح هله کېږي چې د دې عدّت پوره شي.

سکندر شاه (په غصه) عدّت دَ څهٔ خبرې؟ نه زمونږ صحبت شوے دے او نهٔ زمونږ رجوع شوے ده .

دَ سکندر شاه په خبره دَ هغهٔ مور هغهٔ ته دَ حقارت په نظر ګوري.

قاري صېب:. بیاخو په بي بي دَ عدت پابندي نیشته او په دے کار خبر کښې تاخیر نه دے پکار .

هغه پلوشي ته ګوري او ائي ، "بي بي ته ماسره نکاح کول غواړې؟ هغه ژاړي او هغه له هیڅ جواب ورنکړي ، قارصېب ترېنه بیا تپوس کوي ، "بي بي تهٔ ماسره نکاح کول غواړې "؟ د دے په جواب کښې دَ هغې په خوله سلګۍ راشي . په درېم ځل ترېنه قاري صېب بیا تپوس کوي؟ "بي بي تهٔ ماسره نکاح کول غواړې" چې په درېم ځل هم هغه خاموش پاتې شي نو دَ قاري صېب په مخ مُسکا خوره شي او وائي ، "خاموشي دَ رضا په معنیٰ کښې راځي ، نکاح اوشوه او مسله حل شوه ". دي سره دَ سکندر شاه مور مېمونه په ډکو سترګو دَ کمرې نه اووته . دَ هغې دَ تلو نه پس پلوشه هم په ژړا ژړا دَ کمرې نه اووته او خپلې کمرې ته لاړه .

دَ هغوي دَ تلو نه پس سکندر شاه قاري صېب ته وائي ، زهٔ درنه یو څو ورځو له اسلام آباد ته ځم خو خپل امانت پسې کله راشم .

قاري صېب:. امانت ؟ دې ته امانت مهٔ وایه صېب جي . دا امانت به





خیانت کېږي نو هله به دا مسله حل کېږي.

سکندرشاه :. هاؤ، هاؤ. ماته پته ده . ماته پته ده ، بالکل بالکل خو کله راشم ؟

قاري صېب :. چې خبره شرعې ته درسته شي نوزهٔ به درنه لاړشم او تاته به خپله بي بي پاتې شي .

سکندرشاه :. څه چې څنګه دے جوړه کړه هغسې م خوښه ده . زهٔ درنه لاړم . . .سلام علیکم .

قاري صېب :. وعلیکم السلام . په مخه دے ښه .

قاري صېب څوځله دَ هغې کمرې ته ورغی. خو هغه ډېره ډوبه پرته وه او دَ ځانه او دَ دنیا له احواله خبر نه وه .په سبا هغې خپل سامان راغونډ کړو، قاري صېب له یې دَ سامان غوټه ورکړه او په تلو تلو کښې یې مېمونې ابۍ ته اووې ، "مونږ هني مون دَ پاره بهر ته ځو". دي سره هغه مُسکۍ شوه او مېمونه ابۍ په چغو چغو په ژړا شوه. دَ هغې اوښکې لا اوچې نه وې چې دَ پلوشې مور شهناز بېګم دَ اښتنې پوښتنې دَ پاره هغوي کره راغله . دَ هغې په لیدو دَ مېمونې ابۍ رنګ زېړ شو او کریې بدل شو . په یره یره یې هغې سره روغ جوړ اوکړل اوځان سره یې کېنوله . دَ کېناستو سره هغې اووې ، "بي بي ستا دَ بیمارۍ نه خبرشوم ، ماوې چې ستاپوښتنه اوکړم ".

مېمونه ابۍ :. زما دَ بیمارۍ نه چا خبرکړې؟

شهنازبېګم :. بېګاه م پلوشې ته فون کړې وو او هغې نه م ستاسو دَ



www.pukhto.Net

روغ جوړ تپوس کړې وو. ستا دَ بیمارۍ خبره راته هغې اوکړه .

مېمونه ابی :. هغې . . .؟ هغې نورڅهٔ وې؟

شهنازبېګم :. هغې وې چې بې هوشه شوې وې او هسپتال ته اوړلې شوې وې ، ستا څهٔ بیماري وه بې بي ؟

مېمونه ابی :. یَه بې بي دَ بیمارۍ به څهٔ وې . هغه دَ چاخبره چې زوړ شي نو دَ بیمارۍ کور شي . که نوره بیماري وي او که نه وي خو بلډ پریشر او شوګر لازمي وي .

شهناز بېګم :. بالکل بالکل او بیازمونږ عمرونه داسې دي چې بیمارو له په خپله بلنه ورکوي ، (هغه اخوا دېخوا ګوري) پلوشه مِ اونهٔ لیده ؟ چرته تلې ده . . .؟

مېمونه ابی ( په لا پروایۍ ) هغه بهر ته تلې ده .

شهناز بېګم :. بهرته ؟ چاورله ډوډۍ کړې ده ؟

مېمونه ابی یو سوړ اسوېلې کوي او وائي ، "هغه خپل خاوند سره په هني مون تلې ده ".

شهناز بېګم (مسکۍ شي ) خُدائې دې خوشحاله ساتي. زما دعا ده چې دَ هغوي هره میاشت هني مون اوهرکال هني ایر ( Honey year ) وي . . .وارهٔ هم ورسره تلي دي ؟

مېمونه :. نه واړه خپل پلار سره اسلام آباد ته تلي دي .

شهناز بېګم :. (په حېرانتیا) وارهٔ خپل پلارسره اسلام آباد ته تلي دي؟ او هغه چاسره تلې ده ؟ زهٔ ستا په مطلب پو هـ نشوم .





مېمونه ابی :. بې بي تاته پلوشې دَ خپل ځان په باره کښې څهٔ نه دي وېلې ؟

شهناز بېګم (په بې صبرۍ سره ) نه ، ولې څهٔ چل شوې دې ؟

مېمونه ابی :. بې بي ، هغه چل شوې دې چې تراوسه پورې زمونږ په برادرۍ کښې نه دې شوې (شهناز بېګم هغې ته نېغ نېغ ګوري) "دَ سکندر شاه او دَ هغې ترمینځه عارضي جُدائي راغلې ده ".

شهناز بېګم :. عارضي جُدائي ، څهٔ مطلب؟ زهٔ پو هـ نشوم .

مېمونه ابی :. سکندر شاه هغې له طلاق ورکړې دې .

شهناز بېګم :. ط. ط .لا ق؟ "هغه خپل سر په دواړه لاسونو کښې نیسي".

مېمونه ابی :. هاؤ ، طلاق . زمادَ بیماري وجه هم دا وه ، خو وار مهٔ خطا کوه . هرڅهٔ به ټیک شي .

شهناز بېګم :. دَ طلاق نه پس به هرڅهٔ څنګه ټیک ټاك شي؟ "

مېمونه ابی هغې ته دَ سکندر شا دَ طلاق او قاري صېب سره دَ هغې دَ نکاح ټوله خبره کوي . شهناز بېګم چې دَ هغې خبره ووري نو وائي، "هغه کار اوشو څهٔ نه چې زه یرېدم . لورمِ لور اوشرمېده او حیامِ حیالاړه".

مېمونه ابی :. نه بې بي داسې هیڅ خبره نیشته . دا خبره مونږ پټه ساتلې ده او هېڅوك ترېنه خبر نه دي .

شهنازبېګم :. طلاق اوشو او څوك ترې خبرنشو؟ . . .بل ته په نکاح شوه او څوك ترې خبر نشو؟ دَ هني مون دَ پاره دواړه لاړل او څوك ترې



www.pukhto.Net

خبر نشو؟ دا څنګه کېدېشي ؟ او بیا په نني وخت کښې به خبره څنګه پټه پاتې شي ؟ دا هم معلومه نه ده چې هغه طلاق ورکوي او که نه ورکوي ؟

مېمونه بي بي :. قاري صېب ډېر ښۀ سړے دے . دَ هغۀ خپله ښځه شته ، دَ بال بچ پلار دے هغه هغې سره نکاح ته تیارنه وو خو مونږ مجبور کړو او زما په هغۀ ښۀ پوره یقین دے چې هغه به خپله وعده ضرور پوره کوي .

شهناز بېګم :. او که هغه خپله وعده پوره نه کړي نو پلوشه دَ هغۀ شوه؟

هغوي لا دا خبرې کولې چې ولې ترور ټکېدلې سینه په هایې سوران راغله . دَ راتلو سره دواړو ته ورترغاړه وته او په ژړا ژړا کښې یې اووې "هایې خُدایه ، څومره درنې او خوږې کورنۍ دَ خلقو دَ خندا شوې .

زما دَ ګل په شان بي بي لاړه خاورې ایرې شوه .خفه کېږۍ مه بېبیانو دا به د دې غریبې په قسمت پرته وه (مېمونې ابۍ ته ) "خان جي هغې له طلاق ولې ورکړو بي بي ، هغه خو ډېره خوږه جینۍ ده ؟"

هغه ډېره شېبه مېمونې ابۍ ته دَ تپوس په غرض ګوري خو چې هغه څۀ جواب ورنکړې نو وائي ، "زۀ به درنه لاړه شم بي بي ، ډېرې ابتنې پوښتنې م په سر دي خو ماوې چې دَ بي بي خبر واخلم بیابه رانه ګیله کوي " دې سره هغه روانېږي او بهراوځي . دَ هغې دَ تلو نه پس شهناز بېګم ، مېمونې ابۍ ته وائي ، "تاخو وې چې څوك ترې خبرنه دي؟ هغه هغې ته دَ جواب په غرض ګوري خو چې هغه جواب





ورنکړي نو پاسي او روانېږي .

پلوشه دَ هني مون دَ پاره قاري صېب سره بهراوتې وه خو نه قاري صېب کښې دَ هغې دلچسپي وه او نه په هني مون کښې . هغې نه هغۀ دَ خاوند په حېث تسلیم کړې وو او نه یې تسلیمول غوښتل . هغې دَ دغه کور نه ، د دغه ماحول ، معاشرې او د دغه برادرۍ نه وتل غوښتل او دے غرض دَ پاره یې قاري صېب دَ لارې ملګرے کړو. دَ هغوي رومبۍ شپه په یو هوټل کښې راغله . قاري صېب چې هغې ته رجوع اوکړه نو هغې ورته اووې ، "قاري صېب، ته ډېر ښه انسان یې. زۀ ستا ډېره مشکوره یم چې ماسره دے ملګرتیا اوکړه خو دَ ملګرتیا دا مطلب نه دے چې تۀ زما خاوند شوے او زما دَ بدن اختیار مند شوے ".

قاري صېب:. دا تۀ څۀ وایې بي بي ؟ زۀ ستا خاوند یم او تۀ زما ښځه یې . . .ستا ، ماسره نکاح شوې ده او تۀ شرعي او قانوني طورزما ښځه یې".

پلوشه :. قاري صېب ، تاسره زمانکاح نه ده شوې . نکاح دَ پاره باهمي رضامندي شرط دے . تازمانه درې ځله تپوس کړے دے او ماتاته ښه نه دي کړي .

قاري صېب :. تاښه نه دي کړې خو تۀ خاموشه پاتې شوې یې او خاموشي شرعا رضا ګڼلې شي .

پلوشه :. شکراوباسه چې زۀ خاموشه پاتې شوم . که ماخوله سپړدې



www.pukhto.Net

وې نو هغه اوربه مې راتوې کړې وې چې هرڅۀ به مې یولپه کړې وو. دَ نکاح دَ پاره باهمي رضامندي پکار ده ، مهرپکار دے او دَ نکاح اعلان پکار دے ، دے شرطونو نه بغیر نکاح نه کېږي .

قاري صېب:. که دغه شرطونه زۀ اوس پوره کړم نو بیا ؟

پلوشه :. نه قاري صېب ...دا خبره نوره مۀ چېړه . زما دَ زړۀ په کچه زخمونو مالګه مۀ دوړه وه .

قاري صېب:. بي بي زۀ به صېب جي او مشرې بي بي له څۀ جواب ورکوم . دَ هغوي په خیال کښې زۀ ستا خاوند یم او هغوي په دې طمعه دي چې زه تاله طلاق درکړم او هغه سره نکاح اوکړي .

پلوشه :. زۀ نه دومره ماشومه یم ، نۀ دومره بې اسرې یم او نه بې خولې بې زبانه ښاروې یم چې ستاسو جلب پسې به روانه یم ...قاري صېب ما دَ مور پلار دَ عزت دَ پاره قرباني ورکړه خو زما قرباني قبوله نشوه . مادَ یوې تابعداري لور په حېث خپل فرض پوره کړو اوس زۀ په خپله فېصله کښې ازاده یم .

قاري صېب:. بي بي ، زما حېثیت اګر څۀ ستا دَ یوادنیٰ غلام دَ حېثیت برابر هم نه دے خوزۀ تاسره وعده کوم چې که چرې ته ما دَ یو غلام په حېث قبول کړې نو زۀ به ټول عمر ستاوفادار غلام یم . که زمونږ کور په کور شي نو په طلاق مې نه صېب جي مجبوره ولے شي او نه مشره بي بي .

پلوشه :. نه قاري صېب ، داسے مۀ وایه . تاهغوي سره وعده کړے ده





او تۀ به خپله وعده ضرور پوره کوے". هغه دَ پرس نه روپۍ رااوباسي هغۀ ته یې نیسي او ورته وائي ، "هن ، دا پیسي واخله قاري صېب ، دا ستا دَ واپسۍ کرایه شوه . څه خپلې بي بي او بال بچ له ځان له اورسوه ، هغه خواران به ستا لارې ته ګوري ".

قاري صېب : بې بې ته مهرباني اوکړه او زما په خواست نظرثاني اوکړه.

پلوشه (په غصه ) قاري صېب ، دا پیسي واخله او څه په حیا کښې اوځه ، شابه دانګه ، قاري صېب ، دَ هغې دَ لاس نه روپۍ راکاږي او ډېر په تېزۍ سره بهراوځي . دَ هغۀ دَ تلو نه پس هغه دَ کمرې وربند کړي ، یوه لویه سایه اخلي او په خپل بېډ کښې سملي .

سکندرشاه چې په درېمه ورځ دَ اسلام آباد نه کورته راغۍ نو دَ جوړو جامو اوتحفو یولوے بنډل یې دَ ګاډي نه را اوویستلو او کور ته یې یوړو . په دغه بنډل کښې دَ قاري صېب دَ پاره جامه پیزار واسکټ پټکے او څۀ نورې تحفې هم وې ، دَ مور دَ پاره یې هم جوړې جامې او تحفې وې او نورې ټولې جوړې او تحفې دَ پلوشې وې. هغه چې بنډل اوسپړدو نو ټول سامان یې ترېنه اوویستلو او هغه یې بېل بېل کړو . بیا یې دَ مور نه دَ پلوشې تپوس اوکړو . دَ هغۀ په تپوس هغې په لاپروائۍ سره اووې ، "هغه خپل خاوند سره په هني مون تلې ده ".

سکندر شاه (په غصه ) په هني مون ...؟ هغوي له دَ کور نه دَ وتو اجازت چا ورکړو ؟ تا هغوي بهرته ولې پرېښودل ؟ ...دې نه معلومېږي چې ستا هغوي سره صلاح وه او هغوي ستا په خوښه



www.pukhto.Net

تلي دي ؟ زۀ خو ستا دَ لاسه اوشرمېدم . دَ هغه مورچپ ناسته وه او دَ هغۀ سپورې ستغې يې اوربدې خوكله چې هغې دَ هغۀ اخري الفاظ ووربدل چې "زۀ خو ستا دَ لاسه اوشرمېدم"، نو دَ هغې نه نور زغم اونشو او ورته يې اووې ، "زما دَ لاسه نه يې شرمېدلے ، طلاق هم تا وركړے دے او دَ هغې نكاح هم ستا په مرضۍ شوې ده . دَ نكاح نه پس هغوي شرعًا او قانونًا ښځه او خاوند دي ، نه پرې ستازور چلېدېشي او نه زما .

سكندرشاه :. زۀ دغې نه انكار نه كوم خو تا بهروتوته ولې پرېښودل.

مېمونه ابۍ :. هغوي نه قيديان وو چې كمره كښې مِ بند كړې وي، نه چرګان وو چې ټاپ مِ پرې اېښلې وې او نه څاروي وو چې خپو كښې مِ ورته پېكړې اچولې وې. هغوي په خپله مرضۍ تلي دي او په خپله مرضۍ به راځي .

سكندرشاه :. دا هرڅۀ ستا دَ لاسه اوشو، ستادَ لاسه، خوځه نور به رانه روغ نـه ګرځې ، دَ هغـۀ دې خبرې سره دَ ګېټ ګهنټي اوټنګېده .

سكندر شاه چې بهر اووتو نو قاري صېب ګېټ سره ژړغونے ولاړوو. سكندر شاه ترېنه په بې صبرۍ سره تپوس اوكړو ، "قاري صېب پلوشه څۀ شوه ؟" هغه چې ورته قيصه اوكړه نو سم دستي يې دَ مرۍ نه اونيوو. هغوي لا مرۍ ترمرۍ ولاړو چې خلقو خلاصي اوكړو . او چې كله پاتے خلق خبر شو نو هغوي په دواړو لعنت اووے او په دواړو يې ګوزارونه اوكړل .





## يۈلسم باب

په ملك كښې دَ بدامنۍ ، ترهه ګرۍ دَ اندروني خلنشار او بيروني خطراتو دَ مقابلې دَ پاره رياستي پالېسۍ كښې تبديلي راغلې وه . دَ رول او مېرټ مطابق شان په محكمه خارجه كښې دَ سروس مستحق وو او نرګس په محكمه پوليس كښې دَ ملازمت مستحقه وه خو دَ right person on the right post دَ پالېسۍ او دَ هغوي دَ باهمي رضامندۍ په وجه دَ جنرل ټرېننګ په اخري ورځ نرګس محكمه خارجه ته لاړه او شان دَ پولېس آفېسر په حېث ټرېننګ دَ پاره والټن ته لاړو . دَ هغوي ټرېننګ ډېرسخت وو او ډېر هلكان ترېنه پوزې له راغلي وو. دَ هغوي تقسيم اوقاتِ كار داسې وو چې سحر په خړه به پاسېدل او دوه ميله منډه به يې وهله . دَ هغې نه پس به يې پي ټي كوله او پي ټي نه پس به يې ناشته كوله . دَ ناشتې نه پس به يې دَ ډرل دَ پاره وردي واچوله او دوه پېرېده به يې پرله پسې په پرېډ ګرونډ كښې پرېډ كوو. دَ پرېډ نه پس ټي برېك وو او دَ هغې نه پس تر دوو بجو پورې دَ هغوي دَ قانون او پولېس لاء كلاسونه چلېدل . دوه بجې به چهټي اوشوه او دَ څلور بجې نه ترشپږ بجې پورې لوبې وې . دَ هغۀ دَ پاره پي ټي پرېډ څۀ مشكل نه وو ځكه چې هغه په خپل كالج كښې دَ NCC په ټرېننګ كښې كمپنې كمانډر پاتے شوے وو او دَ ټولې كمپنۍ لېډنګ به يې كوو . بهرحال قانون او دَ قانون تعليم دَ هغۀ دَ پاره نوے وو او دَ هغې دَ زده كولو دَ پاره هغۀ پوره كوشش كوو.



www.pukhto.Net

هلته نرګس ښځه په مزو کښې وه . هغې ته په محکمه خارجه کښې دَ سېکشن آفیسر ډیوټي ورکړې شوې وه او په هغې کښې مصروفه وه . سحر به خپلي ډیوټۍ له تله او دَ ډیوټۍ نه پس به خپلې خور ماریه سره پاتې کېده . کله کله به یې شان سره په موبائېل رابطه کوله او نوې ، زړه به یې چېړله . په خبرو خبرو کښې هغې څو څو ځله هغهٔ ته دَ راتلو خواست اوکړو خو هرځل به ورته هغه په خندا کښې وے ''که اسلام آباد ته درغلم نوتاسره به ضرور ملاوېږم ''. دَ هغهٔ په دې خبره به هغه ډېره خوشحاله شوه او ټوله ورځ به ځان سره موسېده . یوځل ورته هغې اووې ، ''شان صېب ، ډېره ګېله مِ درنه کېږي ''.

شان:. ګېله دَ څهٔ خبرې ؟

نرګس:. تاسو ته ماڅو څو ځله دلته دَ راتلو بلنه درکړه اوتا هرځل زما خبره په خندا کښې واړوله .

شان :. په خندا کښې مِ ځکه واړوله چې في الحال زهٔ په ټرېننګ کښې مصروف یم او چې ټرېننګ ختم شي نو ضرور به درځم خوستا لیدو له نه بلکه ستا ویشتو له .

نرګس:. زما ویشتو له ؟ اوه مائي ګاډ . دومره غصه دَ څهٔ خبرې؟

شان:. دَ څهٔ خبرې ؟ تهٔ لا خبرنه یې ؟ په خپله لاړې دَ افسرۍ په کرسۍ کېناستې او زهٔ دې په مصیبت واړولم ؟

نرګس:. اوه مائي ګُډنس ! څهٔ مصیبت پلیز؟

شان:. دا ټرېننګ ټول مصیبت دے ، که ماته مخکښې پته وه نو ما به





تاسره چري هم دَ ډیپارټمنټ تبادله نه وه کړے .

نرګس ( خاندي) شان صېب ، که ټرېننګ کښې درته څهٔ مُشکلات وي نو چې ایس پي اکرم صېب ته ستا سفارش اوکړم .

شان:. نه جي ، ډېره مهرباني . زهٔ دَ هغهٔ په نظر کښې ځان راوستل نه غواړم . هغه دومره سخت کمانډر دے چې چرته هغه ولاړ وي نو زهٔ خپله لاره بدلوم خودَ هغهٔ مخې له نه ورځم .

نرګس(خاندي) دَ هغهٔ نه مهٔ یرېږه هغه زما ماما دے .

شان :. هغه دَ هیچا هیڅ نه دے بلکه دَ خپلو اصولو ماما، کاکا دے ''.(دواړه خانډي ) هغې به چې کله هغه سره خبرې کولې نو دَ موبائېل سپیکر به یې آن کړې وو . دغه رنګې به دَ هغهٔ خبرې ماریه هم اورېدې او هغې به هم انجوای کولې . ماریه اګر چهٔ هغه لېدلې نه وو خو دَ هغهٔ دَ خبرو نه یې په خپل ذهن کښې دَ هغهٔ دَ شخصیت یوه خاکه جوړه کړې وه ، په خپل زړهٔ کښې یې محفوظه کړې وه او وخت په وخت به یې پکښې دَ نوے رنګونو اضافه کوله . دَ هغې په زړهٔ کښې دَ هغهٔ دَ لیدو ډېر خواهش وو او چې څومره څومره به وخت تېرېدو دَ هغې په خواهش کښې اضافه کېده . هغې غوښتل چې دَ هغهٔ په لیدو دَ هغهٔ دَ شخصیت ټول رنګونه دَ هغهٔ په خاکه کښې ځائے کړي او په هر لحاظ خپل کمې پوره کړي . یوځل دوه دَ هغې په زړهٔ کښې راغله چې هغه هم هغه سره خبرې اوکړي او دَ هغهٔ دَ خبرو نه خوندونه واخلي خو دَ نرګس دَ خاطره یې خپله اراده اوځنډوله .



www.pukhto.Net

ماریه او نرګس خپلو کښې خویاندې هم وې او ښۀ ملګرې هم وې . دَ هغوي هيڅ خبره دَ يوبل نه پټه نه وه . هغوي دواړه حسينې هم وې او لکه دَ مشر رور ډاکټر جميل ښۀ قابلې هم وې. دَ هغوي پلار ډاکټر سرجن اشتياق چې کله دَ يورپ او امريکې نه ميډيکل سپېشلائزين اوکړو نو پېښور ته واپس راغی او په حيات مېډيکل کمپلکس کښې اسټنټ پروفېسر شو. څه موده پس يې سرکاري نوکري پرېښوه او په ډبګرې ګارډن کښې يې خپل پرائيوېټ هسپتال کهلاؤ کړو. چې کله دَ هغۀ زوے جميل ډاکټر شو نو هغه هم ورسره شو او دَ هغۀ ښځه ډاکټر عندليب هم ورسره شوه . په لږه موده کښې يې ډير شهرت اوموندو او دَ هغۀ نوم ترلرې لرې خورشو. هغه لا په دغه مصروفياتو کښې اخته وو چې دَ سعودي عرب دَ وزيرِ صحت له خوا ورته په کنګ فيصل هسپتال رياض کښې دَ ملازمت پېشکش اوشو . هغه دا پېشکش غنيمت اوګڼو ، خپل پرائيوېټ هسپتال يې ډاکټر جميل ته پرېښودو او په خپله هلته لاړو . هلته هغه دَ خپلې کارکردګي په بنياد نه صرف دَ هسپتال اېډ منسټرېټر (منتظم) شو بلکه دَ شاهي کورنۍ ذاتي معالج شو او دَ اوسېدو دَ پاره ورته ښۀ عاليشان محل ورکړے شو . مېډم مسّرت څۀ موده هغه سره وه خو دَ بال بچ دَ تعليم دَ پاره هغه څۀ وخت پس واپس راغله او هغه يوائے پاتے شو . دوه ، درې مياشتې پس به دَ څو ورځو په چهټۍ کور ته راتلو او دَ بال بچ ابتتنه پوښتنه به يې کوله او چې کله به دَ ماريه او





نرګس دَ کالج چُهټياني وې نو هغوي به مورسره هلته تلې. څۀ موده به يې هغۀ سره تېره کړه ، ښۀ سېلونه به يې اوکړل او واپس به راتلې خو دَ آرمي سروس جائن کولو نه پس هغه دَ خپلو مصروفياتو په وجه هلته نه وه تلې . دغه رنګې نرګس هم دَ خپلې مطالعې او دَ CSS دَ تياري په وجه ډېره نه تله . البته مېډم مسرّت به تله راتله او ډاکټر اشتياق به هم تلو راتو .

ماريه او نرګس ته دَ ښۀ ښۀ کورنو له خوا دَ رشتو آفر شوے وو او مېډم مسرّت اګر چۀ ټولو ته ښۀ کړي وو خو دَ خوښخي ناخوښخي او انتخاب حق يې هغوي ته پرېښې وو . دغه سلسله راروانه شوه چې ماريه په آرمي کښې ډاکټره شوه اوسي ايچ راولپنډي ته راغله او اوس ورپسې نرګس هم راغله . ماريه په سرکاري بنګله کښې اوسېده او دَ آرمي له خوا ورته يو اردلي ورکړے شوے وو. هغۀ به دَ بهر منډه ترړه کوله او اخلې پخلې به خدمتګارې کوو . دَ هغوي مور مېډم مسرت دَ هغو ي دَ مستقبل په وجه ډېره پريشانه وه . هغې غوښتل چې دَ هغې په ژوند دَ هغوي رشتې اوشي او دَ هغې غم غُس شي. ماريه دَ خپل انتخاب په باره کښې خاموشه وه البته دَ نرګس سترګې په شان لګېدلې وې او هغې په خپل زړۀ کښې هغه دَ خپلو ارمانونو تکميکل ګڼلو . هم په دې وجه هغې ته دَ هغۀ دَ ټرېننګ ختمېدو او هغۀ سره دَ ملاوېدو شديد انتظار وو. دَ انتظار دغه ورځې شپې او دغه لمحې په هغې ډېرې اوږدې شوې. کله کله به هغه دَ وخت په سست



www.pukhto.Net

رفتارۍ غصه شوه او ځان سره به یې وې چې دا ورځ ولې نه تېرېږي او شپه ولې نه سبا کېږي . خو نه هغې نمر له مخکښې دیکه ورکولې شوه او نه یې دَ شپې پړونې غونډولې شو . وخت لکه دَ سمندر دَ چپو دَ چا دَ احساساتو احساس نه لري . که دنیا ورانیږي او که ودانیږي ، که څوك مري او که پیدا کېږي ، که څوك راځي او که ځي ، که څوك ژاړي او که خاندي خو وخت نه چاته ګوري او نه په چا کار لري . بس خپل کار سره کار لري او په مخکښې ځي .

هم دغه رنګې وخت تېرېدو او دَ شان دَ ټرېننګ ورځې شپې کمېدې او اخر یوه ورځ داسې راغله چې دَ هغهٔ ټرېننګ ختم شو. هغهٔ ته دَ ښهٔ کارکردګۍ په وجه اېوارډ هم ورکړے شو او دَ ASP ګل هم ورته اولګېدو . دې سره سره ورته په وزارت داخله اسلام آباد ته دَ رپورټ کولو آرډر هم ورکړے شو . هغهٔ غوښتل چې نرګس سره دَ ملاوېدو نه مخکښې هغې ته کال اوکړي خو بیا یې په زړهٔ کښې راغله چې هغې له سرپرائز (Surprise) ورکړي او هغې له دَ هغهٔ دَ انتظار موقعه ورنکړي . او هم دغه رنګې اوشوه . هغه چې په وزارت داخله کښې چارج واخستو نو هغې سره دَ ملاقات دَ پاره دَ هغې کورته روان شو. هغه چې دَ هغې دَ کورمخې ته دَ ټیکسي نه کوز شو او خپل سامان یې دَ ټیکسي نه بهر کړو نو هغې له یې یو کال ورکړو . هغې چې موبائیل اوچت کړو نو مسکۍ شوه او په مُسکا یې هغهٔ ته اووې ، "هیلو شان صېب څنګه یې ، ټرېننګ به دے کله ختمیږي؟





شان:. ټرېننګ مِ ختم شوے دے او زه بالکل فارغ یم .

نرګس:. Oh , what a good news ،کله به راځے پلیز.

شان:. زهٔ راغلے یم او ستاسو دَ کور مخے ته ستا په انتظار کښې ولاړ یم.

نرګس:. اوه مائي ګاډ ، دې سره هغه ډېره په توندۍ سره دَ کورنه بهر اووته ، هغه سره یې په مُسکا مسکا روغ جوړ اوکړل ، په نوکریې دَ هغه سامان اوچت کړو او هغه یې ځان سره کورته روان کړو . په تلو تلو کښې ورته هغې اووې ، "که تاماته مخکښې کال کړے وے نو ما به ستا د استقبال ښهٔ پوره بندوبست کړې وې".

شان (په مُسکا) زهٔ لا دَ دومره عزت مستحق نه یم البته ستا دَ نیك خواهشات ډېره شکریه .(دواړه خاندي)

هغوي لا په ولاړه ولاړه خاندل چې دېکښې دَ هغوي دَ کور ګېټ لرے شو او یو نوے موټر کورته دننه شو . چې ګاډے اودرېدو نو ماریه ترېنه کوزه شوه . هغه په وردۍ کښې وه او درې طلائي ګلونه یې په بیله بیله اوږه ځلېدل .هغه په مُسکا مُسکا دَ هغوي په طرف روانه شوه ، شان چې هغې ته اوکتل نو هوشیار شو او هغې ته یې سلوټ اوکړو . دَ هغهٔ دَ سلوټ په جواب کښې ماریه هم هوشیاره شوه او دَ هغهٔ سلوټ یې واخستو خودَ هغهٔ لاس لا هغسې دَ هغهٔ په تندي پروت وو . نرګس چې دَ هغهٔ بدحواسۍ ته اوکتل نو مسکۍ شوه، دَ هغهٔ لاس یې دَ هغهٔ دَ تندي نه کوز کړو او ورته یې اووې ، "ok,ok" ستاسلام اوشو ، دې سره هغه هم مسکے شو او ماریه هم مسکۍ



www.pukhto.Net

شوه . ماریه ته پته اولګېده چې دا شان دے . هغې هغه سره روغ جوړ اوکړل. نرګس دَ هغوي تعارف داسې اوکړو،"ماریه، دا ASP شان صېب دے او شان صېب دا زما خور ډاکټر کېپټن ماریه ده ".

شان:. Too much regards for you, captain Maria .

ماریه:. The same respects for you , ASP, Shaan ، بیا نرګس ته وائي ، نرګس شان صېب ګسټ روم ته بوځه چې رېلېکس شي . هغې هم دغسې اوکړل . هغه یې ګسټ روم ته بوتلو او ورته یې اووې ، شان صېب ، ته جامې بدلے کړه، نورې خبرې به بیا اوکړو.

**﴿ څلورمه برخه ﴾**

زیړ مازیګروو چې دَ شان دَ کمرې په ورناکنګ اوشو. هغه چې دَ ناکنګ اواز واورېدو نو دَ بېډ نه پاسېدو او ور له روان شو هغهٔ چې ورلرے کړونو دَ کور خدمتګاره ناهید ورسره ولاړه وه او دَ هغهٔ دَ جواب انتظار یې کوو. دَ هغهٔ په لیدو هغه مسکۍ شوه او هغهٔ ته یې اووې ، "سرجي ، بیبیانې دَ چایې په مېز ستاسو انتظار کوي ". هغه هغې ته په مختصر جواب کښې اووے ، "ته ورځه ، زهٔ درغلم ". دې سره هغه کمرې ته بیا واپس شو ، پېنټ ، شرټ یې واچوو، نک ټائي یې اوتړله ، سرځنه یې اوکړه او په افسرانه موډ کښې دَ ګسټ روم نه اووتو.

مخامخ لان کښې په یو مېز چایې لګېدلې وه او دواړه بیبیانې دَ هغهٔ په انتظار کښې ناستې وې . دَ هغهٔ په ورتلو دواړه پاسېدې، هغه هغوي ته تېنك یو او وے او هغوي ته مخامخ په خالي کرسۍ





کښناستو .نرګس سره ګلابي جوړه اغوستې وه، سنبلې زلفې یې څهٔ په شانو خورې وې او څهٔ دَ هغې دَ مخ په خزانو لاندې زانګېدې او یوه نرۍ لوپټه دَ هغې په ګسه اوړه پرته وه . ماریه دَ انګوري رنګ زیړبخنه جوړه اغوستې وه ، زلفې یې غونډې کړې او دَ هغې څوکې یې روستو تړلې وې. دَ هغې دَ لوپټې پسکي دَ هغې په اوږو پراتهٔ وو او مینځنۍ حصه یې په سینه پرته وه . یوخوا نمر په غرغره وو. بل خوا دَ هغوي حسن سره لمبه وو. دَ نمر په طلائي پلوشو کښې نرګس دَ ورېمو نه ډکه لکه دَ سروګلو غنچه موسېده او ماریه دَ ځوانۍ دَ رس نه ډکه دَ خوږو انګورو پخه غُنچه ښکارېده. یوه دَ بویولو وه او بله دَ چوپلو او دَ هلواقه تېرولووه .سپین فراخه جبین ، سرهٔ خواړه اننګي لکه ګبین ، وړه خوله لکه دَ سور ګلاب غوټې ، تکه سپینه ، مرمري هسکه غړۍ ، توري غټې سترګې ، هلالي روځې ، ګل پانې سرې شونډې او یاقوتي پوزه دا وې دَ ماریه دَ حسن یو څو غټې نښخې. شان لکه دَ اوتر ماشوم کله یوې ته کتل او کله بلې ته . ماریه فطرتي طور خاموش طبیعته وه . هغې په چپه خوله دَ دنیا رنګونه او خوندونه غونډول او دَ هغې په ذهن کښې پرته دَ هغهٔ دَشخصیت په خاکه کښې یې په سمون سمون ځایول . په مېز دَ دنیا نعمتونه پراته وو خو هغه دَ فطرت دَ نعمتونو په ننداره او دَ هغوي دَ حسن په تماشه وو. یوه شېبه پس ماریه مسکۍ شوه او هغهٔ ته اووې،"شان صېب ، شروع کوه پلیز". دَ هغې دَ مُسکا په جواب کښې هغه هم مسکے



www.pukhto.Net

شو او هغې ته یې "تېنك یو" اووے ، چې هغه پیالۍ اوچته کړه نو دَ هغهٔ په سیالۍ کښې هغوي هم پیالۍ اوچتې کړې . هغوي چایې هم څکلې او خپلو کښې یې خبرې هم کولې . په خبرو خبرو کښې ماریه هغهٔ نه تپوس اوکړو ، "شان صېب ، په ټرېننګ کښې خوبه تنګ شوے وے "؟ دَ هغې په تپوس باندې نرګس خاندې او دَ شان متعلق هغې ته وائي ، "باجي ، شان صېب دومره تنګ شوے وو چې یوځل ورته مادلته دَ راتلو خواست اوکړو نو دوي راته اووے ، چې درځم به خوستالیدو له نه بلکه ستا ویشتوله "ماریه دَ هغې په خبره خاندې او په خندا خندا کښې وائي ، "شان صېب تهٔ بالکل حق بجانب یې ، دغسې یوځل ما هم امّي ته وېلې وو . زهٔ چې کله په اُرمي ټرېننګ کښې ووم نو امّي به راته څو په څوېمه وېلې ، لورې یوڅو ورځو له کورته راشه ډېره مې یادېږې " زهٔ چې دَ هغې دَ خواستونو نه ډېره تنګه شوم نوماورته لکه ستاسو اووې، "درځم به خوستالیدو له نه بلکه ستا ویشتوله . چې ټرېننګ ختم شو او کورته راغلم نو امي راسره خبرې نه کولې . بیا مې ورته سورې اووې او ډېره په مشکله مې پُخلا کړه ".

شان :. که زهٔ نرګس بي بي ته سورې اووېم نو پخلا به شي؟

ماریه :. داخو ستا دَ سورې وېلو نه بغیر هم پخلاده . تهٔ ورته اوګوره ستا په راتلو څومره خوشحاله ده .

شان:. په ظاهره خوشحاله ده خو په زړهٔ کښې یرېږي او زما هر حرکت





ته ګوري چې چرته خپل قول رشتیا نکړي.

ماریه:. که دا ستا په حرکت پوهه شوه نو هم ستا پناه به اخلي او ستا په ترخ کښې به پټېږي" (ټول خاندي) په دغه خندا خندا کښې دَماریه په کمره کښې دَ هغې موبائېل ګرنګېږي ، ناهید ډېره په تیزۍ سره دَ هغې کمرې ته ورشي ، دَ هغې موبائېل راواخلي او هغې له یې ورکوي ، هغه چې موبائېل o.k کړي او غوږ ته یې اونیسي نو رنګ یې تك زېړ شي او یوه شېبه پس وائي ." O.k.sir ، زهٔ درغلم "شان او نرګس هغې ته په یره یره ګوري. نرګس ترینه په یره تپوس کوي"څهٔ اوشو باجي ؟"

ماریه:.دَ اُرمي په کنوائي (Convoy ) خودکش حمله اوشوه CMH کښې ایمرجنسي لګېدلې ده ، هغه پاسي او پاسېدوکښې وائي، "شان صېب ، زه CMH ته ځم . تاسو زما دَ راتلو پورې ایسارشۍ"

شان:. تینك یوماریه ، تاسوخپلې ډیوټۍ له ورشۍ او زهٔ به درنه کلي ته لاړ شم ؟

ماریه :. کلي ته ، بیادومره لږ ساعت دَ پاره ولې راتلے ؟

شان:. ماته لس ورځې چهټۍ ملاؤ شوې ده زهٔ ویم چې کلي ته لاړے ، امي او ابو ډېر پرېشان دي .

نرګس:. باجي تهٔ خپلې ډیوټۍ له لاړه شه ، دَ دوي غم مهٔ کوه . ستا دَ اجازت نه بغېر هېچرته نشي تلے . دَ هغې په یقین دهانۍ هغه ډېره په توندي سره خپلې کمرې ته ورځي خپل پرس راخلي، په ګاډي کښې کېني اړدي او ډېره په تیزۍ سره دَ کوره اوځي. دَ هغې دَ تلو نه



www.pukhto.Net

پس هغوي هم بهر اوتل او په ګرځېدو ګرځېدو نېشنل پارك ته اورسېدل .نمر پریوتے وو ، تیارۀ خورېده خو دَ چاپېره تېز بلبونو په وجه دَ تیرې پته نه لګېده . هغوي دواړه دَ ګلِ شبو خوشبو داره بوټي خوا کښې په یو بینچ کښناستل . دَ ګلونو دَ خولو نه خوشبوئي وته او دَ هغو ي نه تاوېده . نرګس دَ هغۀ نه تپوس اوکړو، '' شان صېب، ستاسو چهټي منظور شوې ده ''.

شان:. هاؤ نرګس ، دَ رول مطابق دَ ټرېننګ نه پس لس ورځې چهټي ملاوېږي . ماخپل اېرائېول ریپورټ ورکړو او لس ورځې چهټي یې راکړه.

نرګس: دَ چُهټي نه پس به ستا رهائش چرته وي ؟

شان:. مافي الحال فېصله نه ده کړے خو کېدېشي چې زۀ دلته پاتے نشم او په دې چهټي کښې زمابدلي خیبرپښتونخوا ته اوشي.

نرګس:. داسې مه وایه پلیز . زۀ وېم چې هم دلته پاتے شے .

شان:. زما په وېلو نه وېلو هیڅ فرق نه پرېوځي نرګس جي ، نوکر، نوکروي او سرکار سرکار وي . چې چرته دَ سرکار خوښخه وي هلته به ځې دَ سرکار آرډر به منې او که منې نوکورته به ځې.

نرګس:. شان صېب ، ترځو چې ستابدلي نه وي شوې نوموږ سره ، موږ کره پاتے کېږه .

شان:. نرګس نه ، داسې نشي کېدې. زۀ نه غواړم چې زماپه وجه ستاسو په معمولاتو کښې فرق راشي .

نرګس:. زموږ په معمولاتو کښې به څۀ فرق راشي؟ مثلًا . . .؟





شان:. نرګس ، دَ یو نامحرم په حېث ، زۀ ستاسو په کور کښې تاسو سره څنګه پاتے کېدېشم ؟

نرګس:. دَ نامحرم په حېث . . . .؟ هغه مخکښې څۀ وېل غواړي خو اونه وېلي شي او چپ پاتې شي .

شان:. ته په خپله سوچ اوکړه چې زموږ په معاشره کښې دا جائز دي؟ . . .ظاهره ده چې چرې هم نه .

نرګس:. د دې جواز هم کېدېشي ؟

شان:. مثلًا، څۀ او څنګه ؟ . . .هغه یوه شېبه چپ وي بیا مسکې شي او وائي ''شان صېب ، زۀ چې څۀ وېل غواړم هغه م په خوله نه راځي ، تۀ څۀ مثبت جواز پېش کړه ''.

شان:. څۀ چې ستا په خوله نه راځي ، هغه زما په خوله هم نه راځي.

نرګس:. هغه کومه خبره ده چې ستا په خوله نه راځي؟

شان (مسکے شي ) مسله خو دا ده چې زما په خوله نه راځي.O.k نېور مائنډ . په دې مسله به بیا خبرې اوکړو .

نرګس:. بیا ؟ بیاکله ؟ اوس ولې نه ؟ زۀ دا موقعه ضائع کول نه غواړم.

شان:.بنه وایه ، ته څۀ ویل غواړې. زۀ همه تن ګوش یم .

نرګس (خاندي) داسې نه ، زۀ مېسج درلېږم هغه اولولۀ ، هغۀ دپرس نه موبائېل را اوباسي او هغۀ ته مېسج کوي . شان چې دَ مېسج الفاظ اولولي نو هغه داسے وي . I Love you , dear shan . شان مسکے شي او دَ مېسج ورکولو په ځائے هغې ته ګوري او وائي، I



www.pukhto.Net

Love you , dear Nargas نرګس چې دَ هغۀ دَ خولې نه دغه الفاظ ووري نو هغه دَ خوشحالۍ نه سمه ليونۍ شي . هغه خاندي او په خندا کښې هغه ته وائي .?Is it so .

شان:. yes, my dear i love you . دې سره نرګس دَ هغۀ شونډې ښکل کړي او دَ هغۀ په اوږه سر کېږدي . دَ هغې په بدل کښې هغۀ هم دَ هغې شونډې ښکل کړي او دَ هغې په اوږه سر کېږدي .

هغوي لا دَ مینې په مشغولا وو چې دَ نرګس په موبائېل رینګ راغې . هغې په مدهوشه حالت کښې دَ هغۀ دَ اوږې نه سر اوچت کړو او په ډډ اواز کښې يې اووې ، "هېلو څوك پليز؟"

اواز:. تۀ چرته يې نرګس ؟ (دا دَ مېډم مسرّت کال وو)

نرګس:. امي زۀ کوریم ، شان صيب راغلے دے ، زۀ هغوي سره ناسته يم .

مېډم مسرت:. Stupid . کور کښې خوزه ناسته يم . تۀ کوم ځائے يې، "نرګس په موبائېل لاس کېږدي شان ته ګوري او وائي، "اوه مائی ګاډ " بيا وائي امّی زۀ دَ کور نه بهر په نېشنل پارك کښې شان صيب سره ناسته يم "مېډم مسرت موبائېل بند کړي ، نرګس شان ته ګوري او وائي ، "په ټول ژوند کښې مې په رومبي ځل مې دروغ اووې او په هغې اونيولې شوم ". دې سره هغوي دواړه پاسېدل او کورته روان شو. چې کورته اورسېدل نو مېډم مسرت واقعي غصه وه . هغې شان سره روغ جوړ او زاروقربان اوکړل خو دَ نرګس سترګې مشي يې وانه خستل او





ورته يې اووې ، "تاماته دروغ ولې اووې ، تۀ نه صرف خودسره شوې بلکه دروغژنه هم شوې. "

نرګس سرخکته کړې وو او هغه لګيا وه او خولې له يې وارنۀ ورکوو.

نرګس چې ډېره تنګه شوه نو هغې ته يې "سوري امي" دَ هغې په سوري باندې هغه داسې يخه شوه لکه په بلو لمبو چې اوبه واچولې شي ، مړې شي اويخې ايرې شي بيا پاسېده هغه يې خپلې سينې پورې اولګوله او څو څو ځله يې ښکل کړه بياورته وائي، "راشه ، ماته مخامخ کېنه" نرګس چې هغې ته مخامخ کېني نو هغه ترېنه تپوس کوي، "ماريه څۀ شوه "؟

نرګس:. امي شايد تاسو به خبرونه اورېدلې وي . لږ ساعت مخکښې دَ اُرمي په کنوائي يوه خودکش حمله اوشوه دَ هغې په وجه په CMH کښې ايمرجنسي اولګېده . هغه هلته اوغوښتې شوه او لا تراوسه پورې هلته ده ". هغوي لا دَ خودکش حملے او فوجيانو دَ مرګ ژوبلې په حقله خبرې کولې چې دَ ماريه ګاډے په ګېټ دننه شو او کورته راغې . هغه چې دَ ګاډي نه کوزه شوه نو مور له ورغله او هغې سره يې روغ جوړ اوکړل .مېډم مسرت دَ هغې نه تپوس اوکړو ، "لوري څۀ مرګ ژوبله پکښې شوے ده "؟

ماريه :. هاؤ امّي ، ډېره زياته ، لويه تباهي شوې ده .

مېډم مسرت :. تۀ ترېنه ولې راغلې ؟

ماريه :. امّيَ دَ ايمرجنسي کال په وجه ټول مېډيکل سټاف راغلې وو،



www.pukhto.Net

نور هلته ایساردي او ماله بریګېډیر صیب رخصت راکړو . . . امي تاسو دَ پشیګي اطلاع نه بغیر ناصافي ولې راغلی .

میډم مسرت:. داسې اوګنه لورې چې زه هم په ایمرجنسي کال راغلي یم . (ټول هغې ته په حیرانتیا ګوري) لورې پلار دے کال کړے وو چې دَ دوو شهزادګانو وادونه دي او دواړو هغۀ ته ښۀ په کلکه وېلے دي چې خپله ټوله کورنۍ له بلنه ورکړي او وادونو له خامخا راشي .

نرګس:. (دَ خوشحالۍ نه) oh, what, a good news it?

ماریه :. امي وادونه کله دي ؟

مېډم مسرت:. زمونږ په حساب ، د دې رواني میاشتې په شلم تاریخ .

ماریه :. یعني زمونږ په تلو کښې شل ورځې شته .

مېډم مسرت:. هاؤ شل ورځې شته خو په دېکښې تاسو خپل تیارې اوکړي او دَ چهټۍ دَ پاره بـه درخواستونه ورکـړي . او هڼ ، خپل پاسپورټونه ماله راکړی چې زۀ یې سبا له سفارت خاني ته یوسم چې ویزې پري اولګي .

نرګس:. شان صیب ، تۀ هم خپل تیارې اوکړه چې غونډ لاړ شو .

شان :. خبره دې بده نه ده خو مشکله ده .

مېډم مسرّت :. زویه که ستا چهټۍ کښې اضافه کېدېشي نو تۀ هم دې جینکو سره لاړ شه . ستا آؤټینګ به هم اوشي او دوي ته به ستا سهاره هم ملاؤ شي .

شان :. مېډم په موجوده حالاتو کښې زما په چهټۍ کښې اضافه کېدل





مشکله ده . هغوي لا خبرې کولې چې دېکښې دَ هغوي خدمتګاره ناهېد راغله او مېډم مسرت ته یې اووې ، "بي بي ډوډۍ تیاره ده ".

مېډم مسرت:. (هغوي ته ګوري) ځې بچو پاسی چې ډوډۍ اوخورو، نورې خبرې به بیا کوو ، دې سره هغوي ټول ډائننګ روم ته روان شو .

﴿ **پنځمه برخه** ﴾

شان چې کله کلي ته اورسېدو او دَ کلي خلق دَ هغۀ دَ راتلو نه خبرشو نو ډلې ډلې دَ هغۀ سترې مشي له راتلل ځکه چې دَ هغۀ دَ راتلونه مخکښې په ملك آباد او په خواؤ شاکلیو کښې دا خبر خور شوے وو چې هغه نه دَ پولیس لوے افسر جوړ شوے دے. دَ لوے افسر نه دَ هغوي مقصد دا وو چې دَ پولیس په محکمه کښې دَ هغۀ نه لوے افسر بل نیشته . چا به وے پولیس کپتان شو او چابه وے پولیس جرنېل شوخو په دے ټول متفق وو چې دَ هغۀ دَ پاسه بل افسر نېشته بلکه هغه دَ ټولو دَ پاسه دے . هم دغه وجه چې څوك به دَ هغۀ سترې مشي له راتلل نو خپل کشران به یې په دے غرض ځان سره راوستل چې هغوي له ځۀ نوکرې ورکړي. شان به هریو ته ښه کول ځکه چې ټول دَعلاقي خلق وو او خفه کولے یې نشو . او چې کله دَ علاقي تانېدار دَ هغۀ سلام له راغی نوبیاخودَ خلقوپه نظر کښې دَ هغۀ سرنورهم لوړ شو . په اخره کښې دَ خلقونه دومره تنګ شو چې دَ هغوي سترې مشي ته یې پلار کېنوو او په خپله کور او په خپله کمره کښې کېناستو .چې کله حالات سازګار شونو بیا به کله کله حجرې ته



www.pukhto.Net

تـلـو. هلتـه بـه يې اخبار هم کتو او نوکرانو او زمېدارو سره به يې ګپ شپ هم لګوو. يـوورځ هغـهٔ پـه حجـره کښـې اخبارکتو چې دَ يو انـدوهنـاکي واقـعي خبـرپـکښـې راغـی ، خبـرداسـې وو" خیبرپختونخوا میں خطرناک قیدیوں کی گاڑی پر دہشت گردوں کا حملہ۔تمام قیدی رہا کر دیئے گئے۔پانچ پولیس اہلکار ہلاک ، گاڑی بم دھماکے سے اڑادی گئی ۔گاڑی پشاور جیل سے قیدیوں کولے کر ہری پور جیل جارہی تھی"بیا ورپسې روستو پوره بیان هم وو او د دغه قيديانو نومونه هم وو. په دغه خطرناکو قيديانو کښې دَ نورو نه علاوه دَ تاواني کاکا نوم هم شامل وو. هغه چې په خطرناکو قېديانوکښې دَ تاواني کاکا نوم اوليدو نـو هغه حېران هم شو او خندا هم ورغله . هغهٔ لا ځان سره خاندل چې دَ هغهٔ يونوکر دَ هغهٔ خوا له ورغی او تپوس يې ترېنه اوکړو ، "ولې کشر خان په اخبار کښې څهٔ خبره راغلې ده چې خاندے ؟"

شان:. په هلکه دا راته اووايه چې تهٔ تاواني کاکا پېژنـے ؟

نـوکـر:. هـاؤ خان جي ولې نه ، تاواني کاکا لاڅوك نه پېژني، دا تپوس دے څنګه اوکړو خان جي ؟

شان:. هغه اوس کوم ځائـے دے ؟

نوکر:. هغه په جيل کښې دے خان جي، لس کاله قېدپرې ختلې دے.

شان:. قيد؟ ولې هغهٔ څهٔ کړي وو؟

نـوکر:. هغهٔ خپله لورخرڅه کړے وه خان جي، ولې ستا ياد نشي چې هغـه پوليس ورپسې ورغلـے وو او دَ هغهٔ په تس کښې يې سېدا جان اوزين خان نيولي وو او بيا ترېنه تاخلاص کړل .





شان:. اوه ، ښه ښه تېك ده تېك ده .

نوکر:. ولي خان جي، دَ هغهٔ په باره کښې په اخبار کښې څهٔ خبره شته دے ؟

شـان:. هـاؤ ، هـغه نورو قيديانو سره دَ پوليس په ګاډي کښې دَ پېښور جېـل نـه دَ هري پور جېل ته تلو . په ګاډي حمله اوشوه او ټول قيديان رها شو . هغوي سره هغه هم رها شو .

نـوکـر:. په والله چې تندے يې نه دے بل مشال دے چې دَ دغه تورې بـلا دَ خـولـې نه اووتو ، شان اخبار هغه ته پرېښودو او هغه کورته لاړو. چې لږ ساعت تېرېدو نو دَ تاواني کاکا دَ واقعې نه ټول کلې خبرشو. نن دَ شان دَ چُھټۍ اخري ورځ وه . هغهٔ لا ډيوټۍ له دَ تلو په باره کښې سـوچ کـوو چې دَ هـغوي دَ کور خدمتګاره دَ هغهٔ په اجازت کمرې ته ورغـلـه او يـوه خـړه لـفافـه يې هغهٔ له ورکړه . هغهٔ چې په رېږدېدلو لاسـونـو لفافه کھلاؤ کړه او خط يې ترېنه رااوويستلو نو هغه دَ هغهٔ دَ تبـادلې آرډر وو. دَ هغه خدمات دَ خېبر پښتونخوا محکمه پوليس ته سپـارلي شـوي وو. سبا چې هغهٔ ناشته اوکړه نو وردې وا چوله او مور پلار ته يې سلوټ اوکړو هغوي دواړه په واره واره ښکل کړو او په مينه يې رخصـت کـړو . هغـه چې پـولیـس هېډ کوارټر تـه اورسېدو نو متـعلـقه DIG سره يې ليـدل کتـل اوکـړو. دَ شـان پـه ليدو هغـه ډېر خـوشـحالـه شو ځکه چې ينګ هم وو، سمارټ او ذهين هم وو. هغه هغـهٔ سره يـوه شـېبـه نـاست وو او په مختلف موضوعاتو يې ورسره خبرې کـولـے .دَ هغهٔ نه پس هغه متعلقه SSP سره ملاؤ شو هغه



www.pukhto.Net

هم لکه دَ DIG ډېرښه سړے وو . هغهٔ هغه له مبارکي هم ورکړه او
هدایت یې هم ورکړل . دې نه پس هغه متعلقه SP سره ملاؤ شو SP
هغه سره دَ ټرېننګ او دَ ټرېننګ دَ کماندرانو متعلق خبرې کولے او
چې کله دغه خبري اوږدې شوې نو چایې راغله او هغهٔ سره یې ښه
مکلفه چایې اوڅکله . دَ چایې څکلو نه پس SP هغه له دَ پېښور او
ایف آر پېښور دَ ټولو تانو اوچوکیو یولوې لسټ ورکړو او په دغه
ټولو تانو کښې ورته دَ ابتدائي عملي زده کړې دَ پاره اوویلے شو خودَ
هغهٔ دَ عملي کار دَ آغاز دَ پاره ورته دَ فقیر آباد پېښور تانه ورکړې شوه
دَ فقیر آباد تانه دَ DSP ګلزار ماتحت وه . DSP ګلزار ،
Direct,seleetee نه وو بلکه رېنکر وو او دَ کنسټېبل نه دغه پوسټ
ته رسېدلے وو. هغه ډېرخوش اخلاقه افسر وو. شان چې هغهٔ له
خپل کاغذونه ورکړل او خپل تعارف یې ورسره اوکړو نو هغهٔ فوراً
چایې راؤغوښته او دَ هغهٔ یې ډېر عزت اوکړو بیا یې ټولې عملې سره
دَ هغهٔ تعارف اوکړو. هغه له یې خپل دفتر هم ورکړو او هغهٔ ته یې
خپل ټاسك حواله کړو. هغهٔ چې تردوو بجو پورې خپله ډیوټي اوکړه
نو په ګاډي کښې کېناستو او کورته روان شو چې لږ مخکښې لاړو
نودَ هغهٔ په موبائېل باندې رېنګ راغی. هغهٔ چې موبائېل اوچت
کړو نو هغه دَ نرګس موبائېل نمبر وو هغه ګاډے یوې غاړې ته اودرو،
اوهغې ته یې اووے ، هېلو مائي ډېر نرګس ، څنګه یې او چرته یې ؟
نرګس:. زهٔ ، امي اوباجي پېښور ته راغلي یو او په ډیفنس کالوني





کښې په خپل کور کښې یو. ته چرته یې؟
شان:. زما تبادله خېبرپښتونخوا ته اوشوه . ما چارج اخستے دے او
خپل کارمِ شروع کړے دے . تاڅنګه کال اوکړو ؟
نرګس:. شان صېب ، نن شپږ بجې زمونږ فلائټ دے . ته راشه پلیز،
امي او ماریه تایاده وي .
شان:. دومره په شارټ نوټس؟ دا زمادَ عهدې ، شخصیت او اناتو هین
دے ...ناممکن .
نرګس:. شان صېب ، که ته رانغلے نو دا به زما دَ مینې توهین وي.
شان:. په خپل جرم کښې خپله معصومه مینه مهٔ رالړه ، سمې خبرې
کوه او غلط بیاني مهٔ کوه ګینې په حوالات کښې به دې بنده کړم او
ثوك به دې رانه تپوس قدرې هم اونکړي .
نرګس:. اوه مائي ګاډ دومره غصه په ماولې کوے پلیز.
شان:. په تا باندې غصه څکه کوم چې دَ اوس نه دے اویروم او بیا
راباندې سرپښې نه کوې.
نرګس:. که ما درباندې سترګې را اوویستلې نو خپله افسري به درنه
هېره شي .
شان :. واه بهئ واه . ماته پته نه وه چې ته دومره ترخه یې ؟
نرګس:. چې دَ اوس نه ترخه نشم نو بیا به مِ هلواقه تېره کړے .
شان:. بیا؟ بیاکله ؟ دَ بیا نه ستا څه مراد دے ؟
نرګس:. تهٔ دَ بیا په معنیٰ نه پو هېږے ؟ یعني ...یعني ...یعني دَ



www.pukhto.Net

وادهٔ نه پس .(خاندي).

شان(خاندي) اوهن ، هلته ډېره ايسارېږه مه . چې وادهٔ اوشي نوزر راځه . زمامور پلار ستا واپسۍ ته سترګې په لار دي .

نرګس:. شان صېب ، ستامينه او يادونه به مِ هلته ايسارېدو ته پرېږدي؟ چرې هم نه . چې رشتياخبره درته اوکړم نو هلته تلوته مِ زړهٔ نهٔ کېږي خو دَ امي او ابو نه مجبوره يم.

شان:. نه ، نه ، هلته لاړه شه خو ډېره کېږه مهٔ . خپل فرض پوره کړه او راځه . او هن دَ رسېدو سره ماته فون اوکړه او دَ واپسۍ نه مِ هم خبر کړه چې زهٔ اوزما مورپلار ستاسو استقبال له درشو .

نرګس:. اوه ، دومره لوے اعزاز؟

شان:. تهٔ به خپل عزت هله پوهـ شې چې پلار مِ دَ لاس نه نيولے يې او مورمِ دربانديې ګل افشاني کوي .

نرګس(خاندي) ښه دا راته اووايه چې راځي او کنه .

شان :. زهٔ اوس دَ کور په لاره يم . چې کورورديې بدله کړم نو درځم.

نرګس:. نوشان صېب ، ته ماته په وردۍ کښې ښه ښکارې .

شان:. چې تاته ښهٔ ښکارم نو دَ بل چاځه پرواه کوم . دادې درغلم .

دې سره هغه ګاډي ته اوختو او چې لږه شېبه تېراېده نو دَ هغوي دَ کور مخې ته ولاړ وو . دَ رېنګ ورکولو سره هغه دَ هغهٔ دَ استقبال دَ پاره دَ کوره را اووته او هغه يې ځان سره کورته بوتلو . دَ ماريه او مېرمن مسرّت نه علاوه ډاکټر جميل هم په کور کښې وو او دَ هغهٔ ښځه





ډاکټر عندليب هم موجود وه. دَ عليک سليک نه پس نرګس او ماريه په شريکه ډاکټر جميل او ډاکټر عندليب سره دَ هغهٔ تعارف اوکړو. ډوډۍ تياره وه نو هغوي ټول ډائننګ روم ته روان شو دَ ډوډۍ نه پس دَ قهوې دور شروع شو . هغوي خپلو کښې خبري هم کولې او قهوې يې هم څکلې .نرګس اوشان په تنهائي کښې يو ملاقات کول غوښتل خو دواړو ته موقعه ملاؤ نشوه . دې نه پس دَ هغوي دَ تلو تيارې شروع کړو، دواړو ځان ځان له غټې غټې سوټ کېسونه تيارکړل . دې نه پس هغوي خپلې خپلې کمرې ته ورغلې او دَ تلو دَ پاره يې خپلې جوړې بدلې کړې او ساړهياني واغوستې . دواړو دَ بادامي رنګ ساړهياني واغوستې او خپله سرځنه يې اوکړه او چې کله په خپلو خپلو کمرو کښې لويو ائينو ته اودرېدې نو خپل حسن ته پسخېدې هغوي په داسے وخت کښې دَ خپلو خپلو کمرونه بهر را اوتې چې ګاډي تيار وو، دَ هغوي سامان په کښې اېښودې شوے وو. شان چې هغوي ته اوکتل نو مسکے شو، دواړو ته ورنزدے شو او ورته يې اووئېل ، ''ماشاء الله ، چشم بددور '' دې سره هغوي دواړه مسکۍ شوې او ګاډي کښې کېناستې .چې ائېرپورټ ته اورسېدل نو ډاکټر جميل او عندليب ترېنه رخصت واخستو خپل هسپتال ته لاړل البته شان هلته تر هاغې ايسار وو چې هغوي جهاز ته اوختې او دواړه طرفېن سلامي اوشوه . چې جهاز والوتو نو هغه هم په ګاډي کښې کېناستو او کور ته روان شو .



www.pukhto.Net

## دولسم باب

پـلـوشه چې دَ قاري صېب دَ پنجې نه ازاده شوه نو دَ سوات په سیمـه کښـې پـه یـو پـرائیـوېټ کـالـج کښې لکچرره شوه . هغه به دَ ورځې په کالج کښې وه او شپه به یې په هوټل کښې وه خوکله چې دَ هغې یوه ملګرې لکچرره بلقیس دَ هغې دَ استوګنې نه خبرشوه نودَ هغې پـه وېنا یې دَ هوټل نه خپل سامان اوچت کړو او دَ هغې په کور کښـې هـغې سره ډېره شوه . بیا به دواړه ملګرې لکه دَ دوو خویاندو کالج ته تلې راتلې . ډېرخوږ اوخوشحاله وخت تېرېدو او هغې ته هیڅ قسـمـه تـکلیف نه وو خو وخت او انسان همېشه په یو حال نه وي. څۀ موده پس بلقیس وادۀ شوه او دَ سوات نه پېښور ته لاړه . دَ هغې دَ وادۀ نـه پـس هـغـه دَ پـرنسپلې په اجازت دَ کالج دَ بالائي منزل په یوه کمره کښـې پـاتـېـکـېـده . اوس هـغـه مـطمئنه هم وه او محفوظه هم وه . دَ ډیـوټـي نـه پـس بـه په خپله کمره کښې پرته وه او دَ حسرتونو نه ډك دَ خپـل ژوند پرانستې کتاب به یې لوستلو . دَ هغې خیالي دنیا اګرچۀ لامـحدوده وه خودَ هغې طبعي دنیا دَ کالج دَ احاطې پورې محدوده وه . هـغـه دَ بهـر دنیا نه دومره مایوسه وه چې هیڅ دلچسپې یې پکښې پاتې نه وه . هغې ته دنیا توره بلا او ټولې رشتې اودوستانې ورته دَ اوم تار نچې ښکارېدي کچه ، ناپائېداري او نااعتباري . دَ هغې امیدونه او تـنکي ارمانونه، کچه په کچه دَ حالاتو او واقعاتو سپېرو وهلي وو او دَ هـغـوي خولې داسې ټپې شوې وې لکه دَ یو ژړېدونکي ماشوم خوله





چې دَ چا په لاس ټپه شي . دَ هغۀ اوښکې لیدې شي خودَ هغۀ فریاد اورېـدے نشي. البتـه کـلـه کـله به یې په چپه خوله دَ خپلې کمرې په کـهـړکـۍ کښـې دَ غـرونـو نـظاره کـولـه او خپل مایوسه زړۀ له به یې سهـاره ورکوله . دے غرونو سره دَ هغې دَ ماضي داستان تړلے شوے وو او د دغـه داستـان ټـول یادونه دَ هغې په ذهن کښې پراتۀ وو. دَ هغې پـه زړو یادونو کښې دَ دغه غرونو غوندې لوې ارادې هم وې او دَ شان دَ یـادونـو خـوږې لمحې هم وې . هغې به چې کله دَ حال په ائینه کښې خپـل مـاضي تـه کتـل نودغه ټول یادونه به ورته دَخپل ماضي خواږۀ خـواږۀ خوبونه ښکارېدل . دَ هغې لوړې ارادې خاؤرې ایرې اودَ هغې دَ ژونـد حـقیقي واقعات هغه دردناکې افسانې شوې چې دَ هغې دَ حال سره یـې هیـڅ تعلق پاتـے نه وو. یوه ورځ هغه په دغه سوچونو کښې ډوبـه وه چې مـلاله یوسف زۍ ورته رایاده شوه . هغه ملاله چې دَ یو مـعـمـولي کـورنـۍ لـور ، خـور وه خـو دَ خپلې کلکې ارادې او دَ جهدِ مسـلسـل پـه وجـه دَ نـړۍ دَ ټـولو پېغلو دَ پاره یو مثال جوړ شو . هغه چې دَ کـوم کـوم اٰزمـائشي مـرحـلـونه تېره شوه او دَ شهرت دوام کوم ارفـع مـقـام تـه اورسـېده . هغه ټول حالات او واقعات دَ هغې مخې ته اودرېدل او دَ هغې په مایوسه زړۀ کښې یې دَ ژوند جذبه پېداکړه. دے خیـال سـره دَ هـغـې دَ سـوو ارمانونو په ایره کښې یوبڅرے اوځلېدو . دغـه ځـلا سـره دَ هـغـې پـه سـتـرګـو کښـې رڼا راغله او دَ هغې په مړو ارمـانـونـو کښـې ساه اوغړېده . هغه مسکۍ شوه ، پاسېده ، یوه لویه



www.pukhto.Net

غزونه یې اوکړه او دَ خپل ارمان دَ تکمیل دَ پاره یې دَ سي اپس اپس تیارې شروع کړه .

هلته دَ سکندر شاه او قاري صېب ترمینځه جګړه روانه وه . په روانه روانه کښې دَ کور کوځې او محلت نه دَ کلي جرګې ته اورسېده او چې هلته فېصله نشوه نوخبره عدالت ته لاړه . شهناز بېګم او عاصم شاه هم پکښې را اولړلي شو . هغوي دَ خپلې ورکې لور دعویٰ په سکندر شاه اوکړه او سکندرشاه دغه مطالبه دَ قاري صېب نه کوله . خبره تله تله او په قاري صېب تېکې شوه . په هغهٔ څو څو ریمانډونه واخستلې شو . په وهلو وهلو هغه دومره مخبوط الحواس شو چې په ګډوډوسر شو. دَ تسپو په ځائے به یې ګوتې شمارلے او ځان سره به یې څهٔ وئیلے خو دَ هغهٔ په خبرو هیڅوك نه پوهېدل . اخرداچې دَ تانې نه جېل ته شو او هلته ښهٔ په پخه پرېوتو.

## دویمه برخه

ماریه ،نرګس او مېډم مسرّت چې دَ ریاض په ایرپورټ کوزې شوې نو ډاکټر اشتیاق دَ هغوي استقبال ته ولاړ وو. هغه ټولو سره روغ جوړ اوکړل او په خپل ګاډي کښې یې کېنولې . په لاره کښې ډاکټر اشتیاق هغوي ته اووے چې "نن مازیګر دَ وادونو جنج دے او سبا له لویه ولیمه ده چې هغې کښې به دَ ملك لوے لوے امراء اوکبراء نه علاوه ملکي او غېرملکي سفراء او نور مېلمانه شرکت کوي" . هغوي چې کورته اورسېدل نونرګس شان ته مېسج اوکړو او





دَ جنج او ولیمې په باره کښې یې ورته ټولې خبرې اوکړې . دَ جنج او دَ ولیمې دَ پروګرام متعلق ورته هغې اووې چې ، "نن مازیګر جنج هم دے او دَ جنج ډوډۍ هم ده مونږ ټول شاهي مېلمانهٔ یو او په جنج کښې دَ ګډون دَ پاره مونږ له دَ بلنې کارډونه راکړې شوې دي. اوس مونږ په خپل کور کښې ارام کوو او څلور ګهنټې پس به مونږ شاهي محل ته روانېږو . چې دَ هغه ځائے نه واپس شو نوزهٔ به تاسوته کال اوکړم او ښهٔ ډېرې خبرې به اوکړو اوس اجازت راکړه چې لږې سترګې پټې کړم. والسلام . ستانرګس".

شان تر سبا پورې دَ هغې دَ کال انتظار کوو خو دَ هغې دَ طرفه نهٔ څهٔ کال ورغې ، نه مس کال او نهٔ څهٔ مېسج . هغهٔ دوه ورځې دَ هغې دَ کال انتظار اوکړو خو چې دَ هغې دَ طرفه ناامیده شو نو په درېمه ورځ ورته هغهٔ دَ کال ورکولو کوشش اوکړو خو دَ هغې موبائېل بند وو او رابطه اونشوه . هغهٔ درې ورځې پرله پسې هغې سره دَ رابطې کوشش اوکړو خو رابطه نه کېده . هغه دَ نرګس په غفلت او حماقت ډېر غصه وو. بهرحال هغهٔ خپله غصه په دے غرض اوځنډوله چې اوس هیڅ نشي کېدې . چې هغه واپس راشي نو بیابه ورسره خبرې کوي او هله به یې پرېږدي چې ترڅو یې ژړولې نه وي . هغه خپله ټوله توجه خپلې ډېوټۍ ته اوګرځوله او په هغې کښې مصروف شو . دَ دهشت ګردۍ په وجه دَ ټول ملك اوبالخصوص دَ خېبر پښتونخوا حالت ډېر خراب وو . ځاے په ځاے ، چوکۍ په چوکۍ اوتانه په تانه په پولیس



www.pukhto.Net

حملې کېدې او پولیس بې دریغه مړۀ کېدل، چې په هغې کښې دَ عام سپاهیانو نه علاوه لوے لوے افسران هم شامل وو. پولیس ته دَ هائي اتهارټي له خوا هدایات ورکړې شوې وو چې په هر سړي نظر ساتي او په وردۍ کښې بې ځایه ګرځېدو نه اجتناب اوکړي. شان هم په دغه هدایاتو عمل اوکړو او بیا به دَ کور نه په سېول کپړو کښې تلو او وردي به یې په دفتر کښې اچوله . دې نه علاوه هغۀ په پولیس اپرېشنونو کښې هم برخه واخسته او ډېر کامیاب اپرېشنونه یې اوکړل . دَ دغه کامیابو اپرېشنونو په بدله کښې هغۀ ته دَ آئي جي پي له اړخه، "پولیس اېوارډ" هم ورکړے شو . او اعلیٰ حکام ته دَ هغۀ دَ ترقۍ دَ پاره سفارشات هم اولېږلې شو . دې نه علاوه هغه دَ پېښور زون دَ ټولو تانو دَ خصوصي ټیم اپرېشنل کمانډر هم مقرر شو. په دومره لږه موده کښې اېوارډ ګټل او دومره لوے اعزاز اخستل دَ هغۀ دَ پاره دَ معجزې نه کم نه وو. دَ هغۀ دا اعزاز دَ پولیس دَ نورو افسرانو دَ پاره دَ عناد لویه وجه اوګرځېده او دَ هغوي دا کوشش وو چې په څۀ ناڅۀ طریقه دَ هغۀ دَ پرواز وزرے ماتے کړي. بهرحال هغۀ دغه څېزونو پسې مخه نه اوړه او په خپل قومي خدمت کښې مصروف وو. دَ هغۀ یوښۀ عادت دا وو چې هغۀ به په دفتر کښې صرف دفتري کار کوو او اخبار به یې هله کتو چې دَ ټولو کارونو نه به اوزګارشو. که دَ اخبار په کتو کښې به ناغه راغله نو بیا به یې دَ اتوار په ورځ هغه ټول اخبارونه او مجلّې کتې کومې به چې دَ هغوي کورته راتلې او دَ





هغۀ په کمره کښې به جمع کېدې . هم دغه رنګې دَ هغۀ دَ مصروفیاتو په وجه دَ اخبار په کتو کښې څو څو ناغې راغلې وې . یوه ورځ دَ هغۀ چهټي وه دَ ناشتې نه پس یې ټول اخبارونه او مجلّې ځان ته کېښودې او دَ هغې کتل یې شروع کړل . په دغه کتو کتو کښې یوه مجلّه داسې راغله چې دَ هغې په ټائټل پېج دَ ماریه او نرګس تصویرونه وو. دَ هغوي دَ تصویرونو په لیدو هغه حېران شو خو چې دَ دغه تصویرونو لاندې لیکلې شوے الفاظ یې اولیدل نو مجلّه ترېنه لاندې پرېوته او سر یې په بالخت پرېوتو. دَ مجلّې اردو الفاظ داسے وو ، "ان خوب رو دوشیزاؤں کے قاتل کون ہیں؟" بیا روستو ورپسې دا الفاظ وو چې ، " ڈاکٹر سرجن اشتیاق کی دو بیٹیاں ماریہ اشتیاق اور نرگس اشتیاق کا سفّاکانہ قتل". دَ هغوي تصویرونو سره خوا کښې دَ مېډم مسرّت او ډاکټر اشتیاق تصویرونه وو او هغوي سره لیکلې شوي وو "مقتولین کے نوحہ کناں والدین". بیا دې پسې دَ هغوي دَ قتل سټوري دَ مېډم مسرّت او ډاکټر اشتیاق دَ بیانونو په رڼا کښې داسې وه چې ، " یو پاکستاني ډاکټر، سرجن اشتیاق چې دَ ډېرې مودې راسې په کنګ فېصل هسپتال ریاض کښې نه صرف یو قابل منتظم وو بلکه دَ شاهي کورنۍ ذاتي معالج هم وو. دَ هغۀ او دَ هغۀ دَ بي بي دَ بیان مطابق په شاهي کورنۍ کښې په یوه ورځ دَ دوو شهزادګانو وادونه وو. چونکه ډاکټر اشتیاق دَ شاهي کورنۍ په خصوصي افرادو کښې شامل وو نو هغه او دَ هغۀ نه علاوه دَ هغۀ ټوله کورنۍ ته په دغه وادونو کښې دَ ګډون بلنه ورکړې شوه .



www.pukhto.Net

دَ ډاکټر اشتیاق په خصوصي بلنه دَ هغهٔ بي بي مېډم مسرّت او دَ هغهٔ دوه لوڼه ماریه اشتیاق او نرګس اشتیاق په مذکوره وادونو کښې دَ ګډون دَ پاره دَ پاکستان نه تلې وې . دَ مېډم مسرّت دَ بیان مطابق هغوي درې واړو دَ دواړو وادونو په جنج کښې شرکت اوکړو خو په روستي جنج کښې هغوي بې درکه شوې . دَ څوځو ځله رابطې کولو باوجود هم هغوي سره رابطه اونشوه. د جنج په سبا ولیمه وه ، په هغې کښې هم هغوي اونه لیدې شوې. دَ ولیمې په لسمه ورځ دَ هغوي لاشونه دَ ښار نه بهر په صحرا کښې اوموندلې شو. دَ هغوي دَ میډیکل رپورټ نه معلومه شوه چې هغوي سره جنسي زیاتې هم شوې دے او په هغوي جسماني تشدّد هم شوے دے . او د دغه تشدد په وجه دَ هغوي خولې همېشه همېشه دَ پاره بندې کړې شوې.
دَ مېډم مسرّت دَ بیان مطابق نرګس اشتیاق اے ایس پي شان سره منسوب شوې وه او دَ واپسۍ نه پس دَ هغوي وادهٔ متوقع وو".
شان ډېره شېبه خاموش پروت وو او دَ نرګس او ماریه دَ اذیّت ناك مرګ په باره کښې یې سوچ کوو. بیا یې مجله راواخسته او توله واقعه یې اولوستله . دَ هغهٔ سترګې دَ اوښکو نه ډکې شوې . هغهٔ سترګې پټې کړے لکه چې په پټوسترګو هغه وینې او هغې سره خبرې کوي .هغه لا په خپل خیال کښې هغې سره خبرې کولے چې دَ هغهٔ مور طاهره بي بي دَ هغهٔ کمرې ته راغله او دَ راتلو سره یې هغهٔ ته اووې، "په زویه ، ستا هغه ملګرې به کله راځي . زما خو دَ هغې لارې ته





سترګې سپینې شوې. هرڅهٔ مِ ورله تیارکړي دي ، یو دَ ګلونو سهرې او غنچې پاتې دي . زړهٔ مِ غواړي چې هغه هم راؤړم خو په دې یرېږم چې چرته مړاوې نشي. تهٔ ورته فون اوکړه او تپوس ترېنه اوکړه چې کله به راځي ". دَ هغهٔ دَ سترګو نه نرۍ نرۍ اوښکې وتې او په مختلفو لارو دَ هغهٔ په مخ بهېدې . دَ هغهٔ دَ خاموشۍ په وجه چې دَ هغهٔ مور هغهٔ ته اوکتل نو اویرېده او په یره یره یې دَ هغهٔ نه تپوس اوکړو ، "زویه ، ستا په مخ دا اوښکې ؟ تهٔ ژاړے ؟ ولې زویه څهٔ چل شوے دے "؟ هغه، هغهٔ سره کېني او دَ هغهٔ دَ اوښکو اوچولو هڅه کوي خو هغه کېني ، خپلې اوښکې په خپله اوچوي او هغې ته وائي ، "امّي تا چې چا دَ پاره دَ ګلونو سهرې او غُنچې راؤړې ، هغه غُنچې مړاوې شوې، اورژېدې او دَ دنیا نه ارماني لاړې ".
طاهره بي بي :. څهٔ مطلب زویه ؟ زهٔ ستاپه خبره پوهه نشوم .
شان دَ خصوصي ایډیشن مجلّه راخلي او هغې ته وائي، "امّي دا اوګوره ، دا نرګس ده ، او دا بله دَ هغې مشره خور ماریه ده .دا . . .دا . . . دا دواړه مړې شوې امّي ،قتل شوي ". دې سره دَ هغهٔ په مخ پاتې اوښکې راماتې شي . طاهره بي بي دَ هغهٔ سر په خپله غېږه کښې اېږدي ، دَ هغهٔ اوښکې اوچوي او خپلې بهوي. چې دواړه ښهٔ اوژاړي او زړونه یې تش شي نو بیا ورته هغهٔ دَ هغوي دَ دردناك مرګ توله قیصه کو ي. دَ هغهٔ مور چې دَ هغوي دَ مرګ دا واقعه واورېده نو په ژړا ژړا دَ هغهٔ دَ کمرې نه اووته او خپلې کمرې ته لاړه خو هغه لا



www.pukhto.Net

هغسې په خپله کمره کښې پروت وو، دَ هغې خبرې یې یادولے او هرې خبرې سره به یې اوښکې بهولے . په دغه یادونو کښې رومبۍ خبره دَ هغۀ هغه دهمکي وه چې ، "زۀ به درځم خوستالیدوله نه بلکه ستا ویشتو له" بیاورته دَ ماریه هغه خبره هم رایاده شوه چې "که دا ستا په حرکت پوهـ شوه نوستا پناه به اخلي او ستا په ترخ کښې به ننوځي". بیا دَ هغې دا خبره چې زۀ چې څۀ وېل غوارم هغه مِ په خوله نه راځي ، دې نه پس دَ هغې دا مېسج چې I Love you dear Shan ".بیاورته خپله خبره رایاده شوه چې هغې ته یې په موبائېل کړے وه چې "په تا غصه ځکه کوم چې دَ اوس نه دې اویروم او بیا راباندې سرپېښې نه کوې". او دَ هغې دا جواب چې ، "که ما درباندې سترګې را اوویستلې نوخپله افسري به درنه هېره شي". بیا په اخره کښې دا ، "چې اوس نه ترخه نشم نو بیابه مِ هلواقه تېره کړے".
دې سره دَ هغۀ دَ خولې نه اووتل ، "هغه سترګې پټې شوې او هغه خوله دَ همېشه همېشه دَ پاره تپه شوه " دَ هغوي په مرګ هغۀ ته سخته ذهني او قلبي صدمه اورسېده . هغۀ ته داسې محسوسېده لکه چې هغوي دواړه هغۀ ته مخامخ ناستې وي او هغۀ ته په مُسکا مُسکا ګوري . فطرت دَ هغوي دَ وجودونو خمبیر په شاتو، شودو او ورېمو کښې اخلے وو ، هغوي یې ترېنه جوړې کړے وے او دَ خوند، رنګ او ذائقې نه یې ډکې کړے وے . دَ هغوي دَ خبرو لذت لا هغسې دَ هغۀ په خوله کښې وو . هغه ټوله شپه ډډې په ډډې اوختو





خو خوب نه ورتلو او دَ دغه نیازبینو مېلمنو په صحبت کښې به خوب څنګه ورغلے وے ؟
هغۀ ته خپل ځان کچه او پیکه ښکارېدو او بیا بیا دا احساس ورتلو چې که هغه هغوي سره ملاؤ شوے نه وے نو هغوي به چرې هم مړې شوې نه وې . هغۀ ته په دې ډېرافسوس وو چې هغۀ هغوي سره مراسم ولې شروع کړل. دریغه هغۀ ، هغوي هېڅولیدلے نۀ وے . دریغه هغوي سره دَ هغۀ هیڅ تعلق نه وے جوړ شوے .

## ﴿دریمه برخه﴾

یوه ورځ چې شان خپل دفتر ته اورسېدو نودَ هغۀ په مېز دَ فائلونو یو ګېډے پروت وو . هغه په خپله کرسۍ کېناستو او خپل دفتري کارېې شروع کړو. دا ټول هغه فائلونه وو چې هغۀ دَ ترهه ګرو خلاف تیار کړې وو او هائي اتهارټي ته یې دَ منظورۍ دَ پاره لېږلي وو. دغه ټول منظور شوي وو او هغۀ ته دَ اپرېشن کولو پوره اختیارات ورکړي شوي وو. هغۀ یویوفائل کتو او په هغې به یې دَ اپرېشن دَ پاره بېل بېل تاریخ لیکو. هغه لا په دغه کار کښې مصروف وو چې دَ متعلقه اېس پي له خوا یو قاصد راغې ، هغۀ ته یې سلوټ اوکړو او یوه لفافه یې ورته په مېز کېښوده .هغۀ چې خپل دفتري کار ختم کړو نو هغه لفافه یې راواخسته . هغه یې کهلاؤ کړه او خط یې ترېنه را اوویستو هغه چې خط اوسپړدو او دَ هغې لوستل یې شروع کړل نو هغه داسې وو، "مونږ ته دَ خفیه اطلاعاتو نه معلومه شوې ده چې



www.pukhto.Net

دَ بهر ملك نه يو څو مېلمانۀ راروان دي او نن يؤلس بجې به په پېښور اېرپورټ کوزېږي . دَ هغوي دَ انټرويو اخستو دَ پاره مېډيا متحرکه شوې ده . تۀ ځان سره سکواډ واخله او دَ هغوي دَ راتلو نه مخکښې هلته اورسه او کوشش کوه چې دَ هغوي انټرويو اونشي. دَ کوشش نه زما مراد دے By , any means . دَ هغوي سامان په خپل تحويل کښې واخله او هغوي له عزت او احترام ورکړه ". دَ آرډرکتو نه پس هغۀ چې په دېوال لګېدلې مخامخ ګهړيال ته اوکتل نو پاؤ کم لس بجې وې . هغۀ دَ مېز په ګهنټئ ګوته کېښوده او دَ اردلي په ذريعه يې سب انسپکټر عجب خان را اوغوښتو .هغۀ ته يې دَ اېس پي صېب دَ حکم مطابق دَ سکواډ تيارولو حکم ورکړو . هغۀ هغۀ ته Yes sir اووے ، سلوټ يې اوکړو او په تونده سره بهر اووتو. هغۀ سکواډ تياروو او شان په خپل ذهن کښې ائيرپورټ ته دَ تلو ، مېلمنو او دَ مېډيا اهلِ کارو سره دَ ملاوېدو په باره کښې سوچ کوو. دَ هغۀ په زړۀ کښې ډېر شکوك وشبهات پيدا شو چې اخر دا څنګه مېلمانۀ دي چې دَ هغوي انټرويو بده ګڼلې شي. بهرحال دَ هغۀ دغه څيزونو سره هيڅ کار نه وو . دَ هغۀ کار صرف دَ حکامِ بالا دَ اَډر تعميل وو . ټيك لس بجې سکواډ تيار شو . هغوي ټول په پوليس وېن کښې کېناستل او ائير پورټ ته روان شو. چې هلته اورسېدل نو دَ ائير پورټ دَ انتظامېې په اجازت يې وېن دَ ائيرپورټ په احاطه کښې اودروو او ټوله نفري يې په خپل خپل ځاے سټېنډ ټو اودروله . سب





انسپکټر عجب خان دَ هغوي سپرويژن کوو او شان دَ ګاډي په فرنټ سيټ کښې کېناستو . دَ ائيرپورټ او دَ مسافرو نظاره يې کوله . ټيك يؤلس بجې يو جهاز دَ لرې نه په فضا کښې رابښکاره شو . چې ائيرپورټ ته نزدے شو نو دَ ائيرپورټ په احاطه يې يو چکر اووهو او بيا په مزه مزه په رن وے باندې کوز شو . چې جهاز اودرېدو او پوره ورته اولګېدې نو دَ مسافرو وتل ترېنه شروع شو . شان په هغوي سترګې لګولے وې او ساعت په ساعت به يې عجب خان له هدايات ورکول. دَ هغۀ په هدايت هغه مخکښې لاړو او دَ مېلمنو دَ ليدو کوشش يې کوو . چې مسافر ختم شو نو دَ جهاز نه دوه کالبوتونه را اوويستلې شو او هغې پسې يوه زنانه او يو سړے ښکاره شو. زنانه دَ سړي په سهاره په ادلو بدلو قدمونو روانه وه . هغۀ چې دا منظر اوليدو نو زړۀ يې اوخوږېدو . هغۀ ته معلومه شوه چې زنانه مېډم مسرّت ده ، سړے دَ هغې خاوند ډاکټر اشتياق دے او په کالبوتونو کښې دَ ماريه او نرګس لاشونه دي . دَ مېډيا اهل کارو چې هغوي اوليدل نو ټول ترېنه چاپېره شول او دَ هغوي نه يې دَ انټرويو اخستو کوشش کوو خو سب انسپکټر هغوي انټرويو اخستو ته نۀ پرېښودل نو په دې وجه دَ مېډيا اهل کارو هغه سره مشت وګرېوان شو . شان چې دا حالت اوليدو نو ډېر په تېزۍ سره دَ ګاډي نه کوز شو. دَ سکواډ په ذريعه يې کالبوتونه په خپل تحويل کښې واخستل او يو خوا ته يې کېښودل . بيا يې دَ مېډيا اهل کارو ته په اوچت اواز اووے ، "زۀ دَ



www.pukhto.Net

میډیا حضرات تـه خواست کوم چې دَ مېلمنو نه دَ انټرویو اخستو کـوشش اونکړي . دا حضرات سرکاري مېلمانهٔ دي او مونږ دَ سرکار له خوا دَ دوي دَ حفاظت دَ پاره رالېږلي شوي یواو که څوك زبردستي کـول غـواړي نـو دَ هغـوي دا ګستاخي به ، دَخل درکارِ سرکار، ګڼلې شي او هغوي سره به دَ قانون مطابق کارروائي کېږي ". دَ هغهٔ په دے انکشاف ټـول خاموش شي او هغـهٔ تـه پـه څیر څیر ګوري. شان دَ کالبوتو خوا کښې اودرېږي او سکواډ ته په اوچت اواز وائي، "سکواډ فال ان " دې اواز سره ټوله نفري راغله او دَ هغهٔ شاته دَ پرېډ په شکل کښې اودرېده . هغه سکواډ ته مخ کړو ، هوشیار شو او په اوچت اواز یې اووے "سکـواډ هوشیار" چې سکواډ هوشیارشو نو هغهٔ اباؤټ ټرن اوکړو، هغوي ته یې شاکړه او کالبوتونو ته یې مخ کړو او په اوچت اواز یې اووے ، "سکواډ دَ قوم دې شهیدو پېغلو ته سلام پېش کوي، سکـواډ پریزنټ آرمز (Present arms ) دې سره سکـواډ مرو تـه پریزنټې اوکړه او هغـهٔ سلـوټ اوکړو ، بیا یې په اوچت اواز اووے ، "سکواډ دَ قوم دې شهېدو پېغلو ته دعا پېش کوي ". دې سره سکواډ ډېر پـه تـېزۍ سره خپـل زوړ پوزیشن ته راغلی او هغه هم دَ سلوټ لاس خکتـه کړو او زر یې جوړه لاسونه دعا ته اونیول . هغهٔ په ډکو سترګـو پـه ډډ اواز کښې دعـا کـولـه او ټولو پرې امین ویلے . چې دعـاختـمـه شوه نـو هغـهٔ دَ سکواډ په ذریعه کالبوتونه په وېن کښې کېښـودل . مېډم مسرّت او ډاکټر اشتیاق هم ورسره کېناستل البته





ډاکټـر جمیـل او ډاکټر عندلیب په خپل ګاډي کښې کېناستل چې دَ پولیس ګاډے روان شو نو هغوي هم ورپسې روستو روان شو.

هغـهٔ چې لاشـونـه دَ ډاکټر اشتیاق په کور کښې کوز کړل نو په دے غـرض خپـل دفتـر تـه واپس راغی. چې وردي بدله کړي او دَ هغوي په جنـازه کښې شرکت اوکړي . هغه لا خپل دفتر ته نه وو رسېدلے چې دَ هغهٔ د سلامۍ خبر آئي جي پي ته رسېدلے وو هغهٔ چې خپل دفتر کښـې وردي بدله کړه نو یو چټ یې اولیکلو په مېز یې کېښودو او په خپل ذاتي ګاډ ي کښـې کـېنـاستـو او دَ هغوي په جنازه کښې دَ شرکت کـولـو پـه غـرض روان شـو . چې لږ مخکښې لاړو نو دَ هغهٔ په موبائېل رېـنـګ راغـی . هغهٔ چې دَ موبائېل نمبرته اوکتل نو هغه دَ متعلقه اېس پي صـېب لـه خوا کال وو . هغـه چې مـوبائېل اوچت کړو نو هغهٔ نه تپوس اوشو ، "شان صېب، تا مرده ګانو له سلامي دَ چاپه حکم ورکړه ؟"

شـان:. سرتاسـو وېـلـے وو چې دَ هغوي سامان په خپل تحویل کښې واخـلـه او هغوي له عزت او احترام ورکړه . هغوي سره نورسامان نه وو صـرف دغــه دوه کالبـوتـونــه وو. هغــه تـرېـنـه ماخپل تحویل کښې واخستل او ستاسو دَ وینا مطابق مِ دَ عزت په توګه سلامي ورکړه.

اېس پي صـېب:. زهٔ تـانـه دا تپوس کوم چې تامرده ګانو له سلامي دَ چا په حکم ورکړه ؟

شـان:. سر، دا زمـا خپـلـه پـېـرزونه وه ځکه چې دې نه لوے اعزاز بل هېڅ نشوکېدے .



www.pukhto.Net

ایس پي صیب:. شان صیب، تهٔ چې هرچرته یې نو په لس منټه کښې دننه دننه دَ آئي جي پي صیب دفتر ته ځان اورسوه ستا دَ غیر ذمه دارۍ شکایت هغوي ته رسېدلے دے او هغوي ته ستاپېښي ده .

شان :. سر، ما دَ درې ورځو دَ چهټۍ درخواست لیکلے دے . چې چهټي ختمه شي او آن ډیوټي شم نو وربه شم .

ایس پي صیب:. شان صیب، ستانه پېښ کېدل، ستا حکم عدولي ګڼلې کېدېشي او تاته سزا هم ملاوېدېشي" دَ هغهٔ په دې وارننګ هغه موبائېل بند کړي او هغهٔ له هیڅ جواب ورنکړي . هغه چې دَ اشتیاق صیب کورته اورسېدو نو هلته ډېره ګڼه ګونه وه . دَ کور په بهرنۍ حصه کښې ډاکټر اشتیاق سره لوے لوے سټې ناستې وے او دعاګانې کېدې . دَ کور دننه برخه کښې زنانه دَ کالبوتونو نه چاپېره ناستې وې او ژړاګانې کېدې . هغه هم یوخوا ته کېناستو او دَ هرچا دعا سره به یې لاسونه اوچتول . لږه شېبه پس ډاکټر جمېل دَ کورنه بهر ته اووتو ، شان له ورغی او هغهٔ ته یې په غوږ کښې څهٔ اووے او بیا یې ځان سره کورته روان کړو . چې کورته ورغی نو هلته مېډم مسرت او ډاکټر عندلیب دَ هغهٔ په انتظار کښې یوخوا ته ولاړې وې . مېډم مسرت هغهٔ ته په ژړا ژړا کښې اووې ، "زویه ، مونږ مړې کلي ته اوړو که تهٔ د دوي اخري دیدار کول غواړے نو ورشه دیدار یې اوکړه، کېدېشي تاته بیا دَ دوي دَ لیدو موقعه ملاؤ نشي " . شان هغې ته په ډکو سترګو ګوري او وائي ، "مېډم ، دَ دوي کوم تصویرونه چې زما په





ذهن کښې پراتهٔ دي ، هغه ټول ژوندي دي ، زهٔ نه غواړم چې هغوي له دَ بېیانو دَ مرګ پیغام ورکړم . دا دواړه بېیانې زما په خیال کښې ژوندۍ دي او تل به ژوندۍ وي".

ډاکټر جمیل:. شان صیب ، دَ ابو په خواهش مونږ دوي خپل آبائي کلي تورخېل ته اوړل غواړو . هلته دَ قبرونو بندوبست شوے دے او دَ جنازې دَ پاره دَ ماښام شپږ بجې وخت ټاکلے شوے دے . ایمبولنس تیار دے او زمونږ تیارې مکمل شوې دے . مونږ به درنه هلته لاړ شو او تاسو دلته مېلمنو ته ایسار شۍ". دَ هغهٔ په دې خبره دَ شان سترګې یوځل بیا ډکې شي او دغه ډکې سترګې دَ هغهٔ په مخ راماتې شي . هغه دَ اوښکو په ځلا کښې ډاکټر جمیل ته ګوري او وائي، "ډاکټرصیب، ستا مېلمانهٔ ستا مېلمانهٔ دي او زما مېلمانهٔ زما مېلمانهٔ دي . ستا مېلمانهٔ که لاړ شي نو بیا به راشي خو چې زما مېلمانهٔ لاړ شي نو بیا چرې هم نشي راتلې . ماپرېږده چې خپلو مېلمنو سره جلب کښې لاړ شم ". ډاکټر جمیل هغه له څهٔ جواب ورنکړي . په توندۍ بهر اوځي ، دَ بهرنه څهٔ کسان راولي او دواړه کالبوتونه اوچتوي. دَ کالبوتونو په اوږو کښې هغه هم اوږه ورکړي او په ایمبولنس کښې یې کېږدي . شان هغوي سره په ایمبولنس کښې کېني . ډاکټر اشتیاق ډاکټر جمیل سره په ګاډي کښې کېني او نور مېلمانهٔ خپلو خپلو ګاډو ته اوخېژي . چې ایمبولنس روان شي نو هغوي هم ورپسې روان شي . تورخېل دَ پېښور نه ډېر لرې په قبائلي



www.pukhto.Net

سیمه کښې وو. هغوي دوه بجې دَ پېښور نه روان شو او پنځهٔ نیمې بجې هلته اورسېدل . هدیره دَ کلي نه ډېره بهرپه شاړه کښې وه .ټیك شپږ بجې دَ جنازې نمونځ اوشو او دَ هغوي په دفن کښې پوره یوه ګهنټه اولګېده . دَ ماښام تیارهٔ خوره شوې وه او هغوي ټول په دغه تیارهٔ تیارهٔ کښې اووتل . ډاکټر اشتیاق لاړو . . .ډاکټر جمیل لاړو . . . مېلمانهٔ لاړل . . .دَ کلي خلق هم لاړل خوشان خپلو نیازبینو مېلمنو سره پاتے شو . هغه دَ دواړو قبرونو په مینځ کښې ناست وو او په خپل خیال کښې یې هغوي سره خبرې کولے .

**﴿ څلورمه برخه ﴾**

دا هدیره دَ انسانانو دَ آبادۍ نه لرې وه البته دَ ځنګلي ځناورو او زهرژنو حشراتو دَ غارونو ، کورونو او سوړو سره نه صرف جخته وه بلکه دغه هرڅهٔ دَ هغې په مینځ کښې وو. دَ هدېرې په مینځ کښې او غاړو کښې سپینې بکیانې چرته دَ ډلو په شکل کښې اوچرته ځان له ولاړې وې. دې نه علاوه دَ ځنګلي ببرو جهاړې ، کرواړې اواز غنې په دغه شاړه کښې چرته په ډاګه او چرته په قبرونو ولاړې وې. په دغه جهاړو او زړوقبرونو کښې دَ ګیدړانو ، پیشوګانو ، نولیانو، مارانو ، مږو او نورو ځناورو او حشراتو سوړې اوکورونه وو او دَ ببرو په اونو کښې دَ مرغو جالې وې . هغهٔ ټوله شپه هغوي ته په دے غرض په ویښه تېره کړه چې که چرې منکر نکیر دَ تپوس په غرض هغوي له راشي نو دَ هغوي په ځاے به ورته هغه خواست اوکړي چې "دا دواړه





ببیانې شهیدانې دي او دَ سزا نه بلکه دَ جنت حقدارې دي، دوي ته دې دَ جنت کهړکۍ لرې کړې شي او دَ دوي دَ مشغولا دَ پاره دې دَ جنت حورې را اولېږلې شي . په دے غرض به هغهٔ کله په یو قبر غوږ اېښودو او کله په بل قبر .

چې څومره څومره دَ ژمي توره شپه پخېده نو دَ سوکړې ترخه یخني زیاتېده . په ټول چاپېریال کښې چپه چپیااومکمله خاموشي وه . دَ توري شپې دَ تورو زلفو تور غلاف په دنیا او مافي فیها خور شوے وو. په دغه تور بخملي غلاف کښې یوخوا ستوري لکه دَ مقیشي ګلونو ځلېدل او خندېدل ، بل خوا اسماني مخلوق شېطاني مخلوق سره جنګېدل او دَ سرو سکروټو او شنو توغندو ګوزارونه یې پرې کول . ټوله دنیا لکه دَ غټې تورې بلا په درونډ خوب اودهٔ وه او دَ خپل حاله او دَ چاپېریال دَ احواله خبر نه وه . دَ هغې دَ تنفّس نه داسې معلومېده لکه چې دَ راخکلې چاړې لاندې لټې ټکوي ، خنبېږي او وینې ترپنه بهیږي . دغه درنې ساه ټول ماحول یرونکے او روح بوګنونکے جوړ کړے وو. ځنګلي ځناور خپلو غارونو او سوړو کښې ننوتي وو او مرغو په جالو کښې په خپلو وزرونو کښې سرونه ورکړي وو. ټول مېدان شېطانانو او پېریانو ته خوشے وو او په مختلفو طریقو او مختلفو شکلونو یې دَ هغهٔ دَ یرولو کوشش کوو . یو ځل دَ خوا کښې یوکړپ اوشو ، هغهٔ چې مخ واړه وو او هغه خوا یې اوکتل نو هیڅ یې اونه لیدل . یوساعت پس هغهٔ ته



www.pukhto.Net

داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغۀ شاته څوك ولاړ دے او دَ هغۀ په اوږه يې لاس ايښے دے ، هغۀ چې شاته اوکتل نو هيڅ نه وو. دې سره دَ هغۀ بدن زيګ زيګ شو او ټول وېښتۀ يې نېغ اودرېدل . هغه چې په ېره ېره مخ واړه وو او مخکښې يې اوکتل نو هغۀ سره نزدې دَ جهاړې په يو بوټي کښې ورته دوه واړۀ واړۀ بلبونه ښکاره شو. دا بلبونه دَ هغۀ سترګو ته نيولي شوي وو او هغه دومره مفلوج شوے وو چې مخ يې تربنه اړولے نشو . دَ هغۀ په زړۀ کښې راغله چې دا څۀ ځنګلي ځناور دے او درنګ ساعت له په هغۀ حمله کونکے دے . د دے خيال په راتلو سره په يخه يخنۍ کښې په هغۀ خوله راغله، خو هغه حوصله اونۀ بائيلله او دَ خپلې دفاع دَ پاره يې يو کانړے راواخستو او چې ګوزار ته يې ځان جوړه وو نو دواړه بلبونه مړۀ شوه، هغۀ ته معلومه شوه چې دشمن په شاشو خو دَ هغه يره لاختمه نه وه او کانړے لا هغسې دَ هغۀ په لاس کښې وو. يوه شېبه پس دَ هغۀ شاته يوه ښکالو اوشوه . هغۀ چې شاته اوکتل نو دَ هغه مخې ته ټوخے اوشو او بيا ټوخي پسې ټوخي شروع شول . داسې معلومېده چې دَ هديرې ټول مړي دَ قبرونو نه راوتي دي او ټول په غونډه ټوخېږي. ټوخي کېدل ، غاړې تازه کېدې، شپېلي وهلې کېدل خو هغه هيڅ څوك نه ليدل. دغه شېطاني حرکات لاشروع وو چې دَ لرې نه دَ سحر دَ بانګونو اوازونه شروع شول . بانګونو سره دغه هنګامه داسې ختمه شوه لکه چې هيڅ نه وو. هغۀ يوه لويه ساه واخسته ، دَ الله





شکر يې اوويستلو او دَ نمانځه تيارې يې شروع کړو . دَ نمونځ نه پس هغۀ يو قبر ته ډېره اووهله او ذکر يې شروع کړو او په دغه ذکروواذکار او تسبيحات کښې دَ هغۀ سترګې اولګېدې. هغه په داسے حالت کښې په ډېره پروت وو چې ښے لاس يې دَ سر لاندې وو او ګس لاس يې دَ نرګس په قبر ايښے وو لکه چې هغه خپلې نرګس سره غېږ په غېږ اوخولۀ په خولۀ پروت وي . واړۀ او غټ مېږي په هغه ګرځېدل او مچان پرې بنګېدل خو هغه په هيڅ نه پوهېدو . نمر زوال ته نزدے شوے وو چې هغۀ په خوب کښې ګڼې خبرې وورېدے . هغۀ چې سترګې اوغړولے نو مېرم مسرّت ، ډاکټر اشتياق ، ډاکټر جميل او ډاکټر عندليب دَ هغۀ مخې ته ولاړه وه ، خپلو کښې يې خبرې کولې او هغه ته يې په حېرانتيا کتل . دَ هغوي په ليدو هغه مُسکے و او دَ هغوي سترې مشې ته پاسېدو . دَ سترې په دوران کښې مېرم مسرّت هغۀ ته اووې ، "زويه ، تۀ ښېګاه دلته پاتے شوے وے"؟

شان: هاؤ مېرم ، زۀ ښېګاه ببيانو سره پاتے شوے ووم .

ډاکټر عندليب: په دې شاړه او په دې بيديا کښې؟

شان : بي بي . دَ انسان اخري کور هم په داسې شاړو کښې وي.

ډاکټرجميل: ستادے حرکت ته لېونتوب وېلے شم ؟

شان: مئينتوب او ليونتوب کښې دومره فرق نيشته . . .ډاکټر صېب مونږ په ژوند وعدې کوو. . .يوغراوچتوواو په بل غريې اولو . . . اسمان زمکي ته کوزه وو او زمکه اسمان ته خېژوو، دَ وفا



www.pukhto.Net

قسمونه او سوګندونه خورو او په موتيې کښې شړشم زرغونه وو خو چې دَ سترګو نه پناه شي نو دَ زړۀ نه هم پناه شي . چې تېر شي نو هېرشي ". هغوي ټول يوبل ته په ډکو سترګو ګوري ، "زما مور وېلې چې ، "زۀ به ستا دَ ملګرې استقبال له ائېرپورټ ته ځم . . . دَ تازه ګلونو سهرې به ورته اچوم او دَ تازه ګلونو پاڼې به پرې شيندم ". . . . هغه هرڅۀ پاتې شو . هيڅ اونشو ، هيڅ . . . اف الله ، څۀ ښکلي ښکلي خلق دَ زمکې تل ته اورسېدل او خاؤرو سره خاؤرے شول".

ډاکټر جمیل دَ هغه سر په خپله سینه اېږدي ، په شايې ټپوي او ورته وائي ، "ريلېکس پلیز ريلېکس".

## ﴾پنځمه برخه﴿

بله ورځ چې هغه دفتر ته لاړو او په خپله کرسۍ کېناستو نو هغه چټهۍ يې راواخسته کومه چې دَ هغۀ په غېر موجودګۍ کښې راغلې وه او دَ هغۀ په مېز پرته وه . هغه چې لفافه اوسپړده او خط يې ترېنه را اوويستو نو هغه دَ هغۀ دَ بدلۍ آرډر وو. په آرډر کښې هغۀ ته ليکلي شوي وو چې زر ترزره چارج واخله او دَ هغې نقل دَ متعلقه اېس پي دفتر ته اولېږه . دَ آرډرلوستلو نه پس هغه په لوے سوچ کښې پريوتو ځکه چې کومې حلقې ته دَ هغۀ بدلي شوې وه هغه ډېره خطرناکه وه او دَ مودو مودو راسې دَ ترهه ګرو په نښخه وه . دَ ترهه ګرو او پوليس ترمينځه څوځو مقابلې شوې وې او په هره مقابله کښې څو څو پوليس او څو څو ترهه ګر مړۀ شوي وو. بهرحال هغه انکار نه





کولے شو او نه يې کول غوښتل ځکه چې دَ پوليس ډيوټۍ هغۀ دَ چېلنج په توګه قبوله کړے وه . څۀ موده مخکښې په دغه حلقه کښې دَ څو څو پوليس افسرانو سرونه قلم شوي وو او دَ هغوي دَ سر پرېکړې لاشونه په وجه يوخوا په پوليس کښې تاؤ ترينښ والې راغلې وو بل خوا هريو سره دَ خپل ځان يره ملګرې وه . کله چې هغه چارج واخستو او خپله ډيوټي يې شروع کړه ، نو دَ ډيوټۍ په دريمه ورځ دَ ترهه ګرو د طرفه هغه ته دَ مبارکۍ خط او دَ تحفې په طور يې ورله دَ مرحوم اېس پي اکرم سر هم اولېږو . هغۀ چې دَ مرحوم SP اکرم بقو سترګو ته اوکتل نو هغۀ ته داسې محسوسه شوه چې مرحوم دَ نوے کهول دے زلمي افسر ته په مُسکا مُسکا ګوري او هغه له په افسرانه موډ دَ هغۀ دَ عهدې مبارکي ورکوي . هغه په مزه مزه ټيټ شو . دَ هغۀ سر يې په رېږدېدلو لاسونو کښې اوچت کړو، دَ هغۀ مخ ته يې په ځير ځير کتل او په رېږدلي شونډو يې ځان سره څۀ وئيل . داسې معلومېده چې هغه دَ سورۀ تين تلاوت کوي او دَ انسان دَ احسنِ تقويم او عظمت وتعظيم ورد کوي. دا هغه اېس پي وو چې په والټن کښې دَ هغوي ټرېننګ کمانډر وو او هغوي له يې دَ هغوي دَ ذمه دارۍ ، فرض شناسۍ ، دَ خپلې خاؤرې دَ تقدّس او دَ حاکم وقت دَ فرمانبردارۍ درس ورکوو. او دَ ټرېننګ په دوران کښې په هنګامي بنياد دلته رالېږلے شوے وو. بيا يې هغه څو څو ځله ښکل کړو او دَ سپاهيانو په مرسته يې په خپل لاس غسل ورکړو. په سپين ټوکي کښې يې اونغښتو ، يوه درنه



www.pukhto.Net

سلامي يې ورکړه او دَ ګارډ په ذريعه يې دَ هغهٔ وارثانو له اولېږو. دې نه پس يې خط اوسپړدو او دَ هغې لوستل يې شروع کړل . خط ډېر مختصر وو خو ډېر معنی خېز او سنسي خېز وو. دَ خط الفاظ دا وو.

اے ابس پي شان ته .

هيله لرم چې تابه دَ خط لوستلو نه مخکښې خپله ډالۍ ليدلے او قبوله کړے وي . دا ډالۍ سپکه مه ګڼه ، دا دَ قوم هغه سرمايه او هغه فرض شناس پوليس افسر وو چې د ده دَ ايماندارۍ چر چې ترلرې لرې پورې خورې وې، او په يوه طريقه هم زمونږ دوستۍ ته تيارنه وو. انجام يې څهٔ شو؟ ورته بڼهٔ اوګوره هم دغه . مونږ او زمونږ ملګرې ستا په راتلو ډېر خوشحاله شو . تاله ستا دَ عهدې مبارکي درکوو او هيله لرو چې ته به زمونږ دَ دوستۍ نه انکار نهٔ کوے او که بالفرض تاهم لکه د دهٔ انکار اوکړو نو ستا سر پرېکړے لاش به ستا مور پلار له لېږلے شي او ستا سربه ستا په ځاے راغلے بل پوليس افسر ته دَ ډالۍ په شکل کښې پېش کېږي“.

هغه يوه شېبه خاموش ولاړ وو، بيا يې غلې غونډې ځان سره اووے، ”په سرمِ پروا نيشته خو چې خپل قرض راباندې قرض نشي“ دې سره هغه خپل دفتر ته لاړو او خپل دفتري کاريې شروع کړو چې خپل کاريې ختم کړو نو خپلې کمرې ته ورغے او اخبار يې کتو. دَ اخبار په هرمخ او هره پاڼه دَ ترهه ګرۍ ، چودنو ، اغواء براے تاوان او دَ خودکش حملو خبرې وې او ټول کالمونه دَ دغه قسمه واقعاتو نه ډک





وو. يوکالم دَ هغه دريويشت ايف سي اهلِ کارو په باره کښې وو چې د درے کالو راسې دَ ترهه ګرو په قبد کښې پراتهٔ وو او ډېر په بې دردۍ سره ذبح کړې شو. دا ټول مقتولين هم سوچه پښتانهٔ اوسوچه مسلمانان وو او چاچې قتل کړل هغه هم سوچه پښتانهٔ او سوچه مسلمانان وو. يوه ډله دَ عوامو او سرکاري املاك په دفاع کښې مصروف عمل وه او بله ډله دَ خپلې نظريې په ترويج کښې برسرِ پيکار وه . هغه حېران په دې وو چې دريوشت کسان يعنی يو مسلح پلاټون دَ ترهه ګرو په ګرفت کښې څنګه راغے . دَګرفتارۍ نه مخکښې هغوي شهيدان ولې نشول . هغه لا په دغه سوچ کښې ډوب وو چې يوسب انسپکټر ډېر په توندې سره ، ساه نيولے دَ هغهٔ دفتر ته ورغے ، هغهٔ ته يې سلوټ اوکړو او ورته يې اووے ، ”سر، په چوکي نمبر 2 باندې دَ ترهه ګرو حمله اوشوه او ډېرې لاروانې دي، د دے خبر په اورېدو سره هغهٔ اخبار يو طرف ته کېښودو ، پاسېدو او وے وئيل ، ”څهٔ مرګ ژوبله ؟

سب انسپکټر :. هاؤ سر، شوې ده خو لاصحي معلومات نېشته .

شان:. فائټنګ سکواډ تيار کړې چې ځو ورپسې .

سب انسپکټر:. سر، سکواډ تيار دے ، صرف ستاسو انتظار دے .

شان :. O.k ، دې سره هغه ډېر په تېزۍ سره دَ کمرې نه اووتو. دفتر ته ورغے ، ځان يې مسلح کړو ، ټول په ګاډي کښې کېناستل او روان شول . هغهٔ نه غوښتل چې دَ ترهه ګرو مخې له ورشي او په هغوي دَ



www.pukhto.Net

مخې نه ډزے شروع کړي . هغۀ خپله لاره بدله کړه او په هغوي يې دَ شانه کاؤنټر اټيك اوکړو . دا حمله دومره ناگهانه وه چې دَ هغوي پښې اوخوېدې او ماتې يې اوخوړه خو په تلو تلو کښې يې خپل مړي هم يوړل ، زخميان يې هم يوړل او دوه سپاهيان يې هم اغوا کړل . چې ډزې قلارې شوې نو درے کسان مړۀ او څلور زخميان وو. په مړو کښې يو اے اېس آئي . يو حوالدار او يو سپاهي وو، په زخميانو کښې يوسب انسپکټر او درې سپاهيان وو. دَ چوکۍ په نفرۍ کښې صرف يوسپاهي په ډيوټۍ ولاړ پاتے شو نور ټول مړۀ او ژوبل چغند شو . هغۀ چې دا حال اوليدو نو خپل سينير افسرسره يې رابطه اوکړه او هغۀ ته يې ټول صورتِ حال اووے . دَ هغۀ دَ طرفه ورته حکم اوشو چې "فوري طور دَ اغواء کارو تعاقب اوکړه او دَ مړو او زخميانو دَ پاره نفري در روانه ده ". هغۀ چې دَ خپل افسر حکم واورېدو نو دَ خپل موبائېل ټيم نه يې دوه کسان په څوکۍ پرېښودل ، دوه کسان يې ځان سر واخستل او دَ ترهه گرو تعاقب پسې روان شو . په دغه تعاقب کښې هغوي ډېر لرې اورسېدل . ترهه گرو ته چې کله پته اولگېده نو هغوي پرې فائر شروع کړو . په دغه ډزو کښې هغوي سره دَ کارتوسو کمې راغلې . دَ ترهه گرو له خوا فائر کېدو خو هغوي خاموش وو. هغۀ خپل سينير سره رابطه اوکړه او هغه يې دَ ټول صورتِ حال نه خبر کړو. هغۀ ته اوويلے شو چې ، "وارخطا نکړے نفري هم در روانه ده او کارتوس هم درځي . يوه شېبه پس چې هغه بيا رابطه اوکړه نو





هغۀ ته اوويلے شو چې کوم کمك تاسو له در روان وو ، په هغه گاډې کښې چودنه اوشوه . گاډے هم والوتو او نفري هم والوته . ته زمونږ دَ کمك انتظار مۀ کوه او ود ډرال (with drawl) اوکړه ... هېلو ... اوس اوس خبر راغلې چې په قبصه خوانۍ کښې دوه چودنې اوشوې او حالات ډېر خراب دي . تۀ سره دَ خپلو ملگرو واپس شه ". دې سره موبائېل بند شو . هغه ځوځله هغۀ سره دَ رابطې کوشش اوکړو ، خو رابطه اونشوه . بيا هغه خپلو ملگرو ته اووے ، 'زما ملگرو ، مونږ دَ هر طرف نه دَ دشمن په گېره کښې يو . تاسو ته اجازت دے ، تاسو تلے شۍ ". يو سينير سپاهي هغۀ ته اووے ، "سر په داسے حال کښې چې مونږ دَ دشمن په گېره کښې يو ، تاسو يواځے نشو پرېښودے ، چې ځونو غونډ به ځو او چې مرو نو غونډ به مرو". دَ هغۀ دَ خولې نه ايله دغه الفاظ اووتل چې په هغوي دَ مخې او شانه حمله اوشوه او چې هغوي په ځان پو هېدل نو دَ هغوي نه وسله اخستلې شوې وه او لاسونه او سترگې يې تړلې شوې وې .

★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.Net

## دیارلسم باب

شان مقتل سره نږدې په یوه داسې زړه کوټه کښې په زولنو کښې بندپروت وو چې نه پکښې کهړکۍ وه ، نه پکښې روشندان وو او نه پکښې دَ رڼا دَ پاره مګ وو. دَ کوټې مخې ته به ګارډز واره په واره وسله په لاس څوکۍ کوله او چې په ډېره اوختو را اوختو کښې به دَ هغهٔ دَ لاس پښو زنځیر شرنګ اوکړو نو په څوکۍ ولاړ ګاډ به ورته دَ ور په چودو کښې کتل او دَ هغهٔ دَ حرکات وسکنات اندازه به یې اخسته . هغه به هم کله کله دَ ور په چودو کښې بهر ته کتل او په زړهٔ کښې به یې کرل ربېل چې هغه به څنګه او په څهٔ طریقه دَ دغه کوټې نه اوځي . په دې دې کښې دَ هغهٔ دواړه ملګري پرله پسې ذبح شول او دَ هغوي سر پرېکړي لاشونه په سړك اوغورځولے شو . هغهٔ دَ هغوي دَ ژړا فریاد چغې اورېدے ، دَ هغوي لتې ټکول یې دَ ور په چودو کښې لیدل ، دَ هغوي بیناړي یې اورېدل خو هیڅ یې نشو کولے ، البته خپل پاتې ساه ګانې او دَ ژوند اخري لمحې یې شمېرلے. په دغه کتو کتو کښې هغهٔ یو ځل یوداسے سړے اولیدو چې په خپلو سترګو یې دَ هغهٔ دَ لیدو ګمان نه کېدو . دا سړے هغهٔ مخکښې څو څو ځله لیدلے هم وو او هغه سره یې خبرې هم شوې وې خو اوس یې دَ خیال نه اوتے وو. هغهٔ دَ هغهٔ په باره کښې سوچ کوو او په سوچ سوچ کښې دومره لرے لاړو چې هغه یې بېخي دَ خیال نه اووتو. دې نه پس هغهٔ څو څو ورځې دَ ور په چودو کښې دَ هغهٔ لټون کوو خو بیا یې اونه لیدو .





هغه له به په ورځ کښې یو ځل یوه ډوډۍ او دَ پیاز یوه غوټه یا دَ ګُړې یوه چکۍ ورکړې کېده او په شواروز کښې به یو ځل ورته بیت الخلا ته په تړلو سترګو دَ تلو موقعه ملاوېده . په کوټه کښې به دَ هغهٔ سترګې تړلې کېدې او په بیت الخلاء کښې به پرانسته کېدې. دَ دغه تړلو پرانستلو په وخت کښې هغه یو ځل بیا هغه سړے اولیدو . دَ دواړو سترګې یوبل سره اولګېدې خو هغهٔ ترینه مخ واړوو او په څوکۍ ولاړ یو ګارډ له یې څهٔ هدایات ورکول. دَ هغهٔ ملګري او دَ هغهٔ نه مخکښې روستو ټول قیدیان واره په واره ذبح شول خو هغه دَ بارګیننګ دَ پاره ساتلے شوے وو. چې که چرې دَ تنظیم او حکومت ترمینځه خبره جوړه شي نو دَ خپل قیدي دَ ازادۍ په بدله کښې به ورسره دَ هغهٔ تبادله اوکړي خو چې دَ حکومت له خوا څهٔ سفارتي کوشش اونشو نو دَ هغوي نه هم نور صبر اونشو او دَ هغهٔ په حقله یې خپله اراده بدله کړه . دَ کماندرانو یوه هنګامي غونډه رااوغوښتلې شوه او هغه په داسے حال کښې جیوری ته پېش کړے شو چې دَ هغهٔ سترګې او لاسونه تړلي شوي وو. په جیوري کښې دوه کماندران او یو امیر صیب وو. دا درے واړه په تورو جامو کښې ملبوس وو او تور پټکي یې تړلي وو. دَ جیوري مشر، امیر صیب چې هغهٔ ته اوکتل نو ګارډز ته یې اووے ، "د دهٔ سترګې پرانیزی،" دَ هغهٔ سترګې چې پرانستې شوې نو امیر صبب هغهٔ ته داسې په ځیر ځیر کتل لکه چې دَ خپلو سترګو په کېمرو دَ هغهٔ تصویر اوباسي. بیا



www.pukhto.Net

مسکے شو او هغۀ تـه یې اووے ، "زلمیـه څنګـه یې ؟ هغـۀ پـه څنبېدلي سترګو هغه ته اوکتل او وے وئیل "، "ښۀ . . . یم صېب".
امیر صېب یو ځل بیا مُسکے شو او هغۀ ته اووے ، "یرېږه مۀ زلمیه ، تـۀ خو ډېر بهادر زلمے یې. په دے دومره لږ عمر کښې او په ډېره لږه موده کښې دَ مجاهدینو خلاف دَ خصوصي ټیم کمانډر جوړ شوے، تۀ دَ قوم او ملك لویه سرمایه یې ، داسې ده کنه اے ایس پي صېب؟"
شان هغه ته په اوچتو سترګو ګوري او وائي، "نه صېب ، داسې نه ده . زۀ دَ قوم سرمایه نه بلکه خادم او یو ادنیٰ خدمتګار یم ". دَ هغۀ په خبره دَ امیر صېب سترګې دَ قهره تکې سرې شي . هغۀ تـه پـه قهرېدلي سترګو ګوري او وائي ، "تۀ دَ قوم خدمتګار نه بلکه غدّار یې . . . تۀ دَ امریکې خدمتګار او دَ اسلام دشمن یې . ته دَ مجاهدینو قاتل یې او تاسره به هغه سلوك کېږي چې دَ موجوده او ائنده نسل دَ پاره دَ عبرت یوه نمونه اوګرځے .
شان :. امیرصېب ، هغه کومه سزا ده چې تاسو نه پاتې شوې ده او ما دَ پاره مخصوص شوي ده ؟ هغه کوم ظلم او جبر دے چې تاسو په خپل قوم نه دے کړے . سرې خولې ماشومان ، دعاګویه بوډاګان ، ننګیالي زلمي ، درنې حیاداري پېغلې او دَ قوم خوږې میاندې خویاندې مو په بمو کښې والوځولې، دَ سر پرېکړي لاشونو ډالۍ مو ورله اولېږلې. زۀ حېران په دے یم چې ما دَ پاره به کومه سزا تجویز کوې ؟
امیر صېب:. زۀ به په ولاړه ولاړه تانه څرمن اوباسم ، ستاغوښې به





توږم او په تا به یې خورم . دا سزا دے خوښه ده ؟
شان:. امیر صېب ، زۀ ستا قیدي یم. زما خوښه ناخوښه پرېږده، خپله خوښه کوه .
امیر صېب هغۀ ته په قهرېدلي سترګو ګوري او ګارډز ته وائي، "دے زما دَ سترګو نه لرے کړی،" ګارډز دَ هغۀ سترګې تړي او هغه دَ امیر صېب دَ دفتر نه اوباسي . دَ هغوي دَ تلو نه پس امیر صېب دواړه کمانډرانو ته واره په واره ګوري او وائي، "دَ ملك حالات څنګه دي"؟
ړومبے کمانډر:. حالات ښۀ نه دي امیر صېب. دَ حکومت او تپې تپې پې ترمینځه دَ روغې جوړې خبرې روانې دي. داسې معلومېږي چې دَ هغوي روغه جوړه اوشي ".
امیر صېب:. هاؤ ، ماته هم داسې راخکلے ښکاري.
دوېم کمانډر:. مخکښې به کار مونږ کوو او نوم به مو دَ تپې تپې پې اخستو. اوس چې هغوي دَ جنګ بندۍ اعلان اوکړو نو مونږ به څۀ کوو؟
امیرصېب :. وَه سادیه سړیه ، زمونږ هغوي سره څۀ کار دے ؟ هغوي به خپل غونډارے زغړوي او مونږ به خپل غونډارے زغړوو. مونږ له پکار دي چې دَ نُوکوزور اولګوو او دَ هغوي ترمینځه جوړه اونشي.
ړومبے کمانډر:. بالکل زما تاسره اتفاق دے . هم داسې کول پکاردي.
دوېم کمانډر:. هم داسې به کوو. هغوي زمونږ نه خلاص او مونږ دَ هغوي نه .
امیر صېب:. ښه اوس دے اے ایس پي سره څۀ اوکړو.



www.pukhto.Net

ړومبے کمانډر:. انصاف.... مساوات.

امیرصیب:. څهٔ مطلب؟

دوېم کمانډر:. څهٔ چې نورو سره شوي دي، هغه ده سره هم پکاردي.

امېر صیب :. ډیره ښه ده . خوښه مِ ده .

دا درے واړه کمانډران دَ بلېك واټر ، راء، خاد او موساد ایجنټان وو اودَ هغوي په ایجنډا به یې کار کوو. د دے تنظیمونو هېډ آفس په امریکه کښې وو، زونل آفس یې په کابل کښې دَ انډیا په سفارت خانه کښې وو او واړه دفترونه یې په افغانستان کښې دَ انډیا په مختلفو کونسل خانو کښې وو. دغه کونسل خانونه به ورته ګوله بارود او خودکش جېکټې هم ملاوېدې او لویې لویې تنخواګانې او مراعات به هم ورته ملاوېدل . د دغه ټولو مقصد په پاکستان کښې عدم استحکام او انتشار پېدا کول وو او پاکستان په عالمي سطح بدنامول وو. دَ هغوي کار دَ اسلام په جامه کښې اسلام بدنامول او دَ پاکستان اېټمي طاقت ختمول وو. د دے تنظیم دَ پېژندو ظاهري نښنخې دا وې چې دَ یو عام کارکن نه واخله تر کمانډر پورې دَ هغوي جامه پېزار او پټکي تور وو او اندروني نښنخې یې دا وې چې دَ هرنارینه کارکن او کمانډر په ګس مټ به دَ B.W یعنی دَ بلیك واټر نښنخه وه . دا الفاظ به دَ ټېټو (Tatto) په شکل کښې لیکلي شوي وو. دغه شان ، دغه نښنخې دَ ښځو دَ تنظیم Black widows ، دَ زنانه کارکنانو هم وې. په دے تنظیم کښې هغه ښځې شاملې وې دَ چا خاوندان چې دَ پولیس





یا فوج په معرکو کښې مړهٔ شوي وواو هغوي بې سهاره پاتې شوې وې . دَ هغوي مقصد دَ معاشرې نه دَ خپلو خاوندانو انتقام اخستل وو. دې نه علاوه په دېکښې هغه ښځې هم شاملې وې دَ چاچې په معاشره کښې ځاے نه وو او په خپل ژوند تنګې شوې وې .

**﴿ دویمه برخه ﴾**

دَ چودهري رحمت او دَ اکبر خان دَ قتل نه پس دَ خاله او کرشمې دَ ژوند مزے لنډ او دَ ګرځېدو دائره یې تنګه شوه او هغوي ته دَ ملك په بندوبستي علاقو کښې اوسېدل ګران شو. هم دغه وجه وه چې هغوي علاقه غېر ته لاړې نو دَ هغه کډوالو په یو کور کښې بې تپوسه او بې اجازته پرېوتې کوم چې دَ فوجي اپرېشن په وجه خالي شوے وو او دَ مودو مودو راسې خوشے تشے پروت وو. هغوي په دغه کور کښې لکه مور او لور اوسېدې خو څه موده پس چې دَ Black widows تنظیم جوړ شو نو هغوي دواړه په دغه تنظیم کښې شاملې شوې . کله چې دَ هغوي تربیت مکمل شو نو دواړه په خپله خوښه خپلې زړې اډې یعني دَ لاهور هیرا منډۍ ته روانې شوې. دَ منصوبي مطابق خاله چې دَ شاهد کورته ورغله نو دَ هغهٔ دَ کور په خائست او دَ هغهٔ په ښځو کښې هیڅ کمے بېشے نه وو راغلے . هغه کمره چې هغې پکښې چودهري رحمت قتل کړې او سوزولې شوے وو هغه هم په هغه بڼ څټ دوباره جوړه شوې او ښه خائسته کړې شوې وه . په سکښې ماښام کښې ، دَ بجلۍ په رڼا کښې مائي دَ



www.pukhto.Net

شاهد ببیانو سره ناسته وه ، په خپلو کښې یې خنداخوشحالۍ هم کولې او دَ میلمنو دَ راتلو انتظار یې هم کوو . دَ هغې په لیدو باندې مائي او نورې ببیانې دَ هغې نه چاپېره اودرېدې . مائي چې هغه اوپېژنده نو مخ یې ترېنه واړوو او روانېده خوخاله ورته په مُسکا اووې، مطهري، زۀ دے اونه پېژندم ؟ زۀ ستا ملګري نفیسه یم . هغه ، هغسې پسې یوقدم دوه ورمخکښې شوه او هغې ته ورتړغاړه وته. چې کله دواړه غېږ په غېږ شوې نو یوه لویه دهماکه اوشوه او ولاړې ببیانې ټولې والوتې . دَ چودنې اواز چې بهرخلقو ووریدو نو ټول نر ښځې په یوه چغه او په یوه پښه را اورسېدې. په سړو کښې دَ نورو نه علاوه شاهد هم وو او په ښځو کښې دَ نورو نه علاوه کرشمه هم وه. ټولو ښځو ژړل او په ژړا ژړا کښې یې شاهد له تسلي ورکوله . کرشمه هم شاهد ته ورنږدې شوه . دَ دواړو سترګي چې اولګېدې نو شاهد هغه اوپېژنده او دَ هغې نیولو پسې یې هڅه اوکړه . هغې هم دَ هغۀ دَ ګرفت نه دَ بچ کېدو کوشش اونکړو . کله چې هغه دَ هغه په قابو کښې راغله نو یوه لویه چودنه اوشوه . چودنې سره ګڼ شمېره ښځې او سړي مړۀ او ټپیان شو. دَ کرشمي او شاهد دَ لاشونو هډو هیڅ پته اونه لګېده . په سبا دَ دواړو چودنو ذمه واري دَ Black widows تنظیم په بدل نوم قبوله کړه او ائنده دَ پاره یې دَ نورو چودنو دهمکي ورکړه . ټي ټي پي په دې چودنه نه صرف دَ خپل خفګان اظهار اوکړو بلکه په سختو ټکو کښې یې دَ دې چوندې غندنه اوکړه او دا یې دَ





هغوي او دَ حکومت تر مینځه دَ روغې جوړې ختمولو یو مذموم حرکت اوګڼو . بهرحال هغوي دَ هغوي مخ نیوې څکه نشو کولے چې دَ هغوي لارې دَ مخکښې نه جُدا شوې وې . دې نه پس حکومت له دَ یوې نوې ډالۍ لېږلو دَ پاره دَ شان دَ قتل احکامات ورکړي شو. دا پېغام هغه ته هم اورسېدو او دَ تیارۍ دَ پاره ورته اوویلے شو . دَ مرګ پېغام هغۀ دَ پاره دَ طبعي مرګ نه کم نه وو. دَ پېغام اورېدو سره دَ هغۀ رنګ تك زېړ شو او ټول وجود یې لکه دَ خزان زپلې رېبدلې پاڼې رچېدو. دَ هغۀ شونډې او مرۍ اوچه شوه ، دَ هغۀ حلق ازغي ازغي او خولۀ یې داسې ترخه شوه لکه چې په خوله کښې یې دَ ژبې په ځاے دَ زهرو اوچ غونډارے پروت وي . هغۀ اوبۀ څکلو ته هڅه اوکړه خو چې کنډول ته یې اوکتل نو هغۀ لکه دَ هغۀ دَ اوچې خولې اوچ پروت وو. دَ هغۀ دَ خولې تریښ والې وارترواره زیاتېدو او چې کله ډېر تنګ شو نو په خپل لاس یې داسې چك اولګوو چې بوټۍ بوټۍ وینه ترېنه رااووته . بیا یې په بې صبرۍ سره خپله وینه څټله او خپله ژبه او خوله یې پرې لوندوله . په دغه څټلو کښې دَ هغۀ ژبه او خوله تر حلقه پورې لونده شوه . هغۀ تر هغې پورې په خوله کښې ژبه وهله چې په خوله کښې یې مالګېنې اوبه پېدا شوې . دغه اوبۀ تر هاغې پورې هغۀ په خوله کښې شاربلے چې یو غټ ګوټ ترې جوړ شو . بیا یې هغه ټولې اوبۀ په یو غړپ تیرے کړے او مرۍ یې لونده شوه دې سره دَ هغۀ په ساه کښې ساه راغله ، حوصله یې په ځائے



www.pukhto.Net

شوه او یره یې ختمه شوه. چې کله سُرکښې شو نو بیا په تکوري سملاستو او ذکرواذکار او تسبیحات یې شروع کړل. غوټه نیمه شپه وه. ټوله دنیا په درونـد خوب اوده وه. هغه هم اوده وو خو دَ هغهٔ ژبه راویښه وه او دَ الله په ذکر کښې مصروفه وه. په دغه چپه چپیا کښې دَ هغهٔ دَ کوټې ورلرے شو او یو سړے غلې غوندي کوټې ته دننه شو. هغهٔ چې دَ هغهٔ دَ زولنو جرنده کهلاؤ کړه نو یولاس یې دَ هغهٔ په خوله کېښودو او په بل لاس یې دَ هغهٔ دَ ویښولو کوشش کوو. هغه چې ویښ شونو اویرېدو او چغې ته یې خوله جوړوله خو هغهٔ په خپل لاس دَ هغهٔ خوله ټپه کړه او پس پسو کښې ورته اووے، "یرېږه مه خان جي زهٔ یم. راپاسه چې ځو".

شان:. چر... چر... چرته ځو. تهٔ ... څو... څوك یې؟ هغهٔ دَ هغهٔ غوږ ته خوله نزدې کړه او ورته ګنګوسي کښې اووے، "خان جي، زهٔ تاواني یم راپاسه چې ځو، وخت کوتاه دے او مزل بلها دے".

دَ تاواني دَ نوم په اورېدو سره هغه دومره خوشحاله شو چې ټوله یره یې ختمه شوه او هغهٔ ته دا احساس اوشو لکه چې دَ رحمت فرشته راغلي وي او هغه دَ مرګ دَ خولې نه اوباسي. هغهٔ دَ هغهٔ په خبره کښې هډو لـم لـېټ اونکړو او پاسېدو. تاواني کاکا یو کلاشن کوف هغه له ورکړو او بل یې لاس کښې اونیوو. هغه یې دَ لاس نه اونیوو، ځان پسې یې بهر ته راخکو او ډېر په تېزۍ سره دَ کوټې نه اووتل. سحر په خړه چې دَ تاواني کاکا په ځاے نوے ګارډ کمانډر راغې او دَ





هغهٔ کوټې ته یې اوکتل نو ورلرے وو او زولنې په زمکه پرتې وې. ګارډ کمانډر فوري طور کمانډر ته رینګ اوکړو او هغه یې دَ ټول صورت حال نه خبر کړو. کمانډر فوري طور ټولو کارکنانو او فدائینو ته کالونه اوکړل او دَ هغهٔ دَ نیولو حکم یې ورکړو. نمر څیره وهلے وه چې شان او تاواني کاکا دَ یوې غوندۍ نه بلې غونډۍ ته ووختل. دَ تنظیم سړي ورپسې وو او په هغوي یې ډزے شروع کړے. هغوي دَ ډز جواب په ډز کوو او په مخه روان وو. په دغه ډزو کښې تاواني کاکا په لاس اولګېدو او کلاشن کوف ترېنه لاندې پرېوتو او هغه زانګېدلے لاس پاتے شو. شان هغه له راستون شو، دَ هغهٔ کلاشن کوف یې اوچت کړو په غاړه کښې واچوو او چې هغه یې اوچتوو خو هغهٔ ورته اووے، "زما فکر مهٔ کوه خان جي، په ماتېره ده. تهٔ پښې اوباسه او زر ترزره د دے ځائے نه اوځه". شان دَ هغهٔ دَ نصیحت هډو څهٔ پرواه اونکړه، هغه یې په اوږه راواړوو او منډه یې کړه. په دغه منډه منډه کښې هغه دَ فوجیانو یو کیمپ ته اورسېدو. په ډیوټې ولاړ فوجي سپاهي چې هغه اولیدو نو ټوپك یې ورته اونیوو او ورته یې اووئے، "دېخوا دَ راتلو کوشش اونکړے، دغلته اودرېږه"، هغه په خپل ځائے ټپ اودرېدو، تاواني کاکا یې دَ اوږې نه کوز کړو او په زمکه یې واچوؤ. بیا یې دواړه وسلے په زمکه کېښودې، لاسونه یې اوچت کړل او په ولاړه ولاړه یې هغه ته ټوله قیصه اوکړه. په دېکښې ګارډ کمانډر هم راغې. هغهٔ دَ هغوي تلاش واخسته، دَ هغوي وسله



www.pukhto.Net

يې خپله قبضه کښې واخسته او دَ دننه تلو اجازت يې ورکړو . ګارډ کمانډر هغوي ګېټ سره نزدې په بينچ کېنول او يو سپاهي يې لنګرته چاې پسې اولېږو . لږه شېبه پس هغه دوه مګه چايې او په يو پلېټ کښې دوه پورۍ راؤړے او هغوي ته يې کېښودے هغوي لا چايې څکله چې صوبه دار مېجر راغے. او دَ هغهٔ نه يې تپوسونه شروع کړل . شان لا هغهٔ ته خپله قيصه کوله چې په دېکښې دَ کېمپ 2ic صېب (سېکنډ اِن کمانډ) راغے . هغهٔ P.cap په سر کړے وو ، يو وړوکے سټك (Stick) يې په لاس کښې نېولې وو او بل لاس له به يې په مزه مزه راچوو. دَ هغهٔ په راتلو باندي شان دَ هغهٔ په احترام کښې پاسېد او په هوشيار پوزيشن کښې اودرېدو . 2ic صېب چې هغهٔ ته اوکتل نو مسکے شو او ورته يې اووے ، "شانه تهٔ ؟" شان چې هغهٔ ته په ځير ځير اوکتل نو مُسکے شو او وے وئيل ، "اوه عارف بهائي تهٔ " دې سره دواړه يوبل ته ورترغاړوځي . شان هغهٔ ته وائي ، "تهٔ مېجر کله نه جوړ شوے يې ؟"

مېجر عارف:. دَ عابد دَ زېګون په درېمه ورځ.

شان (په حيرانتيا) عابد؟ عابد څوك دے .

مېجر عارف ( په خندا) واه بهئی واه . ته خپل خوريے هم نه پېژنے. ستا دَ خوريي نوم عابد دے .

شان (مسکے شي) اوه ، زماخوريے . زماخوريے چاته تلے دے .

مېجرعارف(خاندي) په رنګ جُته کښې تاته تلے دے او په مړانه





کښې ماته تلے دے (دواړه خاندي)

شان :. عاليه څنګه ده ؟

مېجر عارف:. بنهٔ ده خو تاپسې ډېره خفه ده راځه چې لږ ارام اوکړے، نورې خبري به بيا اوکړو.

شان:. زما دَ ارام فکرمه کوه خو زما دَملګري دَ علاج څهٔ بندوبست اوکړه ، مېجرعارف صوبه دار مېجر صېب ته ګوري او وائي ، "صوبه دار مېجر صېب ، دا کاکا مېډيکل کېمپ ته اورسوه او د ده دَ نګهباني دَ پاره دهٔ سره دَ يوسپاهي ډيوټيي اولګوه . صوبه دار مېجر صېب هغهٔ ته Yes sir اووے ، تاواني کاکا يې مېډيکل کيمپ ته روان کړو او شان مېجر عارف سره دَ هغهٔ خېمي ته روان شو .شان تر مازيګر پورې دَ مېجر عارف په خېمه کښې اودهٔ وو . کله چې دَ هغهٔ خوب پوره شو. نو واش روم ته ورغے . دَ لامبلو نه پس يې دَ مېجر عارف په خواست دَ هغهٔ سوټ واخستو او خپله سرځنه يې کوله چې دَ کېمپ کمانډر کرنل عباد له خوا يو رنر راغے . دَ راتلو سره هغه مېجر عارف ته سلوټ اوکړو او ورته يې اووے ، "سر، کرنل صېب تاسو او مېلمه سره په خپل دفتر کښې ملاقات کول غواړي ".

مېجرعارف:. O.k ، ته ځه ، مونږ درځو ، دَ هغهٔ دَ تلو نه پس هغوي دواړه دَ کرنل صېب ملاقات له دَ هغهٔ دفتر ته ورغلل . کرنل صېب ، دَ شان دَ بېك ګروَنډ او دَهغهٔ دَ عهدې نه مېجر عارف خبرکړے وو. هغه شان سره ډېر په بنهٔ طريقه ملاؤ شو. دَ روغ جوړ نه پس هغهٔ هغه ځان



www.pukhto.Net

سره کېښوو او دَ هغۀ دَ اغوا، قید او دَ هغۀ دَ فرار په باره کښې یې دَ هغۀ نه مختلف تپوسونه کول . هغۀ ښۀ په سړه سینه هغۀ ته دَ تړهه ګرو په باره کښې ټول احوال تېر کړو. کرنل عباد دَ هغۀ دَ شخصیت او دَ هغۀ دَ بهادرۍ نه ډېر متاثرشو . دَ هغۀ دَ حب الوطنۍ او نېکو ارادو یې ډېر ستاینه اوکړه او مېجر عارف ته یې اووے ، "زمونږ په پولیس کښې دغه شان زلمي پکار دي". په دې دوران کښې چایې هم راغله . هغوي چایې هم څکله او خپلو کښې یې خبرې هم کولے دَ چایې څکلو نه پس هغوي درے واړه پاسېدل او دَ تاواني کاکا پوښتنې دَ پاره مېډیکل کېمپ ته لاړل . دَ تاواني کاکا لاس ته پلسترا چولے شوے وو او په بیډ کښې اودۀ پروت وو . هغوي دَ هغه ویښول مناسب اونه ګڼل البته دَ عقیدت په توګه ورته یوه شېبه خاموش ولاړ وو او هغه ته یې کتل . بیا کرنل صېب مېډیکل عملې ته دَ هغۀ دَ علاج، خوراك او اُرام په باره کښې هدایات ورکړل او په مُسکا مُسکا درے واړه روان شو .

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★





**﴿څوارلسم باب﴾**

شان دَ خپلې اغوا ، قېد او فرار اطلاع آئي جي پي له ورکړے وه او هغه یې دَ ټولې قیصې نه خبر کړے وو. آئي جي پي دَ هغۀ په ازادېدو ډېر خوشحاله شو. هغۀ له یې دَ نوے ژوند مبارکي هم ورکړه او دَ هغۀ دَ ترقي زېرې یې هم ورکړو . هغه درې ورځې په فوجي کېمپ کښې سرکاري میلمه وو. په څلورمه ورځ هغه او تاواني کاکا په فوجي هیلي کاپټر کښې کېنولي شو او ملك آباد ته اورسولې شو . شان خپل پلار سره خبرې کړے وے او په خپله باره کښې یې ورته هرڅۀ وېلے وو او مېجر عارف هم هغه او عالیه خبر کړے وه . چې کله هغوي په هیلي کاپټر کښې کېناستل نو دَ هغوي دَ ورتلو اطلاع یې هم ورکړه دَ هغه په رسېدو دَ ملك آباد ټول خلق دَ هغۀ استقبال ته ولاړ وو . دَ هر سړي دا کوشش وو چې شان ته ورترغاړوځي او هغۀ له دَ نوے ژوند مبارکي ورکړي خو تاواني کاکا ته چا سترې مشي هم نه وے . کله چې اعظم خان هغۀ ته ورترغاړه وتو او هغه یې څو څو ځله ښکل کړو نو خلق پو هـ شول چې تاواني کاکا کښې چل شته. بیا دَ هر سړي دا کوشش وو چې هغه ته ځان اورسوي او هغۀ سره په مینه مینه سترې مشي اوکړي . دَ خلقو دَ روغ جوړ نه پس شان کورته لاړو او اعظم خان په تاواني کاکا لاس واچوو ، هغه یې ځان سره حجرې ته بوتلو او ځان ته یې په کټ کښې مخامخ کېنوو.

شان چې کور ته ورغی نو دَ هغۀ رونړه ، خویاندې ،مور، ترور



www.pukhto.Net

او نورې خپلې خپلوانې دَ هغهٔ نه چاپېره شوې، چاپرې دَګلونو پاڼې شیندلې او چا ښکلوو. دغه خندا خوشحالۍ روانې وې چې دَ یوې کمرې نه دَ ماشوم دَ ژړا اواز راغې. هغهٔ چې دَ ماشوم ژړا واورېده نو په مُسکا یې دَ مور نه تپوس اوکړو، " امّې دا ماشوم څوك دے ".

هغې لا څهٔ جواب نه وو ورکړې چې عمراو سعدیې، عالیې ته په خندا خندا ګوتې اونیوې. دَ هغوی په خندا دَ عالیې رنګ زیړ شو، اوشرمېده او سترګې یې خکته کړې. طاهرې بي بي په مُسکا اووې، "دا ستا خورېے او دَ عالیې زوے دے".

شان مُسکے شو او عالیې ته یې اووے، "ښه لیونۍ، دا دے زمانه پټ ساتلې وو". هغه په ټیټو سترګو پاسېده او دَ ماشوم ژړا پسې کمره ته روانه شوه خو شان دَ هغې نه مخکښې شو. ماشوم یې په غېږ کښې اوچت کړو، بیا ته یې بوتلو او ښکلوو یې، عالیې چې خپل زوي سره دَ هغهٔ دومره مینه اولیده نو په سترګو کښې دَ شکریې غټې غټې اوښکې راغلې. شان چې دَ هغې اوښکو ته اوکتل نو مور ته یې په خندا خندا کښې اووے، "امّې، مور واقعي مور وي. تهٔ دې لېونۍ ته اوګوره چې دَ زوي ژړا سره دا هم ژاړي". دَ هغهٔ په خبره عالیه هم په خندا شوه او نورې زنانه هم په خندا شوې.

په سبا هغهٔ دَ آئي جي پي ملاقات دَ پاره دَ هغهٔ دفتر ته ورغې. هغه دَ هغهٔ په لیدو ډېر خوشحاله شو او هغه یې ځان سره په خپل دفتر کښې کېنوو. دَ هغهٔ په تپوس هغهٔ دَ پوندانې قیصې بیا شروع کړه.





او هغه ته یې خپل ټول سرګذشت اووے. هغهٔ هغهٔ له دَ نوے ژوند مبارکي هم ورکړه او دَ ډي ایس پي ( DSP ) دَ رېنك درے درے ګلونه یې ورته په اوږو هم اولګول. هغه له یې لس ورځې چُھټي هم ورکړه او په خپله خوښخه یې هغه دَ سوات قدرې محفوظه سیمې ته بدل کړو او دَ دغه سیمې دَ خصوصي ټیم یې کمانډر کړو. هغهٔ لس ورځې چُھټي ټوله په خپل کلي کښې اودَ پلار او تاواني کاکا په صحبت کښې تېره کړه. په دے دوران کښې یې ډاکټراشتیاق، مېډم مسرت، ډاکټر جمیل او ډاکټر عندلیب سره یې ملاقات هم اوکړو او هغوي سره یې دَ نرګس او ماریه په حقله یو ځل بیا غم رازي هم اوکړه. چې کله دَ هغهٔ چھټي ختمه شوه نو هغهٔ مازیګر خپل سامان په ګاډي کښې کېښودو او دَ ډي ایس پي په حېث سوات ته روان شو. هغه چې مینګورې ته اورسېدو نو ماسخوتن وو. هغهٔ نه غوښتل چې هغه شپه په شپه خپل دفتر ته لاړ شي او دَ هغهٔ په وجه ټوله عمله ډسټرب شي. هغهٔ په زړهٔ کښې فیصله اوکړه چې هغه به شپه په کالام کښې په خپله بنګله کښې اوکړي او سحر به خپلې ډیوټۍ له مینګورې ته واپس راشي. په دے غرض چې هغه دَ کالام په روډ روان شو نو دَ فوجیانو په رومبۍ چوکۍ هغهٔ ته اوویلے شو چې دَ هغهٔ تګ دَ خطرې نه خالي نه دے. په دې وجه هغهٔ ګاډے مینګورې ته واپس کړو او دَ شپې تېرولو دَ پاره یو هوټل ته لاړو. هغهٔ دَ هوټل په کار پارك کښې ګاډے اودروو او استقبالیې ته ورغې. هغهٔ ته دَ انتخاب دَ



www.pukhto.Net

پاره ډېرې کمرې اوښولې شوې . هغهٔ پکښې یوه کمره خوښخه کړه او دَ هوټل دَ ملازم په ذریعه یې په هغې کښې خپل سامان کېښودو . په دې کمره کښې دَ هغهٔ زړهٔ داسې اولګېدو لکه دَ مودو سترے مسافر ته چې دَ اوږې په سره غرمه کښې دَ دمې دَ پاره دَ ګورې اونې یخ سیورې ملاؤ شي .دَ هغهٔ ټول تفکرات ختم او هغه دَ سکون او اطمینان یوه لویه ساه واخسته . او ولې نه ، په دغه کمره او دغه بېډ کښې دَ هغه چا خوشبویې وه چې هغه هېره کړې وه. دا هغه کمره وه چې قارې صېب دَ پلوشې دَ پاره خوښخه کړې وه . خو دَ هغهٔ پکښې دَ شپې تېرولو نصیب نه وو. او دا هغه بېډ وو چې پلوشې پکښې څو څو شپې تېرې کړې وې . هغه چې ډوډۍ اوخوړه نو خپلې کمرې ته ورغی ، جامې یې بدلې کړے او په بېډ کښې سملاستو . هغه یوه شېبه پروت وو ، بیا یې کمبل په ځان خوره کړه او سترګې یې پټې کړے . هغهٔ ته داسې محسوسه شوه لکه چې هغه دَ وړمو په خزانه کښې پروت وي . هغه د دغه وړمو په چپو کښې مدهوشه پروت وو او لږه شېبه پس په دروند خوب اوده شو . سحر چې هغه پاسېدو نو دَ نمانځهٔ نه پس یې خپله ناشته اوکړه او خپل دفتر ته روان شو. هغه چې خپل دفتر ته اورسېدو او په خپله کرسۍ کېناستو نو دَ کار شروع کولو نه مخکښې یې ټوله عمله را اوغوښتله او هغوي ته یې دَ خپلې ډیوټې او فرض شناسۍ هدایات ورکړل او دې نه پس یې خپل کار شروع کړو . هغهٔ ته په مېز باندې دَ پنډنګ فائلونو ګېډې پراتهٔ





وو. هغه درې ورځې پرله پسې په دغه فائلونو کښې بوخت وو او ډېر فائلونه یې فارورډ کړل . په څلورمه ورځ به دغه فائلونو کښې یو داسے فائل را اووتو چې هغه دَ ډېرې مودې نه پنډنګ وو . هغهٔ چې هغه فائل کهلاؤ کړو او هغه یې په غور سره اوکتو نو دَ هغهٔ دَ زړهٔ نه یوه سرېکه اووته او دَ هغهٔ په مغزو کښې سرہ شوه . هغهٔ خپل سر په دواړه لاسونو کښې اونیوو او کلك زور یې ورکړو خو کوم زخمونه چې دغه سرېکې دَ هغهٔ زړه او دماغ له ورکړي وو نو دَ هغې دړدونه لا هغسې موجود وو. هغه یوه شېبه فائل ته کتل بیا دَ دفتر دَ قاصد په ذریعه یې دَ متعلقه تاني SHO را اوغوښتو او دَ هغهٔ نه یې د دغه واقعې وضاحت اوغوښتو . SHO لا وضاحت ته خوله جوړوله چې یوه بوډۍ ښځه دَ بلې بوډۍ ښځې په سهاره دَ هغه دفتر ته راغله ، هغهٔ ته یې سلام اوکړو او دَ کاغذونو یوفائل یې هغه ته په مېز کېښودو. هغهٔ چې هغوي ته اوکتل نو دَ کرسۍ نه پاسېدو او په حېرانتیا یې یوې بوډۍ ته اووے ، ”مېډم شهناز بېګم ته “؟ هغې هغهٔ ته په ځیر ځیر اوکتل او چې کله یې اوپېژندو نو سترګې یې دَ اوښکو نه ډکې شوې او په ډکو سترګو یې هغهٔ ته اووې ، ”شانه زویه تهٔ ؟ته کله راغلے یې “؟

شان:. نن څلورمه ورځ ده مېډم . تاسوکېنئ پلیز، SHO شان ته ګوري او وائي ، ”ماته څهٔ حکم دے سر “.

شان:. تهٔ اوس لاړ شه ، بیا به لیدل اوکړو ، دې سره SHO هغه ته



www.pukhto.Net

سلوټ اوکړي او روان شي . دَ هغهٔ نه پس هغوي کېني . شهناز بېګم خپلې اوښکې اوچوي او هغهٔ ته وائي ، "زويه ، نه پوهېږم چې تاله په کومه خوله مبارکي درکړم . په کومه خوله درنه معافي اوغواړم او په کومه خوله درته خپله زړهٔ سترې اووايم "؟

شان:. داسې هيڅ خبره نيشته مېډم . ستاهره خبره ماته په سر، سترګو قبوله ده . ښه وايه مېډم څنګه موتشريف راؤړې دے . زهٔ ستاسو څهٔ خدمت کولے شم "؟

شهناز بېګم:. زويه چې څهٔ مقصد دَ پاره راغلې يم دَ هغې دَ وېلو نه مخکښې زهٔ دا اعتراف کوم چې ما په تالوے کبر کړې دې . . .زويه زهٔ تانه دَ هغې معافي غواړم ، هغه پاسي او دَ هغهٔ پښو ته دَ خکته کېدو هڅه کوي .شان چې دَ هغې په نيت پوهـ شي نو پاسي هغه به کرسۍ کښې کينوي ، دَ هغې لاسونه ښکلوي او وائي، "مېډم تا اوس هم ماته زوے اووې او د دې نه مخکښې هم تاماته څوځو ځله زوے وېلې دے تهٔ ماته دَ خپلې مور غوندې پاکه ، مقدّسه او خوږه ښکارې. دا دَ پښتو دستور نه دے چې موږپاسي او دَ زوي نه معافي اوغواړي البته که زوے دغسې اوکړي نو دَ هغهٔ دَ پاره دَفخر خبره ده . زهٔ مخکښې هم ستا زوے ووم او اوس هم ستا زوے يم . او ستا خدمت کول خپله خوش قسمتي ګڼم .

شهناز بېګم :. زويه خداے دے ډېر خوشحاله کړه او خُداے دے دَ ژوند په هر ډګر کښې کامياب لره .





شان:. " اٰمين ، سره دَ ستاسو ". مېډم شهناز خپلې اوښکې اوچوي او وائي، "زويه پلوشه دَ څو مياشتو نه عدم پته ده . ما په دې حقله آئي جي پي ته هم درخواست کړې وو خو د هغې هيڅ پته اونه لګېده. بيا مِ هائي کورټ ته اپيل اوکړو چيف جسټس خپله فېصله اورولو او آئي جي پي ته يې اوليکل چې دا کېس دے زر ترزره حل شي .آيي جي پي پرې دَ سوات DiG ته ليکل اوکړل DIG ، SSP ته SSP ، SP ته او SP ، DSP ته ، اوس تاله راغلې يم زويه .

شان (مسکے شي) زهٔ به دَ متعلقه تانې SHO ته، هغه به بيټ افسر ته اوليکي او څو ورځې پس به دا کېس هم دغه رنګې درجه په درجه آئي جي پي ته واپس لاړ شي . . .تهٔ ماته خپله مسله اووايه چې څه ده ؟

شهناز بېګم :. زويه که تهٔ دا فائل اوګورے نو . . .شان دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلي او وائي ،" مافائل کتلے دے .تاپه درخواست کښې دا ليکلي دي چې ستا لور پلوشه دَ څو مياشتو نه دَ سوات په سيمه کښې عدم پته ده او تهٔ دَ پوليس په ذريعه دَ هغې بازيابي غواړې خو تا د دې وضاحت نه دې کړې چې ستا لور اغوا شوي ده او که چا سره په خپله مرضۍ تلې ده ". دَ هغهٔ په تپوس هغه په ژړا ژړا کښې وائي "نه زويه هغه نه اغوا شوې ده او نه چا سره تلې ده بلکه هغه خپل خاوند قاري صېب سره دَ هني مون دَ پاره سوات ته راغلې وه . قاري صېب ترېنه واپس لاړو او هغه عدم پته شوه . "

شان :. قاري صېب سره دَ هغې وادهٔ دَ هغې په خوښخه شوے وو؟



www.pukhto.Net

شهـناز بېـګم :. نه زویه نهٔ دَ هغې په خوښه شوے دے او نهٔ زمونږ پـه خـوښه شوے دے بلکه دَ خپل سابقه خاوند او سابقه خواښې پـه طبعه شوے دے .

شان (پـه حېـرانتيا) سابقه خاوند او سابقه خواښې ؟ زهٔ ستا په خبره پو هـ نشوم مېډم .

مـېډم شهـناز هغهٔ ته دَ پلوشې دَ رومبي او دويم وادهٔ ټوله قيصه کوي .

شان چې دَ هغې خبره ووري نو يو سوړ اسوېلې اوکړي او اسوېلې پسې بره چهت ته ګوري . هغه ډېره شېبه په سوچ کښې ډوب وي ، بيا وائي ، دَ هـغـې دَ رومبي خاونـد دَ مـحـتـرم سکندرشاه صېب تعلق دَ مقدسې کورنۍ سره وو؟ "هغه سترګې ټيټې کړي او وائي" هاؤ زويه .

شان:. دَ قاري صېب تعلق هم مقدسې کورنۍ سره وو؟

شهناز بېګم :. نه، دَهغهٔ تعلق عامې کورنۍ سره وو.

شـان:. اوس سـتـاسـو دَ برادرۍ دَ دود دسـتـور او روايـاتـو څهٔ حال دے ؟

شهـناز بـېـګـم چپ پاتې شي . چې هغه څهٔ جواب ورنکړي نو هغه ورتـه وائي ، " ټيك ده مـېـډم ، سـتـافـائـل ماسره پروت دے زه به خپل کـوشـش کـوم ، چې څهٔ معلومات اوشي نو تاسو له به اطلاع درکړم. تاسو تلې شۍ ".

شـان دَ هـغـې نـه دومـره متـنـفـره شـوے وو چې بلـه خبره يې ورسره اونـکړي . هغـه پـاسي او خپـل کـوارټر ته روان شي . هغه چې خپل کـوارټر تـه اورسي نـو پـه خپـل بېډ کښې پرېوځي او دَ پلوشې په باره





کښې سوچ کوي . دَ هغې دَ ژوند ټول تاريخ هغهٔ ته مخکښې شي . دَ يـونـيـورسـټـۍ زمـانه او امنګونه ، دَ نيومرې په مطالعاتي دوره کښې رومـانـي مـنظـرونه ، په باغ ډهيرۍ کښې دَ هغوي ملاقات او اميدونه، دَ اسـلام آباد پـه الشـفـا هسـپـتـال کښـې رومـاني خوندونـه ، دَ پېښور يـونـيـورسـټـۍ پـه سټاف هاسټل کښې دَ مينې نوبتونه . بيا ځان سره غـلـې غونډې وائي ، دَ هغې رومبے خاوند سکندر شاه او دويم خاوند قـاري صېب ؟ . . . دَ لوبو ، لوبې پرې اوشوې . . .مېډم ستادَ لاسه هغه پـه شـرمـونـو او شرمېده . او چې لا اوس به په څهٔ حال کښې وي. بيا دَ جـېب نه موبائيل را اوباسي او هغې ته کال کوي . دَ هغې موبائېل له رېـنـګ ورځي خو هغـه مـوبـائـيـل نـه اوچتوي . هغـه څو څو ځلـه کـوشش اوکړي خو چې کامياب نشي نوبيا هغې ته مېسج ورکوي . چې I want to see you my dear ، چـې مـېـسـج ورشي نـو يـوه شـېـبه پس دَ هغهٔ په موبائېل جواباً مېسج راشي But i don,t want to see you. ، دَ هـغـې پـه مـېـسج هغه مسکے شي او يوه لويه ساه اخـلي . هغـه يوه شېبه پروت وو، بيا پاسېدو او دفتر ته روان شو. هغه چې دفتـر تـه اورسېدو نو دَ هغهٔ په مېز يوه چټهۍ پرته وه . هغه چې پـه کـرسـۍ کـېـنـاسـتـو نـو چټهۍ يې اوسپړده او دَ هغې لوستل يې شـروع کـړل . چټهۍ داسې وه ، "مـونـږ تـه دَ خفيه ذرائع نه معلومه شـوے ده چې په 23 مـارچ دَ يـومِ جمهوريهٔ پاکستان په ورځ په ځيني سـرکـاري او غيـر سـرکـاري ادارو او پـه اهـم شخصيات باندې په لويه



www.pukhto.Net

پښمانه خودکش حملې کېدونکي دي . دَ دغه حملو مخ نیوي ته ستاسو پام راګرځولے شي چې دَ اهم سرکاري او غېرسرکاري ادارو تحفظ دے یقیني کړې شي "هغهٔ چې چهټي اولوستله نو دَ خپل زون ټول SHOS یې رااوغوښتل . هغوي سره یې یوه هنګامي غونډه اوکړه او هغوي ته یې دَ SP صېب حکم وورولو. دې نه علاوه هغهٔ په هنګامي بنیاد دَ خپل ماتخت عملې چهټیانې کېنسل کړے او هر یو SHO ته یې خپله خپله ذمه واري حواله کړه . هغه چې دَ اجلاس نه اوزګار شو نو دَ ماښام تیارهٔ لګېدلي وه . هغه خپل کوارټر ته لاړو، وردي یې بدله کړه او پلوشې ته یې بیا رېنګ اوکړو. د څو څو رېنګونو نه پس هغې اووې ، "تهٔ ماته څهٔ وېل غواړے "؟

شان :. پلوشي ، زهٔ تاسره لېدل غواړم ... هغه دَ هغهٔ دَ خولې نه خبره اخلي او وائي ،"زهٔ هیچا سره لیدل نه غواړم.ماپه خپل حال پرېږده پلیز."

شان:. پلوشي پلیز. زهٔ په هرصورت کښې تاسره لیدل غواړم .ستا په وجه ستا مور پلار ډېر پرېشان دي .

پلوشه :. (طنزیه ) زما مور پلار ...؟ زما هیڅوك نیشته . زما هیچا سره هیڅ رشته نیشته .

شان :. ستا په انکار دَ وینې او مینې دغه رشته ختمېدې نشي .

پلوشه :. کومه وینه او کومه مینه ؟ ماته ستا دَ مشورې او ستا دَ نصیحت ضرورت نیشته . زما د زړهٔ په زخمونو مالګه مهٔ دوړه وه پلیز.

شان:. پلوشې ، منت درته کوم . تهٔ خپل ځاے ځائېږے اوښایه پلیز.





زهٔ تاله ننواتے درځم او تانه معافي غواړم پلیز.

پلوشه :. معافي ...؟ ستا دَلاسه خو زما ټول ژوند تباه شو ...ستا دَلاسه زما ټول ارمانونه اوسوزېدل ایره شول ...ستا دَ لاسه زما ټول امیدونه اسویلي شو .ستا په مشوره زما ژبه ګونګه شوه ، سترګې مِ ړندې او غوږونه مِ کاڼهٔ شو او ستا دَ خاطره مِ دَ مور پلار خبره اومنله. تا ماله په ګُړه کښې زهر راکړل ...تاماسره په دوستې کښې دهوکه اوکړه . اوس تهٔ نور څهٔ وېل غواړے ؟ یعني دا چې I am sorry, really soory ،.

شان:. پلوشې ، زهٔ ستا شان خبرې کوم پلیز.

پلوشه (طنزیه) زماشان؟ تهٔ هغه شان یې چې ماسره یې دَوفا وعده کړے وه ؟ تهٔ هغه شان یې چا دَ پاره چې زهٔ فنا في الذّات ووم ... آیا تهٔ هغه شان یې چاچې خپله مینه سربلا کړه او دَ نظره یې پناه کړه. تاسو ټولو په شریکه ، زهٔ رسوا او دَ خلقو دَ خندا کړم . اُف الله .

شان :. پلوشې ، ماچې څهٔ کړي دي . ستا دَ عزت دَ پاره مِ کړي دي .

پلوشه :. زما دَ عزت دَ پاره نه بلکه دَ خپل عزت او ځان خلاصي دَ پاره دے کړي دي . ماسره چې څهٔ اوشو داسې هیچا سره نه دي شوې او دا هر څهٔ ماستا په مشوره برداشت کړل ، اوس ماته ستا دَ مشورې هیڅ ضرورت نیشته او نه ستا مشوره منم .

شان:. ستا ګیله په خپل ځائے ده پلوشې . ماته ډېر افسوس دے چې زمامشوره ستا دَ پاره صحي ثابته نشوه او زما په وجه تاته کړمې



www.pukhto.Net

پیښېږي شوې . پلوشې که ماتاله دغه مشوره نه وے درکړے او تۀ مِ ستاد مور پلار دَ اجازت نه بغیر قبوله کړے وے نو دا به مونږ او زمونږ دواړو کورنو دَ پاره دَ ټول عمر پېغور جوړ شوے وو . چاچې تۀ په خپله سینه لویه کړې یې او ستا دَ بهتر مستقبل دَ پاره یې خائسته خائسته خوبونه لیدل ، ما هغوي څنګه خفه کولے شو او دَ هغوي دعاګویه خولې مِ په خېرو څۀ رنګه بدلولے شوے . بعضے خلق په مینه کښې هرڅۀ جائز ګڼي خو زۀ دغه هرڅۀ جائز نه ګڼم بلکه ذاتي لالچ ، خود غرضي ، نفساني خواهش او شهوت پرستي ګڼم . دَ جذباتو په دغه بهېر کښې چې څوك لاهوشوي دي هغوي ټول عمر ډغري خوړلي دي . پلوشې ماخپل فرض ادا کړو ، په خپل زړۀ مِ لاس کېښودو او دَ پښتنې معاشرې او دَ حالات وواقعاتو په پسِ منظر کښې مِ تاله دغه مشوره درکړه خو قسمت ته منظوره نه وه اونشوه .پلوشې، قسمت اګر چۀ طبعي طور مونږ دواړه دَ یو بل نه جُدا کړي یو خو که تۀ غواړې نو دا فاصلې ختمېدېشي او دواړه دَ یو نوے ژوند او نوے مستقبل آغاز کولے شو . پلوشي ، ته زما دَ ژوند دَ تیرو دَ پاره اوس هم هغه پلوشه یې لکه چې وې . تۀ اوس هم زما دَ ژوند هغه توشه یې لکه چې وې . زمونږ دَ مینې داستانونه دَ هوا په چپو کښې ګنګوسي کوي او د دغه ګنګوسي نه دَ مینې نغمې جوړېږي، پلوشې . . .

ــ هغه زما اوستادَ مینې قیصې      نه مِ هېرېږي نه هېرولے شمه
تانه بغېر دَ زهروګوټ دے ژوندون      نه یې تُوکلے نه تېرولے شمه





پلوشه دَ هغۀ په جواب کښې وائي:

ــ ماته دَ ماضي یادونه مۀ ستایه      مادَ ارمانونو خولې ګنډلي دي
ستایادونه ټول دَ اسویلو سره      یو په یو مِ تاله درلېږلي دي

شان:. پلوشې کېدېشي تادَ خپلو ارمانونو خولې ګنډلي وي خو زما ارمانونو ماته وازې خولې نیولي دي او مانه تانه غواړي، تااوصرف تا. دا هم کېدېشي چې تا زما ارمانونه دَ خپل زړۀ نه ویستلي وي خو ستا دَ یادونو مېخونه زما په زړۀ کښې زنګ وهلي دي او داسې ښخ دي چې دَ هغې وتو سره زما زړۀ اوځي،دَ هغۀ په دې خبره دَ پلوشې موبائیل بند شي . هغه څو څو ځله هېلو هېلو اووائي خو چې څۀ جواب رانشي نو هغه مُسکے شي او ډېره شېبه موبائېل ته ګوري. شان دوه ورځې پرله پسې په خپلو مصروفیاتو کښې بوخت وو. بله ورځ ماسخوتن تیارۀ چې هغه خپل کوارټر ته راغی، نو وردي یې بدله کړه او ډوډۍ یې اوخوړه . دَ ډوډۍ نه پس یې ټي وي اولګوو او خبرنامه یې کتله چې دَ هغۀ په موبائېل رېنګ راغی . هغۀ چې موبائېل نمبر ته اوکتل نو مُسکے شو ، موبائېل ته یې په مُسکا اوکتل خو دَ اوچتولو هڅه یې اونکړه موبائېل کړنګېدو کړنګېدو او اخر بند شو . درې ځله چې دغسې اوشو نو په څلورم ځل هغۀ موبائېل اوچت کړو او وے وئېل ، "هېلو مائي ډیرپلوشې ، چرته یې او څه رنګه یې "؟

پلوشه:. موبائېل دے ولے نه اوچتوو؟ زمانه خفه یې ؟



www.pukhto.Net

شان :. نـه پـلـوشې ، تانه به څنګه خفه شم ، ته خو زما دَ ژوند سرمايه يې. البتـه ستـا پـه کړمو خفه يم . اوس که درته سوري او وبري سوري اووېم نو معافي ملاوېدېشي ؟

پلوشه :. دَ سوري وېـلـو نـه بـغير هم ته معاف يې خو يوه ګيله مِ درنه کـېـږي او هـغـه دا چې په دې دومره موده کښې تاته زۀ اوس هغه بله ورځ يـاده شـوم . زمـاخو تانه ډېر اميد وو او چې کله به زۀ ډېره مايوسه شوم نو ستا په خيال به تروتازه شوم خووخت تېرېدو سره ستا خيالونو هم رانـه لـکـه ستـا مـخ واړه وو او زۀ بـېـخي يوائې پاتې شوم . شانه ، مـاتـاسره دَ رابطي کولو کوشش څکه اونکړو چې زۀ تا دَ رابطي کولو نـه مـنـعـې کـړے ووم. تـاهـېو دا تپوس قدرې اونکړو چې ما سره څۀ کـېـږي او پـه مـاڅۀ تېرېږي خوسره د دے دومره تکليفونو مادَ وعدې مطابق ستا دَ امانت پوره پوره تحفظ اوکړو او کومه .

شان :. ماته ډېر افسوس دے پلوشې خو . . .

پلـوشـه:. مـاتـه پتـه ده شانه چې ته به اوس انې بهانې جوړه وے او دَ خپـلـې لاتـعـلـقـۍ مـنـطـقـې جواز به پېش کوے خوماته واقعي ډېر افسـوس دے . . .ستـا پـه رويه او لاتعلقۍ نه بلکه ستا دَ چنغلې مس نرګـس په دردناك انجام باندې . ماتاسره غم رازي کول غوښتل خو په دې يـرېـدم چې زمـا پـه هـمـدردۍ بـد اونه ګنې . شانه نرګس ډېره ښۀ جينۍ وه . مونږ دَ CSS امتـحان په يو هال کښې ورکوو او دَ پرچې نه مـخـکښـې روستـو به مو اکثر تبادلۀ خيال کوو. ماته دَ هغې په مرګ





ډېر افسوس دے او تاته دَ صبرِ جميل تلقين کوم .

شـان:. پلوشې ، دَ نرګس مرګ واقعې دردناك دے . دَ هغې دَ مرګ نه پـس مـاتـه ځـان بـېـخـي يوائـے ښکاري . ستا دَ غم رازۍ او همدردۍ ډېـره ډېـره مـنـنـه خو دَ صبرِ جميل دَ تلقين په ځاے ماته دَ هغې دَ نعم البدل دعا هم کولې شې .

پـلـوشـه :. سوري شـان ، کـه زمـا دعـاقبلېدې نوولې به دومره کړېدم او شـرمېدم . . .شانه، که نرګس سره ستا وادۀ شوے وے نوستا دَ فنا في الذات دَ فلسفې به څۀ حال وو او زما حيثيت به څۀ وو.

شـان :. نرګس ډېره ښۀ جينۍ وه . ستا دَ پرله پسې دوه وادونونه پس ما هـغـې سره وادۀ کـول غوښتل ځکه چې مانه دَمېډم مسرّت خواست غـورځولے شو او نه مِ خپل مورپلار نور په اَزمائش کښې لېدے شو تانه پس هغه واقعې زما دوېمه مينه وه خو قسمت ته منظوره نه وه او وادۀ اونشـو . دَ هغې په راتلو زما دَ فنا فى الذات په فلسفه اثر څکه نۀ پـرېوتو چې ستا حېثيت دَ کورښې وو او دَ هغې حېثيت به دَ مېلمنې وو. ميلمنه ، ميلمنه وي دَ کورمالکه نشي جوړېدې".

پلوشه :. دَ بلې مېلمنې دَ راتلو امکان شته ؟

شـان:. خبرې روانې د ي خـولا هيـڅ پتـه نـۀ لګي . کېدېشي اوشي. کېدېشي پاتې شي .

پلوشه :. ولې څۀ ګرانه درپېښه ده .

شـان:. دا پتې خبرې دي . آن اېر نشـم وېـلـے . البتـه کـه ته څۀ وخت



www.pukhto.Net

راغلي نو دَ هغې متعلق ټولې خبرې به درته اوکړم . تانه به مشوره هم واخلم او په دغه هلو ځلو کښې به ستا خدمات هم حاصل کړم .

پلوشه :. سوري شان ، زۀ نه تاله مشوره درکولې شم او نه ستاسو په خبرو کښې ګډون کولې شم . دغه پټې خبرې دواړه پټ په پټه فېصله کړې او منطقي انجام ته یې اورسوی . زۀ درتلې نشم ځکه چې زما خبره هم چاسره روانه ده او زۀ هغه مس کول نه غواړم .

شان :. ستاخبره چاسره روانه ده ؟ دَ هغۀ څۀ نوم، نښخه پته وغیره؟

پلوشه :. سوري شان ، داپټه خبره ده آن اېرنشم وېلے .که چرې دواړه ملاؤ شو نو بیا به درته ټوله خبره اوکړم .

شان:. آیا داسې نشي کېدې چې مونږ دواړه یو ځائے کښېنوو او دَ خپلو خپلو مسلو په باره کښې خبرې اوکړو.

پلوشه :. خبره دې بده نه ده بلکه ډېره ښۀ ده خوفي الحال دا ممکن نه ده.

شان :.په دنیا کښې هیڅ ناممکن نیشته . تۀ سبا مازیګر باغ ډهېرۍ او هغه ځاے ته راشه چرته چې مونږ لیدل کتل او ناسته کړې وه .

پلوشه :. نه شان ، سبا له نه ، بیا به شي.

شان:. سبا له ولې نه او بیا به کله شي .

پلوشه :. سبا له زمونږ یو اهم میټنګ دے او په هغې کښې زما ګډون ډېر ضروري دے . دَ میټنګ نه پس به زۀ تاته کال اوکړم او دَ درتلو یانه درتلو په باره کښې به اطلاع درکړم .

شان :. میټنګ ؟ څۀ میټنګ او چا سره ؟





پلوشه :. ډیفنس منسټره سره .

شان :. ډیفنس منسټره سره ؟ زۀ پوهـ نشوم .

پلوشه :. شانه ، زما CSS کلیر شوے دے او ما په وزارت دفاع کښې سروس جائن کړې دې .

شان:. اوه مائي ګاډ! دومره لویه خبره تاپټه ساتلې ده . Congratulation .

پلوشه (خاندي) داسې نه بلکه هغسې لکه ماچې درکړې وه . دې سره هغه یو ځل بیاخاندي او په خندا خندا کښې موبائېل بند کړي.

**﴿دوېمه برخه﴾**

تاواني کاکا سره دَ اعظم خان طبعه داسې لګېدلې وه چې یوه لمحه یې دَ هغۀ جُدائي برداشت کولے نشوه . هغه نه صرف دَ اعظم خان خاص ملګرے شو بلکه دَ شان دَ خاطره دَ ظاهرې بې بې په سترګو هم ډېر خوږ لګېدو او دَ خپل مشر رور مینه به یې پرې ماتېده . هم دغه وجه وه چې څو ورځې پس ترېنه دَ اعظم خان دَ کورستر مات شو او دَ هغوي دَ لویو ورو دومره اعتباري شو چې چې غم، ښادۍ له به دَ هغوي دَ کور زنانهٔ سره تلو راتلو . دې نه علاوه هغه دَ هغوي دَ کور او حجرې دَ خرچې انچارج شو. ټولو نوکرانو او ډرائېورانو له به تنخواګانې هغۀ ورکولے ، تر دې چې دَ اعظم خان بال بچ له به دَ سکول او کالج خرچه هم هغۀ ورکوله . دَ تاواني کاکا دَ قسمت ستورے دَ ګردش نه هله اووتو چې دغه ګردش کښې ترېنه ښځه هم لاړه او لونه ترېنه هم لاړې. هغه تاواني کاکا چې دَ پردي قرض دَ پاره



www.pukhto.Net

يې خپله خوړه لور خرڅه کړے وه او په جمات کښې چا نمانځهٔ ته هم نـه پـرېښـودو ، اوس دَ اعـظـم خان دَ کـورنۍ نه صرف مشر شوبلکه دَ مـلك آبـاد دَ جـامـع مسـجد دَ چندې دَ کمېټۍ چېرمېن هم شو او په ړومبي صف کښې به اقامتي سره اوږه په اوږه اودرېدو . دې نه علاوه دَ اعـظـم خان پـه اجازت بـه هـغـهٔ دَ هرې میاشتې په اخري جمعه دَ نمانځه نه پس کونډو رنډو او خوارانو غریبانانو له دَ زکوات او خېرات دَ پنګې نه خېر ، خېرات او زکوات هم ورکوو . اوس هغه دَ تاواني کاکا نه دَ لویو وړو باباجي شو.

دَ نـرګس او مـاریـه دَ مـرګ نه پس شان دَ مېډم مسرّت ، ډاکټر اشتیـاق ، ډاکټـر جمیل او ډاکټر عندلیب په سترګو ډېرخوږ لګېدو او هغـه یـې دَ خپـل کور یو فرد ګڼلو . هغوي ته دَ نرګس او ماریه په بې ځوکـه مـرګ هـم ډېـر افسوس وو خو دَ شان په نیمګړي ارمان هم ډېر غـمژن وو . هغوي ته دَ شان په مړو سترګو کښې مړه نرګس ښکارېده هـم دغـه وجـه وه چې هغـوي به ځو په ځویمه هغوي کره تلل او زاړهٔ یـادونـه بـه یې تازه کول . چې کله به دغه دواړه کورنۍ یوځائے شوې نـو پـه کـور کښې به دَ ښځو رونق وو او په حجره کښې به دَ سړو رونق وو. هغـوي سره بـه اکثـر دَ ډاکټر عندلیب کشره خور، ډاکټر تبسّم هم وه . تبسّم اوس اوس ایم بي بي ایس پاس کړې وو ، په ایل آر ایچ کښې یـې هاؤس جاب هم کوو او دَ ډیوټۍ نه پس به یې ډاکټر عندلیب سره دَ هغـوي پـه پـرائیـویټ هسپتال کښې کار هم کوو. مېډم مسرّت ته دَ





شـان دَ نیـمـګـړي ژونـد ډېـر احسـاس وو. هغې غوښتل چې دَ نرګس کمے دَ ډاکټر تبسّم په ذریعه پوره کړي او شان دَ همېشه همېشه دَ پاره دَ هغوي دَ کـور یـو فـرد اوګـرځي . هغې ځو ځو ځله ظاهرې بې بې ته دغـه اورونـه کـړې وه او هـغـې دغه اورونه هغه ته بالمشافه او دَ فون په ذریـعـه ځـو ځـو ځـله کړې وه خو هغه به هرځل دَ هغې خبره دَ معمول مطابق په خندا کښې واړوله او په خندا خندا کښې به یې دَ هغې خبره دَ چـرته نه چرته اورسوله . دغه رنګې ورځې شپې تېرېدې او دَ هغوي وسوسي زیاتېدې .

دَ حـج داخـلـې شـروع وې، اعـظـم خـان او دَ هغـهٔ ښځې دَ حج پـروګـرام جـوړه وو خـو حـج له دَ تلو نه مخکښې هغوي غوښتل چې شان له وادهٔ اوکړي او د دغه فرض نه دَ هغوي اوږې سپکې شي.دَ هغهٔ مـور پـلار دَ هغهٔ په وجه ډېر پرېشان وو. یوځل دَ تاواني کاکا په تپوس بـانـدې هـغـهٔ ، هـغـهٔ تـه ټـولـه خبره دَ مایوسۍ په انداز کښې اوکړه . تـاواني کـاکا چې دَ هغهٔ خبره واورېده نومُسکے شو او وے وئېل . "دا څـهٔ دومره لـویـه مسـلـه نـه ده خان جي، زهٔ خو دَ هغهٔ سترګو ته دلته نـاست یم. زمـاخبـره بـه مـني او چې اونه مني نوزه بیا دلته څهٔ کوم. خپـلـه غریبي او ملنګي به کوم ". دې سره هغه پاسېدو ، دَ هغهٔ نه یې رخصت واخستو او هم وخت په تېپېدلې سینه سوات ته روان شو .

★★★★

★



www.pukhto.Net

## ﴿دریمه برخه﴾

پلوشه دَ شان په خواست باغ ډهېرۍ ته رسېدلې وه او هم په هغه ځائے یې دَ هغهٔ دَ راتلو انتظار کوو چرته چې هغوي ناسته ولاړه کړې وه . هغې دَ خپلو راتلو اطلاع هغهٔ له ورکړے وه خودَ څهٔ مصروفیاتو په وجه هغه دَ خپل مجوزه وخت نه لږ لېټ شوے وو. زیړ مازیګر وو، دَ نمر زیړې پستې پلوشې ، دَ پلوشې په سپین بدن په انتظار لکه لشې لګېدې. موسم ډېرخوشګوار وو او په ټول چاپېریال دَ شین شینکي اوسرو ګلونو ، شین سوربهاروو . خو هغه دَ موسم دَ خائست نه بې نېازه وه او دَ خپل مستقبل فکر اوړې وه. هغه په خپل خیال کښې ډېره لرې تلې وه، دَ هغهٔ دَ راتلو قدمونه یې شمېرل او ځان سره یې په رېږدلو شونډو څهٔ وئېل . په دغه شمېر شمېر کښې دَ هغې په خواکښې دَ چا دَ پښو کړپ اوشو . کړپ سره دَ هغې دَ خیالونو دنیا ګډه وډه شوه او هغه تردُده او اوتره شوه خو چې هغهٔ ته یې اوکتل نو په شونډو یې مُسکا خوره شوه اودَ هغهٔ په احترام کښې پاسېده ځکه چې هغه دَ هغې دَ ارمانونو ارمان شان وو. شان په وردۍ کښې وو . هغهٔ خپله ټوپۍ په سر سمه کړه ، یوه پښه یې زمکې له راواچوله هوشیار شواو هغې ته یې سلوټ اوکړو هغه هم هوشیاره شوه او دَ هغهٔ دَ سلوټ په جواب کښې یې هغهٔ ته سلوټ اوکړو . دَ هغې لاس لاهغسې دَ هغې په تندي پروت وو چې هغه ورتر غاړه وتو . دواړو دَ یو بل نه لاسونه تاؤ کړل او ډېره شېبه په





مدهوشه حالت کښې دم بخود ولاړ وو چې کله دَ هغوي دَ مینې تنده ماته شوه نو شان په مُسکا مُسکا هغې له مبارکي ورکړه او دَ تحفې په طوریې دَ شونډو بوسه ورکړه . دَ دواړو په سترګو کښې دَ خوشحالۍ اوښکې راغلې . هغوي په مُسکا مُسکا دَ یو بل اوښکې اوچولې خودَ خوشحالۍ دغه اوښکې نه اودرېدلې . بیا ډېره شېبه ناست وو، یو بل ته یې د خپلو کړمو قیصې هم کولې او دَ یو بل نه یې ګیلې هم کولې . په دغه قیصو اوګیلو کښې پلوشه څوځوځله په ژړا شوه او څوځوځله په ژړا ژړا کښې په خندا شوه . هغې دَ هغهٔ نه هیڅ خبره پټه اونه ساتله او دَ خپلې ماضي ټول واقعات او ټولې خبرې یې ورته اوکړې . هغې سره دا یره هم وه چې که چرې سکندرشاه او قاري صېب دَ هغې دَ موجودګۍ نه خبر شي او هغې پسې راشي نو دَ شان په مخکښې به دَ هغې رسوائي اوشي او دَ هغهٔ په نظر کښې به هغه سپکه شي . هغې غوښتل چې هغهٔ سره زر ترزره ، پټ په پټه نکاح اوکړي او دَ هغوي دَ خبرېدو نه مخکښې مخکښې په هغوي یخې اوبه توې شي . دغسې به هغې ته دَ خاوند په روپ کښې دَ هغهٔ تحفظ هم ملاؤ شي او دَ ښځې خاوند په توګه به دَ هغوي په خپلو کښې مکمل انډرسټېنډنګ هم اوشي . کومې خبرې چې دَ هغې په زړهٔ کښې تېرېدې خو په خولې یې نهٔ راتلې ، هغه خبرې دَ هغهٔ په زړهٔ کښې هم راتلې خو دَ وېلو جرأت یې نشوکولے . اخر یې سترګې کلکې کړے او هغې ته یې غلې



www.pukhto.Net

غـونـدے اووے ، ”پـلـوشـې ،تـهٔ زمـا اخري ارمان یې ، زهٔ په یو حالت کښـې هـم تامس کول نه غوارم . دَ حالاتو او واقعاتو هیڅ پته نه لګي چې اوس بـه څهٔ کېږي او درنګ ساعت له به څهٔ کېږي . زهٔ نه غوارم چې زمـونږ مینه او ارمانونه نیمګړے نیمه خوا پاتې شي . زهٔ غوارم چې دَ میـنـې دې رشتـې له شرعي او قانوني شکل ورکړم او دَ ښځې اوخاونـد پـه تـوګه دَ همېشه همېشه دَ پاره په یوه مضبوطه او منظمه رشتـه کښـې منسلك شو. ستا څهٔ خیال دے ؟ پلوشه هغهٔ ته په ډکو سترګـو ګـوري او وائي، ”شانـه ، زما په خپل ځان کښې هیڅ اختیار نیشتـه . زهٔ ستـا پـه اختیـار کښـې یـم . مـا په خپل زړهٔ کښې تهٔ خپل خاونـد تسلیم کړے یې. اوس ستا خوښخه ده چې تهٔ ماسره څهٔ کول غـواړے ؟ چې تـه مِ دَ خپـلي غـاړې هـار جوړول غواړے او که تهٔ مِ دَ ګـندګۍ انبار ته غورځول غواړے “دَ هغې په خبره شان مُسکے شي ، دَ هغـې شونډې یو ځل بیا ښکلوي او وائي ، ”پلوشې ، ته زما ارمان یې او زهٔ زر ترزره دَ خپـل ارمان تکمیل غوارم . هغه ارمان چې دَ هغې پـه تـکمیل فرشتې اٰمین وائي ، هغه تکمیل چې هغه مینه هم ده او عبادت هـم دے “. دې سـره هغه په دواړه لاسه هغه پاسوي ، ځان سره یې لاس ترلاسه روانه کړي او په ګاډي کښې کېنوې .

نـمـر پـه غـرغـره وو چـې هـغـهٔ دَ خپـل دفتر مخې ته ګاډے او دروو، هـغوي دواړه ترېنه کوز شو او خپـل کور ته روان شو . چې کورته نـزدې شـو نـو په ډېوټۍ ولاړ ګارډ هغهٔ ته سلامي پېش کوي . هغه دَ





هـغـهٔ سلامي واخلي او پلوشې سره په کور دننه شي . دَ هغهٔ په ورتلو دَ کـور دَ نـوکر له خوا هغهٔ ته اووئیلے شو چې دَ هغهٔ یو مېلمه راغلے دے او پـه بېټهك کښې ناست دے . هغه پلوشه خپلي کمرې ته بوتله او دَ مـېـلـمـه دَ لیـدو دَ پـاره بـېټهك ته ورغـۍ . دا مېلمه تاواني کاکا وو. هـغـهٔ په کټ کښې ډډه وهلے وه ، دَ چایو پیالۍ ورته په مېز پرته وه او هـغـه به ترېنه په خپله طبعه په خوند خوند ګوټ کړو . دَ شان په لیدو هـغـه پاسېدو او هغه سره یې په مُسکا مُسکا روغ جوړ اوکړل . بیا یې هغـهٔ تـه پـه خندا خندا کښې اووے ، ”یره کاکاجي داسې معلومېږي چې زمـونـږ پـه سیـنو کښې یوزړهٔ دے او هغه نیم ستا اونیم زمادے نـن سـم دَ مازیګره مِ په زړهٔ کښې ګرځېدے راګرځېدے خو اوس راته مـعـلـومـه شـوه چـې دا ځـکه چې تهٔ راتلے . ښه اوس راته اووایه چې کلي کښې څهٔ حال دے . ابو امي ، سعدیه فاروق اوعمر څنګه دے .

تاواني کاکا:. ټول ښهٔ دي خان جي ، هرڅهٔ ټیك ټاك دي . . .تهٔ کېنه، زهٔ درسره یو څو خبرې کوم نو زهٔ هم درنه ځم .

شان :. په دې شپه کاکاجي ؟

تـاواني کـاکـا:. هـاؤ پـه دې شپـه . خـان جي ، زهٔ مشرخان تاپسې په یو خاص مشـن رالـېږلے یم . او ما هغه ته ښهٔ په ذمه وارۍ سینه ټپولے ده چـې زما خبره به مني او خامخا به یې مني “. دَ هغه په خبره دَ شان رنګ زېـړ شي ، هـغـهٔ تـه پـه یـره یـره ګوري او وائي ، ”څـهٔ خبـره ده کاکاجي ، زما خو دے ساه ګډه وډه کړه “.



www.pukhto.Net

تاواني کاکا:. ساه په ځاے کړه او ښۀ په سړه سینه زما خبره واوره . خان جي ، مشرخان او مشره بي بي ستا په وجه ډېر پرېشان دي .

شان (په حېرانتیا) زما په وجه ؟ ولې ؟

تاواني کاکا:. ولې؟ ته لا خبر هم نۀ یې ؟ ټول دے پریشان کړي دي او تۀ واے چې ولې ؟ ما ستا ذمه واري اخستے وه چې دا کار به زۀ کوم. آیا تۀ زما خبره منے او که نه ؟

شان :. کاکاجي ، تۀ خبره خواوکړه چې تۀ څۀ وېل غواړے ؟ چه پته خواولګي کنه .

تاواني کاکا:. خان جي ، لنډه خبره دا ده چې ستا دَ وادۀ نه کولو په وجه ټول پرېشان دي . ته وادۀ ولې نه کوے ، ماته صفا خبره اوکړه .

شان :. اوه مائي ګاډ ! دا خبره ده هنّ .زما خودے بیخي ساه بنده کړے وه.

تاواني کاکا:. ساه واخله ، ښۀ لویه ساه واخله او ښه معقول جواب راکړه .

شان :. کاکاجي، وادۀ ولې نه کوم خو چا سره اوکړم ؟ ستاڅۀ خیال دے ؟

تاواني کاکا:. زما خیال پرېږده . هغوي ستا دَ پاره جینۍ خوښه کړي ده خو صرف ستا هاں ، ته خبره بنده ده .

شان:. څوك ده کاکاجي؟

تاواني کاکا:. هغه ډاکټره ...تبسّم . هغه ډېره ښۀ جینۍ ده اودَ هغوي خوښه ده .

شان :. نه کاکاجي نه ، زۀ به وادۀ په خپله طبعه کوم .

تاواني کاکا:. خان جي ، ستا په خوښه ناخوښه دَ هغوي اعتراض





نیشته . دَ هغوي اعتراض ستا په ټال متهول او ډوګ بوګ دے . تۀ چې هرځائے او هر چاسره وادۀ کول غواړے ماته اوس په دے ساعت اووایه چې په هغوي زېرے اوکړم او ستا دَ وادۀ نیته کېږدو.

شان (مسکے شي) کاکاجي ، دَ سوچ ګنجائش پکښې شته ؟

تاواني کاکا:. دَ سوچ ګنجائش شته خو صرف دو منټه .

شان(خاندي) دوه منټه خو ډېرلږ وخت دے کاکاجي ...دا خو ډېر زیاتې دي ...او وادۀ به کله وي ؟

تاواني کاکا:. ته اوس جینۍ خوښه کړه، نواوس شپه په شپه څم او شپه په شپه درله نکاح ترم .

شان :. که داسې دے اوکړل خو ډېره بهتره ده خویقین مِ نشي .

تاواني کاکا:. مادرته اووے چې اوس شپه په شپه درنه څم اونکاح درله ترم .

شان:. ستا دَ تلو ضرورت نیشته کاکاجي ، جینۍ راغلې ده او دَ نکاح په انتظار کښې ناسته ده .

تاواني کاکا:. خان جي ، که ستا ټوقې ته زړۀ کېږي نو بیا به شي خو في الحال زۀ دَ ټوقې په موډ کښې نه یم .

شان :. اوه کاکاجي ، ته جوړ خفه شوے ؟ زۀ ټوقه نه کوم کاکاجي . که ستا زما په خوله باور نشي نو راپاسه چې په خپله یې اووینے او تسلي دے اوشي . هغه تاواني کاکا دَ لاس نه نیسي او دَ پلوشې کمرې ته یې بوځي . پلوشې دَ هغوي ټولې خبرې اورېدلې وي او دَ



www.pukhto.Net

هغوي دَ راتـلـو پـه انتـظار کښـې نـاسـتـه وي . چې هغوي کمرې ته ورشي نـو شان هغې ته په مُسکا وائي ، "پلوشې زماکاکاجي او ستا دَ نـکاح پـلار راغـی". هـغـه چې تاواني کاکا اووينې نوپاسي او دَ هغهٔ سلام لـه ورځي . هـغـه چې هغـهٔ ته سلام اوکړي نو هغه ورله په سر لاس اږدي او شـان تـه پـه مُسکـا وائي، " ستـا انتخاب لاجواب دے خُدائے دے تـاسـو دواړه تـل تـرتـلـه ښاد، آباد او خوشحاله لري". بيا پـلـوشې ته وائي ، "ښه بچې ته کېنه" دې سره هغوي دواړه بېټك ته واپـس لاړ شي . شـان تاواني کاکا ته دَ پلوشې متعلق تول خبره اوکړي . تـاوانـي کـاکـا هـغـهٔ سـره مـتـفـق شـو او هغه هم دَ نکاح تړلو مشوره ورکړي . شـان دَ نـکـاح تـړلـو دَ پـاره خپل نوکر دَ نکاح رجسټرار پسې اولېږي او دَ ګاډز دَ سپا هيـانـو نه يو سپاهي دَ مېهتائي راؤړلو دَ پاره بـازار تــه اولېــږي . لـږه شـېبــه پس دَ نکاح رجسټرار هم راشي او دَ مـېهتـائي ډبلے هم راشي . هغوي تول دَ بېټك دَ کمرې نه پاسي او دَ پـلـوشې دَ کـمـرې سـره نـزدې پـه بله کمره کښې کېني. په نکاح فارم کښـې تـول کـوائف اولـيـکـلي شي . تـاوانـي کـاکـا دَ پلوشې دَ پلار پـه حـېث دَ هغې دَ طرف نه دستخط اوکړي او شان دَ خپل طرفه دستخط اوکـړي . دَ شان نوکر او دَ ګارډز سپا هيان دَ ډيوټي نه را اوغوښتې شي او دَ ګـواه پـه طور دَ نکاح په فارم دستخط اوکړي . دَ نکاح تړلو نه پس يـو خـوا مبـارکـی شروع شي ، بل خوا دَ ماسخوتن اذانونه او دَ الله اکبر اوازونه شروع شي . شان دَ مېتهائي دانه اوچته کړي، دَ پلوشې کمرې



نیمګړي ارمانونه (پښتو ناول) پرویز شیخ

تـه ورشي ، هـغـې لـه مبارکـي هم ورکوي او دَ مېتهائي دانه هم ورله په خـولـه کښې اږدي . دَ الله اکبر په دغه اوازونو کښې دَ شان دَ کور مخې تـه هم دَ الله اکبر اوازونه اوشي او يوزلمے دَ الله اکبر په دغه چغو کښې ډېر په تېزي سره کورته راځي . تاواني کاکا دَ هغه اواز اوپېژني، هغه دَ مـېتهـائي دانه په ډبلي کښې واپس اږدي ، ډېر په تېزی سره دَ ډلې نه اوځي، دَ هـغـه لاره بـنـده وي او هـغـه له غاړه ورکوي. دَ غاړې ورکولو سره يوه زبردسته چودنه اوشي . په تول کورکښې لوګي خوارهٔ شي او دَ شپې دَ پاسـه شپـه شي . چې لوګي ختم شي نو په غولي کښې دَ غـوښې دوه ډېري او دوه سرونه پراتهٔ وي ، يودَ خودکش حمله اُوروي او بـل دَ تـاواني کاکا وي . شان دَ تـاوانـي کـاکـا سر خپلې سېنې پورې نيسي او په ډکو سترګو ورته ګوري ، پلوشه دَ هغه سر دَ هغهٔ نه اخلي او پـه ژړا يې خپـلـې سيـنـې پـورې نيسي . تـاواني کاکا دَ خپل سر په قرباني دَ تولو سرونه بچ کړل او دَ وفا او بهادری هغه مثال يې قائم کړو چې دَ مرګ نه پس هم دَ هغه نوم ډېر په احترام سره اخستلے کېدو.

د الله په امان

★★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.Net